## د کتاب پېژندنه:

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | امر بالمعروف |
| لیکواله: | ساراچېس |
| ژباړن: | غلام ولي نوري |
| خپرندوی: | |
| کمپوز: | په خپله ژباړن |
| ډیزاین: | فضل الباري بریالی |
| د پښتی ډیزاین: | صالح محمد صالح |
| کمپیوټرچارې: | د ویښ ملګري فرهنګي ټولنې |
| کمپیوټرخانګه_کندهار | |
| د ګرځنده ټلیفون شمېره: | 0093(0)700318493 |
| برېښنالیک: | aracozia@yahoo.com |

http://www.ketabtoon.net

## ډالی

د ګران هیواد رښتیني بچي وتلي محقق، لیکوال، ژباړن، شاعر او ژورنالیسټ (عبدالباري جهاني) ته، چې خپل ژوند یې د خوارکې پښتو د چوپړ په لار کې وقف کړی دی!

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (سريزه)

# د نورو په خوله زموږ د دردونو

# يو بل انځور

((د مېړانې جزا)) د يوې امريکايي ژورناليستې سارا چيس يادښتونه دي چې له انګرېزۍ څخه ځوان ليکوال (غلام ولي نوري) پښتو ته را اړولي دي.

دغه يادښتونه تر کتابي بڼې وړاندې زياته برخه په ويسا ورځپاڼه کې پرلپسې خپاره شول چې ډېر مينه وال او لوستونکي يې درلودل ، ماته به زياتره وختونه چې له کوم ځايه د ورځپاڼې د نه رسېدو ګيلې راتلې يو لامل به يې همدغه ښود چې د ((مېړانې جزا)) لړۍ ترې پاتې شوې ده ، زياترو دوستانو به د پاتې ګڼو د ور رسولو هيله هم کوله.

بايد ووايم چې د پښتو متل په مصداق د خان لور په نامه ودېږي ، زموږ په ټولنه کې دا له پخوا نه دود دی چې د خپلو دردونو کيسې د نورو پر خولو مزه راکوي.

سره له دې چې دا نور ښايي زموږ د درد ، خوښۍ ، ښادۍ ، غم او انګرنو په اړه تر خپلو ډېر لږ خبر وي ، خو د نورو له خولې موږ ته د خپلو اتلوليو ، حماسو ، دردونو او ماتمونو داستانونه ښه رالګېږي ، د ساراچيس دغه يادښتونه هم همدغسې بوله. له بله پلوه دې ته اړتيا هم ده چې موږ پر دې ښه خبر شو چې نور زموږ د ټولنې له رازه څومره خبر دي او موږ ته په کوم نظر ګوري ، زموږ په منځ کې تېرو پېښو ته له کومو سترګيو ګوري ؟!

په ويسا کې د سارا چيس د يادښتونو د خپرېدو پر مهال د ډېرو ستاينو تر څنګ څه نيوکې هم کېدلې ، د ساري په توګه زما يوه انديوال چې د يوه ولايت والي دی راته ويل چې دا خو د ملي مصلحت خلاف ليکنې دي ولې يې چاپوئ ؟

همدغسې د ننګرهار والي شيرزي هم چېرته داسې ګيله کړې وه چې اوس په ما پسې ويسا ورځپاڼې را اخيستې ده!!

زه بايد دا وضاحت وکړم چې نه د ويسا د چلوونکي او مسوول مدير په توګه زما دا موخه وه چې په شيرزي پسې راواخلم او نه د دې اثر د ژباړن ښاغلي نوري. زه په ژوند کې له ښاغلي شيرزي سره چېرته مخامخ شوی نه يم ، خو د کندهار او ننګرهار په ودانۍ او بيارغونه کې يې هڅې ستايم ، په دې تور فسادي دوران کې دا هم غنيمت بولم ، البته دی زما ايډيال هم نه دی ، خو د ((مېړانې سزا)) او دې ته د ورته هغو آثارو ژباړه او خپراوی زه خپلې ټولنې ته ستره اړتيا بولم چې بهرني ژورناليستان او ليکوالان يې زموږ د هېواد په اړه ليکي ، په دې آثارو کې به حقايق څومره وي

(c) ketabton.com: The Digital Library


او خومره به نور اهداف او موخې لري دا بېله خبره ده ، خو افغان ولس بايد پر دې خبر وي چې دا بهرنيان چې نن زموږ د چارواکيو او مسوولينو شاو خوا ته ګرځي ، دوی زموږ د ټولنې ، ژوندانه او بېلابېلو پېښو په باب څه انګېرنې او نظريات لري ، څه قضاوت کوي او زموږ د ولس په منځ کې پېښو ته له کومو زاويو ګوري ؟

د ساراچيس د يادښتونو په ژباړه ښاغلي نوري لوی خدمت سرته ورساوه ، که ښاغلی شيرزي او يا نور څوك د دې اثر له منځپانګې سره موافق نه وي همدغه يې وخت دی چې حقايق رالوڅ کړي ، خو که همدغسې چوپ پاتې شي ، سبا ته به زموږ ولس همدغه يادښتونه د حقايقو په توګه مني.

دغه کتاب په داسې اسلوب ليکل شوی چې نن په لويديزو ټولنو کې ډېر عام او مقبول دی ، ښاغلي نوري تر ډېره حده په خوږه او پسته ژبه پښتو ته را اړولی چې د ژبې له روانۍ سره د مفاهيمو ښه حق ادا شوی دی ، زه يې ژباړن ته اوږد عمر او د لا ښو خدمتونو دعا کوم او درانه لوستونکي د ((مېړانې جزا)) ښکلي اثر لوستلو ته رابولم چې پېښې له کيسه يز او داستاني انداز سره پسې غزېږي او لوستونکي له ځانه سره کشوي.

په درنښت

محمد زبير شفيقي

د لړم ۲۷ مه ۱۳۸۶ لمريز کال

د پروان مېنې دوهمه برخه

د ويسا ورځپاڼې دفتر

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ژباړن خبرې

د ۲۰۰۶م کال په اکتوبر مياشت کې د امريکا په متحده ايالاتو کې يو ناندريز کتاب( The Punishment of Virtue امر بالمعروف) په نوم خپور شو ، چې د ډېرو رسنيو او سياسي کړيو پام يې ځان ته اړولی دی. سارا چېس يوه امريکايي وتلې ژورناليسته ده ، چې له نيشنل پبليک راډيو(National Public Radio) سره يې د ۱۹۹۷- ۲۰۰۲م کال پورې په بالکان ، الجريا ، کوسوو او افغانستان کې د خبرياليي په توګه دنده تر سره کړې ده. نوموړې افغانستان ته د (اين.پي.آر) له خوا هغه وخت راغله چې د طالبانو واکمني يوازې د دوی تر مرکز يعنې کندهار پورې محدوده پاته وه.

له دې هيواد او خلکو سره د دې اشنايي ، ميني او د امريکا د متحده ايالاتو اشغال نوموړې دې ته وهڅوله تر څو په افغانستان کې له دغه رواني ډرامې څخه پرده پورته کړي او دغه ټوټه_ټوټه هيواد د يوې ژورناليستي او مرستندويي په توګه سره يو موټی کړي ، خو کله چې يې د ۲۰۰۲م کال په وروستيو کې (اين.پي.آر) راډيو پرېښوده بيا يې هم افغانستان هېر نه کړ.

تر دې وروسته يې له يوې غيردولتي ټولني (ACS) Afghan for Civil Society افغانان د مدني ټولني لپاره) سره کار پيل کړ ، چې د ولسمشر کرزي د مشر ورور قيوم کرزي له خوا بسپنه ورکول کېده. په دې ټولنه کې يې دنده مخورو قومي مشرانو او حکومتي چارواکو ته د پام وړ ټکي ور په ګوته کول و.

سارا د ولسمشر کرزي د کورنۍ په ګډون د طالبانو په مرکز کندهار کې د ډېرو قومي مشرانو ، امريکايي اردو ، ډيپلوماټانو او افغان حکومت کې له لوړ پوړيو کسانو سره خورا نژدې پاته شوې ده. همدا لامل دی چې نوموړې په افغانستان کې له هغو خورا ډېرو پټو او زړه بوږنوونکو رازونو څخه خبره او عيني شاهده ده ، چې عام ولس ترې ډېر لږ خبر دی.

د يو افغان په کور کې د ژوند تېرولو وروسته يې افغان کلتور او سياست زده کړ او خورا ډېر وخت يې د افغانستان د (افسانوي) تاريخ پر څېړنه تېر کړی دی ، چې په څه ډول به غيورو افغانانو په تشو لاسونو له بهرنيو يرغلګرو سره مقاومت کاوه.

آغلې سارا روانه پښتو وايي د کندهاريو نارينه وو جامې او صدرۍ اغوندي او پټو پر اوږو کوي ، چې له همدې کبله يې له ځايي اوسېدونکو سره توپير نه کېږي.

همدا اثر(امر باالمعروف او نهي عن المنکر) په خورا حساس وخت کې رامنځته شوی دی ، چې پکې آغلې سارا چېس په افغانستان کې د امريکا پر غلطي تګلارې ، توپکسالارۍ ، د پاکستان پر مداخلې ، اداري فساد ، قبايلي مشرانو تر منځ اختلافونو او نورو هغو شيانو رڼهېري ، چې څنګه هغه پخواني ځواکمن قبايلي مشران _چې د طالبانو له لوري له واکه ګوښه کړل شوي وو_ بېرته واک ته ورسېدل او پر افغان مظلوم او بېچاره ولس د وژونکي تندر په څېر را نازل شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



باید وويل شي چې په دغه لوي او بې شرمانه جرم کې خپله د امريکا پوځ او نور چارواکي هم شامل دي.

ليکواله په دغه اثر کې له افغانانو سره خپله بې کچې مينه ښيي ، چې د احساساتو يې باید درناوي وشي. دې آغلې په افغانستان کې د خپل ژوند په دوران کې زما له انده کله_کله افغانانو او په ځانګړې توګه کندهاريانو ته د ګټې پر ځاى زيان هم رسولى دى ، چې له همدې کبله ويلاى شو چې ليکواله په کندهار کې د ځينو خاصو کړيو او يا کسانو په انحصار کې پاته شوې ده.

کتاب داستاني شکل لري چې مثبت رول لوبوونکي يې ملي ځېره محمد اکرم خاکرېزوال ، نامتو مجاهد ملا نقيب اخند او احمد ولي کرزي دى. منفي رول يې د درانه والي صاحب شېرزي پر غاړه اچولى دى. دا په کندهار کې د (آى.سي.آر.سي) د کارکوونکي (ريکارډو) د وژل کېدو له کبله شېرزي ته دومره په غوسه ده ، چې که يې سرې ويني ورکړي ځاځکى به يې هم مځکې ته پرېنږدي. نوموړې ښاغلې شېرزى پاکستان ته په جاسوسي کولو هم تورنوي او ملامتوي يې ، چې ولي يې په ولايت کې د علماوو د شورا مشر مولوي صاحب فياض او ملي ځېره خاکرېزوال ووژل شول. په همدې اړه يې په متحده ايالاتو کې په ځو_ځو واره لوړ پوړيو کسانو او غونډو ته ويناوي هم کړي دي.

خو حال دا چې د اوسني والي(ښاغلي اسدالله خالد) په دوران کې تر پينځوس زيات کاناډايي او ځلور امريکايي سرتېري وژل شوي او په سلګونو ځانمرګه بريدونه تر سره شوي دي ، ځو ولسوالۍ د طالبانو لاس ته ولوېدې ، د کمينونو ، ملي پوليسو ، ملي پوځ ، ملکي وګړيو ، ديني عالمانو او قومي مشرانو مرګ_ژوبله ، ورانۍ رامنځته کوونکو راکټونو او نورو داسي ورانکارو فعاليتونو شمېر خو لا تر اوسه چا ته نه دى معلوم! مګر موږ تر اوسه د دې کومه مقاله يا مرکه د دغه والي پر ضد نه ليدلې ، نه لوستلې او نه هم اورېدلې ده.

له والي صاحب شېرزي سره د دې شخصي دښمني تر دې حده رسېدلې ده ، چې ټولي پولي يې ماتي کړي دي. حتى د ملي ځېرې حاجي لطيف شېرزي د شخصيت سپکاوى يې هم کړى دى. په داسې حال کې چې د افغانستان د اساسي قانون له مخي باید د ټولو ملي ځېرو درناوي وشي ، چې له همدې کبله که افغانان وغواړي ليکواله د محاکمې مېز ته هم راکشولاي شي ، تر ځو د دغه جرم له کبله له ټول افغان ولس ځخه بخښنه په وغواړي.

ليکواله بېله دې چې کوم ثبوت وړاندي کړي پر ښاغلي شېرزي تور لګوي چې په کندهار کې يې بيا رغونه نه ده کړې او که يې کړې هم ده نو يوازې يې تر خپلو قوميانو پوري محدوده ساتلې ده. زه وايم هر يو دې غښتلى شي د خپلو قوميانو په سيمه کې دي د بيا رغوني چاري تر سره کړي ، په کندهار کې د ده په شان نور لوي قومندانان هم شته خو هغوي نه خپلو قوميانو او نه هم عام ولس ته د بيا رغونې په اړخ کې کوم پام وړ کار تر سره کړى دى. د دې خبرې د رد لپاره باید ووايو چې د کندهار ښار ټول سړکونه قير کول ، د کندهار پوهنتون ودانى ، د عالي دارالمعلمين ودانى ، د کندهار د ټولو ليسو ودانى ، بابا صاحب زيارت ، شاه آغا زيارت ، مياه نور محمد صاحب زيارت ، آخند صاحب زيارت ، شېر سُرخ زيارت ، ذاکر شريف زيارت ، حاجي لطيف

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښېرزي زيارت او پارك ، غازي پارك ، باغ پُل پارك ، اوګاتا دوه لارې ، د کندهار د جشن سيمه ، د کندهار په ورزشي لوبغالي کي د سپورټ آمريت ودانۍ ، منديګك مانۍ ، نارنج مانۍ ، د کندهار ولايت مقام ودانۍ بيا رغونه او د داسي نورو زياتو عام المنفعه تاسيساتو بيارغونه چي هره پروژه ميليونه ډالره ارزښت لري ، آيا دغه ټول کارونه يې د بيارغوني پر کارونو نه حسابېږي او که يې دا هر څه خپلو قوميانو ته تر سره کړي دي.

حال دا چي ولسمشر کرزی ښېرزي ته د بيارغوني بيلډوزر وايي ، چي ليکواله يې په خپل دغه اثر کي هم يادونه کوي. اوس خو ښېرزی صاحب په جلال آباد کي دی ، هلته خو به يې کوم همقومي نه وي چي هغه نسبتاً وران ښار يې له کبله اوس د سيلانيانو په مرکز ګرځولی دی. په داسي حال کي چي تر د ده وړاندي په جلال اباد کي بل والي هم موجود و ، چې په دې اړخ کې يې هېڅ پام وړ ګامونه نه دي اوچت کړي او همدارنګه په کندهار کي چي د ښاغلي ښېرزي د وخت کومي پروژې رواني وې ، هغه د ده له تګ سره سمدستي ودرېدې ، چې په داسې حال کې به نو د نورو پرمختيايي پروژو د پيل څه هيله وشي ؟!

موږ افغانان د تاريخ په اوږدو کي دا تجربه لرو ، چې هر کله د کار سړي راپکښي پيدا شوي دي په مختلفو نومونو مو ټکولي دي.موږ خپل اتلان پېژنو او په دې اړه د بهرنيانو مهربانيو او لارښوونو ته کومه اړتيا نه لرو.

لکه چي وايي د نعمت قدر تر زوال وروسته معلومېږي ، خو کله چې ښېرزی صاحب په کندهار کي و هېچا ته يې قدر نه معلومېده خو اوس هر څوك پوهېږي ، چي څنګه سړي يې له لاسه ورکړی دی ، خو بيا هم ډېر خوښ يو چي هغه زموږ د ګران هيواد د يو بل کونج په ودانولو بوخت دی.

دغه اثر ټول ټال ۳۶۳ پاڼي او ۳۴ څپرکي لري ، چي په دغو څپرکو کي يې څلور زموږ د هيواد تاريخ ته ځانګړي شوي دي. هغوي مو څکه ونه ژباړل چي موږ د خپل تاريخ په اړه په خپل قلم خورا ډېر کتابونه لرو ، خو يو شی ـــ چي بايد وويل شيـــ هغه دا ، چي ليکوالي په پوره ايمانداری سره د افغانستان تاريخ بيان کړی دی. پدي اثر کي د هغو ټکو د ژباړي څخه تير شوي يو چي ملي څيرو ته سپکاوي پکي شوي دي او نور چي هر څه په کتاب کي وه همدا اوس يي په خپلو لاسونو کي ګوري.

بايد يادونه وکړم چې دغه کتاب يو ځل د ويسا ورځپاڼي له لاري په سلسله واره توګه د (ميراني جزا) په نوم هم خپور شوی دی.

د دې کتاب له خپراوي څخه مي په لندن کي خپل نژدي ملګري مارك خبر کړم او راته راويې لېږئ. چي مننه ترې کوم. که په کتاب کي کومي غلطۍ وي نو له درنو لوستونکو څخه په ډېر ادب هيله کوم ، چي راته په ګوته يې کړي او په اړه يې بخښنه راته وکړي ، څکه وايي: (بنده تر خپله وسه پر دی!).

نور نو دا تاسو او دا هم کتاب ، هيله من يم چي د استفادې وړ مو وګرځي!

په سپېڅلې مينه ، ادب او درنښت

(c) ketabton.com: The Digital Library


غلام ولي نوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ځانمرګی برید

## (جون ۲۰۰۵)

د خاکريز سړك چې اوس جغل اندازي شوی د کندهار- هرات له لويې لارې څخه د کندهار ښار غرب لوري ته د ارغنداب په شنه سیمه د شمال په خوا کې جلا کېږي.

كه تاسو مخ ته ولاړ شئ ، نو ډېرې هغه مېوه لرونکې ونې به چې ختين ديوالونه پرې پوښل شوي دي تر شا پرېږدئ. تر يو څه مزل وروسته دا سړك په شمال غرب لوري کې د هغې درې غيږې ته لوېږي چې تر اوسه د روسي يرغلګرو د تشدد نښې نښانې پکې پاتې دي.

موږ په يو داسې کاروان کې سفر کاوو چې څراغونه يې لګېدل او پر سراشارې يې مړې او بلې کېدې. د پوليسو تور شنو او سپينو پيکپ موټرونو يو تور واګون موټر بدرګه کاو په کوم کې چې د جنرال محمد اكرم خاكرېزوال جسد پروت و. زه څو ساعته وړاندې ياد شوي موټر ته وروختم او د يو څه وخت لپاره د خاکرېزوال جسد ته نژدې کېښناستم.

افغانان له خپلو مړو سره نژدې نه کېښني خو دا زما لپاره ډېره ګرانه وه چې له نوموړي څخه لرې و اوسم. دا دی ، ستا اندېوال. د اکرم ورور چې د ډېرې ژړا له کبله يې سلګۍ وهلې دا راته وويل او د خاکريزوال له مخ څخه يې توس لرې کړ او دده مخ يې راښکاره کړ.

آخر څه لامل شو چې دی يې وواژه ؟

څو دقيقې وروسته موږ د نوموړي مړی يو تور واګون موټر ته وړ پورته کړ. د اکرم ورور کوربه توب کاوه ، خواشينو ساتونکو او غښتلو قبيلوي مشرانو کرارکرار ژړل او د خپلو پګړيو شملې به يې سترګو ته نيولې وې. د پوليسو افسرانو چې پوليسي يونيفورمونه يې په تن وو ، په برنډه کې د خلکو ليکې سره پورې وهلې تر څو د ځان لپاره د ناستې ځای پيدا کړي.

دوه کسان چې د يخې کونده ورسره وه يو ګلدان ته يې نژدې کېښودله. يو بل کس د غرمې د ډوډۍ په اړه خبرې کولې چې غرمه بايد څه وخورو ، خو يوه خواشينونکي ږغ نوموړی موږ او هر څه يې ورڅخه هېرکړل. د اکرم خواشيني ورور چې پر کور يې د غم تغر غوړېدلی و په ډېر ارمان ژړل او لاسونه يې د اسمان په لور د الله دربار ته نيولي وو او له ځان سره په پس پسي لګياو.

اکرم هلته يوازې و ، زه هم وروسته ورغلم او ور سره کښيناستم .د موټر د چت لخوا مې ګرمي احساسوله چې د موټر د ايرکنډېشن هوا يې هم ګرموله. خاکرېزوال يوازې ښکارېده او تر توس لاندې ډېر کوچنی معلومېده. کله چې نوموړی ژوندی و د خورا ښه قد او اندام څښتن وو ، زه دده څنګ ته له دې کبله ډېره نژدې کښيناستم چې دا نا ځاپې يوازيوالی له ځان څخه لرې کړم.

دا يو ځان مرګی بريد و:

دا هغه څه و چې د اکرم د نامه له اورېدلو سره مې هر څه له لاسه ولوېدل. ځانمرګي بريدونه چې د يووېشتمې پېړۍ پديده ده او دا پېړۍ يې سخته ځپلې ، د نوم په اورېدو سره يې د نړۍ په

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر کوټ کې سمدلاسه په سرې باندې د وېرې او ډار جال غوړيږي. دا ځانګړې برید په کندهار کې زما تر ټولو خوښ مسجد کې تر سره شو. دغه لرغونی مسجد د بازار په منځ کې په ختو سره ودان شوی چې څلور جګ منارونه یې د اسمان پر لور ختلي دي.

د کندهار والي چې په ډډ اواز او ماشوم غوندې په راډيو کې رغبده وويل ، چې دا برید د يو عرب لخوا تر سره شو ، چې موږ يې په اړه اسناد هم تر لاسه کړي دي. ده زياته کړه چې نښې نښانې داسې ښيي چې يو ځوان هلك چې د پوليسو يونيفورم يې په تن و غوښتل يې د خاکريزوال لاسونو مچولو ته ور ټيټ شي چې په همدې مهال کې يې ځان وچووه ،خو کله چې لږ ساعت وروسته خلکو ته د ټلويزيون له لارې په مسجد کې د قربانيانو وضعيت وښودل شو حالت ډېر خراب و. هرې خواته سلګۍ اورېدل کېدې ، د ماتو ښيښو ټوټې ، د بدن سوځېدلي غړي هرې خواته خواره وو ، د کالو او وېښتانو له امله چې هرې خوا ته پراته وو يو وحشت خپور و.

وروسته يوه طبي ډاکټر وويل چې په پېښه کې تر شلو زياتو کسانو خپل ژوند له لاسه ورکړی دی او په درجنونو نور ژوبل شوي دي. نوموړي ډاکټر چې کومه شمېره رسنيو ته ورکړې وه سمه نه وه. په افغانستان کې د رېښتيا معلومولو لپاره بايد سړی ډېرې لارې چارې په کار واچوي تر څو حقيقت ځان ته معلوم کړي ، خو موږ په دې خبر وو چې د عرب نوم له دغې پېښې سره هيڅ سمون نه خوري ، خو اوس ددې وخت نه و چې سړي دې دغه ګنګوسې رد کړي وای.

اوس زموږ د خوځېدنې وخت رارسېدلی و ، د کندهار ښار هغه سړك چې موږ پکې تېرېدلو **زموږ د هرکلي لپاره** له خلکو څخه ډك و. پر هغه دوړن سړك باندې چې موږ پرې يو ختين کلي ته روان وو ، خلکو په لاسونو ښورولو زموږ هرکلی کاوو. ټول خلك زموږ د کاروان د تېرېدو پرمهال چوپه خوله د سړك يوې او بلې غاړې ته ولاړ وو او موږ ته به يې کتل. چپ لوري ته په ګرځېدو سره موږ د ارغنداب له سيمې څخه ووتلو.

ملا نقيب او کسانو يې چې لوی کميسان يې په تن او پګړۍ يې تړلې وې ، په خپله سيمه کې يې زموږ د بدرګه کولو لپاره د لارې په اوږدو کې کتارونه جوړکړي وو. زه د کاروان په منځ کې وم ، تر کړکۍ چې مې بهر وکتل ټول خلك تلولي تلولي کېدل ، هر موټر چې به له ملا نقيب څخه تېرېده ، ده به لاس ورته ښوراوه. ملانقيب چې يو تکړه جنګيالی دی او د افغانستان له جنوب څخه يې سرې لښکرې په وتلو اړ کړې دي د لاس په ښورلو يې له هغو ټپونو څخه درد حسوي ، چې د نوموړي پر اوږو پروت وو.

له سرو لښکرو سره د جګړې په ټوله موده کې اکرم دده يو وتلی قوماندان و.

زموږ له تېرېدو سره سمدستي دوی هم په موټرونو کې سپرېدل او موږ يې د شا لخوا بدرګه کولو. د غرونو په منځ کې پر يوه سړك ، چې جغل ورباندې اچول شوی و تر سفر وروسته مو يوه طبعي منظره ولېدله دا له ختو څخه جوړ يو کلی و. موږ خپل موټر په يوه ګوښه کې ودراو ، يوکوچنی مېز او چوکۍ د ښوونځي د باندې ديوال ته ايښودل شوي وو. د ښوونځي دغه خاورين غولی په غالیو فرش کړای شوی و او شاوخوا ته يې کوربچې(توشکې) اوارې وې او د سر له پاسه د ګرمې د مخنيوي لپاره خيمې ځوړنده شوې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اکرم ورور لرې په يوه کونج کې ما ته د کښېناستلو لپاره اشاره وکړه ، زه هم تر غاليو ورواوښتم او ورغلم ، خو هلته زما لپاره يوه دقيقه تېرول هم ډېر ګران و ، ځکه چې زه هلته يوازې وم. ما دغه ځای سمدستي پرېښود او هغې دروازې ته نژدې کښيناستم ، چې خلك به دغه ځای ته پرې راننوتل. ما د اکرم د ورور تر شونډو لاندې هغه خبره واورېده ، چې ويل يې په لاره کې ناسته يې چې زه هم پرې پوهېدم ځکه ، چې هر څوك به دلته راته نو لومړی به يې پر ما سترګې لګېدلې ، خو دا داسې وخت و چې ما بايد هيڅ نه وای اورېدلې.

په افغانستان کې ښځې په جنازو کې ګډون نه کوي خو زه دلته يوازينۍ ښځه وم او هغه هم بهرنۍ. ما خاکي پطلون اغوستی و او په خامکي شال مې د سر وېښتان پټ کړي وو. ما هغو غښتلو خلکو ته کتل چې په يوازې سر به يې د دوو نفرو کار کاوو. نور نو دا د کندهار ښار نه و ، دا د خاکرېز ولسوالي وه ، په محافظه کاره هيواد کې د يوې غونډۍ پر سر تر ټولو محافظه کاره کلی!

دا يوه معجزه وه چې ما ته په دغو مراسمو کې د ګډون اجازه راکړل شوې وه ، له همدې امله مې د اکرم له ورور څخه په ټيټ ږغ مننه وکړه.

د ښوونځي انګړ وار په وار له خلکو څخه ډکېده ، خلکو کوښښ کاوو ، چې پر کوربچو باندې د ځان لپاره ځای پيدا کړي. زه بېرته خپل کونج ته راستنه شوم ، د اکرم ملګري شاوخوا راباندې راغونډ شول چې په هغوی کې يو تجار او د سپين بولدك امنيه قوماندان هم شامل و.

زموږ د خبرو تر پيلېدو لږ وروسته د اکرم ورور ، د اکرم باډيګارډ او موټر چلوونکي ور وبلل چې په همدې سهار يې اکرم هغه مسجد ته رسولی و چې دغه چاودنه پکې رامنځ ته شوه. د پوليسو په جامه کې يو ځوان چې زموږ په دايره کې يې زنګنونه لګولي وو او سترګې يې کښته اچولې وې د خپلو سترګو ليدلی حال دا سې بيان کړ:

يو نفر له مسجد څخه را ووت ، د سړك هغې بلې غاړې ته پوريوت ، بېرته چسپ راوګرځېد او مسجد ته يې وکتل چې په همدې مهال کې چاودنه رامنځ ته شوه. د حيرانۍ ځای داو چې تر چاودنې سمدستي وروسته نوموړی کس له نظره غيب شو. ما هغه هلك ته وکتل او بيا د اکرم ورور ته چې پوه شوم چې موږ بايد يو څه وخورو. ياد مې دي چې موږ يو څه وخوړل ځکه چې دا يو مجبوريت و. دا د افغانانو کلتور دی ، چې خپلو مېلمنو ته ډوډۍ او چای ورکړي ، که څه هم د دوی کوچنيان وږي پاتې کېږي.

ياد مې دي چې يو کس له دې امله خپل ځان ملامتاو ، چې ولې يې له ځان سره د برېښنا لپاره د جنراتور د راوړلو فکر ونکړ. ياد مې دي ، چې د ګازو د ډېو په لګولو سره توره شپه رڼا شوې وه. په ياد مې دي ، د اکرم ورور چې لاسي څراغ يې په لاس کې و موږ يوه خاورين کور ته بدرګه کولو. په دغه سرای کې هر چېرې وچ واښه تر سترګو کېدل ، چې د خوب لپاره کټونه ترې جوړ شوي وو. په همدې سرای کې يوه زېرخانه وه چې چت يې له و چو وښو څخه ډك و. زېرخانې افغانان ددې لپاره جوړوي چې د مرګونې ګرمۍ په وخت کې له ګرمي څخه په امان وي.

ډېرو خلکو ماته خپلو کورونو ته د تګ بلنه راکړه تر څو د دوی له زنانه وو سره و اوسم ځکه زه بايد له نارينه وو سره نه وای ويده شوې ، خو زه د يوې بې کسې په شان د اکرم په هغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



باډيګارډانو پسې نښتې وم چې زما او اکرم تر منځ به سخته مناقشه روانه وه ، دوی به د چای يا انګورو راوړلو په خاطرخونې ته په ډېر درناوي راننوتل.

ما له دوی څخه وپوښتل ، که ددې پرځای تازه هوا او د ستورو رڼا ته پربوزو کومه خبره خو به نه وي ؟

زما ملګرو په خوش طبعي سره وويل: موږ يوازې نه يو ، له موږ سره يو سوداګر دی ، د اکرم يو چابک او مخلص دوست او د کابل د پوليسو د جنايي څانګې يو پلټونکی افسر دی چې زما په وړاندې به يې همېشه خندونه جوړول. ده ويل چې دا يو ځانمرګی برید و او دا کيسه به يې داسې کوله چې له ځانمرګي برید سره يې جوړه کړي. نوموړي ويل چې د مسجد فرش نه دی غار شوی. ده همدا خبرې په خاکرېز کې هم خلکو ته کولې. افسر زياته کړه چې هغه ځای په بشپړه توګه اوار و ، په همدې حال کې به يې کوښښ هم کاو چې څوك يې مخالف واقع نه شي او ددې هيڅ امکان نشته چې په هغه فرش کې دې بم ايښودل شوی وي. هغه عسکر چې زموږ په دايره کې يې زنګنونه لګولي وو ، د نوموړي خبرې رد کړې او بيا يې ماته د تائيد په نظر وکتل ، ما هم د عسکر تائيد وکړ.

په دې سره مو پلټونکی افسر ډېر شرمنده کړ.

د هغه د نه صداقت او بې کفايتۍ له کبله ما پر هغه ټوله شپه لعنت وايه. باډيګارډانو په همدې خاورين کور کې له وښو څخه د کټونو په جوړولو پيل وکړ. دوی د خپلو ځانونو لپاره د دروازې مخې ته د خوب لپاره ځايونه جوړ کړل. يو څه هاخوا ته يې زما لپاره يوه چيټايي (پوزی) وغوړاو او د پنبو کوربچه او بالښت يې پري هوار کړل. په همدې شپه هيچا سم خوب ونکړ او يوازې ښه راغلې هم د سړي ټوله خواشيني نه شي لرې کولای. سبا به هم له نن ورځې څخه کوم ځانګړی توپير ونه لري او د نن ورځې په شان به ډېره خواشينونکې وي.

ما په اسمان کې رڼو ستورو ته کتل چې ځل وبل کېدل او کهکشان ته چې په اسمان کې لکه د وريځې په شان غزيدلی و. ما خپل تلتك د يخنۍ له کبله تر ځان لاندې کړ. زه نوره ارامه وم خو فکر مې کاو چې سبا به هم د نن په څېر د ويراو ماتم فضا خپره وي. ما يوه ژوره ساه واخيستله او له ځان سره مې وويل: نن خو د همېش لپاره راڅخه جلا کېږي.

يو نفر را ږغ کړ ، که ګورم يو کس چې د چای تر موز او ورسره پتنوس د بورې او پلمښتو قنداني ، ګيلاسونو ، قاچوغې او څلورو ډوډيو سره راغی. موږ ټول سره يو ځای شوو ، د ساتونکو پر تنکاچه تر کښېناستو وروسته مو دسترخوان وغوړاو. ما خوږې چايې پر سر پورته کړې چې ويې سوځولم ، د چايو دغه ګرمي مې په ټول بدن کې حس کړه خو تېره شپه مې څه نه و خوړلي. تر دې وروسته بايد موږ روان شوي وای

ځيني خلك په خپلو موټرونو کې تلل او ځيني پر هغه دوړن سړك پر پښو روان وو. موږ د يوې تپې بغل ته غلي کښيناستلو او زما وفادار ملګری کريم هم زما څنګ ته ناست و.

د جنازې د لمانځه وخت راورسېد ، ټولو خلکو د لمانځه لپاره کربښې جوړې کړې وې او خپل پټوګان يې مخ ته غوړولي وو. په سيمه کې نژدې کوم ديوال نه و ، يوازې اسمان ، باد او جګې

(c) ketabton.com: The Digital Library



غونډۍ ښکاريدي. زموږ مخ ته دري جسدونه پراته و ، چې د تيرې ورځې په پيښه کې د اکرم په شمول دري کسه وژل شوي وو ، چې هغه نور دوه يې ما نه پيژندل.

دا نور دوه جسدونه د اکرم د وريرونو وو (ژباړن).

دوی پر تور رنګه کټونو ايښودل شوي وو. د اکرم توس هم بدل شوی و ، يو ټوکر چې په طلايي رنګه تار پرې د سپيځلي قران کريم اياتونه ليکل شوي وو اوار شوی و.

خلکو هر ځای ليکې جوړې کړي وې ، د ډيرې ګرمۍ له کبله به يې ټوکران د پکې په شان پر ځان وهل. د ډيرې تودوخې له امله له جسدونو څخه هم بوی راته. موږ ته د يو څو مهمو کسانو د راتګ په خاطر د انتظار کولو وويل شول. په راتلونکو کسانو کې نه ولسمشر کرزی و ، نه د کورنيو چارو وزير علي احمد جلالي ، نه له کابل څخه کوم لوړ پوړی چارواکی ، نه کوم امريکايي چارواکی چې اکرم به د ستونزو په له منځه وړلو کې ډيره مرسته ورسره کوله او نه هم هغه ژورنالستان چې له اکرم سره به يې همېشه مرکې کولې ، خو په راتلونکو کسانو کې يوازې د ده قومېان او د مزارشريف خلك و. له مزار شريف څخه ټول خلك سهار راورسېدل ، چې په هغوی کې تنګ سترګي او شکېدلي وېښتان لرونکي ازبکان ، پاړسي ژبې تاجکان او د شمال پښتانه وو. دوی ټولو له اکرم څخه د هغې سولې د راوستلو له امله مننه کوله چې ده په دغه جنجالي او ويشل شوي ولايت کې راوستې وه. اکرم په سيمه کې ټول بېلابېل کسان سره يو ځای کړل او د هغوی تر منځ يې يووالی ټينګ کړ.

په راتلونکو کسانو کې د کندهار والي ګل اغا شېرزي هم و ، زه په دې ډيره حيرانه وم چې ايا د شېرزي به هم په دغه مړينه خوا بده شوې وي.

په کندهار کې د شېرزي په مخ کې خند يوازې اکرم و او ده غوښتل هغه له مخې لرې کړي. خو اوس موږ څنګه کولای شو چې هغه دلته ومنو؟ دا د افغانانو څنګه کلتور دی چې خپل قاتل ته په خپل کور کې پناه ورکوي او د هغه احترام کوي.

يو نفر په غوسه ماته را برغ کړ او اشاره يې راته وکړه چې چپه شه. ما ځواب ورکړ چې څه دي؟ بل نفر د لمانځه اشاره راته وکړه چې چپ شه موږ لمونځ کوو ، زه ډيره خجله شوم او ځان مې د نارينه و له کتار څخه راوويست ، ځکه چې د ښځې ګډون د جمعې په لمانځه کې د نورو لمونځ فاسدوي او خدای دغه لمونځ نه قبلوي ، نو ځکه دغه نفر پر ما په تونده لهجه او سپکوونکې توګه نارې وهلې. ما هغه ځای پرېښوده او په يو تور خالي موټر کې کښيناستم ، چې په موټر کې د وينو يوه لويه ټپله ښکارېده.

تر لمانځه وروسته زه بيرته راوګرځېدم ، دا هغه مهال و چې د اکرم جسد د ښخېدو په حال کې و. دوو کسانو ډېر سخت کار کاوو او بنا غونډې ښکارېدل په اکرم پسې يې خښتې ايښودلې. زه هم ورو ړاندې شوم او يوه لويه خښته مې ورکړه ، کله چې دوی د خښتو ايښودل پای ته ورسول يو ځوان هلك چې بېلچه يې په لاس کې وه قبر ته د خاورې په ور اچولو پيل وکړ. د قبر تر بشپړېدو وروسته موږ د کاڼو په ټولو پيل وکړ تر څو ترې د قبر په منظمولو او خوندي ساتلو کې استفاده وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


يو کس د قبر په سر او پای کې سوري وکيندل او هغه ريښکی (له کفن نه خلاصې شوې اوږدې ريتاړې) يې پرې وغوړولې چې د خاکرېزوال جسد پرې تړل شوی و. دا کار هم تر سره شو، اوس نو هغه شېبه وه چې اکرم يې د تل لپاره له موږ څخه جلا کړ، ما د ده له قبر څخه يو کانی راواخيست او په خپل جيب کې مې واچاو.

جنرال محمد اکرم خاکرېزوال ۴۶ کلن و. نوموړی دوه مياشتې وړاندې پلازمېنې کابل کې د امنيه قوماندان په توګه ټاکل شوی و، چې په کندهاري ولس کې د خورا زيات نفوذ او مېنې څښتن و.

اکرم د افغانستان په چارواکو کې چې ما ورسره پيژندل تر ټولو وړ کس و. نوموړی زما ډېر نژدې دوست و. زه نه پوهېږم چې د نوموړي قاتلين به پيداکړم که نه، خو پوره او تر وروستۍ شېبې به خپل کوښښ وکړم.

په خدای قسم پوره کوښښ به وکړم.

ښکاره به کړم چې په دغه پېښه کې چا لاس درلود او چانه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پرېکړه کوونکو شېبو انځورول
# (د نویمو کلونو څخه تر ۲۰۰۱)

کله چې اکرم د۲۰۰۵ میلادي کال د جون پر لومړۍ نېټه ووژل شو ، زه په کندهار کې اوسېدم. تر همدې مهاله مې په کندهار کې څلور کاله تېر شوي و ، چې ډېرې ناخوالې راباندې تېرې شوې اوځینې مهمې پېښې مې ولیدلې.

زه دلته د ۲۰۰۱ م کال په وروستیو کې (National Public Radio) نېشنل پبلك راډیو خبریالې په توګه را ولېږلم. زما راتګ تصادفي و ، خو نصیب په سړې نورې کانې کوي داسې چې زه یې تر ډېره وخته پورې دلته پاته کړم.

څو کاله وړاندې مې خپل ماښامني ګېراکان د نېشنل راډېو په اورېدونکو بدل شول. ما د کوچو په یو دوکان کې کار کاو تر هغه وروسته مې د ژورنالیزم په ښوونځي کې داخله واخیستله.

اِن ـــپي ـــار یوه ملکیه ښه معتبره راډېو وه ، چې د ملکي خلکو لکه تاسې او یا تاسو ته ورته کسانو په مالي لګښت چلېدله. دا د ټولنې لپاره د خبرونو تر ټولو ښه او غوره سرچینه وه چې تر ټولو ژر ما ځان پکې پیدا کړ. خو کله چې ما دوکان کاو ، حتی دا تصور مې لا نه شوای کولای چې یوه ورځ به زما ږغ تر دغه بکس راووزي ، خو تر ګرېډ ښوونځي وروسته مې خپله لار د ژورنالیزم پر لور ور سیخه کړه.

د نوي یموکلونو په وروستیو کې مې له پاریس څخه د ان ـــپي ـــار لپاره خبرونه برابرول. تردې وروسته بالکان ته ولاړم ، له هغه ځایه مې د ځپل شویو خلکو په اړه خبرونه چمتو کول چې د رنګ شوي کمونیستي وحشي زاړه پالو څخه یې د خلاصون هڅې کولې. له هغه ځایه مې په هاګ کې د جنګي جنایتونو د محاکمې خبرونه تر نړیوالو ورسول. خو کله چې هغه شخړه په ۲۰۰۰ م کال کې پای ته ورسېده ، ما یو ځل بیا خپل ځان په پاریس کې پیدا کړ چې له هغه ځایه مې د خوړو په اړه راپورونه برابرول. تر دې وروسته د لیونۍ غوا کېسې وې چې د هغه لپاره زه سلا خانې ته هم ولاړم. له دې ټولو سره سره چې بیا هم دې نړۍ ته ځیره شوم نړۍ پر بل لوري روانه وه. له ما سره دا فکروچې ولې خلك د عدالت ، ښوونې او روزنې ، ښه ګاونډیتوب ، خوشحاله ژوند او د انساني کرامت د ساتلو لپاره هڅې نه کوي ددې پر ځای چې د ځان غوښتنې عنصر غښتلی کړي ، خو اوس دا ټول برعکس روان وو. داسې ښکارېده لکه امریکا اواروپا چې ډېراساسي شیان تر شا پرېږدي. همدا و چې د سپتمبر د یوولسمې پېښې نړۍ سره ولړځوله.

دا هغه څه وو چې ما یې فکر کاو.

د نورو په شان ما ته هم دا پېښه د ډېرو غمېزو پیل ښکارېده. کله چې زه هم د هغو میلیونونو کسانو په لیکه کې ودرېدم چې دغه لوی بلډینګونه څنګه یو په بل پسې را نسکور شول او خلکو یې په ډېره بې وسۍ او خواشینۍ سره د هغوی ننداره کوله ، نو دا راته څرګنده شوه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library


موږ يوه نوي پړاو ته ور دا خليږو. دا يوه له هغو لحظو څخه وه چې زموږ د پېړۍ برخليك يې وټاکه او هغه پړاو وو ، چې تاريخ يې بايد يو بېل لوري ته سوق کړی وای. د سپټمبر يوولسمه پر ما هم بې اغېزې نه وه. ما خپل ځان د پېړيو زوړ د فرانسې د ملي پوليسو په مرکز (نوټرډم کتيډرال) کې د مراسمو په تر سره کولو کې وموند.ما بايد له هغه ځای څخه راپور ورکړی وای ، خو د ډېرې ژړا او وېرې له امله مې له بدن څخه دا شيمه وتلې وه چې زه دي خپلې اوښکې پاکې کړم او مېکرافون مې را اوچت کړم.

زه د فرانسې له خلکو څخه زياته مننه کوم چې هغوی زموږ سره خپل ملګريتوب او خواخوږي و ښوده. د دوی نر او ښځې به په ورځو_ورځو د امريکا د سفارت مخې ته ولاړ وو ، تر څو د امريکا له خلکو سره خپله همدردي وښيي. په همدغو ورځو کې به د فرانسې د نر او ښځو تر منځ همدا مسئله مطرح وه او خلکو به د امريکا په اړه فکر کاوو.

دا ټکان ممکن د امريکا متحده ايالات راويښ کړي او موږ په يو څه کولو اړ باسي. دا شايد موږ په هغه څه کولو مجبور کړي چې موږ يې لا پخوا د تر سره کولو خبر ور کړی و. د انساني ارزښتونو قهرمان ، په حکومتونوکې يو مثال او د خلکو روزونکي اوس د ځان د خلاصون لپاره هلې ځلې کولې.

که هر څه و د سپټمبر يوولسمې پېښې ته غبرګون ښودل پر ما بې اغېزې نه و. د خلکو په ذهنونو کې د امريکاپه اړه نويو پوښتنو ځای موندلی و. دوی به يو تر بل برېښناليکونه سره تبادله کول ، بيا به يې خپلو ملګرو ته په لوړ اواز لوستل او له نابلدو کسانو سره به همېشه په همدې اړه بحثونه روان وو. خو د دې ټولو پايله دا راووته چې نړۍ اوس پر دوه بلاکه سره وېشل کېدای شي: چې يوه اړخ ته يې غرب او بل اړخ ته يې اسلام چې په ناڅاپي توګه را څرګند شو او هغه خاليګاه يې ډکه کړه چې د شوروي اتحاد لخوا تشه پاته شوې وه.

دا زما لپاره څرګنده وه چې د القاعدې د پلان جوړوونکو هدف يوازې د دغو دوو ودانيو نړول نه و ، بلکې دوی کوښښ کاو چې نړۍ پر دوو برخو ووېشي او د تمدنونو تر منځ ټکر رامنځته کړي.

زموږ مشرانو هم هغوی ته د خوب ورکولو لپاره لستوني راپورته کړي وو.

ما فکر کاو ، چې ايا دغه يې تر ټولو سمه لار ده؟ ايا موږ ښه کار کوو؟

ايا دغه يې تر ټولو ښه لار ده؟

زه خو فکر نه کوم چې دابه يې سمه لار وي ، زه د تمدنونو تر منځ پر ټکر هم باور نه لرم. زه پدې باور يم چې د نړۍ په هر ګوټ کې چې انسانان ژوند کوي ، يو شانته هيلې او ارزوګانې لرې او د ټولو انسانانوتر منځ اساسي ارزښتونه سره شريك دي. نو په کار ده چې هغوی په اصلي لوري اداره شي.

ما زما د ان_ پي_ار مسئول ته ټيلفون وکړ ، هغه ته مې وويل که چېرې تاسو ماته اړتيا لرئ ، نو زه له تاسو سره يم. زه هم غواړم خپله برخه ترسره کړم. خو بالاخره ده زه د پاکستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



دکوټې ښار ته را واستولم. دا هغه ځای و چې ما غوښت. دا په ټول پاکستان کې تر ټولو محافظه کار ښار او د طالبانو اصلي مرکز دی. له همدې کوټې څخه په ۱۹۹۴ م کال کې طالبان را پورته شول ، د کندهار شا وخوا سيمې يې ونيولې او بيا يې اسلام په خپله خوښه د خپلې راډيکالې نظريې د خپرولو لپاره ترجمه کړ. څو کاله وروسته اسامه افغانستان ته راغی. له طالبانو سره يو ځای شو او طالبانو ته به يې د افغانستان د نيولو لپاره مالي او نظامي مرستې برابرولې. طالبانو دغه مېلمه ته په افغانستان کې يو خوندي جنت برابر کړ او له همدې ځايه اسامه خپل د القاعدې جال پياوړی کړ. کندهارد طالبانو او القاعدې په مرکز بدل شو. طالبانو له شمالي ټلوالې څخه د هيواد زياتره سيمې ونيولې او هغوی يې د هيواد په شمال کې يوه کونج ته ټېل وهل. نو له همدې امله د سپټمبر له يوولسمې وروسته د امريکا ډېر بمونه پر شمال واورېدل.

د خلکو لپاره دا ډېره حيرانونکې وه چې ژورناليستان له شمال څخه داسې راپورونه مخابره کوي چې ځايي خلك امريکايانو ته خورا تود هرکلی وايي او هغوی خپل ازادي بخښونکي بولي ، خو په جنوب کې بيا د جګړې تر پيلېدو وروسته امريکايي پلان جوړوونکو غوښتل چې دلته هم همداسې يوه سناريو پلې کړي. دوی دلته هم د شمالي ټلوالې په شان ځايي جنګياليو ته اړتيا لرله تر څو د امريکايي بمباريو ملاتړ وکړي.

خو په جنوب کې د داسې يوې ډلې پيداکول ګران کار و ، ځکه چې دا ځای د القاعدې او طالبانو مرکز و.

يو شی بايد له ياده و نه باسو چې کندهار د افغانستان لومړنی مرکز و او اوس هم د افغانستان د ملاد تير حثيت لري.

زه کوټې ته د ۲۰۰۱ م کال په وروستيو کې راورسېدم. زه په دې فکر کې وم چې ايا په داسې يو ځای کې به د امريکايي ژورناليستې لپاره ژوند کول اسانه وي ؟

ستونزه يوازې دا نه وه چې موږ په يو دغسې چاپېريال کې ژوند کاوو ، بلکې راپور لېږنه خپل هيواد ته او بيا په هغوی منل ډېر سخت کار و.

دا زما په مسلك کې تر ټولو سخته موده وه.

زما يوه ملګري د هغو نظريو يو لست راښکاره کړ چې د هغه د مشر له خوا رد شوې وو. زما ملګری چې دپولېټزر (Pulitzer) جايزې ګټونکی و ، شکايت راته وکړ چې دغه کسان د هر راپور منلو ته نه دي تيار. دوی لا وړاندې مسائل په ګوته کړي دي چې موږ بايد د هغه مطابق راپورونه چمتو کړو. د سي ـــ ان ـــ ان يوې وياندې را ته وويل چې ما ته لا له وړاندې په ليکلې ډول ويل شوي چې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې عکاسي به نه کوې.

د ۲۰۰۱ م کال د نومبر په نيمايي کې مې د کوټې په سرينا هوټل کې د بي ـــ بي ـــ سي ادم بروکس په ياد دی چې د کابل تر نيولو وروسته يې خپل د ماربل مېز په سوك ووهه تر څو خپل مشر پدې راضي کړي چې کندهار لا تر اوسه نه دی تسليم شوی.

خو ان ـــ پي ـــ ار راډيو د نورو ارګانونو په شان له سانسور څخه خلاصه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما یو راپور ور ولېږه چې په هغه کې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې یادونه شوې وه چې په هغه سره زما راپور ډېر کره توب پیدا کړ او زما مشر هم زما څخه ملاتړ کاو. په هغه راپور کې ما له افغان مهاجرو سره مرکه کړې وه ، ما به هره ورځ له افغان مهاجرو سره مرکې کولې ، د هغوی ټولو زړونه په هیواد د چاودنو ، بمونو او مرګ ژوبلې څخه لا د څو لسیزو را په دې خوا بد شوي وو. هغوی بمونه د هیواد د ورانۍ اصلي لامل بلل او د ټولو په سترګو کې وېره له ورایه ښکارېدله. هغوی ټول په رواني ستونزو اخته وو او د راتلونکې لپاره یې هیڅ هیله نه لرله.

که څه هم د امریکا بمونه ډېر دقیق و ، خو بیا به یې هم ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اړوله. هغوی به ولسمشر بوش ته د دوی پر هیواد د بمباریو د درولو لپاره د لوی ښېتن نوم شفېع کاوو. د هغوی دغه زارۍ تمثیل نه بلکې واقعیت و.

دا ډېره مهمه وه چې امریکایان ددغې جګړې په رواني اغېزو پوه شي. دغې جګړې ډېرې بدې رواني اغېزې لرلای شوای. په همدې سره د ایډیالوژیکي غورځنګونو لکه القاعده ایډیال نور هم غښتلی کېده.

همدا ډول به ما د راپور جوړونې لپاره په کوټه کې له روغتونونو څخه لیدنه کوله چې په هغوی کې زیات شمېر ناروغان ماشومان وو.

له همدې امله مې د خپل راپور د پیل لپاره یو کوچنی و ټاکه ، په همدې وخت کې ډاکټران ددغه هلك د کتلو لپاره را روان و ، د هغوی کار ما ته د دې زمینه برابره کړه چې د هغه اواز د راډېو لپاره ثبت کړم. دغه ماشوم ډېر بد ژوبل شوی و ، زه په دې ډېره حیرانه وم چې هغه له کندهار څخه تر کوټې پورې څنګه ژوندی رارسېدلی دی. په داسې حالت کې دا زما لپاره ډېره بده وه چې خپل ځان سانسور کړم.

ما د هغه ملا وکتله چې د ژور ټپ له امله یې ور ګنډلې وه. تر همدې ټپ لوړ یې یو بل لوی زخم هم په ملا کې درلود. زما دغه راپور ته د اورېدونکو عکس العمل د سپکاوي او رټنې تر کچې پورې ورسېد.

یوه وویل ، د ډېرې خوابدۍ له امله مې موټر د سړك غاړې ته ودراو ، نژدې و چې استفراق وکړم ، خو له دې ټولو شیانو سره سره زما مشر ما ته څه و نه ویل ، خو د کابل او کندهار تر رانسکورېدلو وروسته مې غوښتل چې واشنګټن ته د سیمې په اړه سم راپورونه ورکړم. تر دې وروسته زه هم په هغه برخلیك اخته شوم چې د بي ــ بي ــ سي ادم بروکس په سرینا هوټل کې د خپل مشر لخوا اخته شوی و او هغه مېز ورته ډباوو.

د ان ــ پي ــ ار د رهبرۍ یوه لوړ پوړي کس چې زه هغه ته په ډېر احترام قایله وم ، په برېښنا لیك کې ما ته ولیکل چې زه نور ستا په کار باور نه شم کولای. نوموړي زه له دې امله غندلم چې ته خو ښځې د طالبانو په شان راپورونه چمتو کوې ، ده زیاته کړې وه ، کله چې کندهار لا نه و تسلیم شوی او ادم بروکس د هغې سیمې کوم انځور وړاندې کاو ، ډېر د ستاینې وړ دی. ده لیکلي و چې په راپور کې ستا ټولو سرچینو د اسامه د کسانوسره تړاو درلود. دا هغه وخت و چې طالبانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



واك خپلو سيالانو ته بايللى و او هغوى د خوښۍ ورځې او شپې لمانځلې. په همدې راپور كې ما د لارې له يو ډربور سره مركه كړې وه چې له كندهار څخه يې پاكستان ته انار بار كړي وو.

په داسې حال كې چې د افغانستان په اسمان كې پر طالبانو او اسامه اور بل وي ، نو ايا په دغه حالت كې به يوازې په طالبانو پورې تړلي كسان تښتي او كه به كليوال هم ور سره وي ؟

ايا امريكايانو ته د طالبانو او اسامه تر منځ توپير نه و ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کندهار ته روانېدل

## کندهار ته روانېدل (نومبر ۲۰۰۱)

ضابط اکرم له پوليسو اکاډمۍ څخه د بريدمن په رتبه فارغ شو.

په کويټه کې د هغه کور زما د اوسېدلو له ځای څخه څو سړکه ها خوا و. په دې ورځو کې دلته داسې شور ماشور و لکه ټوله نړۍ چې پاکستان ته راغلې وي. دغه لوی ښار چې افغان مهاجرو پر سر اخيستی دی ، له څو کالو را په دې خوا اکرم هم دلته مېشت و. ددغو افغان مهاجرو په منځ د افغانستان راتلونکی ولسمشر کرزي هم ژوند تيروي. اکرم ډير مفلس و ، د هغه مېرمن ، لور او زوی د افغانستان په خاکرېز کې و ، ده دومره څه نه لرل ، چې هغوی ته يې ور واستوی. کله چې طالبان د کندهار تر دروازو ورسېدل ، اکرم د خپلې قبيلې له مشر ملانقيب سره مخالفت وکړ.

د ۱۹۹۴ م کال د دوبي په وروستيو کې ملانقيب د طالبانو پر مخ د کندهار دروازې پرانيستې. اکرم ددې کار مخالفت وکړ او په همدې سره د الکوزو د مشرانو مجلس څپانده شو.

اکرم او ملګرو يې د طالبانو سره په هلمند کې مقاومت وکړ ، خو هلته يې هم ماته وخوړه. په همدې سره نو اکرم د خپل پلرني ټاټوبي جنوب څخه پيراره شو. اکرم د شمال پر لور ولاړ ، هلته د طالبانو د مخالفې ډلې له افسانوي مشر مسعود سره يو ځای شو. تر هغه وروسته اکرم ايران او بيا د پاکستان پښتون ميشتې سيمې کوېټې ته ولاړ.

د اکرم لپاره هم د سپټمبر يوولسمه د ټوپك د بيا را اوچتولو پيلامه وه. دا وخت د طالبانو د غورځنګ زوال هر چا ته له ورايه ښکاريده.

د امريکا حکومت ډير چټك و. د سي_آی_اې ايجنټان لا له وړاندې د پيسو له بکسونو سره په شمالي افغانستان کې پر ځای شوی و ، تر څو د ځان لپاره ايتلافيان راونيسي او نور غړي يې د جنوب لپاره د پاکستان کوېټې ته رالېږل شوي و.

د کوټې پښتون اباد سيمه کې چې د طالبانو د جلب مهم مرکز و ، د طالبانو تر څنګ د بشري ادارو مشران ، پخوانی سياسي خبرې او مقاومت کوونکي لکه اکرم ټول يوځای اوسېدل.

د سپټمبر تر يوولسمې وروسته امريکايانو دغې سيمې ته پام واړاوه او په خلکو پسې به ګرځېدل ، او د طالبانو د ماتولو لپاره به يې ځان ته ملګري پيدا کول.

ددغه مقاومت لپاره دوه ډير پياوړي کانديدان ډير ژر را څرګند شول ، چې يو يې هم حامد کرزی و. د کرزي پلار د افغانستان په طلايي دوره کې يعنې له ۱۹۷۰ ز کاله تر کمونيستي کودتا وړاندې د افغانستان د ملي شورا وياند و. دويم کانديد ګل اغا شېرزی و ، چې په دوه نوييم کال کې د کندهار والي او د اکرم په هديره کې را څرګند شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



امريکايي پلان جوړوونکو دواړو ته زرغون څراغ روښانه کړ ، چې له دې څخه يې موخه له طالبانو څخه د دوی د مهم مرکز کندهار لاندې کول و. داسې چې کرزی بايد د افغانستان داخل ته تللی وای ، د کندهار په شمال کې يې خپل ملګري راټول کړي وای او له هغه ځای څخه يې د طالبانو پر ضد د کندهار پر لور حرکت کړی وای.

ګل اغا شېرزي هم بايد خپل جنګيالي را ټول کړي وای او له جنوب څخه مخ د کندهار ښار پر خوا ور روان شوی وای.

لومړی کرزي اکرم کور ته ور وباله. دا تر امريکايي بمباريو د يوې يا دوې ورځې وروسته خبره ده. کرزي او اکرم دده د کور په دويم پوړ کې په يوه خوندي ځای کې مجلس درلود ، کرزي اکرم ته وويل ، چې موږ افغانستان ته ځو ، نو ته بايد خپل جنګيالي سره منظم کړې.

په افغانستان کې هر څوك خپل ځان ته شخصي اردو لري ، له همدې کبله هر قوماندان خپل ملګري راغونډ کړل. کرزي اکرم ته درې سوه زره پاکستانۍ روپۍ ورکړې او ور ته ويې ويل ، چې دغه روپۍ له هغو قوماندانانو سره شريکې کړه ، چې له موږ سره ملګري کېږي او نورې خبرې به وروسته سره کوو.

اکرم هم خپل ټول توان د همدې کار لپاره په کار واچاوه ، خو ناڅاپه کرزی د اکرم له خبرولو پرته افغانستان ته ولاړ. اکرم پرتش ډاګ پاتې شو. وروسته شېرزی اکرم ته راغی او له هغه څخه يې مرسته وغوښته ، خو د اکرم پر هغه باندې باور نه راته. کله چې شېرزی له طالبانو مخکې د کندهار والي و ، نو د دوی تر منځ ځنې بې باورۍ رامنځ ته شوې وې.

شېرزي هغه ته ډېر ډاډ ور کړ او اکرم هم شېرزي ته د وعدې نه ماتولو په وړاندې چلنج ورکړ.

شېرزي ورته وويل: دلته د تېرايستلو هيڅ مسئله نشته ، امريکايانو د همدې کار د تر سره کولو لپاره له ما سره د يو مليون ډالرو وعده کړې ده. دوی دا هم را ته وويل ، چې يوازې کندهار ته ستاسو موټر حرکت کولای شي ، نور به پر هر موټر بم وغورځول شي.

اکرم ما ته وويل چې ددغو خبرو په جريان کې يو ښايسته امريکايی ځوان هم ناست و او ښکلې کندهارۍ خامکي جامې يې اغوستې وې ، دغه امريکايي زموږ په مجلس کې هيڅ مداخله نه کوله. شېرزي هغه ما ته ژورناليست را معرفي کړ او راته ويې ويل ، چې دا زما د ګاونډي انډيوال دی.

اکرم ويل چې له همدې څخه زه و پوهېدم چې دا د سي_آی_اې مامور دی. اکرم هم دا يوه موقع بلله او د طالبانو د نسکورولو چانس يې له لاسه نه ورکاوه.

کرزي لا وړاندې د طالبانو په وړاندې سنګر ته ور دانګلي و ، خو يوازې شېرزی په ښار کې پاتې و ، اکرم هم له شېرزي سره تړون لاسليك کړ.

يو مسلکي سرتيری ، چې له حربي پوهنتون څخه فارغ شوی وي او د روسانو او طالبانو په وړاندې د جګړې پخه تجربه ولري ، نو څنګه به موقع له لاسه ورکوي ؟! ده هم سمدستي د جنګ موزې په پښو کړې. موږ له شېرزي څخه د عملياتو د جزئياتو په اړه و پوښتل چې څوك به موږ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library


دوډۍ راکوي ، ټیپان به مو څوك پاکستان ته لېږدوي ، پیسې به څوك راته برابروي او څه ډول وسلې به لرو؟

شېرزي په دې اړه موږ ته ډېر څه ونه ویل.

د اکرم په یاد دي چې په دغو ورځو کې شېرزي دوه ځلې اسلام اباد ته سفر وکړ. د سټیټ ډیپارټمینټ یوه افسر ما ته وویل ، چې د پاکستان د استخباراتي شبکې افسرانو شېرزی په اسلام اباد کې زموږ سفارت ته راوست او هغه یې د طالبانو ضد د یوه سرسختي قوماندان په څېر را وپېژانده.

د ۲۰۰۱ ز کال د اکتوبر پر ۲۳ مه چې زه لا کوټې ته نه وم رارسیدلې ، شېرزي لاس انجلس ټایمز ته ویلي و چې زه د طالبانو په وړاندې پنځه زره جنګیالي لرم. همدا شان ده خبریال ټایلر مارشال ته ویلي و ، چې موږ تیار یو چې کندهار ته ولاړ شو ، هلته واکمن شیطانان رانسکور کړو او دې کار ته زموږ کسان دننه په افغانستان کې هم تیاري لري.

شېرزي له اکرم سره قسم کړی و ، چې دی په افغانستان کې د هیڅ ډول چوکۍ غوښتونکی نه دی او ددې لپاره هیڅ هیله نه هم کوي. ده ویلي و: زه غواړم خپله ملي دنده تر سره کړم او د افغانستان په بیارغوني کې برخه واخلم. ددغه راپور له خپراوي څخه یوه اونۍ لا نه وه تېره شوې ، چې ما ددغه راپور په اړه څېړنې پیل کړې. بالاخره مې سرچېنه پیدا کړه ، دا ځل د معلوماتو سرچېنه اکرم نه و. تر دې وخته پورې لا ماله اکرم سره نه و پېژندلې.

په لومړیو ورځو کې زما سرچینه یو جنګیالی و ، چې د چمن سرحدي ښار ګوتې په یوه ټیلفون خونه کې مې پیدا کړ. ددغه نفر نوم محمد انور و ، دی هم له شېرزي سره په دغو عملیاتو کې د یوې وړې ډلې مشر و ، ما پر هغه باندې د یو څو روپیو د ساتلو باور وکړ ، چې په همدې سره زما انډیوال شو. ده دا وښودله چې زما یو ښه ملګری دی ، پر دې مې هیڅ باور نه راته ، چې دی دې له ما سره کومه دوکه وکړي ، خو یو وخت چې پوه شوم هغه زما تر پښو لاندې داسې څاه کېندلې وه چې ما یې هیڅ تصور نه شوای کولای.

یوه میاشت وروسته ما په همدې اړه له محمد انور څخه د اصلي کېسې پوښتنه وکړه ، چې تاسو څنګه کندهار ته روان شوئ؟

ده وویل: موږ د طالبانو د رانسکورولو په موخه د شېرزي په کور کې غونډه سره وکړه ، ممکن دا به د ۲۰۰۱ ز کال د اکتوبر ۱۲ مه وه ، موږ یوازې درې کسان و ، درې واړه تشناب ته ولاړو ، اودسونه مو تازه کړل ، شېرزي قران شریف راواخیست ، پوښونه یې څنې ایسته کړل. دریو واړو پر قران شریف لاسونه کېښښودل چې موږ به تر وروستۍ سلګۍ پورې د طالبانو په وړاندې جنګیږو او د هغوی تر نسکورولو وروسته به واك لوستو کسانو ته سپارو.

ده وویل چې موږ په قران شریف سوګند وکړ چې د طالبانو تر نسکورېدو وروسته به وسلې سپارو او موږ به کورونو ته ستنیږو. دوی په دې باور و چې بالاخره به د امریکایانو په مرسته افغانستان ددغه خپسکي څخه خلاصیږي او حکومت به د وړ کسانو لخوا اداره کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر دې وروسته شېرزي د خپلو ملګرو د اکمال لپاره د پنځو زرو امريکايي ډالرو په ارزښت پاکستانۍ روپۍ ورکړې. تر غونډې وروسته شېرزي محمد انور ته ګواښ وکړ ، چې له دې کار څخه د پاکستان حکومت خبر نه کړي.

د افغانستان په چارو کې د پاکستان لاسوهنه يوه نه بيليدونکې پديده ده. له څو لسيزو راهيسې چې په افغانستان کې د جګړې اور بل دی ، دا د پاکستان لپاره تر ټولو ښه د ګټې وټې او خوشبختي کلونه وو.

سرولښکرو په ۱۹۷۹ز کال کې افغانستان لاندې کړ. په دغو کلونو کې پاکستان  څو مليونو شوروي ضد مهاجرو ته سرپنا او داسې نورې اسانتياوې برابرې کړې او هغوی ته به يې ويل ، چې ددې مرستو په اړه بل چا ته څه مه واياست.

ډير افغان شنونکې پدې باور دي چې پاکستان غوښتل ددغې جګړې پايلې پر خپل لوري وڅرخوي داسې چې روسي پلوه حکومت رانسکور او پر ځای يې پاکستان پلوه حکومت رامنځ ته کړي.

څه چې د پاکستان د حکومت هيلې وې هغه افغانانو د خپلو سرونو په بيه ور پوره کړې. د افغانستان- شوروي د جګړې په لړکې د پاکستان اقتصاد بې شانه وده وکړه او په ګاونډ کې يې د سيال حکومت پر ځای ، يو دوست حکومت رامنځ ته شو ، خو پاکستان پر دې هم بسنه ونه کړه ، ځکه چې پاکستان له هغې لنډمهالي پولې څخه په ويره کې دی ، چې څو ځله يې لانجه د جګړې تر بريده رسيدلې ده. دغه لنډمهالي پوله تر يوې پيړۍ وړاندې ټاکل شوې ، چې تر اوسه لا پاکستان په غير قانوني توګه له ځان سره ساتلې ده.

د همدې پولې د ګټلو لپاره پاکستان په افغانستان کې په زرګونو استخباراتي کسان  د محصلينو ، مزدورکارو ، ډيپلوماتانو او حتی افغان حکومتي چارواکو په منځ کې په کار ګومارلي. که چېرې په طالب ضد ټلواله کې پاکستاني جاسوسان موجود وای ، نو بيا خو زما د ملګري محمد انور هغه ويره پر ځای وه ، چې دده او ټول ځواك لپاره د سر په زيان تماميده.

پاکستان د طالبانو د غورځنګ ملاتړ کاوه او محمد انور د پاکستاني استخباراتي شبکې او اردو د څو کلونو د هغو مرستو شاهد دی چې د طالبانو لپاره به يې برابرولې.

نو اوس بيا څنګه د سپټمبر له ۱۱مې وروسته پاکستان  طالبانو ته شا اړوي او له طالب ضد ټلوالې سره يو ځای کېږي ؟

د پاکستاني  حکومت دپاليسي دغه بدلون ته ټولو افغانانو د شك او ترديد په سترګه کتل.محمد انور پدې ډاډه و ، که چېرې زموږ له دغه پلان څخه پاکستاني چارواکي خبر شي ، نو زموږ د ټولو ژوند به په خطر کې واچوي.

انور وايي چې کله موږ د شيرزي د کور له لوړ منزل څخه راکښته شو ، يو لويديزوال ښايسته د دندې ونې خاوند ځوان ولاړ و او شيرزي هغه موږ ته د ګلف د ځواکونو د استازي په توګه را وپيژانده. شايد دا به هغه کس و چې شيرزي اکرم ته ژورنالست ور معرفي کړی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لومړيو وختونو کې ددغه کس شته والی د شيرزي په کور کې ددې ښکاروندويي کوي چې امريکايانو لا له وړاندې له شيرزي سره د څواکونو په را ټولولو کې مرسته کوله. کندهاريانو به ويل ، چې شيرزی له ځان سره هيڅ محلي ملاتړ نه لري ، خو دا يوازې امريکايي ډالر دي چې هغه يې تر دې ځايه پورې راورساوه.

تر دغې غونډې يوه میاشت وروسته د شيرزي يو کس د محمد انور کور ته له يو پيغام سره راغی. دغه سړي محمد انور ته وويل چې کاروان تيار دی ، د شپې پر يوولس نيمو بجو به په گلستان کې سره گورو. دانور تر خبرولو وروسته نوموړی کس د نورو قوماندانانو په خبرولو پسې روان شو.

گلستان د کويټې او چمن تر منځ پر عمومي لارې موقعيت لري.

دغو جنگياليو کوټه د شپې پر يوولسو بجو د سلو تنو بهرنيو ژورنالستانو په گډون پريښوده او مخ د افغانستان پر لور رهي شول. انور وايي: زموږ کاروان د پاکستان د اردو دوو گاډو رهنمايي کاوه. ماخپلو ملگرو ته وويل ، تر اوسه موږ په دې هڅه کې و چې له پاکستاني چارواکو څخه ځان پټ وساتو ، خو اوس يې څنگه کوئ ، چې هغوی مو لار ښوونه کوي.

دا د ټولو په زړه کې گرځېدل ، چې داسې يو کار د پاکستان له استخباراتي شبکو څخه په پټه توگه نه شي تر سره کېدای. د لارې په اوږدو کې يو درجن نور موټرونه راښکاره شول ، چې دا هم د شيرزي له کسانو څخه ډک و. پاکستاني پوځ دغه کاروان له مخ او شا څخه پر کچه لاره بدرگه کاوه. د لارې په اوږدو کې به که دغه کاروان کومې سرحدي تانې ته ور ورسيد ، نو د پاکستاني پوځ په ليدلو سره به يې ځنځير په وړاندې کښته شو.

کله چې موږ د افغانستان پولې ته راورسيدو ، پاکستاني پوځ خپل موټرونه څنډې ته کړل او موږ افغانستان ته راواوښتلو. په ريگستان کې مو خپل سفر ته دوام ورکړ.

انور وايي: دا د ژمي موسم و ، هوا ډېره سړه وه او د يخنۍ له امله مې خپلې گوتې نه شوای خلاصولای. تر يو څه مزل وروسته يو ځای د اور بلولو لپاره تم شولو ، چې تر دې مهاله مو لا هيڅ وسله نه لرله. ما ته دا سوچ پيدا شو چې دا څنگه بر يد دی ؟

اوس خو پاکستاني چارواکي زموږ په اړه پوره معلومات لري او موږ به ټول لاس تړلي ووژل شو. زه د همدې خبرې د سپيناوي لپاره شيرزي ته ورغلم ، چې موږ ژمنه کړې وه چې پاکستان به له خپلو فعاليتونو څخه نه خبروو ، خو اوس بيا څه پيښ شول چې دا هر څه تر دې مهاله د هغوی په لارښوونه روان وو.

شيرزي وويل: دا څکه چې موږ پرته د پاکستاني چارواکو له اجازې له پولې نه شوای را اوښتلای. دی وايي: ما شيرزي ته وويل چې له موږ سره امريکايان دي ، نو بيا موږ پاکستانيانو ته څه اړتيا لرو ؟

شيرزي په ځواب کې وويل چې نور بايد پاکستان په دې پوه شي ، چې موږ طالب ضد ټلواله يو او طالبان نور په افغانستان کې ځای نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه طالب ضد ټلواله په افغانستان کې دننه يوه نښه شوي ځای ته ورسيده. انور وايي زه هيڅ نه پوهيدم چې دا ټول څه روان دي او له بله پلوه موږ څنګه کولای شو بې له وسلو جګړه وکړو ؟

انور وايي: ما له شيرزي څخه وپوښتل چې چېرې به وسلې تر لاسه کوو ؟

شيرزي په جواب کې وويل چې شايد امريکايان به يې غم راته وخوري.

انور وايي چې تر يو څه ځنډ وروسته د پاکستان د پولې له خوا څخه يو لاری موټر راښکاره شو. دغه موټر ټول په ترپال پوښلی و چې چلوونکی يې يو ډير خنده رويه کس و. په دغه موټر کې شپږ سوه کلاشنکوفونه ، ماشينګنې او ګريناډ لانچرونه بار وو. موږ د وسلو تر ليدلو وروسته ټول پر دغو وسلو راغونډ شوو. په دا صبا له شيرزي سره نوي جنګيالي هم يو ځای شول ، چې په هغو کې يو هم ضابط اکرم و.

تر دې يو نيم کال وروسته مې غوښتل چې دغه راپور نور هم کره کړم ، چې په همدې اړه مې د اکرم نظر هم وغوښت. اکرم د انور خبرې تائيد کړې او زياته يې کړه ، چې په هغې لاری کې د شپږ سوو ټوپکونو تر څنګ سل يا شپيته راکټونه هم بار و.

دی وايي: ما له شيرزي څخه وپوښتل چې داسې وسلې خو په بازار کې نه پيدا کېږي نو دا دې له کومه کړې ؟

شيرزي وويل: دا امريکايانو راکړې. د اکرم له رارسيدو وروسته د وسلو دوهمه جوپه هم راورسيده. تر دې وروسته موږ ته وويل شول چې اور بل کړو ، تر څو الوتکې موږ ووينې. تر اور بلونې وروسته الوتکو موږ ته درنې وسلې ، مهمات او د امريکايي پوځيانو تيار خواړه (MRE)هم راوغورځول.

په صبايې د شپې په تياره کې امريکايي چورلکو د همدغو جنګياليو د ملاتړ لپاره د امريکا د ځانګړي پوځ نيم درجن سرتيري هم کښته کړل.

دغو ځواکونو  د خپلو پېچلو مخابرو انتنونه پر هغو موټرونو جګ کړل ، چې شيرزي د دوی لپاره تيار کړي و.په دا صبا دغه طالب ضد ټلواله د کندهار ښار پر لور پر عمومي سړك ور روانه شوه. له دې څخه هدف د طالبانو د احمالاتي لارو غوڅول وو. دوو امريکايي جيټ الوتکو د جنګياليو له پاسه د دوی د ساتنې لپاره الوتنې کولې تر څو  افغان جنګيالي پدې ډاډه کړي چې له دوی څخه پوره ملاتړ کېږي ، خو ستونزه داوه ، چې ددوی په مخ کې پرته ټوله لار خامه وه. موږ ډير ويريدلو او فکر مو کاوه ، چې کېدای شي هره شيبه د طالبانو په لاس ووژل شو. د سهار د لمانځه د ادا کولو لپاره دغه جنګيالي د يو رود پر غاړه تم شول.

اکرم وايي: په ناځاپي توګه مو د اتوماتو وسلو اوازونه  تر غوږو شول. د ډزو په اوريدلو سره د رود په نس کې سرتيري خورا وارخطا شول او سمدستي يې هلته ځانونه د لويو لويو ډبرو تر شا پټ کړل. په غره کې ددغو ډزو اواز انعکاس کاوه ، چې هر ډز به زر ځله بيرته راغبرګيده. ددغې نابېره حملې د مخنيوي لپاره افغان جنګيالي يوازې نه و. د طالبانو يو ګروپ ددوی تر شا و.

(c) ketabton.com: The Digital Library


اکرم وايي چې امريکايي سرتيرو راته وويل: موږ د طالبانو سټلايټ ټيلفونونه کشف کړي دي ، چې دوی يې تعقيبول. امريکايي سرتيرو وويل چې په الوتکو کې زموږ ملګري به پر هغوی بمونه وغورځوي.

د ځانګړو پوځونوسرتيرو کوښښ کاوه هغه سرتيري بيرته منظم کړي چې هرې خواته تښتيدلي وو.

اکرم وويل: دا يوازې اووه موټرونه و چې هغه هم د امريکايي الوتکو لخوا له منځه يوړل شول. ژوندي کسان موږ ټول ونيول ، چې په صبا شيرزي هغوی ته پيسې ورکړې او د خپلو کورونو پر لور يې رخصت کړل. د کندهار شمال ته حامد کرزي هم همداسې وکړل.

په صبا يې دغه جنګيالي د کندهار او سپين بولدک تر منځ پر غزيدلې لويې لارې يوه ستراتيژيك کوتل ته ورسيدل. ددوی په مخ کې کوم خنډ نه و ، نو له همدې کبله يې په لوړو غونډيو کې د ځان لپاره مورچلونه وکښندل.

اکرم زياته کړه: لږ وخت وروسته يو موټر راښکاره شو ، په دغه موټر کې يو عرب ناست و ، نوموړي پر موږ د طالبانو ګمان کړی و ، خو دی په خپله غلطي هغه مهال وپوهيده ، چې کار تر کار تير شوی و. ده سمدستي په نارو وهلو پيل وکړ ، خو موږ دی ونيوه او لاسونه مو ور وتړل. تر دې نيم ساعت وروسته يو بل موټر راښکاره شو ، چې په ګوليو مو سوری سوری کړ. تر هغې وروسته مو نو بيا پوره درې اوونۍ په خدای که د طالب مخ لا ليدلی وي.

د انور هم دا ټولې پيښې په ياد وې. ده وويل چې موږ هيڅ جګړه ونکړه ، هر څه امريکايانو تر سره کړل. تر دې وروسته امريکايانو ځنې اصول وضع کړل ، داسې چې سر له اوسه بايد هيڅوك بې زموږ له اجازې يوې خواته هم حرکت ونکړي.

انور سوګند وکړ ، که به په دغه ټول جريان کې موږ يو کس هم په ټوپك سره وژلی وي. د انور هغه مناقشه هم په ياد ده چې ده د امريکا دځانګړي پوځ له سرتيرو سره کندهار ته تر رسيدو وروسته کړې وه.

دی وايي: ما امريکايانو ته وويل چې موږ تاسو کندهار ته راورسولئ. امريکايانو په ځواب کې راته وويل چې داڅه اپلتې وايې ؟ موږ تاسو کندهار ته راورسولئ!

د يوې ژورنالستې په توګه دا زما دنده ده ، چې حقيقت تر خلکو ورسوم ، خو په راډيو کې دومره وخت نه وي ، چې سرى دې د وضعې پوره انځور وړاندې کړي. ان-پي- آر بالاخره خپلې تګلارې ته بدلون ورکړ. هغوی هم هغسې راپورونه غوښتل ، لکه نورو چې به برابرول. زما مشر نه غوښتل چې تر بړستنې لاندې پيښې رادبره کړم. حتی هغوی زما شتون پر لومړۍ ليکه کې هم نه خوښاوه.

په پای کې زه هم اړه شوم چې د نورو ژورنالستانو په شان راپورونه چمتو کړم. د ۲۰۰۱ز کال په نومبر کې ټولو ژورنالستانو د ګل اغا د مليشو او طالبانو تر منځ د جګړو راپورونه برابرول.

د بيلګې په توګه ، ما په يوه راپور کې وليکل چې دواړه خواوې د کندهار د لويې لارې د کنترول پر سر يو له بل سره په جګړه کې ښکېلې دي او د لارې په منځ کې هغه ستراتيژيك کوتل

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاس په لاس کېږي. ما په راپور کې زياته کړې وه چې دکندهار د شمال له لوري د کندهار پر خوا د حامد کرزي ځواکونه خورا ټکنی حرکت کوي. د شيرزي د مليشو هدف دادی چې د حامد کرزي د پرمختګ لپاره لاره پرانيزي ، خو دجګړې دغه ډول انځور بالکل غلط و ، له دې څخه د امريکايانو موخه داوه ، چې ګل اغا خلکو ته لوی وښيي. ګل اغا ماته وويل: موږ ډېر جنګ وکړ خو په حقيقت کې هيڅ جګړه نه ده شوې.

زه د هغو ټولو ژورناليستانو ستاينه کوم چې هغوی هم زما نظر ته ورته نظر درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د وروستیو ورځو انځورول
## (نومبر ۲۰۰۱)

په دغه ټوله موده کې زما ملګري ، زه او د سلو په شا وخوا کې زورور کسان په کویټه کې بند پاتې و.

په داسې حال کې چې اکرم د شیرزي له ځواکونو سره له جنوب څخه د کندهار د عمومي لارې پر لور خپل پر مختګ ته دوام ورکاوه ، له سره په یوه وخت کې د کرزي کسان د شمال له لوري د کندهار ښار پر لور راروان و . په لار کې به یې له قومي مشرانو سره لیدنې کتنې لرلې ، خو موږ یعنې بهرنیو ژورنالستانو بیا د کویټې په سرینا هوټل کې د پاکستان استخباراتي شبکې (آی. ایس. آی) د جاسوسانو تر سترګو لاندې د خوښې شپې او ورځې سبا کولې.

د بهونو د اوریدلو له کبله ګڼ شمیر افغانان د خپلو کورونو پرېښودلو ته اړ شول. له بله پلوه موږ کوښښ کاوه ، چې په کندهار کې د روان وضعیت انځور تر لاسه کړو. د طالبانو د رژیم د وروستیو شیبو په اړه مو په ذهن کې ډول ډول انځورونه جوړول خو سرې نه پوهیده ، چې ایا دغو شیبو به څه ډول احساس درلود؟

په کوټه کې د هیواد هیڅ استازی نه و چې ځوك دې ورسره په تماس کې شوی وای. ما هڅه وکړه چې د خپل راپور په هکله له پنتاګون څخه ځنې مواد تر لاسه کړم ، خو زموږ د بد خولي مدیر له سخت غبرګون سره مخامخ شوم. ده وویل: (ان ، پي ، آر) په پینتاګون کې ډیر خبریالان لري ، چې پدې زه هم خبره وم. ده زیاته کړه چې ستا وظیفه یوازې په کویټه کې د راپورونو چمتو کول دي.

همدا لامل و چې ما له ځان سره تصمیم ونیوه ، چې خپلو کارونو ته په بل ډول د سرحد پر هغه بله غاړه کندهار کې دوام ورکړم. له پیښو څخه امریکایان خبریدل ، خو زه نه پوهیدم چې ددغو پیښو انځور به زموږ په کور کې څه ډول وړاندې کېده.

همدا لامل و چې ما د کیسې لپاره هیڅ نه لرل. دا ډیره د حیرانتیا خبره وه ، چې د نومبر پر ۱۱مه د شمالي ټلوالې په لاس د کابل له سقوط سره سم د طالبانو رژیم ونه نړیده. واشنګټن په لومړیو کې لا د ماسکو په شان تېروتنې تر سره کړې ، خو په اصل کې ددغو دو تر منځ خورا ډیر توپیر شته. دا ډیره له هیجانه ډکه ورځ وه چې د شمالي ټلوالې پاریدلي جنګیالي کابل ته ور ننوتل ، ځینو خو ویل چې کندهار به ورسره سم په څلیرویشت ساعتونو کې سقوط وکړي خو ما سمدستي د هغوی دغه اټکل نا سم و باله.

د کابل تر سقوط وروسته طالبان د کندهار پر لور رامات شول چې هلته یې د څه وخت لپاره مقاومت وکړ. کله چې زه او د (بي . بي . سي) ادم بروکس له کویټې څخه چمن ته پر لاره و سمدستي حالات راته څرګند شول چې پر لاره مو د مینځ پر لیکلو پیل وکړ ، خو تر پولې اوښتل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګناه ګڼل کېدل. پاکستاني حکومت د ژورنالستانو لپاره يو قانون وضع کړی و. تر دې وړاندې چې موږ له سرينا هوټل څخه وتلي وای ، بايد په خپل موټر کې مو زموږ د ساتني په بهانه يوه پوليس ته ځای پرېښی وای. د هغه دنده به دانه وه ، چې زموږ ساتنه وکړي ، بلکې د هغه دنده زموږ د سفر په اړه معلومات ټولول و.

دا هوټل د پاکستاني استخباراتي شبکې غړو پر سر اخيستی و ، چې په هغوی کې يې زيات زموږ د ژباړونکو په توګه ګمارلي و. هر ځل چې به موږ له کوېټې څخه د دوه نيم ساعته سفر په موخه چمن ته روانيدلو نو بايد ځايي اداري ته مو وړانديز کړی وای او له هغوی څخه مو اجازه تر لاسه کړې وای.

پر مکتوب سر بيره مو بايد د پاسپورټ فوټوکاپي ، عکسونه ، د ويزې د پاڼو په ګډون د دوو مختلو ما مورينو لاسليك له ځان سره لرلای. ددغو رسمياتو تر پوره کولو او اجازې تر لاسه کولو وروسته به موږ ، موټر چلوونکي او ژباړونکي چمن ته په يوه کاروان کې د (آی . ايس . آی) د افسرانو تر نظر لاندې تللو.دغه کاروانونه به کله پر لسو بجو او کله به بيا پر يوولسو بجو له کوېټې څخه روانيدل. د ټکسي چلوونکو په وينا چې پر پوله تر ټولو ګڼه ګوڼه د سهار د اتو بجو په شا وخوا کې وي.

زما له همدې کبله له ژورناليزم څخه کرکه کېده چې په سفر کې به يې دغسې محدوديتو نه لرل. ما خپل ټول کارونه په کوېټه کې د مهاجرو په منځ کې تر سره کول .د کابل تر سقوط وروسته بيا هم چمن ته تګ اجازه غوښته. ما بالاخره تر دربو اونيو وروسته خپل دغه انتظار پای ته ورساوه ، چې وروسته کندهار د ۲۰۰۱ز کال د نومبر پر ۶ مه نيټه سقوط وکړ.

ماددې تابيا هم ونيوله چې د (آی.اېس. آی) له ايجنټانو څخه څو شپې ځان پټ کړم.چمن د پاکستان سرحدي ښار ګڼل کېږي چې هلته په يوه دروازه دغه دوه بې نظمه افغانستان او پاکستان هيوادونه سره بيليږي. که به سړي غوښتل چې له مسافرو سره خبرې وکړي ، نو بايد په دروازه کې دريدلی وای. هر مسافر ته يې بايد عذر او زاري کړې وای ، چې هغه د يوې ګړۍ لپاره در سره د ريدلی وای او د کندهار د وضعيت په اړه مو يو څه معلومات ځنې تر لاسه کړي وای. که به نه دريده نو بيا بايد له ده سره پر څنګ روان شوی وای تر څو مو په رفتار کې يو څه معلومات ځنې تر لاسه کړي وای ، خو که به دې له يوه کس سره مرکه کوله ، سرحدي پوليسو به شارلې او يا به يې غوږ درته نيوه ،

خو د نورو سره په توپير د پوليسو افسران له ما سره ډېر ښه و ، هغوی به د ځوانو هلکانو د ګڼې ګوڼې د تيت او پرك کولو کوښښ کاوه ، چې زما پر شا وخوا به راټول وو. يو ځل يوه ځوان هلك په دغې ګڼه ګوڼه کې زما شاته لاس راوړ ، ما چې ورته وکتل ده ځان نا ګومانه واچاوه. دا کار يې څو ځله تر سره کړ چې په دريم ځل مې اخطار ورکړ او په څلورم ځل مې پورې واهه. د همدې شي د مخنيوي لپاره مې تصميم ونيوه ، چې د نارينه وو ځايي جامې واغوندم. له اسلام اباد څخه د کوېټې پر لور تر تګ وړاندې مې په اسلام اباد کې د ښځو کالي واخيستل ، چې په بازار کې جوړيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغه کالي مې په کوټه کې د راپور جوړونې پر وخت واغوستل. چمن چې د افغانستان پر پوله پروت ښار ګوتې دی یوه ښځه به بې بورقې پکې ونه وينې. پرته له بورقې ښځه خو سړی په دغه ښار کې په تصور کې لانه شي راوستلای. کوم کالي چې ما په کوټه کې اغوستل ډير روښانه و ، کله چې به زه له موټر څخه راکښته کېدم د سل متره لرې خلکو نظر به ما ته را اوښت ، چې زما تر ليدلو وروسته سمدستي به پر ما راټوليدل.

دغو کالو د راپور جوړونې پر وخت کې ډير مشکلات راته پيښول. بيا مې فکر وکړ ، چې ولې بورقه نه اغوندم او يا مطلق غربي کالي. غربي کالو هم له دې کبله ستونزې جوړولې ، چې په چمن کې بې له ما څخه نور غربيان نه و.

وروسته مي فکر شو چې ولي د نارينو کالي نه اغوندم چې شايد پدي سره به پر ما خلك د نارينه ګومان وکړي په همدې سره به د خلکو له جنجال څخه يو څه خلاصه شم . که يې ګټه ډيره وه يا لږه خو ما بايد د دندې پر وخت اغوستي وای.

د نومبر په دغو ورځو کې به پر پوله هر ډول خلك را اوښتل. د ۲۰۰۱ز کال د نومبر په وروستيو کې چې به له کندهار څخه خلك راتلل ويل به يې چې کندهار لا تر اوسه د طالبانو په لاس کې دی ، خو حالت ډير د اندېښنې وړ دی. د کندهاريانو په اصطلاح دوی ويل داسې ښکاري لکه چې عرب طالبان يعنې د القاعدې غړي ورځې تر بلې په قهر کېږي او پر ښار خپله مستقيمه اغيزه او کنترول زياتوي.

عربان تر لمر لويدو وروسته په ښار کې د مهمو چېك پوستېونو کنترول په خپل واك کې اخلي. عربانو نور پر خپلو کوربنو طالبانو اعتبار له لاسه ورکاوه ، ځکه چې په هغوی کې يې ځينو د کندهار د سوله ييزې تسليمۍ پر سر خبرې مخ ته بيولې. يوه موټر چلوونکي راته وويل چې عرب اوس د خلکو د جيبونو تلاشي هم اخلي.

يو کس چې له سټلايټ ټيلفون سره نيول شوی و د ښار په منځ کې راوځړول شو. د القاعده غړو به خپل پيکپ موټرونه په ختېو لړلي و ، چې په همدغو موټرونو کې به د شپې خوندي تيرولو لپاره ريګستان ته تلل.

خو تر اوسه هم لا هغوی په ځان غره وو.

له بله پلوه د کندهار سقوط هم ډير لرې نه و. د طالبانو د مشرتابه او د کرزي د استازو لخوا د کندهار ښار د سوله ييزې تسليمۍ پر سر خبرې روانې و ، چې تر همدې مهاله طالب ضد ټولالې د کندهار ښار تر هرې څنډې پورې رارسيدلې وې چې په دې ټولو پرمختګونو کې امريکايي بمباريو خورا مهم رول درلود.

دا هر څه هغه وخت روان و ، چې زه او د محمد انور کسان تر لومړۍ کتنې وروسته د (پي . سي . او) د تناره کړکو شاته کيناستو. دغه ټول کسان د اڅکزو د قبيلې غړي و ، دغه خلک سخت قسم خواره دي ، په درغلۍ کې خورا مشهور دي او پر پوله باندې قاچاق ته ډولونه وهي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه قبيله د يوې نړيوالې پولې دواړو غاړو ته پرته ده چې په ډيرې اسانۍ سره د پاکستان سرحدي ښار ګوتي چمن او د افغانستان سرحدي ښار ګوتي سپين بولدك ته اوښتلای او را اوښتلای شي.

دوی په بې وفا يي کې خورا ستر نوم لري او بې له ځانه بل هيچا ته وفاداره نه شي پاتې کېدای.زه به د محمد انور کور ته ورتللم دهمدې لپاره دوی زما د معلوماتو د تر لاسه کولو ښه سرچېنه وګرځيدل.

دوی ماته ددوی د قوماندانانو د سټلايټ ټيلفونونو نمبرونه راکړل ، چې هغوی مستقيما د جګړې په ډګر کې حاضر وو. کله چې به کومه مهمه پيښه رامنځ ته کېدله ، دوی به زه پې خبرولم او يابه ما دوی ته د کويټې له سرينا هوټل څخه ټيلفون کاوه.

کله چې د سپين بولدك د تسليمي پروسه څلور ويشت ساعته وځنډيدله ، همدا دوی زه ترې خبره کړم. د محمد انور په وينا ، ځينو قبايلي مشرانو ويل چې دا ځل بايد موږ ټول کارونه په سمه توګه تر سره کړو. تيرې څلرويشت کلنې جګړې افغانستان وران کړی او ډيرو خلکو خپل خوږ ژوند په کې له لاسه ورکړ ، نو دا ځل بايد موږ هغه پخوانۍ تېروتنې تکرار نکړو. دغو مشرانو به موږ له جګړې څخه ويرولو او حوصله به يې راکوله.

زه په خپله ليکنه کې پر يوه شي ټينګار کوم چې پښتانه د روغې جوړې او خبرو ميز ته د کيناستو خورا ښه استعداد لري.

په دغه نومبر کې زما د معلوماتو بله او اصلي سر چينه د حامد کرزي تيز سترګی کاکا عزيز خان وو. موږ ژورنالستان به هره ورځ د کرزي کور ته ورتللو. هره ورځ به يوه خدمتګار چې توره پګړۍ به يې تړلې وه ، يوې خونې ته رهنمايي کولو چې هلته به يې چای له کشمشو(ممزو) او بادامو سره راکول. دا دروژې مياشت وه خو موږ بهرنيان وو.

مابه د نورو بهرنيانو برعکس له دوی سره روژه ماتی کاوه ، ځکه چې ما د ورځې څه نه خوړل. د کرزي د کورنۍ لپاره دا دفکر کولو خبره نه وه ، چې يوه ميلمنه دې د هغوی کره ورشي. د کرزي کشر ورور احمد ولي به موږ د کندهار له روان وضعيت څخه خبرولو. تر دغې خبرې غونډې وروسته به زه د سرای په غولي کې د زړو خلکو مجلس ته ورتلم ، چې تسپې به يې په ګوتو کې اړولې او راډيو ته به يې غوږ نيولی و. د دې سرای تر څنګ د کاکا عزيز خان کور و ، چې زه به هره ورځ د ملاقات لپاره ورتلم او نوموړی به په خپل ارام باغ کې ناست و.

دغو مشرانو زه د پښتونولي ، عننوي روغې جوړې او د منځګړيتوب له اهميت څخه خبرولم. په دغه وخت کې دوه مهم ټکي راته څرګند شول.

يو داچې کندوز د شمالي ټلوالې لاس ته ولويد او هلته ټول طالبان بند پاتې شول. دغه ښار د افغانستان په شمال کې د تاجکستان پر پوله پروت دی.

په کندهار کې طالبانو ويره لرله که دوی واك وسپاري نو ددوی ټول ملګري به په کندوز کې ووژل شي. دوی د خپلو ملګرو د خوشې کېدلو او په خوندي توګه خپلو سيمو ته د ستنولو غوښتنه کوله ، همدې شي دوی په کندهار کې مقاومت کولو ته اړ ايستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library


بله مسئله د القاعده شبکې د عرب غړو سخت دريځي اونه نرمي وه. دوی ته د جګړې په ګټلو کې د نورو افغانانو په شان هيڅ په لاس نه ورتلل. هغوی يوازی د راډيکاله اسلامي نظر يې د نړيوال کېدو هڅه کوله. د القاعدې عرب غړي او د طالبانو د غورځنګ مشر ملامحمد عمر او د هغه په څنګ کې لږ دده په شان سخت دريزه کسانو تر وروستۍ سلګۍ پورې د جګړې کولو هوډ درلود.

د ۲۰۰۱ز کال د نومبر پر ۲۰ مه طالبانو موږ د خبري غونډې لپاره د افغانستان سرحدي ښار ګوتي سپين بولدک ته وروبللو.

دغه سفر زما د خبريالي په ژوند کې تر ټولو غوره تجربه وه. موږ د پخوا په شان په ډيره سختۍ له پاکستاني ادارې څخه سرحد ته دتلو اجازه تر لاسه کړه ، خو تر ټولو لوبه ستونزه د ويزې وه. په داسې حال کې چې کابل يوه اوونۍ وړاندې سقوط کړی و ، خو په کويټه کې د طالبانو قونسلګري لا فعاله وه او قونسل به هم خلکو ته ويزې ورکولې.

سړی نه پوهيده ، چې دا ويزې د څه لپاره ، د کوم ځای لپاره او د څومره وخت لپاره دي ؟

موږ د طالبانو د رژيم په وروستيو شيبو کې سپين بولدک ته د خبري غونډې لپاره روان وو. دا چندانې مهمه غونډه نه وه ، ځکه چې کابل لا له وړاندې سقوط کړی و خو موږ کندهار ته د تللو کوښښ کاوه. زه منم چې د لاس آنجلس ټايمز اليسا روبين زما لپاره زيات انتظار و ايسته ، د همدې لپاره زه له هغې څخه زياته مننه کوم. ما بل ډول احساس کاوه ، ځينو ويل چې ويزې به تاسو ته د طالبانو تر واک لاندې سيمو ته لکه کندهار د تګ زمينه برابره کړي.

خو سړي نه پوهيده ، چې د کابل شا وخوا په ازادو شوېو سيمو کې به له موږ سره څه کېږي.تر دې څو ورځې وړاندې څلور ژورنالستان چې له جلال اباد څخه کابل ته روان وو ، پر لارې نامعلومو وسله والو له موټر څخه راکښته کړل او وروسته يې ووژل. که چېرې زه د القاعدې پر ځای وای مابه هم همداسې کړي وای. زه ډيره نه ويريدم خو بيا مې هم د ممکنه خطرونو د له منځه تلو هڅه کوله.

ماته په ۱۹۹۹ز کال کې د البانيا جګړه راپه زړه کېدله ، چې د ټلويزيون خبريالانو به د ورځې ۲۵۰ امريکايي ډالر د يوه فور-بای-فور د کرايې لپاره ورکول ، چې دعمومي لارو له لارو وهونکو څخه په امان پاتې شي ، خو زه به د کوسوو تر پولې پورې په اووه ډالره په ځايي موټر کې تلم. له ما څخه پرته نور ټول سپاره خندوونکي نارينه وو ، دوی به پر لارې ماته البانيايي ژبه راښودله ، خو چې کله وپوهيدل چې زه د موټر چلولو لايسنس لرم ، د البانيا په غرونو کې يې راته د موټر جلو په لاس راکاوه.

(NPR) لا له وړاندې ماته ګواښ کړی ، چې که چېرې يوازې او يا له اجازې پرته له پولې واوړم ، خپلې رسمي اړيکې به راسره پای ته رسوي. زه له لاس آنجلس ټايمز سره يو ځای شوم ، افغاني او پاکستاني ټول رسميات تر سره شول بالاخره ټول ژورنالستان د نومبر پر ۱۲ سهار د کاروان په شکل د افغانستان د پولې پر لور روان شولو. ز ما زما د ژباړن او موټر چلوونکي لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه تر ټولو بد وخت و چې کله افغانستان ته ور اوښتلو. ګڼ شمير کسان پر موږ راټول شوي وو، په لغتو يې وهلو، په ډبرو يې ويشتلو او نارې يې راباندې وهلې.

په موږ ټولو کې زموږ د ژبړ ټکسي حالت ډير خراب و، ځکه چې دغو کسانو يې د شا هنداره ور ماته کړه.زما پر هغه بيچاره موټر چلوونکي ډير زړه سوځېده، خو ما تر ور اوښتي زيان ډيرې پيسې ورکړې.کاروان د ملګرو ملتونو دمهاجرو د عالي کميشنيرۍ (UNHCR) پخواني دفتر ته ور وګرځيد، چې (بي. بي. سي)، ( سي. ان . ان) او نور لا له وړاندې هلته را رسېدلي وو.

خيمې درول شوې وې او د اوبو کارټنونه هرې خوا ته تر سترګو کېدل. سټلايټ ديشونه د جنوب پر خوا عيار شوي وو او نږدې هر ځای د مچانو بوزارۍ تر غوږو کېده. په دغه ځای کې بريښنا او اوبه نه وې او نه هم د خوب لپاره کومه سرپناچې تر هر څه وړاندې بايد د بسترو لپاره ځای پيدا شوی وای. تر دې وروسته موږ خپل کار کوونکي بازار ته د توسانو اخيستلو لپاره وليږل.

د لاس آنجلس ټايمز ټايلر مارشال لومړنی کس و چې له ساتونکي سره يې بازار ته د تګ اجازه تر لاسه کړه. تر دروازې پنځوس متره بهر طالبانو هغه بيرته د امنيتي انديښنو له کبله راوګرځاوه. تر دې وروسته زه دې پايلې ته ورسيدم چې دا هسې درواغجنه اجازه وه، چې ورسره سم به نور ګڼ شمير محلي کسان زموږ سرای ته را پورته کېدل، پر موږ به يې مسخرې کولې او توهينولو به يې. زموږ دکوربه جنګياليو به د شاوخوا خلک په لرګيو له دې ځايه لرې کړل، خو تر يو څه ځنډ وروسته به هغوی بيرته راغلل. دغو محلي کسانو به موږ ته ځينې شيان ويل. وروسته موږ دوی ته زموږ کار کوونکي د مرکې لپاره ور وليږل.

يوه ډاکټر وويل: زه خپل ځان ډير په خطر کې احساسوم، هره شپه د خپل ځان دخوندي ساتلو په موخه په مختلفو ځايونو کې ويده کېږم. موږ خو اوس په داسې حالت کې يو لکه چې يوه لسيزه وړاندې د روسانو تر وتلو ورسته راباندې راغلی و. ده زياته کړه، چې دی له دغه خطر سره سره بيا هم ډير خوشاله دی، ځکه چې په افغانستان کې د ترقي او پرمختګ پراو راتلونکی دی.

هغه خبري غونډه چې موږ ورته راغوښتل شوي وو، په دابله ورځ تر سره شول. په هغه غونډه کې چې هر څه وويل شول، ټول بې معنا او بې ګټې وو. طالب وياند چې په انګليسي ژبه يې خبرې کولې ۲۵ کلن ځوان و، چې په غونډه کې يې يوازې د جنوب پر تاريخي پسمنظر رڼا واچوله. ده وويل: کله چې روسانو افغانستان پريښود نو جهادي قوماندانانو په خپل منځي جګړو کې د خورا ډيرو بې ګناه خلکو وينې وبهولې. طالبانو له همدې کبله واك تر لاسه کړ، ځکه چې له جنوب څخه بغير د نورو سيمو خلکو هم غوښتل چې په سيمه کې يې امنيت راشي.

په غونډه کې چې به مې هرې خواته وکتل طالبانو به خندل. دا شايد له دې کبله چې دا لومړی ځل و چې دوی يوه ښځه په غونډه کې لېدله.په دغه سفر کې زما لپاره تر ټولو ستونزمنه خبره داوه، چې ما به ټوله ورځ روژه نيوله. کله چې ما په ۱۹۸۰م کال کې په مراکو کې د پيس کورپز لخوا په په رضاکارانه توګه خدمت تر سره کاوه، نو داسې به نه وي پيښه شوې، چې ما دې د ځايي خلکو د کلتور خلاف کار کړی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه يواځينۍ ژورنالسته وم چې همداکار مې کاوه ، همدا لامل و چې د طالبانو له ما سره ډيره مينه پيدا شوه. نجيب الله چې زموږ د امنيت مسئول و ماته يې د روژه ماتي لپاره بلنه راکړه. يوه بل طالب ماته پارکر قلم د ډالۍ په توګه راکړ. کله چې مې ماښام د يوه ګروپ تر ربا لاندې خپل راپور ليکه ، يو طالب راغی يوه ښه منه يې راکړه. تر ټولو ډير خو بيا اشپزان راباندې مهربانه وو.

دغه دوه اشپزان په قوم تاجك او د مزار شريف اوسيدونکي وو. دوی له خپلو کورونو څخه را تښتېدلي و ، خو اوس بيا د لارې د بنديدو له کبله کورونو ته نه شو تللای. زه بالاخره هغوی تر خپلو وزرونو لاندې کړم په خپله اشپز خانه کې يې خپله بستره ، توشکې او ځای راکړ او ټوله شپه به يې د تودو چايو ګلاسونه را اړول.

کله چې به د پيشلمي لپاره د طالبانود لوښو شرنګی شو زه به د ډيرې ستړيا له کبله نوره له حرکته لويدلې وم ، دې خو بيخي امکان نه درلود چې زه دې را پورته شم او يو څه دې وليکم.

ايا دا ډيره د حيرانتيا وړ خبره نه ده چې يوه امريکايۍ ښځه دې د طالبانوتر وزرو لاندې د هغوی د رژيم د ړنګيدو په وخت کې ژوند کوي ؟

په وروستۍ ورځ اوازې وې ، چې طالبان موږ کندهار ته بيايي خو دا هر څه له حقيقت څخه ډير لرې وو ، خو زما ملګرو ټينګار کاوه چې موږ بايد کندهار ته ولاړ شو. د تيرې ورځې په خبري غونډه کې وويل شول ، چې موږ يوه بله غونډه هم په پلان کې لرو خو اوس داسې ښکاريدله چې هغوی دلته نور زموږ اوسيدل نه غواړي نور بايد موږ له دې ځای څخه تللي وای.

تر هر چا خو بيا د تلويزيون خبريالان ډيره په غوسه وو ، ځکه چې دوی د راپور لپاره په ښار کې يوه صحنه هم عکاسي نه کړه. په پای کې دوی طالبانو ته وويل چې يا موږ کندهار ته بوزئ او يامو په سپين بولدك کې يو څو ورځې پريږدئ.

ما او د لاس ټنجلس ټايمز کار کوونکو د خپلو شيانو په ټولولو پيل وکړ ، چې په پای کې موږ له دوو طالبانو څخه چې يو يې د امنيت امر او بل يې د بهريو چارو د رياست پخوانی مرستيال و د زړه له کومې مننه وکړه. په داسې سختو شرايطو او حالت کې چې زموږ او ددوی هيوادونه په جګړه بوخت و ، موږ له دې امله چې طالبانو زموږ ښه امنيت وساته ، له هغوی نه ډېر منندوی نو.

د بهرنيو چارو رياست مرستيال راته وويل: کندهار ته ستاسو تګ ډير خطرناك دی ځکه چې له وړاندې لا څلور ژورنالستان د جلال اباد پر لار وژل شوي دي او له بله پلوه ستاسو حکومت عملا زموږ په هيواد کې په جګړه بوخت دی . که ستاسو حکومت تاسو ته په دغسې خراب امنيتي حالت کې هلته د تګ اجازه در کوي بيا نو تللای شئ.

ما زما نورو مللګرو ته وويل چې ستاسو ماغزه خراب دي ، له چرت وهلو څه نه جوړيږي زموږ لپاره کوټې ته له تګ نه بله هيڅ لاره نه ده پاتې ، خو بياهم خبريالانو د افغانستان دننه وضعې ته ليواله وو. د اوريدو له قراره ژورنالستانو به موټر چلوونکو ته زر او حتی پنځه زره امريکايي ډالر کندهار ته د رسولو په بدل کې منل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په همدې وخت کې د ديوال شا وخوا ته راټول شوي کسان نور هم پسې قهرجن کېدل. داسې اوازې هم وې چې هغوی بيخي زموږ لوټولو ته هڅول شوي وو. تيره شپه لا طالبانو امنيت ډير سخت کړ ، دوی يو تن د امنيت لپاره له راکټ سره وګماره.

ما او د لاس آنجلس ټايمز کار کوونکو خپل موټرونه بار کړل چې وروسته له يوې په زړه پورې نندارې سره مخامخ شوو او هغه داچې له يوې خوا څخه يو تور پوستی سړی راښکاره شو ، چې ښايي د سوېلي مصر او يا د سوډان اوسيدونکی به و. دغه کس له الجزيرې ټلويزيون سره کار کاوه او د سپورټ بېګ يې تر شا تړلی وه.

تر رارسيدلو وروسته سمدستي ټول طالبان پرې راغونډ شول ، تر يو څه ځنډ وروسته موږ ته وويل شول چې تاسو بايد بيرته کوټې ته ولاړ شئ. کله چې موږ کيناستلو او ددغې صحنې ننداره مو کوله ، د لاس آنجلس ټايمز باوري ژباړن ما ته پټ په غوږ کې وويل چې هغه د القاعدې غړي ته مه ګوره.

ما ټکان وخوړ او ومې ويل کوم يو دی د القاعدې غړی ؟ او چېرې دی ؟

ژباړن سترګې کښته واچولې اوپه محتاطانه توګه يې راته وويل: دغه تور سړی يا دوم.

ما هغه ته وويل: دا خو بالکل د تور کارغه په شان ښکاري.

ژباړن وويل: بالکل همداسې ده ، خو دا د القاعدې خورا کلك ملګری دی او له هغوی سره زياتې مرستې کوي.

تر ۱۱/۹ وروسته پيښو کې الجزيرې په پراخه کچه د ژورنالستانو او د نظر د خاوندانو غونډې جوړولې ، چې دا د امريکا لپاره يوسر خوږی و ، خو په پای کې د امريکا حکومت دې ته اړ شو ، چې الجزيره و ګواښي او پر نورو خبري ادارو يې فشار راړ چې د القاعدې د سرچېنو خبرې خپرې نکړي.

په تيرو څوکلونو کې الجزيرې ټلويزيون په نړيواله کچه خورا زيات شهرت موندلی دی. دا يوازنی عربي ازاد خبري چېنل دی چې په دغه جګړه کې يې د امريکا لاره نه تعقيبول ، چې زما په فکر دا خورا ګټور کار و ، خو له بله پلوه له دوی سره د طالبانو ښې اړيکې او د دوې له لاري د القاعدې د ويډيويي پيغامونو خپريدل پر دوی باندې ځنې شکونه را پيدا کول.

ما وروسته زما له موټر چلوونکي څخه وپوښتل چې تا هغه تور جګ سړی وليده ، چې د الجزيرې لپاره يې کار کاوه ؟

ده په هو جواب راکړ او ويې ويل چې دی د القاعدې غړی دی او دلته جهاد کوي. دغه موټر چلوونکي له يوه طالب څخه ددغه کس په اړه وپوښتل ، هغه ورته وويل چې دغه کس ستاسو له حويلي څخه بهر په ستلايټ ټيلفون د طالبانو له مشر ملا محمد عمر سره خبرې وکړې او له هغه څخه يې زموږ د شړلو اجازه واخيسته.

تر دې وروسته موږ ته په يو نيم ساعت کې ددغه ځای د پريښودو امر وشو. زه د (بي. بي. سي) ادم بروکس ته ورغلم چې زما نژدې ملګری جوړ شوی و او هغه څه چې ما واوريدل او ومې ليدل ورته ومې ويل. ده زما تر خبرو وروسته وويل چې هر څه وي وي به خو زموږ کار يې را خراب

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړ ، خو تر هر چا د (سي. ان. ان) کسان ډیر خواشیني و ، هغوی کوښښ کاوه ، چې په کویټه کې له پاکستانو طالبانو سره په سټلایټ ټیلفون تماس ونیسي تر څو د هغوی له لارې پر دغو طالبانو فشار واچوي او موږ ته په سپین بولدک کې د پاتې کېدو اجازه راکړي.موږ په هره بیه دلته د پاته کېدو لپاره چمتو وو ، خو د ټاکلي وخت تر پوره کېدو وروسته کوم څه په لاسه رانه غلل.

ما یو فرانسوي جیبي چاقو زما موټر چلوونکي ته ورکړ. زموږ موټر د هارن وهلو په داسې حال کې له دروازې راووت چې د طالبانو درې ډک موټرونه زموږ د امنیت لپاره راسره روان شول ، چې د هغو قهرجنو کسانو له ګنې ګونې څخه مو وژغوري. د امنیت امر نجیب الله به لکه د رمې سپی کله د کاروان شا او کله هم مخته روان و.

دده مخابره په لاس کې وه او تر هغه وخته پورې یې راته کتل ، چې موږ ټول تر پولې واوښتو. زموږ دغه سفر ډیر بې خونده و ، خو دا د طالبانو د رژیم پای او د ۲۰۰۱ ز کال د نومبر دریمه اوونۍ وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د طالبانو نسکوریدل
## (ډیسمبر ۲۰۰۱)

د ډسمبر په لومړیو کې د طالبانو ضد دوه ډلې د کندهار تر ښندو پورې ورسېدې.

د افغانستان راتلونکي ولسمشر حامد کرزي خپل مرکز له کندهار ښار څخه د موټر د مزله پر واټن د یو ساعت په شاوخواکې د شمال خوا ته په یوه کلي کې جوړ کړ او بله ډله چې مشري یې د شېرزي په غاړه وه ، له خپلو کسانو سره مرکز د کندهار سویل پلو ته د کندهار او سپین بولدك پر لویه لار جوړ کړ او پر هوایي ډګر د برید لپاره یې د امریکایانو اجازې انتظار ایسته.



د القاعدې عرب غړو هلته خورا کلك مورچلونه جوړ کړي و ، چې د امریکایانو لخوا به پرلپسې بمباری پرې کېدې.

له بله پلوه د کندهار د سقوط لپاره خبرې رواني وې ، د همدې خبرو د پر مخ بېولو لپاره ولسمشر کرزي د اکرم د قبیلې مشر ملانقیب ټاکلی و. هغه ملانقیب چې په ۱۹۹۴ ز کال کې یې د اکرم له مخالفت سره سره د کندهار د ښار واګې د طالبانو په لاس کې ورکړې ، خو اوس بیا دده په لاس دغې مسئلې ته د پای ټکی ایښودل کېده.

د سرو لښکرو ضد دغه قوماندان ، چې له ټولې حوزې څخه یې روسان تر ارزګانه پورې د سیمې پرېښودلو ته اړ ایستل ، په کندهار کې د خورا ښه نفوذ خاوند دی. تر اوسه هم نوموړی د ټوپکوالو لپاره د سر خوږ ی دی.(باید وویل شي ، چې ښاغلی ملانقیب د 2007 کال په نیمایي کې مړ شو. ژباړن)

په داسې یوه هیواد کې چې درواغ د ورځنیو خبرو موډ ګرځېدلی وي ، نو ملانقیب هم څنې په امان نه دی.

یو وخت چې زه کله له امریکا څخه راغلم ، ده ته مې یو جېبي چاقو ورکړ. نوموړي به هغه چاقو د الماسو په شان ساته او لاس په لاس به یې ګرځاوه. یو وخت یې هغه چاقو خپل زوی ته ور ښکاره کړ او ورته ویې ویل ، کله چې زه امریکا ته تللې وم ، په ټولو مغازو کې مې وکتل ، بالاخره مې دغه چاقو پکې خوښ کړ او وامې خست!

(c) ketabton.com: The Digital Library


په ۱۹۹۲ ز کال کې دده د ملګرو پر موټر راکټي برید وشو ، چې پکې سپاره ټول دیارلس جنګیالي ووژل شول. نوموړی مجرمو کسانو ته له دې کبله له سزا ورکولو تېر شو ، چې ویل یې زه اوس نوی له حج څخه راغلی یم. ده خپلو قهرجنو پلویانو ته وویل: زه نور مسلمانان نه شم وژلای.

ددې لپاره چې د ۲۰۰۱ ز کال د نومبر وروستي معلومات نور هم کره کړم ، له هغه سره مې لیدل اړین وبلل ، تر څو په دې اړه دده نظر هم واورم.

نوموړی یو نیم کال وروسته د هغه څه له امله چې تر سره کړي یې و ډېر خوښ و. ده وویل: کله چې کرزی افغانستان ته راداخل شو ، دوه ورځې وروسته یې ما ته د یوه کس په لاس یو سټلایټ ټیلفون را ولیږه. له هغې وروسته ملانقیب د کندهار ښار پرېښود او د خپلو قومیانو مرکز ارغنداب ته ولاړ. ارغنداب چې کندهار ته یې خورا ډېره طبعي ښکلا وربښلې ، په منځ کې یې د شنو اوبو رود تېر شوی دی. د رود دواړو غاړو ته د ختینو دېوالونو تر شا د ډول ــ ډول مېوو ښایسته باغونه د یوه وحشي ځنګله په څیر تر سترګو کېږي. د جهاد په دوران کې دا ځای د ملانقیب مرکز و او له همدې ځای څخه روسانو د ناسور خم واخیست. ده وویل: د کرزي یوه نفر ما ته ارغنداب ته یو سټلایټ ټیلفون راوړ. هغه وویل چې کرزی غواړي له تاسو سره خبرې وکړي.

ما کرزي ته ټیلفون وکړ ، هغه راته وویل: څه شي ته اړتیا لرې ، پیسې که وسلې ؟ ما ورته وویل: دواړو ته.

له همدې وخت څخه به دغو دوو ملګرو هره ورځ په ټیلفون خبرې کولې. دی وایي چې ما به کرزي ته تاکتیکي مشورې ورکولې. ما به کرزي ته ویل چې ها وکه او دا وکه ، ځکه چې کرزي جنګي تجربه نه لرله.

کرزي ما ته وویل چې له ملا عمر څخه طالبان جلا کړه. ما په لومړي سرکې له طالبانو څخه د کوچنیو قوماندانانو په بېلولو پیل وکړ ، ځکه دغو کسانو د طالبانو له مشرتابه سره ټینګې اړیکې نه لرلې. د خبرو دغه لړی د هغو خلکو لپاره مخکې تر دې چې له منځه ولاړ شي ، ډېره ښه چاره وه.

یو وخت د طالبانو د دفاع وزیر په ملانقیب پسې موټر ور ولېږه او دوی دوو د کندهار په ښار کې یو پټ مجلس سره وکړ. په هغه غونډه کې ملا نقیب ددفاع وزیر ته وویل: له حامد سر جنګ مه کوه ، که چېرې ته تسلیم شې ، هغه به تاته هیڅ ضرر و نه رسوي.

تر یوولسم سپټمبر وروسته په افغانستان کې ایتلافي حکومت جوړېږي ، چې په هغه کې به د طالبانو جګپوړي چارواکې هم ګډون ولري. د نومبر په وروستیو کې د ملا نقیب قومیانو پر طالبانو د برید لپاره د خوښۍ اتڼونه کول.

ملانقیب د طالبانو مشر ته یو استازی له لیك سره ور ولېږه ، په لیك کې لیکل شوي و ، چې په دا دوو ورځو کې باید تسلیم شي ، که نه نوټول ارغنداب به ستا پر ضد را پور ته شي.

دا د طالبانو لپاره یو جدي ګواښ و ، ځکه چې د ملانقیب قومیانو تر اوسه په جنګ کې ما ته نه وه منلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا يو منل شوی حقيقت دی چې په ۱۹۹۶ ز کال کې ملا نقيب د اکرم له مخالفت سره سره بيا هم طالبانو ته د کندهار د ښار د نيولو موقع برابره کړه ، ده خپلو قوميانو ته د جنګ د نه کولو امر وکړ.

د ملا نقيب ضرب الاجل تر يوې بلې غونډې پورې وغزېد ، چې د ۲۰۰۱ ز کال د ډسمبر پر پنځمه تر سره کېده.

ملا نقيب وايي: طالب چارواکو ما ته وويل که ته موږ ته په نور وخت راکولو راضي نه شې ، نو لاس دې خلاص هر څه چې کوي ، و يې که.

ملانقيب ورته وويل: تاسو غواړئ چې موږ د اور په لمبو کې وسوځوئ؟ زموږ کورونه را وران کړئ؟

که داسې نه وي ، نو بيا ولې تاسو په مزار ، کابل او کندوز کې جګړه نه کوئ؟ يوه اونۍ وړاندې طالبانو دغه ښارونه د امريکا ملګرو ياني شمالي ټلوالې ته پر ينبي و. په ځواب کې طالب چارواکو له کرزي سره د مستقيمې ليدنې غوښتنه وکړه. ملا نقيب هغوی ته وويل چې زه خپله کرزی يم او کرزی زه يم ، زما خبره دده او دده خبره زما ده. هغه مهال کرزی نوی د افغانستان د لنډمهالې ادارې د مشر په توګه ټاکل شوی و. دی د کندهار ښار د مسئلې د يوې خواته کولو لپاره له امريکا يې مشاورينو سره په پلان جوړونه بوخت و او له ځاې مشرانو سره به يې ليدنې کولې.

له کرزي سره مخور کسان به د طالبانو له رهبرۍ سره په جدي خبرو لګيا و او کله کله خو به يې مستقيماً له ملامحمد عمر سره هم پر سټلايټ ټيلفون خبرې کولې.

د ملا نقيب په کور کې ناست کسان پدې راځي شول چې له کرزي سره نبغ په نېغه خبرې وکړي.

د کرزي قرار ګاه د ښار د شمال طرف ته د نيم ساعت د موټر د مزل په واټن سره لرې موقعيت درلود پراته و.

د ملا نقيب دا هم په ياد و چې د طالبانو دغو مشرانو له ما څخه د کرزي د ټيلفون د شمېرې غوښتنه وکړه. هغوی څو ځلې نمبر هم داير کړ ، خو د خرابې ليکې له امله له هغه سره په خبرو کولو بريالي نه شول. ترډغې غونډې څو ساعته وړاندې د افغانستان نوی ولسمشر د مرګ تر پولې رسېدلی و ، خو خدای (ج) بچ کړ.

امريکايي الوتکې د کرزي پر قرارګاه بم و غورځاوه ، چې درې امريکايي سپېشتل فورس او شل تنه افغانان يې ووژل. مړه شوي کسان ټول د کرزي ملګري او دده د قبيلې غړي و. ژوبل کسان په خورا ناوړه حالت کې پراته وو ، په ژوبلو شويو کسانو کې د يوه نوم قاسم و ، چې په پښنه کې يې خپل دواړه لاسونه بايللي و ، نوموړي له خپلو ملګرو څخه وغوښتل چې هغه ووژني. قاسم په ريګستان کې د امريکايي سمندري ځواکونو اډې ته وليږدول شو ، چې هلته يې تر تداوي لاندې ساه ورکړه.

په هغه وخت کې چې طالبانو د کرزي نمبر دايراوه ، د کرزي پر قرار ګاه باندې تندر را شيوه شوی و. دغه ډله د ملانقيب په مشرۍ د کرزي د قرار ګاه پر لور روانه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غونډې په وخت کې زه په کويټه کې وم ، خو ډېره وېرېدم ، داسې نه چې د امريکا د بمونو ماشه پر دغه پلاوي چې د طالبانو جګپوړي چارواکې پکې موجود و راکښېکښل شي.

ملا نقيب په دغه يولس ساعته غونډه کې خپل دريځ وساته ، دی وايي: کله چې موږ هلته ورغلو ، دکرزي مخ او غاړه پانسمان شوي و. کرزي نه غوښتل چې له دغو کسانو سره خبرې وکړي ، يوازې ملانقيب له کرزي سره خبرې کولای شوای.

ملانقيب وايي: ما کرزي ته وويل چې ته بايد هغوی ته ووايې ، که چېرې موږ د کندهار پر سرکو کې جګړه وکړو ، نو ډېرې وينې به و بهيږي ، موږ او تاسو به ډېر بد ښکاره شو.

بالاخره کرزی د هغوی سره کښناست او د طالبانو مشرانو ته يې وويل چې کندهار ملانقيب ته تسليم کړي.

ملا نقيب وايي: کله چې موږ کندهار ته را ورسېدو ، هغوی خپل نظر بدل کړی و او ويل يې چې موږ غواړو صبا بيا له کرزي سره ووينو. د دوهم ځل لپاره همدغه پلاوي بيا له کرزي سره وليدل او له کرزي څخه يې د کندهار د ورسپارلو لپاره دوه ورځې وخت وغوښت ، خو کله چې موږ ښار ته راورسېدو ، طالبان يو ځل بيا پر خپله خبره ونه درېدل ، هغوی وويل: موږ دوې ورځې انتظار نه شو کولای ، موږ سبا تاسو ته ښار در پرېږدو. په دغه شپه طالبانو ما ته په سټلايټ کې وويل چې موږ بالا روانيږو. خو ما اماده ګي نه لرله ، د ښار د کنټرول لپاره پوره نفر راسره نه و ، يوازې څلوېښت يا پنځوس کسان موجود و ، هغوی مې په ښار کې سره وپاشل ، خو دا بس نه و.

کله چې طالبانو د شپې په تياره کې ښار پرېښود ، نو په ښار کې وضعيت هغه حالت ته وګرځېد ، چې څو ورځې مخکې يې افغان مهاجرو ما ته په پاکستان کې اټکل کړی و. دوی د طالبانو د رژيم د پای څخه خورا په وېره کې و ، دوي ويره لرله ، چې د دوه نوي يم کال پېښې به بيا تکرار شي.

د ښار د عمومي روغتون يو ډاکټر د هغه وخت پېښې داسې بيا نوي:

څو سوه عرب او طالب ټپيان چې په امريکايي بمباريو کې د کندهار په هوايي ډګر کې ژوبل شوي و روغتون ته راوړل شول. د بسترو د نشتوالي له امله هغوی په وينو لژنده پر ځمکه پراته و.

د دغه ډاکټر په وينا ، موږ په همدغسې حالت کې د دوی تداوي کوله ، حالت ډېر خراب و ، ځکه چې داد طالبانو وروستی شپه وه ، ښار يې پرېښوده او واک يې ملانقيب ته سپاره.

ډاکټر په ډېريخ او توره تاره کې د ټپيانو په پالنه بوخت و. پخوا چې به موټرونه راښکاره شول ، ټپيان به يې راوړل ، خو دا ځل داسې نه و ، د القاعدې ګڼ شمېر پيکپ موټرونه روغتون ته راغلل ، هغوی پر ډاکټرانو نارې وهلې چې زموږ مريضان چېرې دي ، هغوی ټول القاعده او طالب ټپيان په نيمه پانسمانونو او اې وي ټوبونوکې جلا کړل.

تر څه ځنډ وروسته د القاعدې عرب غړو لخوا ګڼ شمير پيکپ موټرونه راښکاره شول او هغوی ټول ژوبل کسان په خورا بد حالت کې له کندهار ښار څخه و ايستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکتر وويل چې دا ټول موټرونه د عربانو و. له هغوی څخه څلوېښت نارينه ډېر سخت ژوبل د يوه استراليايي په ګډون پاتې شول چې هغوی بيا په روغتون کې له امريکايانو سره په جګړه کې ووژل شول.

نعمت الله چې دبادامو د يو کندهاري سوداګر زوی دی او په دغو ورځو کې يې له خپل پلار سره د وچې مېوې په مارکېټ کې کارکاوه ، د خپلو سترګو ليدلی حال داسې راته بيان کړ: زموږ له مارکېټ سره نژدې د ميخانيك يو لوی سرای دی. په دغه سرای کې ګڼ شمېر مستريان ورکشاپونه لري ، دلته طالبانو ډېر موټرونه د جوړولو لپاره راوستلي و چې ناڅاپه وسله وال کسان راښکاره شول ، ټول موټرونه يې سره راغونډ کړل.

تر دې وروسته يوه بله ډله راغلل ، هغوی لومړنۍ ډله له همدې ځای څخه وشړله خو لومړۍ ډله بيا راغله او د موټرونو پر سر له دوهم ګروپ سره په جګړه شول. ما فکر کاوه ، چې موږ يو ځل بيا د کورنۍ جګړې په درشل کې يو.

تر ۱۱ سپټمبر وروسته د بادامو دغه بازار درې ورځې له دې کبله تړلی و چې په ښار کې د خپل سريو ټغر اوار وو.

دغسې حالت په کابل کې درې اوونۍ مخکې تير شوی و. کله چې امريکايي بمونو د طالبانو لکې درې وړې کړې ، د شمال ټلواله افغان پلازمينې کابل ته ور ننوته او تر څو ورځو پورې په ښار کې چور او تالان روان و. دې ته ورته يعنې يو کال وروسته د بغداد تر سقوط وروسته هلته هم حالت همدا شان و.

په کندهار کې د واك سپارلو چارې په سمه توګه تر سره نه شوې. كه چېرې ضابط اكرم هلته وای ، شايد کندهار يې له چور او تالان څخه ژغورلی وای. خو اکرم د ښار د باندې له ګل اغا سره په هوايي ډګر کې و.

اکرم وويل: زه د ګل اغا تر څنګ ولاړوم چې د هغه سټلايټ ټيلفون ته زنګ راغی. دا د ولسمشر کرزي ټيلفون و ، چې شيرزي ته يې وويل ، ته د هوايي ډګر مسئول او ملا نقيب د کندهار والي دی. په کندهار کې واك سره ويشل شوی و او د هر يوه برخه معلومه وه ، چې ټول عيني شاهدان د همدې خبرې په تائيد سر ښوروي.

د چمن يوه ځوان جنګيالي ماته وويل: حقيقت دادی چې طالبانو واك ملا نقيب ته وسپاره. نعمت الله د بادامو سوداګر خپل د سترګو ليدلی حال داسې راته بيان کړ: ټولو طالبانو به يو ځل له ملا نقيب سره ليدل او بيا به يې ده ته وسلې ور سپارلې.

زما اڅکزي ملګری محمد انور هم همدا خبره تائيدوي. دا الكوزي وه چې کندهار يې له طالبانو څخه پاك کړ او ولسمشر کرزي هم کندهار ملا نقيب ته ورکړ. بي بي سي وويل چې ملا نقيب د طالبانو د تسليمي او د ولايت واك په لاس کې اخيستل منلي دي.

دا هغه څه و چې بايد تر سره شوي وای خو هغه څه وشول چې بايد نه وای شوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د کندهار لار
## (۱۱ ډيسمبر ۲۰۰۱)

زه ډيره حيرانه وم چي دا جمله څول ځله د کندهار په اړه وويل شول.

ددي څخه څلور ورځي تيري شوي دي خو زه اوس هلته ور روانه يم.

زه په يو ژړ ټکسي کي د کندهار پر لور روانه وم چي د شا هنداره يي ماته شوي وه او بيرته يي سره پټليس کړي وو.

ما زما ډرايور او ژباړن پدي راضي کړل چي زما سره کندهار ته ولاړ شي.

دا ځل ما ويزي ته اړتيا نه لرل ځکه چي زه د يوه اڅکزي سره پر موټر سايکل پر خامه لاري تر سرحد واوښتم.

د پولي څخه د اوښتلو پر مهال زما موټر سايکل چلوونکي د پولي يوه ساتونکي ته د روغبړ لپاره لاس وروغځوي او هغه هم لاس ورته را اوږد کړي په همدي سره موږ تر پولي اخوا واوښتو.

زه بيرته د خپلو ملګرو سره يو ځاي شوم چي د عمومي سړك پر سر يي په ټکسي کي زما انتظار ايستي.

زموږ لومړي تم ځاي د محمد انور د اڅکزو په يو بارك کي وو.

هغوي ماته د يو ځوان جنګيالي په اړه چي فدا نوميدي معلومات راکړل هغه زموږ د امنيت مسول او په قبايلي چارو کي د يوره نفوذ خاوند و.

اوس موږ د حرکت په حال کي و او فدا د موټر د مخ په سيټ کي کښيناستي او کلاشينکوف يي د زنګنونو په منځ کي نيولي و او همدا شان يي د بغل د هنداري څخه د شاه ننداره کول.

ما غوښتل چي دده سره په رفتار کي مرکه وکړم خو د خراب سړك له کبله دده ږغ سم نه ثبت کيدي.

د ږغ د خراب کيفيت له کبله مي فکر کوي چي دا ريکارډينګ به د استفادي وړ نه وي که نه خو بيا هم ددي کار څخه ستړي نه شوم وم .

ما ده ته خپل مايك نور هم ورنژدي کړي چي د هغه تر خولي دا جمله راووتل چي ويل يي موږ ښار په زور ونيوي.

هغه د کندهار هوايي ډګر ته نژدي د شګو يوي تپي ته اشاره وکړل چي موږ له همدي ځاي څخه د کندهار پر لور روان شو.

ده وويل چي دري ورځي وړاندي يوي طالب ضد ټلوالي د ګل اغا په مشرۍ د کندهار پر ښار يرغل وکړي. دوي هلته د القاعده عرب غړو او طالبانو پر ضد نه وه ورروان بلکي هغوي څو ورځي وړاندي ښار خوشي کړي و ځکه چي جنګ نور ختم شوي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



فدا وويل چي دا کار د شيرزي د پلويانو لپاره ډير په زړه پوري و ځکه چي ممکن هغوي ته په دغه اړ و دوړ کي يو څه په لاس ورغلي واي.

شيرزي د کرزي د امر څخه سر وغړوي او د ولايت کنترول يي د ځان حق بلي.

دي وايي زه پوهيدم چي دا ډير بد کار دي .

زه پدي ډاډاه يم چي دا پيښه به د نوي افغانستان پر راتلونکي ډيره بده اغيزه ولري.تر اوسه چي به ما کوم معلومات تر لاسه کول هغه د دريم لاس معلومات وو.فدا په صحنه کي حاضر و نو ځکه ما دي د معلوماتو شريکولو ته هڅوي.

ده وويل ولسمشر شيرزي ته وويل چي تاسو د کندهار ښار بهر په هوايي ډګر کي پاته شي خو موږ دده امر ته غاړه کښينښودل.

ما غوښتل چي د کندهار ددغه اشغال په اړه سم انځور تر لاسه کړم. هلته په سلګونو موټران تر سترګو کيدل چي د جنګياليو به ډك وو.

دغو جنګياليو به د موټر پټي خلاصي کړي وي ، په داسي حال کي چي پټووان به يي تر سر تړلي و په مريميو به بار و او پښي به يي هم تر موټر راځړولي وي. د بيرغه پر ځاي به يي د راکټ مرمي په پيپ اغوستي وي او بيا به يي پر موټر درولي وي.

موږ ته ښار ته د ورتګ لپاره هيڅ بلنه نه وه راکړي.

ما ور څخه وپوښتل امريکايانو پدي اړه څه ويل او هغوي پر دغه مهال چيري وو ؟

ده وويل چي موږ ته امريکايانو د ښار د نيولو امر راکړي او امريکايي سپيشل فورس موږ د ملاتړ لپاره موږ بدرګه کولو.

(( دا هغه څه و چي تر اوسه لا د خلکو څخه پټ ساتل شوي وو ))

فدا زياته کړل چي موږ ته ټولي مشوري امريکايانو راکولي.

خو دا څنګه امکان لري چي ښار دي وختي لا د طالب ضد ټوالي له خوا چي مشري يي حامد کرزي کوي او رهنمايي يي د يو بل امريکا سپيشل فورس ګروپ لخوا کيږي او بيا د سپيشل فورس هغه بل ګروپ خپل افغان ملګرو ته د ښار د نيولو امر ور کوي ؟

کرزي خپل کسان مخکي لا ښار ته د ملا نقيب سره د ښار د ساتلو لپاره استولي و شيرزي ، اکرم ، فدا او محمد انور لا د کندهار ښار د باندي په هوايي ډګر کي و چي کرزي شيرزي ته ټليفون وکړي چي تاسو بايد په هوايي ډګر پاته شي.

زه پدي ډيره حيرانه يم په داسي حال کي چي ښار لا دوړاندي د طالب او القاعده ضد ټلواتلي امريکا پلوه ځواکونو لاس ته لويدلي دي نو بيا ولي امريکايي مشاورينو شيرزي د کرزي نا فرماني ته وهڅوي ؟

زما او د فدا مرکه پر همدي ځاي پاي ته ورسيدل د ځان سره مي وويل چي پدي اړه به نور معلومات وروسته راټولوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


يو شي چي پدي اړه زما په فکر کي راګرځيدي هغه دا چي طالبانو په ډير ډار سره واك پريښودي پدي سره امريکايان ډاډه وه چي هر څه يي زړه غواړي هغه په افغانستان کي تر سره کولاي شي.

په همدي وخت کي د کندهار ښار راښکاره شو په ښار کي ټوله سړکونه کنډ او کپر و او ډيري ودانۍ د امريکايي بمباريو له کبله نړيدلي وي.

موږ د (Mayuria) پسي ګرځيدو ماته پر پوله د اځکزو په بارك کي وويل شول چي ستاسو ملګري محمد انور به هم هلته وي.

موږ موټر يو بغل ته ودروي که ګورو محمد انور چي په (ايس ، يو ، وي) موټر کي سپور و راښکاره شو. ده دليري څخه پر ما ږغ وکړي سارا ، ده تر روغبړ وروسته زما هغه نور ملګري موټر ته پورته کړل او زه ده په خپل موټر کي تر خپل څنګ کښينولم.

نور نو ما د فيصلي کولو تصميم نه درلودي . محمد انور د اتيايمو کلونو يو جنګيالي دي چي سرو سترګو يي د ډيرو چرسو څکولو له کبله الغي پيدا کړي وي.زموږ جنګياليو يعني د انور کسانو ټولو د طالبانو غوندي پکړي او جامي لرلي خو په اصل کي موږ پوليس وو. په اصل کي خو موږ د ضابط اکرم لپاره کار کوي. تر دي مهاله زما او د هغه تر منځ پيژندګلوي نه وه شوي.

نور نو موږ بايد يوځه بيړه کړي واي ځکه چي لمر پر لويدو و او دا د روژي مبارکه مياشت و ځکه چي موږ د سپيدو راهيسي هيڅ نه و خوړلي.

موږ د محمد انور د يو قريب کور ته ورسيدو چي په يوه تنګه کوڅه کي وو.د ميلمنو په خونه کي زموږ د ښه راغلي لپاره نارينه ولاړ و ، خونه په قيمتي مزاري او هراتيو غاليو پرش کړل شوي و. ددي ډول خونو سره چي زه د مراکو په پيس قورپ کي وم ډيره بلده شوي وم.

پر دغو غاليو يو پلاسټيکي سترخوان اوار و چي خواړه پر ايښودل شوي و خو تر اوسه لا موږ ته د خوراك اجازه نه و ځکه چي موږ بايد اذان ته انتظار ايستلي واي.

زما د محمد انور يو سپين ږيري اکا په ياد دي چي د هغه و مخ ته چاپه زوره د ساه کښلو جرائت هم نه شو کولاي.

اکا د کورني مشر و او بايد درناوي يي شوي واي.

تر دي وروسته محمد انور ماته د همدي سراي تر څنګ د يو بل سراي په دويم منزل کي شخصي خو نه راکړل . په هغه سراي کي يو کس و چي بايد ماته يي چاي را جوش کړي واي او دسراي د ساتني دنده ور دغاړي وو.

ساعت ته چي مي وکتل د کندهار په وخت د ماښام اوه بجي وي چي د واشنګټن د سهار د لسو بجو سره يي سمون درلود.ما يوازي پنځه ساعته وخت درلود چي دا ټول شيان مي په څلور نيم دقيقه ييز راپور کي انځور کړي واي .

خو ځيني وختونه به ما ډير اوږده خبرونه ور استول.خو د نن راپورمي د امريکا د پاليسي په اړه و چي څنګه امريکايي سرتيرو ځايي جنګيالي د ښار د نيولو لپاره بدرګه کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما خپل ميني ډيسك عيار کړي او هغه تيپ مي چلانه کړي چي د لاري په اوږدو کي مي ثبت کړي و او په خپل لپ ټپ کمپيوټر کي مي څلور ساعته وروسته راپور چمتو کړي.

هغه کس چي ماته يي چاي تيارولي هم بيده شوي و ما د باندي پر بام د سټلايټ ډيش کاسه ودرول.

زما په راپور کي د څوان فدا هغه ټولي خبري راغلي وي چي ما دده څخه د لاري په اوږدو کي ثبت کړي وي. داسي چي څنګه امريکايي سرتيرو يو ټوپکسالار د کندهار نيولو ته وهڅوي او بيا يي د ولايت تر مقام پوري بدرګه کړي .

تر څو د کندهار ښار د کرزي د واکه وباسي په داسي حال کي چي کرزي هم دغه ښار ته د امريکايانو لخوا بدرګه شوي وو. ما دغه سکريپټ واشنګټن ته د سټلايټ د لاري ايمل کړل. دغه راپور مي زموږ نوي مسول چلوونکي ته ور واستوي او دي مي له دي څخه خبري کړي چي زه افغانستان ته ورسيدم. په داسي حال کي چي د خبرونو په خونه کي ټوله نړي راغونډه شوي و پر هغه باندي دا د ټوپکسالار کلمه سمه ونه لګيدل.

ده هغه راپور زموږ نړيوال سرې خور مسول ته ور واستوي چي د هغه څخه موږ ټول بيريدلو او درناوي به مو يي کوي.

دغه سرې خور ددغه راپور په لوستلو سره د ډيره قهره څخه ليوني شوي و چي زما او دده تر منځ په سټلايټ ټليفون کي سختي خبري هم پر وشوي.

ده وويل چي دا ستا راپور ډير بي معني دي په اصل کي ده هغسي راپور غوښتي چي واشنګټن پوسټ د ملا عمر د کور په اړه برابر کړي و چي د هغه د ميليمه اسامه بن لادن په پيسو يي جوړ کړي وو.

زه پدي باور يم چي هر څوك پوهيږي چي هغوي څومره خطرناك او مضر خلك و او د هغوي پراخيدل يو لوي ګواښښ وو.تر ټولو مهمه دا وه چي په امريکايي حساسيتونو بايد څوك پوه شوي واي د طالبانو په اړه راپورونه او ګذارشونه جوړول خو د پنځه کاله مخکي کار وو.

زه پدي باور يم چي په اوسنيو حالاتو کي ددغسي موضوګانو په اړه معلومات برابرول ډير اړين و څکه چي اوس موږ يو نوي پړاو ته ورداخل شوي وو.

زما په نظر ددغو شيانو سمول پوازي دانه چي د امريکا او افغانستان لپاره ډير مهم و بلکي د ټولي نړي لپاره يي خورا حياتي ارزښت درلود.

نړي موږ ته ګوري چي دوي خپلي چاري په څه ډول په افغانستان کي د طالبانو تر ړنګيدو وروسته پر مخ بيا يي تر څو خلك د تمدن د ټکر څخه وساتي.

زموږ مسول چلوونکي د فدا خبري زما د راپور څخه پري کړي وي.

زه پدي ونه توانيدم چي د افغانستان انځور د طالبانو تر ماتي وروسته خلکو ته انځور کړم.

خو هغه کار زه اوس تر سره کوم.

يادونه:

(c) ketabton.com: The Digital Library


(Mayuria) په دغه نامه باندي زه په کندهار کي کوم ځاي نه پيژنم (ژباړن).

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ښار په زوره نيول
## (ډيسمبر ۲۰۰۱)

ددې کېسي روښانتيا زما لپاره ډېر وخت ونيو.

د همدې موضوع د روښانتيا لپاره ما بايد له ټولو دخيلو اړخونو سره کتلي واى تر څو واقعيت راته په ډاګه شي.

زه بالاخره په ټولو شيانو وپوهېدم.

کله چې محمد انور د کندهار په پوليسو کې خپله دنده پرېښودله نو زما او دده تر منځ دوستي لا همغسي پر خپل حال پاتې وه. د طالبانو تر ماتې وروسته ما يو بل اڅکزى له ځان سره ملګرى کړ تر څو تر پولې اخوا مې د انور تر کور پورې ور ورسوي.

د ملانقيب او خاکرېزوال نظرونه مې لا له وړاندې معلوم کړي و. کرزي او شېرزي ته خو دومره نژدې شوې وم چې هر وخت مې زړه شوى واى له هغوى سره مې ليدلاى شواى.

يو اصلي کريکټر چې زما لپاره يې ليدل ګران و هغه د امريکا د ځانګړو قواوو ډګروال ډيوېډ فوکس و.

ټول دخيل افغان اړخونه په دغه مسئله کې دده کليدي رول تائيدوي.

ددې څخه مې مقصد دا و چې ځان ته معلومه کړم چې ايا دا رښتيا امريکايي سرتېري وو چې شېرزى يې په زور د ښار نيولو ته هڅاو؟

له دې څخه هر څه په ډاګه کېږي چې ولسمشر کرزي شېرزى ته په هوايې ډګر کې د پاتې کېدو امر کړى و. هوايې ډګر د کندهار ښار ختيځ پلو ته د موټر د نيم ساعت د مزل په واټن کې پروت دى.

دغه هوايې ډګر د امريکايانو لخوا جوړ شوى دى ، خو په اتيايمو کلونو کې د روسانو لخوا نور پراخ شو تر څو د کليوالو سيمو د بمباريو او پر پاکستان د بريد لپاره ګټه ځنې واخلي.

کله چې د طالبانو مشر ملا محمد عمر په ۱۹۹۶م کال کې اسامه بن لادن ته بلنه ورکړه تر څو له ده سره په کندهار کې و اوسي ، نو هغه د خپل ځان او د القاعدې شبکې د نورو مهمو غړو لپاره هلته خورا ټينګ کورونه جوړ کړل.

د القاعدې د سرسختو غړو لپاره د طالبانو د واکمنۍ په وروستۍ ورځ دا په افغانستان کې د القاعدې د مقاومت وروستى ډګر و. د ډ سمبر په لومړيو کې امريکايي جيټ الوتکو پر دغه هوايې ډګر بمباري پيل کړه.

له همدې کبله هوايې ډګر ته نژدې د پرتو کليو اوسېدونکو خپل کورونه پرېښودل او نژدې کليو ته يې پناه يوړه. ځينو له دوستانو او خپلوانو سره واړول او ځينو خو بيا خپل پناه ځاى د پولې په هغه بله غاړه پاکستان کې برابر کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د شېرزي په کسانو کې زما خبروونکی محمد انور او د هغه د اشکزو ډله وه. همدا دوی و چې زه يې د هوايي ډګر پر سر د شېرزي د کسانو او القاعدې ډلې ترمنځ د جګړې له واقعيت څخه خبره کړم.

خو کله چې زه د پاکستان پر پوله وم او هلته مې د باردارو موټرو له چلوونکو سره مرکې کولې نو يوه هم د ځمکنۍ جګړې تائيد ونکړ.

سر سختو افغانانو ددې هيڅ پروا نه کوله چې شاوخوا کې يې څه روان دي ، دوی خپلو کارونو ته په عادي توګه دوام ورکاوو. په داسې حال کې چې پر هوايي ډګر به سور اور بل و خو دغو موټر چلوونکو به خپل موټرونه د انارو له کريټونو او د غنمو له ګونيو ډک د همدې هوايي اډې تر څنګ پر عمومي سړك د پاکستان سرحدي ښار ګوتي چمن ته را رسول. دوی ويل چې د هوايي ډګر دروازې ته مخامخ نوې وسلې ځای پر ځای شوي ، د پيکپ موټرونو خورا ډېره ګڼه ګونه وي خو هيڅ جګړه نشته.

همدا د شواهدو تر ټولو ښه منبع کېدای شي.

زه وروسته وپوهېدم چې دا د افسانوي شېرزي د تبليغاتو يوه برخه وه ، چې امريکايانو هم دده په شهرت کې په پټه توګه مرسته کوله.

تر هغه وخته پورې چې امريکايي بمونو ټول هدفونه له منځه نه و وړي ، امريکايانو خپل افغان ملګري هوايي ډګر ته نژدې لانه ور پرېښودل.

د اکرم هغه ټول جريان په دې ډول په ياد و:

امريکايانو موږ ته وويل چې سبا موږ او تاسو د هوايي ډګر لومړي برج ته ورځو ، خو زموږ څو ملګري مخ ته ولاړل چې له هغوی څخه درې نفره ووژل شول. موږ بېرته پله ته را پر شا شوو. امريکايانو پر هغه ځای باندې څه نور بمونه واچول او بيا يې موږ ته وويل چې اوس کولای شئ مخ ته ولاړ شئ. کله چې اکرم د هوايي ډګر پولې ته ورسېد ، د عام وژنې پر يوه ننداره يې سترګې ولګېدې. داسې چې ګڼ شمېر عربان کوټې کوټې له خپلو وسلو سره مړه پراته وو.

د اکرم په وينا چې په هغوی کې شپږ يا اوه يې ژوبل و ، چې هغوی بيا د ګل اغا کسانو پسې ووژل.

څو ورځې مې له عيني شاهدانو څخه داسې راپورونه تر لاسه کول چې د مړو زيات شمېر جسدونه د هوايي ډګر پر عمومي سړك پراته وو ، چې بيا ملېشو او د ښار اوسېدونکو هغوی سره ټول او خاورو ته وسپارل. ددغو عربانو هديره د کندهار ښار په شمال کې واقع ده چې زيات شمېر زيارت کوونکي لري.

تر دې وروسته اکرم د شېرزي تر څنګ ولاړ و چې شيرزي ته د کرزي زنګ راغی.

اکرم د شېرزي هغه ټولې خبرې اورېدلې ، چې له ولسمشر کرزي سره يې په توهين امېزه لهجه کولې. شېرزي وويل: زه د کرزي يو امر هم نه منم اونه زه کرزی او ملا نقيب پېژنم. کندهار زما دی زما.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګل اغا اوس هم له خپلې سرغړونې څخه نه دی منکر. په ۲۰۰۴م کال کې زما او دده تر منځ په يوه مجلس کې نوموړي دا ومنله چې له کرزي سره يې پر ټيلفون خبرې وکړې.

ده زياته کړه: ما ولسمشر ته وويل چې د ملا نقيب الکوزو ته د کندهار واك په لاس مه ورکوه. ته بايد دا غلطي ونکړې. ملا نقيب وويل ، تر دې وروسته ګل اغا خپل پروپاګند پيل کړ . ده زياته کړه ، چې شېرزي وويل ، ملانقيب د طالبانو ملګری يم او الکوزو طالبان پټ کړي دي او د پاکستان تر پولې يې اړولې دي.

ګل اغا ته د يوه هر کاره افغاني الاصله امريکايي خالد پښتون لخوا مشورې ورکول کېدې. هغه ددغه مهمې موضوع لپاره د مېډيا کمپاين په لاره اچولی و. نوموړي خپل اواز د منل شوې بي بي سي راډيو له لارې تر خلکو پورې رساو. زما د ملګرو په وينا چې شېرزي په بي بي سي راډيو کې وويل چې ملا نقيب د طالبانو غړی دی ، دده او طالبانو تر منځ توپير نشته.

محمد انور وويل ، شېرزي امريکايانو ته هم همداسې وويل:

ملا نقيب به له تاسو سره د طالبانو په ښکار کولو کې مرسته ونه کړي. هغه به له طالبانو سره ستاسو په خلاف مرسته وکړي.د شېرزي دغه مرکه ما وانه ورېدله. په هغه وخت کې زه په چمن کې د يو اڅکزي په کور کې د مېلمه په توګه اوسېدم تر څو افغانستان ته د ننوتلو لاره پيدا کړم. ما د هغې مرکې په اړه ډېر څه واوريدل ، دا د ټولو افغان مهاجرو خبره ده چې ويل يې ، شېرزي وويل چې زه د کندهار والي وم او يم به او په دې کې بل څه نه ځايېږي.

کوم راپور چې ما (ان پي آر) ته ورلېږلی و ، په هغه کې مې د کندهار د ښار د کنټرول پر سر د شخړې يادونه کړې وه. ولسمشر کرزي ګواښ وکړ که دده ملا ترې خپلمنځۍ ستونزې حل نکړي ، نو دی به استعفا ورکړي. په همدغه حساس حالت کې ولسمشر اکرم ته ټيلفون وکړ چې هوايي ډګر پرېږدي او په کندهار ښار کې له ملا نقيب سره يو ځای شي. ملا نقيب اکرم ته وويل ، اوضاع سمه نه ده له همدې کبله بايد يو څو ورځې انتظار وباسو چې حالت په کوم لوري خوځي. شېرزی په دا سبا په ډېره اسانۍ سره د ولايت تر ودانۍ پورې راورسيده.

دا هغه څه و چې شېرزی په زور سره ښار ته ننوت.

ځوان فدا راته وويل ، کله چې موږ د ښار پر لور حرکت وکړ ټول جنګيالي ګوته پر ماشه او خپل ټوپکان يې د موټرو تر کړکېو بهر را ايستلي وو. زما په ملګرو کې محمد انور لومړنی کس و چې ماته يې په همدې اړه مهم معلومات راکړل او پر کندهار ښار باندې يې د شېرزي د يرغل او په همدې اړه يې د امريکايانو له رول څخه خبره کړم. دده په ياد دي چې امريکايانو شېرزی د ولايت تر ودانۍ پورې بدرګه کاو. شپږ والوتکو په هوا کې د دوی ساتنه کوله.

يوه افغان مهاجر راته وويل ، کله چې شېرزی ښار ته ننوت امريکايانو سمدستي نوي ټوپکونه ورته توزيع کړل. ددې تر څنګ يې MREs امريکايي نظامي خواړه هم ورکول.

دغه کس چې په نوموړي جريان کې حاضر و ويل يې چې د نويو ټوپکونو کونداغونه د لرګي پر ځای پلاستيکي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر يو څه ځنډ وروسته مې همدغه پوښتنه د اکرم مخ ته کښېښودله. ده وويل چې شېرزی کندهار ته له امريکايانو سره راننوت. همدا دليل و چې له ده سره چا جګړه ونکړه ، ځکه هيچا نه غوښتل چې له امريکايانو سره جګړه وکړي. ملا نقيب ماته وويل چې اوس د جګړې وخت نه دی ، که هغوی په تاپسې يو ګام مخ ته راځي ته يو ګام شاته ځنې ولاړ شه. هر څوك پوهېده چې امريکايان د شېرزي تر شا ولاړ دي.

ملا نقيب هم د همدې خبرې تائيد وکړ. دی وايې: ما خپلو کسانو ته د جنګ نه کولو امر وکړ. له همدې کبله زه د ولسمشر کمپ ته ورغلم ، هغه راته وويل چې له شېرزي سره جګړه مه کوئ. په همدې ډول نو ملا نقيب کندهار د جنوب يرغلګرو ته پرېښود لکه څنګه چې يې اوه کاله وړاندې طالبانو ته پرې ايښی و. ګل اغا د کندهار په زړه کې سيده د کندهار ولايت ودانۍ ته ورغی. دغه لرغونې ودانۍ د افغانستان بنسټ ايښودونکي احمد شاه دراني لخوا جوړه شوې ده. دغه لرغونې ودانۍ دوو سپېڅلو زيارتونو ته چې دواړه ګنبدې يې مخامخ سره جوړې شوي دي چې يوه يې د افغانانو د همدې پلار احمد شاه دراني(ستر احمد شاه بابا) زيارت دی او په هغه بله کې يې د اسلام د سپېڅلي پيغمبر محمد (ص) مبارکه خرقه پرته ده مخامخ ده.

همدا دليل و چې دې ځای د شېرزي لپاره خورا سمبوليك ارزښت درلود. همدا ځای دده مرکز شو او ملانقيب د ملا عمر په کور کې چې د ښار په يوه څنډه کې د ناجو د ونو په منځ کې جوړ شوی دی پاتې شو. همدا دليل و چې ددغو کسانو تر منځ ترېګني رامنځته شوه. د اته څلويښتو ساعتونو لپاره په کندهار کې حالات خورا نازك وو. هيچا د کندهار د واکداري ادعا نه شوه کولای. د ډسمبر په اتمه د دفاع وزير رمسفيلډ واشنګټن پوسټ ته وويل چې په کندهار کې حالات ډېر خراب دي. ده په دې اړه هم معلومات ورکړل چې څنګه دده ځواکونو ګل اغا د ولايت مقام تر ودانۍ پورې ورساوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ايتلاف ته ګاکنه

## (۱۹۸۰-۲۰۰۱)

کله چي سرو لښکري کابل ته د کمونيستې حکومت د نسبولو لپاره راوليږل شول کرزي هم ور سره سمدستي د مقاومت په ليکه کي ودريدي. نوموړي د هغه تنظيم سره کار پيل کړي ،چي ميانه روه او مذهبي توندلاريتوب يې نه خوښوي . کرزي ددي پر ځاي چي د جګړي ليکي ته راشي بلکي د جګړي څخه ليري يې په دفتر کي يې خپل کار پيل کړي. نوموړي به د مختلفو ډلو ، نړيوالو ملاتړ کوونکو سره کتل او د جنګياليو لپاره به يې مرستي راټولولي. کرزي د هغو کسانو په ډله کي راځي چي په لومړي ځل يې د افغان مقاومت کوونکو سره د امريکا د ملاتړ زمينه برابره کړل.

خو د ۲۰۰۱م کال ښه مشورو او افتکارونو نور هم مشهور کړ. کرزي متواضع خو خورا ښه ژبه لري. ده په خپلو راډيو يې مرکو سره ،چي د کندهار په شمال کي يې د طالبانو ضد د خپلو مورچو څخه کولي ډير پښتانه د راتلونکي تغير په اړه راويښ کړل.

ده غوښتل چي هيواد يې د خپل کلتور له مخي د خپلو خلکو لخوا اداره شي ، ښه غوړيدلي اقتصاد ولري او که وکولاي شي دغه اسماني فرشته پنځه ويشت کلني ويني تويدني ته د پاي ټکي کښيږدي.

کله چي دي د لنډ مهالي اداري مشر وټاکل شو ما ته په پاکستان کي افغان مهاجرينو وويل چي کرزي يواځيني کس دي ،چي دافغانانو په وينو يې لاسونه نه دي سره.

دغه مهاجر د ۱۹۸۰م کلونو او د کورنۍ جګړي د پيښو د تکرار څخه خورا په بيره کي وو. د هغو کلونو خاطرو تر اوسه لا دوي کړول ،چي د دوي له نظرونو او خبرو څخه سړي له ورايه په پوهيدي.

د افغانانو د ميړاني له کبله د ۱۹۸۹م کال په ژمي کي د سرو لښکرواخيري ډله د امو درياب څخه واوښتل.تر دغي بريا وروسته ټوله جهادي قوماندانان د واك پر سره يو د بل په وړاندي و دريدل ،چي په نتيجه کي يې خورا ډيري ويني وبهيدلي چي بالاخره يې طالبانوته د راتګ زمينه برابره کړل.

مهاجرو ويل دوي خپلو ځانونو ته مذهبي رهبران ويل او دوي په قران شريف هم څو ګند وکړ خو دوي هيڅ مسلمانان نه وو. هغه کارونه چي دوي وکړل سپيان به يې هم ونکړي.

د سرو لښکرو تر وتلو روسته چي کومه خلا رامنځ ته شوي وه دغو قوماندانانو دانه ،چي يوازي يې خپل هيواد وال ووژل بلکي هغوي د خپل دين پيروان په ژوندوني په کانټينرونو کي وسوځول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ساعت تيري لپاره يي په مړو اتڼونه هم وکړل. دغسي ناوړه کارونه تر اوسه شيطان هم نه وه کړي لکه دوي چي تر سره کړل. دغه ټوله مهاجر د سرولښکرو سره د جګړي پر مهال ځپل شوي وه خو اوس بيا هغوي د راتلونکي جګړي څخه سخت نا ارامه وو.

دا داسي جګړه وه ،چي لومړني قربانيان يي ملکي وګړي ، ښځي ماشومان او هغه بي وزله کسان وه ،چي د جګړي د اور څخه د ساتلو توان يي نه درلود.

اوس يعني تر جګړي وروسته دغه ټوله جنګيالي په روحي ناروغي اخته شوي و ،چي په انګليسي کي ورته Post-traumatic stress disorder(PTSD) ويل کيږي. په دغه ناروغي اکثره زاړه پوځيان يا جنګيالي اخته کيږي. هغه جنګيالي يا پوځيان چي هميشه په جګړيز موډ کي وي په پايله کي دغه موډ په جنايي فعاليتونو اوړي.

د جګړي په دوران کي چي دوي کومه تجربه تر لاسه کړي وي په پاي کي يي هدف دغسي يو لوري ته ځي. پخواني جنګيالي اکثره د مايوسي له کبله په دغه (PSTP) ناروغي اخته کيږي.دا ځکه چي ددوي هدف او ارمان دا وي چي خپل کور ته به سوله راولي خو ددغسي يو ارمان د نه تر سره کيدلو وروسته دغسي جنايي پيښو ته لاسه اچوي.

د يادوني وړ ده چي يوازي پوه اروپوهان د مجاهدينو د نوي يمو کلونو وضعيت څيړلاي شي. عادي افغانان ،چي لس کاله د سرو لښکرو لخوا وځورول شول خو د هغوي تر تګ وروسته بيا د خپلو قهرمانانو لخواپه سره اور کي ودرول شول.

حتي تر هغه يوه لسيزه وروسته يعني په ۲۰۰۱م کال کي د افغانستان خلك لا په هغه ذهني ناروغي اخته وو. ډيرو افغانانو نه غوښتل ،چي دغه قوماندانان دي بيرته واك تر لاسه کړي بلکي زياتو افغانانو د هغوي د محاکمه کولو طرفداره وو. خو ددي ټولو سره سره حامد کرزي ځان ته جلا ځانګړني لرلي. نوموړي د يو بيساري او ځانګړي شخصيت څښتن دي.

د کمونيستي حکومت يوه پخواني وزير دده په اړه ماته داسي وويل:

کرزي په محلي کالو کي چي پګړي يي تړلي وه راغلي او خپل ځان يي داسي راوپيژندي:

زه ستاسو په خاوره کي لوي شوي يم. زه د عبدالحق خان زوي يم . زه ستاسو زوي يم.

دا چي ده محلي جامي اغوستي وي او د خلکو په ساده ژبه يي خبري کولي نو همدا لامل و چي د خلکو و زړونو ته يي لار وموندل.

په يو بل مجلس کي چي ما د عادي کندهاريانو او د اپيمو د کوچنيو سوداګرو سره درلود دوي د امريکايي بمباريو په وخت کي د کرزي د راډيو يي کمپاين په اړه داسي راته وويل:

د ۲۰۰۱م کال د نومبر په ډارونکي مياشت کي هيچا دا فکر نه کوي ،چي کرزي به موږ د طالبانو څخه خلاصوي. يوه قاچاقبر راته وويل چي دلته عربان يعني د اسامه کسان تر ځايي طالبانو ډير وو. زموږ حکومت د ځايي طالبانو په واك کي نه وبلکي د عربانو لخوا يرغمل شوي وو. موږ ته اجازه نه و ،چي د دوي په غونډو کي ګډون وکړو خو موږ لانه پوهيدو. زموږ هيواد په مطلق ډول د بهرنيانو لخوا يرغمل شوي و. ده زياته کړل هغوي غوښتل ،چي موږ ته د منځني ختيځ ژبه راواريده کړي او خپله ژبه راڅخه واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ هيڅ نه پوهيدو ،چې څو سوه هيوادونه زموږ په هيواد کې مداخله کوي؟

خو اوس موږ وپوهيدلو ،چې څونه بهرنيان زموږ په هيواد کې موجود وه او ټوله هيواد مو ترهګرو پر سر اخيستي وو.

اوس موږ پوهيږو ،چې په رښتيا زموږ پر هيواد باندي توره شپه خپره وو. دغه سوداګر ساده سړي نه و ده وويل ،چې په دا تيرو دولسيزو کې پاکستان افغانستان مطلق د ځان کړي وو. ټوله عربان د تورو ښيښو په موټرانو کې سپريدل او دونه طالبان وه او هيچا فکر نه کوي چې دا ټوله طالبان دي دلي پيدا شوي وي. خو ددي هر څه سره کرزي هغوي ته عفوه اعلان کړل.

د هر افغان سره ،چې ما مرکه کړي ده هغوي ويل چې کرزي تر هر شي خبرو ته لومړيتوب ور کړي دي. دغه قاچاقبر زياته کړل ،چې ده د طالبانو مشر ملا عمر ته وويل چې قدرت بايد په سوله ييزه توګه پريږدي نه دا ،چې هيواد د ورانۍ په لور کش کړل شي. له همدي کبله موږ وپوهيدو ،چې کرزي رښتيا هم ږ انسان دي.

کرزي د خبرو او د مشرانو سره د جرګو د لاري کندهار ته را داخل شو. د خلکو په وينا ،چې نوموړي په جګړه ښار ته نه دي راننوتلي. په داسي حال کې چې نورو کسانو په ښار کې هري خوا ته لوټ او تالان جوړ کړي وخو دوي به ډاريدلو خلکو ته ډاډ ورکوي او هغوي به يې د غلو او داړه مارانو څخه ساتل. داسي ښکاريدل لکه دوي چې د نوي افغانستان استازيتوب کوي چې همدا د خلکو ارمان وو.(۱)

په ۱۹۹۲م کال کې يعني د سرو لښکرو تر وتلودوه نيم کاله وروسته د کندهار کمونيسټ والي هم له واکه ليري کړل شو. دغه والي د شيرزي قومي او شيرزي يي د ولايت د تسليمي لپاره د ولايت مقام ته وروبلي او د قدرت پر سر يي د ملا نقيب او نورو مهمو مشرانو سره معامله وکړل.

د ډيرو کندهاريانو په ياد دي چې شيرزي په هغه وخت يعني د کورنۍ جګړي پر مهال چنداني ځواك نه درلود. د بس ډرايور حيات الله په وينا ،چې د هغه واك يوازي د ولايت د مقام تر ودانۍ پوري محدود وو.

په نيوي يمو کلونو کې يعني د مجاهدينو د واکمني پر مهال افغانستان د ياغستان يو ډير ښه مثال و. خو بيا هم په هغه وخت په کندهار کې د کابل په شان ويني ونه بهيدلي.

په ۱۹۹۲م کال کې د کمونيستي حکومت تر نسکوريدو وروسته په اطرافو کې چې په پوره ځواك سره پاته و هغه د ګلبدين حکمتيار د کسان وو.

حکمتيار تر ټولو جهادي مشرانو سخت دريزه اسلامي بنيادګر دي. د سړي جګړي پر مهال ځينو هيوادونو لکه متحده ايالاتو او پاکستان دده سخت دريزي هيره کړي وه او دده پوره ملاتړ يي کوي.دوي اسلامي سخت دريزي له دي کبله تايدول ،چې د کمونيستي حکومت پر ضد مقاومت لا سخت شي.

متحده ايالاتو يوازي پر دي باندي فکر کړي و ،چې څنګه به د شوروي اتحاد مخه نيسي. افغانستان هم د لاتينه امريکا په شان د شوروي اتحاد د امپراتوري د غزولو په غرض د جګړي ډګر وګرځيدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ۱۹۸۰م کال کې د متحده ايالاتو کانګريس د ياغيانو سره په مرسته کې زياتوالي راوستې. د همدي لسيزي په اوږدو کې واشنګټن خپلي مرستي په متوسطه توګه د کاله د بيليون تر دريمي برخي زياتي کړي ،چي دا د امريکا په تاريخ کې تر ټولو ستر عمليات وبلل شول.

ټولو جهادي ډلو غوښتل ،چي په مستقيم ډول د متحده ايالاتو لخوا حمايه شي خو امريکا دغه کار ددي کبله ،چي په افغانستان کې د سرو لښکرو پر وړاندي په جګړه کې د دوي حضور پټ وساتل شي دغه کار د پاکستان د لاري وکړي.

د کمونيزم دمخنيوي لپاره امريکايي چارواکي د نورو خطرونو په ليدلو کې ړانده شوي وو. دوي مذهبي توندلاريتوب ته په دي خاطر وده ورکړل ،چي د کمونيزم په مخ تر ټولو ښه علاج وو.

خو په اصل کې د افغانستان ګاونډي پاکستان په افغانستان کې پاليسي طرح کول. په هغه وخت کې نه شوروي اتحاد او نه هم امريکا غوښتل ،چي يو د بل په وړاندي په مستقيم ډول راوړاندي شي.

نو له همدي کبله ټولي مرستي پاکستان ته ورکول کيدي او د پاکستان استخباراتي اداري اي ايس اي دا فيصله کول ،چي چاته مرسته ورکوي او يا يې نه ورکوي.

پاکستاني چارواکو په خورا زور سره اسلامي توندلاريتوب ته له دي کبله وده ورکړل ،چي بيا وروسته د خپلي سيمه ييزي پراختيا غوښتني په لار کې استفاده تري وکړي.

امريکايي مرستي ټولي پر مذهبي توندلاريتوب ولګيدي. يوازي حکمتيار به د نورو ټوله په پرتله سم نيمايي مرستي تر لاسه کولي . د حکمتيار ډله تر ټولو جهادي ډلو شتمنه ډله وه په داسي حل کې ،چي د افغانستان په خلکو کې يې نفوذ هم نه درلود.

افغانانو د پيسو په مقابل کې هم د نوموړي د نظر پيروي نه کول.

کله چي په ۱۹۹۲م کال کې د حکمتيار کسان ښار ته ننوتل کندهاريانو د ملا نقيب په مشري او ضابط اکرم دغه بينادګر ډير ژر د ښار څخه په زور وشړل. دا په کندهار کې وروستي منظمه جګړه وو. (۲) البته په کندهار کې د نورو کوچنيو قومندانانو تر منځ به جګړي کيدلي او يو و بل ته به يې غاښونه سره چيچل.

د څو کلو رواني جګړي د خلکو څخه د ښه او بد پيژندلو حيس اخيستي وو. په کابل کې تر حکومتي خلا وروسته او په کندهار کې د کمزورو قومندانانو واك ته رسيدل لکه ګل اغا شيرزي ټوله د لويو لارو وهلو ته وهڅول.

په کندهار کې تر ټولو با ارزښته شي ددغه ولايت څخه تيره شيو لار ده. دغه لار د تجارت ، سفر ، د ايران ، مرکزي اسيا او هندوستان په منښلولو کې خورا مهم رول لري.

کندهاريان د پيړيو راهيسي په کرهڼه بوخت دي. دوي د زردالو ، بادامو ، انارو او انګورو باغونه لري چي اکثره يې دغه ميوي وچي خرڅوي همدا لامل دي چي د کندهاريانو ژوند هم ددغه سرك سره تړلي دي.

د افغانانو د پلار يعني علحضرت محمد ظاهر شاه د واکمنۍ پر مهال دوي خپلي ټولي ميوي هندوستان ته صادرولي. تر دي وړاندي ،چي کله هندوستان د انګريزانو په واك کې و دغو خلکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



به خپل مالونه پر حيواناتو برتانوي هند ته لېږدول ، چي دا د ځايي خلکو لپاره خورا ښه روزګار وو.

د روسي يرغلګرو پر مهال کندهاريان ددغي لاري څخه محروم شول. مقاومت کوونکو يي پلونه ونړول او پر سړك يي ددي کبله ماينونه ښخ کړل ،چي روسي قواوي پر دغه سړك د تګ راتګ څخه منع کړي. روسانو هم په خپل وار سره د ياغيانو د اکمالاتي لارو د بندولو په غرض پر دغه لار باندي د پرسونل ضد ماينونه وکرل.

د کويټي څخه کندهار او د سهيل لويديځي حوزي دغو پنځو ولايتونو ته يوه خامه لار و ،چي د کندهار شمال او شرق طرف ته د غونډيو او شلو په منځ کي تيره شوي وو.

کله چي په ۱۹۹۲م کال کي کمونيستي پلوه حکومت رانسکور شو دغه سړك د ماين پاکوونکو موسسو لپاره تر ټولو نورو چارو لومړيتوب درلود.

انجينر عبدالله ،چي د پاکستان د کويټي په ښار کي يي د ملګرو ملتونو د پرمختيايي اداري UNDP سره کار کوي راته وويل کله ،چي په ۱۹۹۲م کال کي د کندهار دغه عمومي سړك پرانيستل شو په لومړي ورځ ما سفر پر وکړي.

ماين پاکانو دغه سړك په خورا غريبه توګه د دريو متيرو په اندازه پاك کړي و ،چي د سړك دواړو غاړو ته يي په سره رنګ رنګ شوي ډبري ايښي وي. پر همدي مهال د ارغنداب د رود د ډکيدو له امله رود ته نژدي سيمي خورا زيانمني شوي وي او ملګرو ملتونو غوښتل ،چي ددغو ورانيو مخه ونيسي.

عبدالله وايي د غرمي تر ډوډي وروسته زما رئيس ما ته افغانستان ته د تګ امر وکړي. موږ د شپي پر اته نيمي بجي د کويټي څخه مخ د پولي پر لور روان شو ،چي موږ بايد پر پوله د ملانقيب د کسانو يو موټر هم د ځان سره بيولي واي تر څو هغوي په افغانستان دننه کي زموږ امنيت ساتلي واي.

دي زياتوي چي موږ د پولي څخه د کندهار پر لور پر دغه نري سړك سفر پيل کړي ،چي يوي خوا او بلي خوا ته يي سري ډبري کتار کړل شوي وي. تر يو نيم ساعت مزل وروسته مو د موټر بتي تر سترګو شوي ،چي زموږ پر خوا راروان وو. بالاخره دغه دوه موټران مخ په مخ سره ودريدل. ماخپل ډرايور ته وويل ،چي زه ډير بيريږم په ډير احتياط سره موټر يو بغل ته ودروه خو پام دي وي چي موټر تر دغه سرو ډبرو تير نه کړي ځکه چي دا سيمه ټوله ماينونه دي.

لومړي موږ موټر يو طرف ته کړي او بيا وروسته هغه بل موټر راڅخه تير شو. تر دي وروسته موږ يو تراکتور وليدي که يي لږ ډير ټاير تر دغه کښي اوښتي واي نو خامخا به پر ماين وربرابر شوي واي.

دغه تراکتور پاکستان ته ميک جيټ الوتکه لېږدول.دا د کمونيستي حکومت الوتکي وي چي هغوي به په جګړي کي استفاده تري کول خو اوس دغه الوتکي پرزه پرزه شوي وي او په پاکستان کي د زړو اوسپنو په بيه خرڅول کيدلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


کله چي په ۱۹۹۲ م کال کي دغه سړك پرانيستل شو نو دغه لاري د ايران ، مرکزي اسيا او پاکستان په منبلولو کي بيرته خپل پخواني اعتبار تر لاسه کړي.

د عبدالله په وينا د کمونيستي حکومت تر ړنگيدو وروسته پخواني جهادي قوماندانانو د کندهار او پاکستان د پولي تر منځ په سلگونو پاټکونه واچول . تر هر ۵۰ يا سل متره وروسته به يوه پاټك و ،چي هر يوه ته دي بايد پيسي ورکړي واي.

په کومه ورځ چي به دغه جنگيالي خپه وه هغوي به لومړي ټوله مسافرين د نرو او ښځو په گډون د موټر څخه راکښته کړل او بيا به يي ووژل. اکثره وخت خو به يي لومړي د هغوي پر عزت تيري هم وکړي او وروسته به يي بيا ووژل. که هر کندهاري وپوښتي نو د هغه وخت د مجاهدينو يوه خاطره به درته ووايي.

باچا يو کندهاري سوداگر دي په ارغنداب کي خورا ډير باغونه لري ، چي له همدي ځاي څخه به يي پاکستان ته د انگورو او انارو ډك موټران صادرول.

دده په وينا چي موږ بايد هر ځنځير ته يو کريټ انگور او يا انار ورکړي واي يوازي د حکمتيار کسانو چي سپين بولدك ته نژدي د وت پر غره يي پوستي لرلي زموږ څخه شيان نه غوښتل .

هر ځل چي به موږ پر دغه لار تيريدلو زموږ څخه د د ۲۲ څخه تر ۳۵ کريټونو پوري اخيستل کيدل. باچا زياتوي ،چي يو وخت موږ ته پر يوه پاټك د ۲۰ کريټونو د ورکړي وويل شول زما ملگري دغه جنگيالي ته وويل د خوراك لپاره خو ستاسو ۲ يا دري کريټونه بس دي نو دا ۲۰ داني بيا څه په کوي؟

دغه جنگيالي زما ملگري دونه د ټوپك په کنداغونو ووهي ،چي تك شين يي واړوي ما چي دغه حالت وليدي ژر ژر مي په پټه خوله کريټونه ورکښته کړل.

د بس ډرايور حيات الله څخه دغو ځناورو ددي کبله د پښي گوتي پري کړي وي ،چي بايد په موټر کي د ناستو کسان پيسي وروښوويي. خو بيا هم حيات الله د خداي څخه ددي کبله ډير خوښ و ،چي دي او مسافر يي ونه وژل.

په دغو کسانو کي تر ټولو بد د پوپلزو د قبيلي کسانو و ،چي د حامد کرزي پلار او د الکوزو د قبيلي کسان چي ملا نقيب ته وفاداره وو. دغو دو مشرانو ډير ژر پر خپلو کسانو واك د لاسه ورکړي.

مشر کرزي به ويل د خداي لپاره دا د سپي زامن څه کوي؟

ملا نقيب به ويل که ته يو کس ته ووايي ،چي دا ناوړه کار مه کوه هغه ځي او د هغه بلي ډلي سره يو ځاي کيږي په داسي حال کي چي يوه ډله تر هغه بلي ښه نه ده.

کندهاريان ،چي په دغه اړه خبري کوي نو د دوي نه په ياديږي چي د گل اغا کسانو دي هم زيات پاټکونه لرل. دا چي ده پر عمومي لارو څوك نه لرل له همدي کبل يي شهرت هم ډير لږ و.

له دي کبله نه چي ده نه غوښتل بلکي په کندهار کي د شيرزي قبيله ډيره کوچني ده.

په ۱۹۹۴م کال کي ،چي کله طالبان راپيدا شول نو ټوله غله يي د کندهار څخه وشړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو د ۲۰۰۱م کال په اکتوبر کي ګل اغا د طالب ضد ټلوالي په مشري د امريکايي الوتکو د بمباريو تر سيوري لاندي يو ځل بيا راڅرګند شو.

زما اڅکزي انډيوالانو ،چي د پاکستان پر لاره يي بي شميره پاټکونه لرل تر اوسه لا په بي تقوايي ، وعده خلافي ، د پيسو سره په مينه او په غلا کي د مهارت لرلو له کبله خورا مشهور دي.

محمود خان اڅکزي چي د پولي هغه بلي غاړي ته د پښتونخوا عوامي پارټي مشر دي ددي کبله پر خپلو قوميانو خندل ،چي هر څوك په موږ کي د ګاونډيانو د پسونو په غلاکولو کي مهارت ونه لري هغه اڅکزي نه دي.

هر هغه څوك ،چي دغه کار په ډير مهارت سره تر سره کړي هغه نور بيا ورته سلامي کوي يا ورته شاباسي وايي.

ګل اغا هم يو وخت وتښتول شو.

دغه پوله د اڅکزو لخوا کنترول کيږي له همدي کبل د ګل اغا ځواکونه د پاکستان څخه افغانستان ته خوندي ننوتل.

د پوپلزو قبيلي يو قوماندان ،چي د کرزي غوږ او سترګي دي هم دده سره په دغه ډله کي ملګري و.

دي وايي د کمونيستي حکومت پر مهال د شيرزي کسانو د کندهار د هوايي ډګر څخه ۱۵ مايله لري او د کندهار ښار په غربي دروازه کي پاټکونه لرل.

دا ټوله پيښي د کندهاريانو په ياد دي. د دوي په وينا چي کله به دوي د يو کمونيستټ پلوه حکومت کوم سرتيري ونيوي په دوي کي يوه کس به تر پښو او بل کس به تر لاسو ونيوي او هوا ته به يي وغورځوي.

کله چي به هغه سرتيري پر ځمکه ومښتي وروسته به يي بيا ورته وويل چي وسلي دي چيري دي؟

نور وسله والو کسانو به بيا ورته ويل پيسي دي چيري دي؟

(۱) دلته ليکوالي د شيرزي بايوګرافي راخيستي ده چي داسي چيټيات يي پسي ويلي دي چي قلم يي د ليکلو څخه عاجزه کيږي.

تر دغي جګړي وروسته دوي لويي مظمي جګړي په کندهار کي ترسره شوي چي يوه يي د ملا نقيب او استاد عبدالحلم تر منځ وو.

دويمه لويه جګړه چي په کندهار کي تر سره شول په هغه کي ملا نقيب او امير لالي يوي خوا ته او استاد عبدالحليم او حاجي سرکاتب بلي خوا ته وو چي څو اوونۍ يي دوام درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ولايت پر سر شخړه
## (ډيسمبر ۲۰۰۱)

کله چې ګل اغا شيرزی د کندهار ولايت مقام تر ودانۍ پورې ورسيد ، نو په پنډه ژبه او ډډ اواز يې په راډيو کې زوږ جوړ کړ:

کندهار زما و او زما دی ، په خدای قسم که يې بل څوك راڅخه واخلي!

د داسې يو کلتور په لرلو سره چې په هغه کې ادب او احترام نورم ګرځېدلی وي ، شيرزي دا هرڅه هېر کړل او د ولسمشر کرزي او ملا نقيب په وړاندې يې لويه بې اعتنايي وکړه. شيرزي هغوی ته څرګنده کړه ، چې د ولايت له مقام څخه يې څوك نه شي لرې کولای.

ملا نقيب ، چې تر اوسه يې ماته نه وه منلې خو اوس يې پر پوله ولاړ وو.

ملا نقيب کرزي ته ورغی. کرزي ، چې له ويني تويولو سره يې حساسيت درلود ده ته د سولې او امن امر وکړ.

دی زياتوي: کرزي راته وويل ، چې له شيرزي سره جنګ مه کوه او ما هم خپلو کسانو ته وويل چې له جنګ څخه لاس په سر شي او نور د جنګ جګړې وخت تير شوی دی.

د شيرزي کسانو په ښار کې د ملانقيب د جنګياليو پر ټولو پوستو يرغل وروړ ، د ملا نقيب کسان يې په لغتو ووهل ، سپکې سپورې يې ورته وويلې او له خپلو ځايونو څخه يې وشړل.

يوه عيني شاهد د بس چلوونکي حيات الله راته وويل: کله چې د کندهار ښار مرکز ته د شيرزي نفر راغلل زه يې په اوږو کې د کلاشنکوف په کنداغ ووهلم ، راته ويل يې ، هلته چې د کندهار د هوايي ډګر په سيمه کې موږ له القاعدې سره جنګيدلو تاسو چېرې واست ؟

حيات الله زياتوي: هر څوك پوهيږي چې د شيرزي نفرو په هوايي ډګر کې څومره لږ ه جګړه وکړه.

دی وايي: الکوزو ځکه د شيرزي په وړاندې کوم عکس العمل ونه ښود ، چې ملانقيب دوی ته د سولې امر کړی وو. د ملانقيب قوميان د خاکريزوال له خوا اداره کيدل.

حيات الله تر يوې لنډې چوپتيا وروسته وويل: کوم تصميم چې ملا نقيب نيولی وو ډير پر ځای وو.

بهرنيان چې کله کندهار ته راغلل ، ډېر ساده و ، هر يوه شيرزي يا يې ترجمانانو که دوی ته څوك د طالب په نوم ور وپيژندلي وای ، ددوی لپاره هم تر طالب کم نه و.

په همدې وخت کې د شيرزي سودا هم په همدې تله تلل کيدله. اکرم وايي: زه ډير ژر وپوهيدم ، چې د دوی د قبيلې مشر ملا نقيب امريکايانو ته د طالبانو د ملاتړي په توګه ور پيژندل شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



امريکايانو ته به چې څه شيرزي ويل ، هغه به ورته بې له دليله د منلو وړ و ، ځکه نو شيرزي په خپله ځان والي وټاکه. د کندهار ولايت د مقام لرغوني ماڼۍ د افغانانو د پلار (ستر احمدشاه بابا) په امر جوړه شوې ده ، چې افغانستان يې په يو ملت بدل کړل.

په همدې توګه ملا نقيب د طالبانو د يو سترګي رهبر ملا عمر په کور کې له واکه لرې پاتې شو. د ملا عمر کور داسې ښکاري لکه سرۍ ، چې تر زلزلې وروسته سرکس ته ورغلی وي. دننه په کور کې يو ښايسته مسجد دی ، چې د واده د کيك په شان ښه لري. پر ديوالو يې ډېرى منظرې په غير ماهرانه توګه انځور شوې دي. د مسجد شاته د نړيدلې ودانۍ خاورې او خځلې ښکاري ، چې په امريکايي بمباريو کې له منځه تللې ده. په همدې ځای کې ملا نقيب او خاکريزوال د کرزي له پلويانو سره يو ځای شول. تر دې وروسته د مبارکۍ مراسم پيل شول ، چې دا د پښتنو د کلتور يوه برخه ده.

پښتانه درې ورځنۍ لويه رخصتي لري: هغوی په دغو ورځو کې د خپلې کورنۍ غړو ، قبيلوي مشرانو ، سرخيلانو او دوستانو ته درناوی وړاندې کوي ، ياد شوي مراسم يو ډول مذهبي ښه هم لري.

ما د پوپلزيو د قبيلې ډېر خلك وليدل ، چې د ولسمشر کرزي د کشر ورور احمد ولي کرزي د لاس مچولو لپاره کتار ولاړ و ، چې پکې ځينو ځوانانو خو لا د ژوند زياته برخه ددوی د خدمتګارانو په توګه تيره کړې وه.

ما تر اوسه د ملا نقيب ميلمستون له خلکو څخه خالي نه دی ليدلی. د نوموړي قوميان ډله ډله د ده د درناوي لپاره ځي او راځي.

د ۲۰۰۱د ډسمبر په ۸-۹ مه د کندهار ټول اوسيدونکي د ملا محمد عمر کور ته راتلل ، چې دا نوی بدلون ولمانځي او ولسمشر کرزي ته خپل بيعت وښيي. کرزي د يو ځوان جنګيالي طالب په غاړه کې لاس اچولی و او نوموړی طالب يې هم د احترام لپاره د لاسونو مچولو ته ور ټيټ شوی وو. تر دې وروسته به هر طالب ته پنځه ډالره ورکول کيدل او خپل پلرنيو ټاټوبو معروف او ارغستان ولسواليو او اروزګان ولايت ته ليږل کيدل.

کله چې ګڼه ګوڼه څه کمه شوه ، کرزي ملا نقيب ته وويل: درځه چې له شيرزي سره د ولايت پر سر شخړه حل کړو ، خو څه چې د خاکريزوال په ياد دي دادي ، چې شيرزي کرزي ته بلنه ورکړه او ده هم ورسره ومنله. دا کار د افغانانو د کلتور خلاف هم و ، په افغانستان کې مشران کوربه توب کوي او ميلمانه ورځي. شيرزي ته د کرزي ورتګ پدې مانا و چې کرزی دې هر څه له ګل اغا سر ومني او ملا نقيب دې له واکه لرې وساتل شي.

کله چې ما له ملا نقيب څخه د دغې پيښې په اړه و پوښتل ، هغه داسې راته وويل: په دغه مجلس کې شيرزی ، افغان امريکايي ژباړن خالد پښتون ، د امريکا د ځانګړو ځواکونو ډګروال ډيويډ فوکس او د سي اي اې د غړو په شمول خپله ولسمشر کرزی هم حاضر وو.

ما له ملا نقيب سره دغه مرکه دده د کور په يوه تاکاوي کې وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ما ديوال ته ځنګ وهلی و او يوه پخواني مجاهد ته مخامخ ناسته وم ، چې يادښتونه يې اخيستل. ملا نقيب خپله پګړۍ له سره لرې کړه او ځان ته نژدې يې پر ديوال ځوړند کړله. ده زياته کړه په دغه ورځ خالد پښتون د ليوني سپي په شان غپل.

د خاکريزوال په وينا ، پښتون ويل چې تا د القاعدې غړو ته پنا ورکړې ده او يوازې ستا په شخصي کور کې د القاعدې شپيته کسان پټ دي.

ما ورته وويل: څه شی ؟ هغوی څوك دي ميربه ؟ ته پوهيږې ميربه ؟ هغوی ما چېرې ساتلي دي ؟

پښتون وويل: نورو الکوزو هم د القاعدې غړي پټ کړي دي.

ما هغه ته وويل: رښتيا هم ؟ هغوی چېرې دي ؟ ته خو يې مور ته راوښيه ؟ په خدای قسم که تاسو يو کس هم په ټول ارغنداب کې پيدا کړ ، زما سر راپرې کړئ!

پښتون يوازې تورونه لګول ، چې هغه هم ټول دروا غ و.

کله چې ما ددې ټولو خبرو په اړه له شيرزي څخه وپوښتل نوموړي د تائيد سر وښوراوه ، خو اوس نوموړی وزير و.

مور دده په دفتر کې مجلس درلود چې په شا وخوا ښايسته چوکيو کې تر نيم درجن زيات مامورين ناست و. ما له شيرزي څخه وپوښتل: که چېرې ملا نقيب والي شوی وای نو د ۱۹۹۲ م کال پيښې به نه وای تکرار شوې ؟ او ترې و مې پوښتل ، چې تاسو ملا نقيب ته د طالب خطاب کړی و که نه ؟

شيرزي وخندل: بلې! خالد پښتون همداسې ورته وويل ، خالد وويل چې ملا نقيب کندهار ته طالبان راوستل او هغوی ته يې درې لکه امريکايي ډالر ، نهه موټرونه او ديارلس سوه ميله وسله ورکړه. شيرزي زياته کړه ، چې امريکايان مجلس ته خورا زيات متوجه و ، چې بايد همداسې يې کړي هم وای. دوی له مور سره عملا په پريکړو کې ګډون درلود.

د افغانانو دا عادت دی چې تر خبرو ډير لاسونه غورځوي. کرزي ته هم د امريکايانو دا نظر چې هغوی زما ملاتړ کوي ، معلوم و.

زه له دغه شخصي مجلس څخه خبره وم ، چې پر ۱۰ د ډسمبر د ۲۰۰۱ز کال تر سره کيده. تر غونډې يوه ورځ وروسته زما ژباړن په ماپسې راخغستل او راته ويې ويل ، چې ده په راډيو کې واوريدل چې د کندهار شخړه پای ته ورسيده ،

هغه داسې چې ملا نقيب له دې کبله له واکه لاس په سر شو چې ويل يې زه نور سپين ږيری يم.

سپين ږيری ؟ دا شايد يوه بهانه وي. ما له ځان سره وويل ، چې د افغانانو له وينو سره يو ځل بيا خيانت وشو. داسې بريښيده چې شيرزي دې ګواښ کړی وي که ولايت ورته ورنکړل شي ، نو دی به د زور له لارې ولايت ورسره وساتي .له همدې کبله به کرزي دا تريخ غوړپ پر سر پورته کړی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څه هم د شيرزي دګوابنونو پوره تفصيل په ډاګه نه شو ، خو سړي ته دا جوتيږي ، چې شيرزي دې ګواښ کړی وي ، چې که ولايت ورته په رضا ورنکړل شي ، نو ښار به په زوره لاندې کړي. له شيرزي څخه د امريکايانو ملاتړ هم په همدې مانا و. په افغانستان کې دداسې پېښو اصلي جزئيات هميشه پټ ساتل کيږي.

دلته هم يو ځل بيا پښتونولي خپل رول ادا کړ لکه څنګه چې يې د تاريخ په اوږدو کې تر سره کړی دی. د کرزي او ملا نقيب ډلې تر ټولو وړ ډلې وې خو دوی له هر څه لاس په سر شول او که يې داسې نه وای کړي ، نو په کندهار کې به يو لوی ناورين رامنځته شوی وای. په اصل کې دا د ټوپکسالارۍ پيلامه وه.

زه تر اوسه هم پدې حيرانه يم چې د شيرزي ددغسې په بې شرمانه توګه د واک لاسته راوړلو پر مهال به کرزي څه ډول غبرګون ښودلی وي ؟

نوموړي به په دغه پريکنده غونډه کې څه ډول چلند کړی وي ؟

ايا کرزي د خپل ملګري ملا نقيب ملا تړ وکړ ؟

ملا نقيب وويل ، چې ولسمشر کرزي هيڅ نه ويل ، هغه يوازې د امريکايانو ترجماني کوله.

د اکرم په وينا ملانقيب يوازينی کس و ، چې د طالبانو ماتې ته يې سوله ييزه بڼه ورکولای شوای. ملا نقيب کرزي ته وويل: شيرزی وايي ، چې زه طالب يم خو ته په دغه ټول جريان خبر يې ، ته ولې حقيقت نه په ډاګه کوې ؟

کرزي ويل داسې ښکاري لکه چې امريکايان زما خبرې ته غوږ نه نيسي. هغوی يوازې د شيرزي خبرې اوري خو بيا هم ته لږ صبر وکړه. خو ملا نقيب غالمغال جوړ کړ ، ويل يې: شيرزی درواغجن دی ، دا مازې افواهات دي ، ده ولسمشر دې ته اړ کړ چې د امريکايانو ترجماني وکړي.

د کرزي دغه سوړ چلن ماته يو څه حيرانوونکي ښکاري. همدا چلن تر شا په لاندې ډول پسمنظر لري.

ملا نقيب ويل پسرلی و ، د کوم پسرلي په اړه چې دی رږغيده ښايي د ۱۹۹۴ز کال پسرلی به و ، چې د روسانو تر وتلو وروسته د مجاهدينو واک ته په رسيدو سره سمدستي کندهار د تنظيمي ډلو له خوا پر څو برخو وويشل شو. هرې خواته ټوپکسالاران خپاره و ، شيرزی په هغه وخت کې هم د کندهار والي و. ملا نقيب د قول اردو قوماندان و ، د کرزي د پوپلزو قبيلې د ښار شرق خواته څو پاټکونه لرل ، د اڅکزو قبيلې له هوايي ډګر سره پاټکونه اچولي و ، د شمال خوا ته د کندهار هرات پر غزيدلې لويې لارې د بلې قبيلې پاټکونه و. له هرې پنځه متري فاصلې وروسته يو پاټک اچول شوی و. د ملا نقيب کسان په بدو کارونو کې تر ټولو وړاندې و چې بېچاره کندهار په پوره توګه تجزيه شوی و.

ملا نقيب وويل: زه په خپل دفتر کې ناست وم ، چې کرزی له کويټې څخه زما د ليدلو لپاره زما دفتر ته راغی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر دې څو ورځې وړاندې طالبان را پيدا شوي و. ددوی مشران به ښار ته راتلل ، له خلکو سره به يې خبرې کولې. موږ او خلکو ته به يې ويل چې موږ نه واك او نه کومه حکومتي څوکۍ غواړو ، زموږ هدف يوازې د پاټکونو ليرې کول دي.

ملا نقيب وايي: زه د دوی له دغه کار څخه ډير متاثر شوی وم او د دوی اکثره مشران مې هم پيژندل.

په همدغه غونډه کې کرزي د طالبانو خبره رامنځ ته کړه. کرزي ماته وويل: ددغو مذهبي شاګردانو هدف يوازې د پاټکونو لرې کول دي. دوی له حکومتي چارو سره کومه ليوالتيا نه لري ، نو ته بايد له دوی سره مرسته وکړې.

په دې اړه اکرم وايي: کرزي وويل: هيواد ټوټه ټوټه شوی دی ، چې طالبان به يې بيرته سره متحد کړي. کرزي زياته کړه چې دوی بيرته اعلحضرت راولي ، همدا لامل دی ، چې دوی د امريکايانو له ملاتړ څخه برخمن دي.

ملا نقيب همدغه مهال په تصميم نيولو کې زړه نا زړه و.

ملانقسب وايي ، چې له دې زړه نا زړه توب سره سره بيا هم ما کرزي ته ډاډ ورکړ ، چې له دوی سره به مرسته کوم.

همدا کيسه د ولسمشر کرزي په بل ډول په ياد ده:

کله چې ما او کرزي په سپتمبر د ۲۰۰۴ز کال په همدې اړه خبرې سره کولې ، کرزي راته وويل: په هغه وخت کې زه په کويټه کې وم ، ملا نقيب ټيلفون را وکړ ، چې که يو ځل کندهار ته زما د ليدلو لپاره راشې ، چې څه کار مې درسره دی. کرزی وايي چې ملا نقيب راته وويل: که په کندهار کې ددغه روان ناورين مخه ونه نيول شي ، کندهار به نور هم په کنډواله بدل شي ، ځکه چې د مجاهدينو د زړو قوماندانانو تر منځ سخته شخړه روانه ده او د دوی سره متحد کول هم ناشونی کار دی. د کرزي د ملا نقيب دغه خبره هم ياد وه ، که ته چېرې وغواړې ، چې يو قوماندان لارې ته راولې هغه له تا نه ځي او له هغې بلې ډلې سره يو ځای کيږي.

ملا نقيب زياته کړه: ته هم د هوايي ډګر په شا وخوا پاټکونو کې خلک پيژنې ، هغوی ته ووايه ، چې د طالبانو له مخالفت څخه لاس په سر شي. کرزی وايي: ما هم د ملا نقيب پر پله قدم کيښود. کرزی وايي: ما وويل دوی ته ووايه ، چې له ما سره همدا اوس ووينې. راځئ چې همداسې وکړو. راځئ چې له طالبانو سره مرسته وکړو.

ما له کرزي څخه وپوښتل چې ته ملا نقيب له طالبانو سره مرستې ته وهڅولې؟

کرزي وويل ، چې ده ماته ټيلفون وکړ او بيا يې دا وړانديز راته وکړ.

دا هم امکان لري خو بايد ووايو چې ددې خبرې د سپيناوي لپاره ډيرو شواهدو ته ضرورت شته. ما په همدې اړه له ډيرو شخصيتونو ، د دوی له ملګرو او دکورنۍ له غړو سره خبرې وکړې ، خو د کرزي پر دغې ادعا زه باور نه شم کولای. ملا نقيب يو نظامي سړی دی نه سياست مدار .نوموړی د سياست په اړه ژور فکر لا هم نه شي کولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما لپاره داهم د منلو وړ نه ده ، چې نومړي دې له ځانه ددغسې يو اتحاد مبتکر و اوسي ، خو برعکس کرزی يو سياستمدار دی. د کرزي د کوټې په کور کې يوه عيني شاهد راته وويل: کرزی په ۱۹۹۴ز کال په پاکستان کې د امريکا سفارت ته ورغی. د طالبانو د غورځنګ لپاره يې له امريکايانو څخه مرسته وغوښته.

زه په پوره باور او پوهې سره ويلاي شم ((شايد زه به غلطه هم يم)) چې دا کرزی و ، چې ملا نقيب ته ورغلی و ، چې له طالبانو سره د کندهار په نيولو کې مرسته وکړه.

دا چې کرزی دې کار ته څه شي هڅولی و ، دا هم د پام وړ خبره ده.

دا هم شونې ده چې کرزی دې تير ايستل شوی وي ، چې خپل ملګري يې له طالبانو سره مرستې ته رابلل. يا کيدای شي کرزي تر دې هم لوړ اټکل کړی وي ، هغه داچې طالبان به يې د خپل نفوذ خلك بلل.

د کرزي د کورنۍ يوه ساتونکي راته وويل: کرزي فکر کاوه ،چې طالبان يې د خپل نفوذ خلك دي ، نو ځکه له دوی سره په مرسته کولو ډير خوشحاله و ، خو د طالبانو غورځنګ اصلا د پاکستان د استخباراتي شبکې آی ايس آی پروژه وه.

د کرزي د شخصي هدفونو تر څنګ به شايد بهرني لاملونه هم و ، چې کرزی يې له هغوی سره په مرستې کولو خوشاله کاوه. زه په دې باور نه لرم ، چې کرزی دې د طالبانو په شان د راډيکاله ايډيالوژي څښتن وي ، خو څه چې موږ ته څرګند دي هغه د طالبانو سره د کرزي پټې مرستې دي ، چې کيدای شي په همدغه شان نورې پټې مرستې به هم ورسره شوې وي. ددي ټولو تر شا ډير نا څرګند لاملونه موجود دي ، خو څه چې زموږ په ياد دي هغه دا ، چې په دغو کلونو کې د امريکا متحدوايالتونو په افغانستان کې د پيښو په وړاندې له ځانه هيڅ خوځښت نه لاره. امريکايانو له دې ټولو پيښو څخه ملاتړ کاوه.

د ګازو د نل ليکې پر سر د طالبانو او امريکايي چارواکو تر منځ په نوي يمو کلونو کې خبرې روانې وې او د طالبانو مشرانو به هم امريکا ته سفرونه کول. يوازې د ښځو د حقونو داعيانو امريکا د دغه رژيم له رسميت پيژندلو څخه منع کوله ، خو د سپتمبر د ۱۱مې تر پيښې وروسته د خلکو ډير لږ څه په ياد وو.

په ۱۹۹۴ز کال کې د کندهار د قول اردو په قوماندانۍ کې د کرزي او ملا نقيب تر منځ غونډې يو انقلاب ته لاره اواره کړه. ددغې غونډې پايله داشوه ، چې د سرو لښکرو ضد دغه قوماندان يې له طالبانو سره په يو څه مرسته کولو اړويست ، ځکه نو ملا نقيب د طالبانو په مخ کې ونه دريد او اکرم ته يې هم امر وکړ ، چې خپل پلويان د طالبانو له مخالفت څخه راوګرځوي. په همدې دليل د طالبانو ته واك ته د رسيدو لاره خلاصه شوه. د الکوزو قبيله ددغه معصوم ، تاکتيکي او نه ماتيدونکي قوماندان لخوا اداره کيده ، چې په سوبل کې يې تر ټولو زيات ځواك درلود.

زه يوه لسيزه وروسته دې ته حيرانه يم ، چې په دغه ويرجن پسرلي کې به په ريښتنې توګه د ملا نقيب تصميم څه ډول وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما له اکرم څخه وپوښتل ، چې تاسو به د طالبانو مخه نيولې وای ؟

دده ځواب مثبت خو پر ځو برخو ويشل شوی وو.

له طالبانو سره نورو قوماندانانو تر وروستۍ شبېې مقاومت وکړ. له همدې امله د شيرزي کسانو ، چې د امريکايانو په مخ کې د ملا نقيب په اړه څه ويل ، سم و او د کندهار ټول خلك په دې باندې پوره خبر دي.

ملا نقيب د طالبانو ملګری و ، دوی يې د کندهار له نيولو څخه منع نه کړل ، بلکې د کندهار کيلې يې د هغوی په لاس کې ورکړې.

ددغې پيښې تر شا ، چې کومه پټه رسمي تاريخچه نغښتې ده ، هغه دا ده چې ملا نقيب دا هر څه د کرزي په مشورې سره وکړل.

د 2001 ز کال په ډسمبر کې په کومه خيمه کې ، چې د سي آي اې د ايجنټانو په حضور کې کومه غونډه جوړه شوې وه ، کرزی بايد د شيرزي ددې ادعا په وړاندې غلی نه وای پاتې شوی ، بلکې کرزي بايد د خپل متحد ملا نقيب ننګه کړې وای.

په همدغې غونډه کې شيرزی د کندهار د والي په توګه راښکاره شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کندهار انځور
## (ډيسمبر ۲۰۰۱- جنوري ۲۰۰۲)

کله چې زه په ډسمبر کې کندهار ته راورسيدم ،کندهار لا په همهغه حالت کې پاتې وو.

ټولې هټۍ ، غرفې او جګۍ تړلې وې .. يوازې په ښار کې يو څو د ترکاري ريړۍ او د تانونو او غمي دارو رخچينو هټۍ خلاصې وې. له دغو رخچينو سره ځوان کندهاريان خورا ډيره مينه لري. د روژې مياشت هم تيره شوې وه او افغانانو د روژې د مياشتې وتل په نويو کالو سره لمانځل.

په عمومي توګه راکړه ورکړه ډيره وه خو د اپيمو په بازار کې تر ټولو ډيره ګټه ګونه وه. د اپيمو اخيستونکو به خپل بوټونه کښل او پر غاليو به په هټۍ کې کښناستل. اخيستونکو به د اپيمو د کيفيت له معلومولو وروسته خپلې ګوتې د هټۍ پر ديوالونو پاکولې ،چې له همدې کبله د هټۍ ديوالونو نصواري رنګ اخيستی وو.

په پيکپ موټرو کې به يوازې جنګيالي تر سترګو کېدل ، خو د ښار نور سړکونه خالي و. په ښار کې به د شپې ګرځ بنديز لګيده ، چې له دغو چيك پوستونو څخه د تيريدلو په وخت کې د شپې نوم ضروري وو ، خو موږ به دغه نوم له محمد انور څخه اخيسته. کله چې په ښار کې ژوند بيرته عادي حالت ته راوګرځيد ، ورسره سم يې ماته په ښار کې د ګرځيدلو لپاره يو ليك راکړ.

په ښار کې د بدلون نښه يوازې د موسيقۍ له هټيونه ښکارېده چې مخ ته به يې دکېسټونو د رانيولو لپاره ګڼه ګونه جوړه وه. په ښار کې موټرونه او بسان هم وار په وار ډيريدل ، چې ډيرو به يې کډوال بيرته خپلو کورونو ته راوړل.

زما لپاره د بدلون تر ټولو ښه بېلګه کاغذ بادونه و ، چې په ښايسته او رنګين رنګ به په اسمان کې پورته او کښته کېدل. د طالبانو د حکومت پر مهال د کاغذبادونو پر الوزولو بنديز لګيدلی وو. کندهاريانو به کاغذبادونه په هواکې سره جنګول ، چې اکثرو خو به يو د بل د بايللو پر سر شرطونه هم وهل. اکثرو دغه کاغذ باد الوزوونکو خو به خپلې مانجې د ښيښو په کوکېو له دې کبله وهلې وې چې شرط ونه بايلي. په هواکې د کاغذ بادونو اتڼونه ازادي او د خلکو لپاره ساعت تيري وه ، خو زما لپاره د ښې راتلونکې تر ټولو ښه نښه.

د اختر په ورځ ټول کندهاريان له نويو کالو سره بهر راووتل. تر ټوله عجيبه خو بيا د کوچنيو نجونو زرينې جامې وې چې ټولې به د طاوس په شان ښکاريدې. په سړکونو کې زانګو ګانې درول شوې وې ، چې کوچنيان به يې په هوا کې ګرځول. د ښار په عيدګاه کې د اختر تر لمانځه وروسته دا د دوی لپاره په شپږو کلونو کې لومړی ځل و چې د اسانو په ټالونو کې به سپريدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلويانو لپاره بل ساعت تيرى د هګيو جنګول و. دوو کسانو به د سو هګيو کتارونه جوړ کړل. هر يوه چې به لومړى هګۍ پورته کړه او هغه بل کس به هګۍ د سر له خوا پرې ووهله او يا خو به دوو کسانو هګۍ د مخې په غاښونو کتلې او بيا به يې يو له بل سره جنګولې.

زموږ ژورنالستانو لپاره به اکثره وخت په دغسې حالت کې موضوع له مهم څخه غير مهم ته واوښتله. له موږ ټولو څخه کېسې ورکې وې. کندهار له کېسو ډك و ، خو موږ په بې ځايه شيانو بوخت و. بالاخره مو د فيچرونو لپاره کېسې پيدا کړې. ډرامه لا له وړاندې تيره شوې وه. د کرزي او د د طالبانو د مشرانو ليدنه او د واك سپارلو ټول له کېسو ډك شيان وو. د طالبانو د رژيم په وروستۍ شپه د القاعدې د ژوبلو غړو له روغتون څخه د القاعدې د نورو غړو لخوا وړل ، له نوي ولسمشر سره د مبارکې مراسم او دې ته ورته د نورو شيانو د کېسو جوړولو لپاره خورا ښه مواد برابرول. تر دې لا بله مهمه مسئله د ولايت په مقام کې غونډه وه چې په هغه کې امريکايانو ګل اغا شيرزى د کندهار د والي په توګه وټاکه ، خو دا هر څه د پردې تر شا تر سره وشول.

ما زما د تبديلې مياشت هم تيره کړه او ماته ويل شوي و ، چې بايد څنګه راپورونه جوړ کړم ، خو په څرګند ډول ټوپکسالارانو يو ځل بيا د ښار خامه سړکونه پر سر اخيستي وو. زما يوه راپور چې خپل سرې خور مسئول مدير ته مې وليږه ، ډير يې په غوسه کړى و. په هغه راپور کې راغلي و چې د ښار دننه د هغې طالب ضد ټلوالې لخوا له بشري حقونو څخه سرغړونې کېږي چې د امريکايي ځواکونو او بريتانوي سپيشل فورس لخوا يې ملاتړ کېږي.

له همدې کبله زه پر يوه بله لويه شخړه واوښتم.

د امريکا په نظامي اډه کې چې د کندهار هوايي ډګر کې يې جوړه کړې وه په خاورو کې د ريګو له ګونيو سره د امريکا د سمندري ځواکونو له يوې ډلې سره د باندار په موخه د هوايي ډګر ترمينل ته نژدې تمه شوم. دوى خپلې د خوراکي توکو کڅوړې (MREs) خلاصې کړې ، د هغو د تودولو لپاره يې اوبه ور واچولې او وروسته يې د ريګو ګونيو ته جګې ودرولې.

د سمندري ځواکونو يوه غړي چې د اوهايو د ايالت اوسيدونکى و او شايد دوه ويشت يا در ويشت کلن به و ميز زما خوا ته راوګرځاوه او راځخه يې وپوښتل چې ته په ښار کې ژوند تيروې؟ ده په همدې شان د پوښتنو لړۍ جاري وساتله او ما هم پريښود چې مه يې کوه هر څه چې وايي ودې پوښتي.

ښه نو ددې ځاى په اړه يو څه راته ووايه.

تر دى ځاى بهر څومره خطر شته؟

په دغو شپو کې په کندهار کې خورا ګڼه ګوڼه وه ، په خلکو کې يو ډول خاموشي خپره وه. افغانانو د طالبانو د واکمنۍ پر مهال لا غوښتل چې له شته امکاناتو څخه ګټه پورته کړي خو اوس بيا يو بل بدلون راغلى و. دوى غوښتل چې ماشومان يې تعليم وکړي ، کار اهل کار او امانت دارو کسانو ته وسپارل شي. داسې کسان بايد په حکومت کې ځاى ونه لري چې د خلکو جيبونو ته يې سترګې نيولې وي او د بيارغونې لپاره را استول شوې ټولې پيسې بايد پر سمو لارو ولګول شي. داسې ونه شي چې هغه پيسې هم د ځورواکو جيبونو ته لار ومومي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی په ښار کې ډېر ژر د سړکونو جوړول غواړي او د خپل هیواد بيارغوني ته خورا ليوال دي. افغانان غواړي چې يو ځل بيايې هيواد هغه طلايي وخت ته ور وګرځي چې د شوروي تر اشغال وړاندې يې درلود.

زما د ترياکو له هغو سوداګرو سره بحث په ياد دي چې ما ته يې د روژه ماتي لپاره بلنه راکړې وه. ما له دوی څخه د دوی د سامانونو د ليدلو غوښتنه وکړه. دوی به څلورنيمې کېلو پاك ترياک په يوه کڅوړه کې اچول او بيا به يې خوله پسې بندوله. يوه ورځ ماخستن تر ډوډۍ وروسته د چاى د څښاك پر وخت مو د افغانستان پر راتلونکي وضعيت خبرې پيل کړې.

يوه قاچاقبر وويل: دابه ډېر د خوښۍ ځای وي ، چې دوی په خپله سيمه کې ښوونځي ولري او موږ له بهرنيانو څخه هيله کوو چې زموږ لپاره يو ښوونځی جوړ کړي.

ما د هغوی خبرې پرې کړې ، ورته ومې ويل: امريکايان نه شي کولای چې له چورلکې څخه يو ښه تعليمي سيستم راوغورځوي لکه څنګه چې دوی بمونه راوغورځول. که تاسو غواړئ چې بهرنيان له تاسو سره مرسته وکړي ، نو تاسو هم بايد له ځانه نوښت وښئ. که تاسو يو شی پيل کړئ ، کېداي شي دوی يې په ختمولو کې مرسته درسره وکړي. تاسو ولې خپله دغه ښوونځی نه جوړوئ ؟

ما غوښتل چې دوی زما خبرې په سمه توګه واوري. يوه سوداګر وويل چې زما د شخصي کور پر سر يوه خونه ده زه تيار يم چې هغه د ښوونځي لپاره ورکړم.

په کندهار کې ټولو عامو خلکو له امريکايانو سره کومه دښمني نه لرله ، بلکې دوی له امريکايانو څخه د مرستې هيله کوله. دوی له امريکايانو څخه د هيواد د بيا پر پښو درولو تمه لرله. کار د ناوړو کسانو پر ځای اهل کسانو ته سپارل ، يو داسې قانون رامنځته کول چې د طالبانو تر هغه يو څه نرم وي او خلکو ته داسې زمينه برابرول چې بالاخره دوی په خپله د کارونو جوګه شي ، دا دخلکو سترې غوښتنې وې.

ما د سمندري ځواکونو دغه غړي ته وويل:

ستاسو لپاره هيڅ خطر نشته او تاسو وينئ چې اوس د پخوا حالت نه دی.

دغه ځوان سمندري وويل: دا خو ډېره په زړه پورې خبره ده. تر دې وړاندې ما د کندهار په اړه سم انځور نه درلود. دوی به هره ورځ په دغه اړه موږ ته معلومات راکول ، خو ما فکر کاوه ، چې دوی به درواغ وايي. دوی به په وار وار ويل چې دا يو جنګي ميشن دی.

ما وويل جنګي ؟ د څه شي جنګ ؟

خو بهر د هيڅ شی د پېښېدو هيله نشي کېدای!

ده وويل: زه فکر کوم چې دوی موږ استعمالوي. زه فکر کوم لکه چې موږ د هغه لوی امريکايي بيرغ په شان چې په خاورو کې جګ شوی دی سمبوليك ارزښت لرو.

دلته زموږ د راتګ څه اړتيا ده ؟

زه غواړم رښتيني کارونه ترسره کړم. د بيلګې په توګه زه غواړم چې همدا اوس د هغه سړك د بيارغونې کار پيل کړم. زه غواړم چې خپل لاسونه پر کوچنيانو را چاپير کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ورته وويل: که ته هغه سړک جوړ کړې تابه د خپل امنيت لپاره په يوازې سر دومره کار کړی وي ، چې هغه په څمڅو کې به يې په زرګونو کسان ونه شي کړای. ما دغه ټوله مرکه ثبت کړه او په خپل راپور کې مې ځای کړه ، خو زما مشرې هغه راپور رد کړ هغې ويل چې دې کې هيڅ شی نوي او په زړه پورې نشته. دې زياته کړه ، چې سرتيري تل ناراضه وي او دغه سمندري هم يو له هغو څخه دی.

کله چې زما مشرې هغه راپور رد کړ ، زه ډيره حيرانه وم ، چې دغو سمندري ځواکونو ته به د کريسمس لپاره څه شی ډالی ورکوم ؟

تر يوې اونۍ وروسته مې د ژوند يو بل ډول غوره کړ ، داسې چې د نارينه وو جامې به مې اغوستې او د نورو ژورنالستانو په توپير مې د هوټل پر ځای په اشکزو پورې اړوند په يوه شخصي کور کې ژوند تيرول پيل کړل. ما له محمد انور څخه غوښتل ، چې زما لپاره د اوسيدلو د کوم ځای بند وبست وکړي. تر غرمې وروسته ده زما موټر چلوونکي ته وويل ، چې زموږ د کاروان په منځ کې روان شي. ده موږ پر يوه ډبرين سړک د ښار د شمال پر خوا روان کړو. تر يوه پله واوښتو چې تر څنګ يې يوه نانوايي او يوه د ترکاري هټۍ وه. تر دې وروسته موږ په چپ لوري يوې هديرې ته وګرځيدو. دا هديره د لويديز هغو په شان نه وه ، چې ښکلي قبرونه لري او سرته يې دې مجسمې درول شوې وي.

دا لوڅ په کاڼو پوښل شوي قبرونه و ، چې سر او پښې به يې نښانې کړل شوې وې او سر تر پايه به رښکې پرې تاو شوې وې. د ډېری قبرونو سرونو ته به بيرغونه هم درول شوي و ، چې ډېرو يې سپين او شنه رنګونه لرل.

تر دغې هديرې سل متره ها خوا زما نوی کور و. ددغه کور ټول ديوالونه په اومو خښتو جوړ شوي و ، لومړی پوړ يې زيرخانې وې. لومړی يې د ميلمنو ځای و او هغه بلې خوا ته يې د ښځو سرای و ، چې له کوټې څخه نه ښکاريده.

موږ دلته له يو درجن کوچنيانو سره ټول دوه ويشت کسان و ، که مو غوا او هغه دوه ترکمني پسونه ورسره شمېرلي واي ، بيا خو تر دې لا ډيريدو. موږ د روانو اوبو پر ځای دلته شخصي څاه درلوده او ددغه ځای برېښنا هم ښه وه. ما او زما موټر چلوونکي زموږ د کوربه له ځوان ورور سره په ميلمستون کې شپې تيرولې. موږ به د شپې د پنبو پر کوربچو(توشکو) ويده کېدو. دغه کوربچې به د ورځې د خونې څلورو خواو ته اوارې شوې وې ، چې د شپې به يې د خوب د بستر کار ځنې اخيست.

ما د ميز پر ځای د کړکۍ له تاخچې څخه کار اخيست. کمپيوټر ، انګليسي- پښتو ډيکشنري او ډيکوډر به مې چې پر هغه به ما واشنګټن ته د سټلايټ له لارې خپل رپوټونه استول هم هلته ايښودل. دلته د اوبو څاه ،څو کوردان ، تشناب او غسل خانه چې په هغه کې تر لمبيدو وړاندې موږ په لرګيو اوبه ګرمولې او هغه بل لوري ته د ښځو سرای و. زما د نارينه ژباړن له کبله زه په دې ونه توانيدم چې له دغو وروڼو د ميرمنو نومونه زده کړم. ددغه کور په ښځو کې کومو چې کولای شوای ميلمستون ته راشي او د نارينه وو په شان له کوره بهر وګرځي ، يوه کوچنۍ نجلۍ او بله هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه سپين سرې ښځه وه. يوه نجلۍ چې بلوغ ته په رسيدو وه او تاخچو ته به رسيداى شواى ، زما لپاره سرخوږى جوړ شوې وه. د ديارلسو کلونو په عمر بيا هغې نه شواى کولاى چې له سراى ځخه بهر ووځي.

د شپې به ټول وروڼه او د کورنۍ پلار د ورق بازي(قطعه بازي) لپاره سره راټوليدل . هغوى به خپله ورقه په تاو پر ځمکه ووهله ، چې دې ته به يې ټاپ ويل او ميدان ته پر سمه او ناسمه او د ګټلو او بايللو پر سر به يې سخت بحث روان و. زما موټر چلوونکي به هم له دوى سره په ورق بازي کې برخه اخيسته او ددوى ځنې ملګري او خپلوان به هم د همدې لوبې لپاره هلته راتلل. مابه هم کله کله ورقې ور سره کولې خو زما ستونزه د پښتو ژبې وه.

ښځو به ډوډۍ په کور او نورو ټولو به په ميلمستون کې خوړله . په افغاني ټولنه کې د کورنۍ ځوان نارينه غړي تل د نورو خدمت کوي. ددغې کورنۍ ځوان ورور به د ډوډۍ خوړو لپاره د کوټې په منځ کې په اوږدو دسترخوان وغوړاوه. نورو کوچنيانو به د ډوډۍ لوښي راوړل ، چې په هغه کې به د چرګ قورمه ، وريجې او اومه ترکاري وه. په دې ټولو کې زما تر ټولو خوښ شى اوږدې سپينې مولۍ وې. دوه يا درې کسان به په کاسه سره شريکان شول او په سپينو پيتلي پيالو کې به شرومبې داسې اېښودل شوې وې ، چې د هر چا لاس به ور رسيده. دوى به مستو ته اوبه او نانا ور واچول او بادرنګ به يې په کې ميده کړ ، همدې ته به يې شرومبې ويل. زما تروه شيان نه خوښيږي او پر دوى به مې خندل ، که چېرې زه شرومبې وڅښم نو هغه به زما په معده کې جګړه پيل کړي. جنګ لومړى پښتو وى(لغات) و چې ما زده کړ.

کله چې به له دغه سراى ځخه په موټر کې د سپريدلو لپاره راوتلې او يا به د شپې له مخې د ضرورت د رفع کولو لپاره د باندې راوتلې ، نو بايد پر دغو قبرونو تير شوى واى. يوه ورځ مې د همدې کورنۍ يو هلك وليد ، چې د مړو په هډوکو يې لوبې کولې زه ډيره حيرانه شوم او سمدستي مې د ګورکښانو افسانوي کيسې ذهن ته راغلې.

زموږ د هديرې په هغه بله څنډه کې د عربانو هديره وه. د القاعده شبکې زيات شمير جنګيالي چې د هوايي ډګر د نيولو په جګړه کې وژل شوي و ، دلته خښ شوي وو. پر دغو قبرونو به زياته ګڼه ګوڼه وه. دا د افغانانو د کلتور يوه ډيره ښه بېلګه ده. کندهاريان د عربانو له تکبر او ځان ستاينې ځخه ډير په تنګ او ورته په غوسه و ، خو کله چې ووژل شول بيا به يې زيارت ته ورتلل. زما په ياد دي چې زما د کوربنو خپلوانو د پاکستان له کوټې ښار ځخه خپله ناروغه لور د همدې عربانو د زيارت لپاره راوستې وه ، حال دا چې همدغه کورنۍ د طالبانو سخته مخالفه هم وه. دوى به د دغو عرب شهيدانو زيارت ته د روغتيا لپاره دعاوې کولې ، خو له بله پلوه شيرزي د دغو زيارتونو د ترلو هځې کولې.

د اڅکزو د کلتور له مخې بايد د کورنۍ ټولو پنځو نارينو غړو کار کړى واى. نذير احمد مستري و او هغه نورو له مشر نثار احمد سره د غوړو په هټۍ کې کار کاوه. زما اڅکزو وروڼو به ويل ، چې دوى ښه ګټه وټه لري. دا هټۍ د نثار احمد له کبله خورا مشهوره وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


کله کله به زه د نثار احمد هټۍ ته ورتلم ، زه چې به ورغلم پر ځمکه به پلترۍ(چارزانو) ناست و او سمدستي به يې کبان راته راوړل. دغه کبان به له لکۍ ، سر او سترګو سره ټول په غوړيو کې سره شوي و. نثار تر نورو ورونو چاغ او ګردی و ، خو کله چې به دغه ورونه سهار د کار لپاره په خپل سپين موټر کې سپريدل ، نو خپل پټوان به يې د يخني له کبله پر ځان ټينګ راتاو کړي و او ما به ونکړای شوای ، چې خپل ځان له عکس اخيستو څخه وژغورم. دغو ورونو هر يوه يې څلور يا پنځه کوچنيان لرل ، خو تر پايه زه پدې بريالی نه شوم چې معلومه کړم څوك څوك دي. په دغو کوچنيانو کې يوه کلالۍ وه ، چې هر ځای به زه تلم دا به سمه راپسې وه. شپان به يې راسره وړل ، د لاس پريوللو په وخت کې به يې اوبه را اچولې ، چای به يې راته اچاوه او کتابچه به يې راسره وړله. ددې په خپله ژبه کې هم تر څو کلمو څه زيات نه و زده ، خو شايد دې زه خپله مور بللې وم خو زما په ګومان زه ددې لپاره يوه ښه نانزکه وم.

په دوی کې ساديه ډيره شوخه وه ، چې تل به يې له نورو کوچنيانو سره پنجې لګولې وې. يو بل کوچنی تواب نوميده چې تل به زما پر کمپيوټر ناست و او کله چې به ما ماخستن بهر پر يوه کمپله ځنګ اچولي و دی به راغی ، زما پر ولاړو زنګنونو به کښيناست او په ډير احتياط به يې پښې زما پر مخ راکښښودې.

محمد انور زما د پوښتنې لپاره راته ، خو کله کله به يې له مور سره په ميلمستون کې شپه هم تيره کړه او زه به هم دده مرکز ته د نورو معلوماتو د تر لاسه کولو لپاره ورتلم. دده مرکز په داسې ځای کې و چې هيڅ د استوګنې وړ نه و. ديوالونه يې نړيدلي او شړيدلي و ، رواني اوبه يې نه لرلې خو پر هر کونج کې وچه ډوډۍ ليدل کيده. انور او ملګرو يې بې له قيد او شرطه هر وخت په دروازه کې زما هرکلی کاوه. په دروازه کې موظفو کسانو به له ما سره داسې چلند کاوه ، لکه زه چې د دوی شخصي ملګرې يم او دويم پوړ ته به يې رهنمايي کولم.

ما د افغانانو هغه کلتور زده کړ ، چې کله يوې خونې ته ورننوځې ، نو څرنګه روغبړ بايد وکړې. داسې چې بايد له هر کس سره دې د لاس روغبړ کړی وای ، خو ستونزه به هلته وه ، چې کله به په ناستو کسانو کې يو شناخته او يا دوست راختلی وای ، له هغه سره دې بايد د غيږې روغبړ کړی وای. محمد انور هيڅکله ددې هڅه ونکړه ، چې له ما څخه څه پټ کړي. که به زه د ورځې يا د شپې ورغلم نو دده چټلې خونې ته به رهنمايي کېدم. خيرن فرشونه اوار ، چټلې کوربچې او بالښتونه ، پر هر کونج کې د مرميو صندقونه ، کلاشنکوفونه او راکټونه پراته وو. ده که به پر هرې موضوع خبرې کولې ما پکې د ګډون حق درلود. له دغو خبرو څخه يوه ورځ په هلمند کې د طالبانو پر بې وسلې کولو رغيدو.

کله کله به ما ده ته داسې مشورې ورکولې لکه هغو قاچاقبرانو ته چې مې ورکو لې. داسې چې ته بايد خپل دفتر پاك وساتې او خپل کسان د نشه يي توکو څکولو ته پرينږدې ، ځکه چې دا ستاسو عزت ته ډير زيان رسوي. محمد انور به په هغه زرغون يونيفورم کې په ډير غرور ګرځيده ، چې د امريکايانو لخوا ورکړل شوی و. دده نورو انډيوالانو به کميس او پرتوګ اغوستل ، د غميو ځليدونکې رخچښې به يې پر سرولې او پټوان به يې پر اوږو اچولي وو ، خو اوس په کندهار کې يو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل ډول جامې مخ پر زياتېدو وې ، چې غربي يونيفورم پکې تر ټولو ښه نمونه وه. امنيتي افسرانو لکه انور پوليسي جامې اغوستې او ولايتي چارواکو يخنقاقونه اغوستل او نيك ټايي به يې اچولې وې او حتی په ښوونځيو کې به ښوونکو هم غربي جامې اغوستې ، خو ښوونکو به له ښوونځيو څخه بهر محلي جامې اغوستې.

يوه ورځ تر غرمې وروسته مې (د مارننګ ايډيشن) لپاره پروګرام جوړاوه ، چې نابېره زما د کورنبو يو ورور زما خونې ته په بيړه راننوت او د امنيه قوماندان له راتګ څخه يې خبره کړم. هر چا يوې او بلې خوا ته د هغه د راتګ د تيارۍ لپاره منډې وهلې. تر يو څه ځنډ وروسته په تنه غټ سړی ، چې د څلورو يا پنځو ساتونکو له خوا يې ساتنه کېده خونې ته راننوت. داسې بريښيده چې خونې ته دده تر راننوتلو وروسته به په خونه کې بل چا ته د ناستې لپاره ځای پاتې نه شي.

دا ضابط اکرم و . دا د انور مشر و ، چې ما يې په اړه ډېر څه اوريدلي و. کله چې ګل اغا د ولايت واك تر لاسه کړ نو ولسمشر کرزي الکوزو ته د واك د توازن له کبله د ولايت د امنيت چارې ور وسپارلې. دوی بيا اکرم د خپل استازي په توګه د ولايت امنيه قوماندان وټاکه. کله چې اکرم او ملګري يې کيناستل او په خبرو يې پيل وکړ نو زه بيرته ولاړه شوم او د کمپيوټر د تنيو د ټکولو لپاره خپل کمپيوټر ته کښيناستم. تر لږ ځنډ وروسته زما د کورنبو يوه ورور راته وويل: سارا قوماندان صاحب غواړي چې له تاسو سره خبرې وکړي. ما ورته وويل زه اوس مصروفه يم ، زما تر وزګاريدو پورې بايد انتظار وباسي. د توقع پر خلاف هغه خاموشي ما ته کړه او په تونده لهجه يې راته وويل: ضابط اکرم کوچنی سړی نه دی. هغه دومره وخت نه لري ، دی يوازې د يو څو دقيقو لپاره تاسو سره خبرې کوي.

ما خپل کار بس کړ او هغه ته مې مخ ور واړاوه. اکرم وويل: بهرنيانو ته اجازه نشته ، چې په شخصي کور کې ژوند وکړي. ته بايد د خپل شخصي امنيت لپاره د ښار د منځ په هوټل کې و اوسې. زه ډېره حيرانه شوم ، چې په افغانستان کې بيا دا قانون له کومه شو ، چې په شخصي کورونو کې د بهرنيانو اوسيدل دې د هغه پر خلاف وي ؟

په هوټل کې ژورنالستانو ته ويل شوي و ، چې په دهليز کې ونه ګرځي او له افغانانو سره د ناروغۍ د اخيستلو له کبله ډېره راشه درشه ونکړي. په هوټل کې يوه يا دوې ژورنالستانې اوسيدلې او زه هم د نارينه افغانانو مخ ته نه ګرځيدم. زه په دې پوهيدم ، چې څنګه خپل امنيت وساتم او ځان له خلکو څخه پټ کړم. په يوه شخصي کور کې اوسيدل په کلتوري توګه زه د هغې کورنۍ غړې جوړولم او دا زما د امنيت لپاره خورا ګټور تماميده. ما د اڅکزو د کورنۍ تر چتر لاندې ژوند تيراوه. له يوې اڅکزۍ کورنۍ سره اوسيدل ما ته تر هغه هوټل چې نور ژورنالستان پکې اوسيدل او د يو څو تنخوا خوړونکو ساتونکو له خوا يې ساتنه کېدله ، زما د امنيت لپاره ډېر ګټور و. له بله پلوه دغه ساتونکي د اکرم پلويان وو. د دغو پوليسو دنده زموږ د حرکاتو او تګ راتګ څارل وو. کله چې موږ په کوټه کې و هلته هم موږ بايد کوم ځای ته تر تګ وړاندې استخباراتي مامورينو ته يو فورم ډک کړی وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما اکرم ته وويل: ښښنه غواړم! زه له دې ځايه نه ځم. زه دلته يو پلار او پنځه غښتلي ورونه لرم. زه تر هر هوټل ډېره دلته په خپل کور کې خوندي يم او له بله پلوه زه دلته د يو څو ورځو لپاره اوسيږم.

موږ پدې اړه ډېر جر وبحث وکړ ، خو په پای کې هغه ورونه زما تر څنګ ودريدل او اکرم مو په دې راضي کړ ، چې زه خپله دغه دوره همدلته تيره کړم.

تر دې لږ وروسته ما له ده سره د دوهم ځل لپاره دده په دفتر امنيه قوماندانۍ کې وليدل. زه او د ټايمز مجلې ليونی خبريال (مايك وار) جوړه ورغلو. پر دغه مهال هغه د هلمند ولايت ريګستان ته د القاعده شبکې د غړو د پلټلو لپاره روان و. کله چې د اکرم سره د مايك خبرې خلاصې شوې ، ما اکرم ته وويل که ستاسو اجازه وي ، زه به هم ور سره ولاړه شم. ده وويل: ما فکر کاوه چې تا افغانستان پريښی ؟ ما وويل همداسې ده ، خو زه هلته يوازې د يو څو ملګرو د ليدلو لپاره ځم. ما وويل ته خورا ډېر پګړيوال کسان لرې. اکرم وويل: هو لکه طالبان. زه چې کله له اکرم سره دده په دفتر کې مخامخ شوم ، ډيره حيرانوونکې وه. پر اوږو يې ستوري ټومبل شوي و ، ساتونکي ترې چاپير و او په ويروونکې توګه به يې د لوی ميز له شا څخه هرې خوا ته کتل.

دده په ليدو ما ته د پارسي شاهانو کيسې را په زړه شوې. ما واوريدل چې ويل يې ، دا بهرنيان بيخي ډېر درواغ وايي. کله چې زما او دده تر منځ انډيوالي ټينګه شوه ، ما ورته وويل تا ريښتيا ويل ، په هغه ورځ ما درواغ ويل خو تا هم ما ته درواغ وويل ، تر دې اوريدلو وروسته يې په زوره زوره وخندل.

تر دې وروسته ما او ده پوره يو کال سره ونه ليدل. يوه ورځ د جنوري په لومړيو کې ښوونځی د پرانيستلو په حال کې وې. دا په تيره لسيزه کې لومړی ځل و. کله چې به ما په ميلمستون کې کار کاوه ، نو درې نجونې به راتلې ، دوی به ويل چې موږ ښوونځي ته ځو او موږ ښوونځي ته ځو. يوه ورځ چې مې (د ال ټايمز کنسيډر) لپاره مواد برابرول ، فکر مې وکړ ، چې ايا زما دغه کار به مهم وي که د هغو نجونو ښوونځي ته بيول؟ سمدستي مې هغه نجونې ښوونځي ته د نوم ثبتولو لپاره راسره بوتلې.

تر دې وروسته مې د ۲۰۰۲م کال په جنوري کې د ( اين ، پي ، ار) سفر پای ته په رسيدو و. ما د بې ځايه کېدو او يو څه له لاسه ورکولو احساس کاوه. ما د سفر تاريخ او مهال ويش برابر کړه. په داسې حال کې مې ښار پريښود ، چې زړه مې په ډېرې سختۍ سره پښوته د مخ پر وړاندې تګ اجازه ورکوله. کله چې زه روانيدم نو زما اڅکزۍ کورنۍ زما په ژېړ موټر پسې د شا لخوا د پښتني کلتور له مخې اوبه وپاشلې او د ولسمشر کرزي کشر ورور مې په خپله کلا کې پريښود.

زما موټر پر کنډ او کپر سړك د سپين بولدك او په پاکستان کې زما د اڅکزو ملګرو پر خوا مزل ته ادامه ورکوله. په هغه بارك کې چې زه په لومړي ځل ورته راغلې وم ، له فدا سره يوه ځوان جنګيالي را څخه وپوښتل ، چې ته ژورنالسته يې ؟

ده ځواب ورکړ: هوکې دا زموږ ژورنالسته ده.

تر هغه وروسته د مينې دغه داستان پيل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library


## مدني ټولنه
## (جنوري- اپريل ۲۰۰۲)

نه پوهېدم چې ايا پاکستاني بېروکراتان به مې خپل هيواد ته ورپرېږدي که نه ؟

غوښتل مې د کويټې له لارې کور ته ولاړه شم ، زما موټر چلوونکي غوښتل چې په چمن کې تم شي تر څو د وروستي ځل لپاره زه له اڅکزو سره چاى وڅښم. دا زما لپاره تر ټولو ښه وخت و چې له ملګرو سره يو ګړى غوږې وکړم. ددې لپاره مې نور انتظار نه شو ايستلاى ، موږ په ژړ ټکسي کې سپاره شوو او پر هغه کنډ او کپر سړك د کويټې پر لور روان شوو.

دا د ۲۰۰۲ م کال د جنوري ۱۱ مه نيټه وه.

ما ته وويل شول چې زه بايد يو ځل تر سيمې پرېښودلو وړاندې زما د (اين. پي. ار) له عوضي سره په هوايي ډګر کې ووينم. څه شی چې ماغوښتل هغه د کاکا عزيز خان کرزي سره د ماخوستن د ډوډۍ خوړل و ، نوموړی په شاه کاکا سره هم مشهور دی.

دغه د روند شخصيت او د تيزو سترګو څښتن دوه مباشتي وړاندې د کندهار د تسليمېدو پر وخت زه د پښتنو پر مايلاتو او نظرياتو موافقه کولو وپوهلم. دا يوه ډېره ښه شپه وه ، دی به پر خپل کوچ ناست و او د ډېرو تسبيح به يې اړولې. ده د افغانستان په اړه ډېره وېره لرله او راتلونکې ټول خطرونه يې راته په ګوته کړل.

په همدې وخت کې دده وراره حامد کرزي کندهار پرېښود او پلازمېنې کابل ته ولاړ او هلته له زرګونو خوشبينواو وظيفه غوښتونکو خلکو سره يو ځاى شو.دده ځاى په شاهي دربار کې و او داسې جامې يې ځانته غوره کړې چې د ټول افغانستان استازيتوب يې کاو.

عزيز کاکا افغانستان ته د خيريه ټولنو د راماتېدلو څخه خورا ويره لرله. دده په وينا چې د دوى لخوا به ټولې پروژې يرغمل شي. ده ويل ، دغو ټولو انجيوګانواو خيريه ټولنو د افغانستان لپاره غاښونه او چاقوګان تيره کړې دي. عزيز کاکا زياته کړه چې زه انجيوګانې ډېرې ښې پېژنم ، ځکه چې ما په خپله د طالبانو په وخت کې څو انجيوګانې لرلې.

زه نوره د تلو په حال کې وم او له دروازې څخه د راوتلو پر وخت مې له ده څخه د وروستي ځل لپاره مننه وکړه. ده راته وويل: نه غواړې چې بيا افغانستان ته راشې او له موږ سره مرسته وکړې.

ما په هو ځواب ورکړ.

ده وويل: يو څوك پيدا کړه چې هغه دې بېرته افغانستان ته راولېږي ، هغه دې ستا د معاش غم وخوري او موږ به دلته درته پوره واك درکړو. ما ددې خبرې په اړه ډېر فکر وکړ او له بله پلوه دا هغه څه و چې مايې انتظار کاو. ما په دې اړه نور انتظار نه شو کولاى او نه مې غوښتل چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ دغه ډيموکراسي په تجارت او يا يوازې په يو خيال بدله شي. ما د بالکان او افغانستان وضعيت سره پرتله کړ خو دلته هر څه په بل ډول و او دا مسئله هم تر هغې ډېره لويه وه.

دلته مسئله د لويو کلتورونو او ايډيالوژيو وه.

اسلام او غرب ، خو اوس دې دواړو زما په وجود کې ځای موندلی و.

حامد کرزی يو عجيب سړی دی. زما په ژوند کې ما ترده اغېزناك سياسي مشر نه دی ليدلی ، خو ددغه سړی اکا غوښتل چې زه ورسره مرسته وکړم.

زه د خپل کور ته پرځای چې په پاريس کې و ، متحده ايالتونو ته ولاړم. هلته مې بيرته افغانستان ته د تگ پر لارو چارو پوره دوې مباشتې تيرې کړې.

ترېوڅه وخت وروسته عزيز کاکا ما ته ټيلفون وکړ ، نوموړی اوس په کابل کې د يو ټيم سره يو ځای شوی واو د دربار وضعيت يې راته تشريح کړ. دغه مانۍ د واشنگټن له سپينې مانۍ سره پرتله کېدای شي. ده وويل په دغې مانۍ کې بربښنا نشته چې سړی دې د ژمي له وژونکې يخنۍ څخه ځان پرې وژغوري ، ټيلفون ، کمپيوټر ، انټرنيټ او سټلايټ ډيش خو لا پرېږده چې د خپل وراره لومړی سفر متحده ايالتونو ته پې وگورم.

د کرزي ښايسته سټايل ، فصاحت او بلاغت په واشنگټن کې يو طوفان رامنځ ته کړی. ورځپاڼو او مجلو به دی د افريقا له نيلسن منډېلا سره پرتله کاو. کرزی د خپلو هغو ملي کالو د اختراع له کبله هم د ډېرو کسانو په خوله کې و چې د افغانستان د ټولو قومونو استازيتوب يې کاو.

د عزيز کاکا څرگندونو زه ډېره حيرانه کړم چې د افغانستان خلك به څنگه دا وران او ويجاړ هيواد بيا له سره رغوي؟ افغانستان تر جگړې وړاندې هم له پر مختللو هيوادونو څخه څو پيړۍ شاته و خو د تېرو دريولسيزو جگړو هرڅه پر بل مخ اړولي وو. د ۱۱/۹ تر پيښې وروسته زه ډېره حيرانه وم چې ځينو کسانو لکه د مايکروسافټ بيل گېټس لا ولې تر اوسه په دې اړه فکر نه دی کړی چې يو څو کمپيوټرونه واخلي او هلته په افغانستان کې يوه انټرنټي شبکه فعاله کړي.

تر جگړې وروسته د افغانستان ټولې حوزې يو شان د جگړې ښکار شوې وې. ما فکر کاو که چېرې په رښتيا ملگري ملتونه دلته د څه کولو پلان لري ، نو دوی بايد تر هر څه لومړی ملکي بنسټونه ورغوي. د انجنيرانو يو ټيم بايد د ارتباطي شبکو ، بربښنا اواوبو د سيسټم په اړه پلانونه جوړکړي او بيا يې له هيوادونو څخه د تمويلولو غوښتنه وکړي.

د خبرو په پای کې عزيز خان ماته دده له يوه بل وراره قيوم کرزي سره چې د ولسمشر کرزي مشر ورور دی د کار کولو يو وړانديز وکړ.

قيوم کرزي او مېرمنې يې پېټريشا څلور کاله وړاندې په بالتيمور کې يوه خيريه ټولنه د (ACS) (افغانان د مدني ټولنې لپاره) په نامه پرانيستله. ددغې ټولنې سره تر ټيلفوني تماس او خبرو وروسته ، ددې ټولنې لخوا زه په افغانستان کې د فيلډ ډايرکټرې په توگه وگمارل شوم.

زه او زما خور (ايوليمن) هم په دې سره سلا شوو چې بايد يوه (اين جي او) جوړه کړو. د افغانستان او امريکا له ملگرتيا څخه داسې ښکارېده چې په افغانستان کې د څو لسيزو جنگ

(c) ketabton.com: The Digital Library



جګړو ورانۍ غم به وخوړل شي. د متحده ایالتونو او اسلامي ټولنې تر منځ چې کوم درځ را پیدا شوی و اوس ښخي د تمدنونو د ټکر په درشل کې و. په افغانستان کې به دا ثابته شي چې دا هر څه پر غلطه وو. افغانستان یو اسلامي هیواد دی چې په تېرو دوو لسیزو کې د امریکا له مرستې څخه دوه ځله په مننه اړ کېږي.(۱)

ماته به د کوسوو البانیایان راپه زړه شول چې په ۱۹۹۹م کال کې ناټو د متحده ایالتونو په مشرۍ د سربیانو له ظلم څخه خلاص کړل.

د ۲۰۰۱م کال د سپټمبر پر ۱۲ د کوسوو په پلازمېنه کې زرګونو البانیایي مسلمانانو له متحده ایالتونو سره د غمرازۍ په خاطر په کوڅو او سړکونو کې ډېوې لګولې وې. زما د کوسوو یو ملګري ماته پاریس ته ټیلفون وکړ ، ده ویل چې زما ګڼ شمېر ملګري تیار دي چې له امریکایي سرتېرو سره اوږه پر اوږه د القاعدې شبکې پر ضد وجنګیږي.

زه بېرته افغانستان ته ولاړم تر څو له قیوم سره مخامخ وګورم او پر ځینو پروژو ورسره خبرې وکړم. ماده ته وویل چې د (ACS) دفتر باید د کابل پر ځای په کندهار کې وي. په کابل کې د ټولو خیریه ټولنو مرکزونه وو ، خو کارونه به یې بیا په لرې پرتو سیمو کې کول. دوی به تر هغه ځایه پورې چې پروژې یې پکې تطبیق کولې په موټروکې تلل چې دا په خپله یو ستړی کوونکی او ستونزمن کار و.

تر کومه ځایه چې ما د افغانستان تاریخ لوستی دی ، د ددوی دغه سلوك په نولسمه پېړۍ کې د برتانویانو لخوا د افغانستان د اشغال پر وخت په افغانستان کې د هغوی د ژوند له طرز سره مقایسه کېدای شي. ددغو خیریه ټولنو ټولو کارکوونکو د افغانستان له عادي خلکو څخه بېل په کابل کې د غرب په شان ژوند درلود. دوی له افغانانو څخه جلا په خوندي کورونو کې اوسېدل ، د قدم وهلو پر ځای به په موټر کې ګرځېدل. دوی به خامې لویدیزې غذاوې خوړلې ، په ځانګړو پلورنځیو کې به یې سودا کوله او تازه ځایي ډوډۍ به یې رانیوله. په مېلمستیاوو کې به یې الکولي مشروبات څښل چې دا ډول چلند به خپله ددوی پر افغان کار کوونکو هم ډېره بده اغیزه کوله او ددوی لپاره به یې ډېرې امنیتي ستونزې پیدا کولې.

په یوه داسې ټولنه کې چې هلته وچ کلتور حاکم وي ، افغانان په خپل هیواد کې داسې کارونه ناروا ګڼي او ددوی هیواد ته ددغسې یو فساد رالیږدونې سخت مخالفت کوي. ددې هر څه پایله دا کېږي چې نورباید غربیان د دوی له هیواد څخه وایستل شي.

زما شخصي هڅې دا وې چې څومره ډېر کېدای شي هغومره باید ددغه ځای په اړه خپله پوهه زیاته کړم او په وار وار به پر هغې باندې کتنه کوم که دا په ولایتي ښارونو کې وي او یا کابل کې. خو زما په زړه کې کندهار یو بېل ځای درلود. کندهار نه یوازې زما لپاره بلکې دا ځای د افغانستان پخوانۍ پلازمېنه ده او د افغانستان د ټولو واکمنانو پلرنۍ ټاټوبی دی چې له همدې کبله خورا سمبولیك ارزښت لري. همدا ډول کندهار د طالبانو اصلي ټاټوبی هم و خو په نوي افغانستان کې کندهار هیر شوی او تبعید شوی دی. زه په دې باور یم چې که کندهار شاته پرېښودل شي نو افغانستان به هم پر هیڅ لور حرکت ونکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ۲۰۰۲م کال په پسرلي کې زه د کندهار اوسيدونکې شوم او د ولسمشر کرزي د کشر ورور احمد ولي په کور کې مې نوی ژوند پيل کړ. دی د ولسمشر کرزي استازی او د پوپلزو د قبېلی مشر و. ولسمشر کرزی اوس په کابل کې و او خو په کندهار کې تر ټولو مهم کس احمد ولي و.

په کندهار کې د نوموړي کورد نورو کورونو په شان دوې برخې لرلې چې يوه يې د کورنۍ د غړو لپاره او هغه بله برخه يې د مېلمنو لپاره وه. د شخصي خبرو او اوسېدنې لپاره ځای له وچو ګلانو څخه د ځو فوټو په اندازه له عمومي مېلمستون څخه لرې و چې يوه کوچنۍ د خوب خونه ، پخلنځی او په لوېديز سټايل د اوسېدلو خونه يې درلوده.

دغه خونه د شخصي خبرو او شخصي مېلمنو لپاره وه چې تل به پرې پلاسټيکي غوړيدلي دسترخوان چای ، ګيلاسونه ، د کشمشو ، پيستو او خوراکي توکو لوښي ايښودل شوي وو. په دويم پوړ کې پنځه نورې خونې وې چې هره خونه يې د مختلفو کسانو لپار ځانګړې شوې وه. لاجور دنده لرله چې هره ډله د هغوی د رتبې او سويې مطابقې خونې ته رهنمايي کړي. ځينې داسې کسان او ډلې به هم وې چې بايد له نورو خلکو څخه پټ ساتل شوي وای خو ځينې وخت به ستونزه دا وه چې لاجور به د راغلو کسانو له پوره پسمنظر څخه خبر نه و.

د ۲۰۰۲م کال په پسرلي کې يوه ورځ دده کور له خلکو څخه خالي و ، دا څنګه امکان لري چې احمد ولي دې کور وي او مېلمستون دې له خلکو څخه خالي وي؟

تر لږ ځنډ وروسته يوه ډله کسان چې مشري يې د کلي يوه مشر کوله سرای ته را ننوتل او داحمد ولي پر لور راروان وو. دغه کس د لاس په اشارې سره ويل چې زموږ کلی اکوکلاچه لا هم هغسې وران او ويجاړ پروت دی. دغه کلی د کندهار هوايي ډګر په ګاونډ کې پروت دی او له افغانستان څخه د القاعدې د غړو د شړلو په جګړه کې په امريکايي بمباريو کې سخت زيانمن شوی و.دغه کلی دېرش ختين کورونه لري چې په هغو کې لس کورونه او مسجد يې د بمباريو له کبله په پوره توګه په خاورو بدل شوي وو.ځينو کورنيو له وېرې پاکستان ته کډه کړې وه او يا خو په نژدې کليو کې له خپلو دوستانو سره مېشت شوي وو.

احمد ولي په خپله دغه کلي ته د ورانۍ د سروې لپاره سفر وکړ چې د هوايي ډګر له پاخه سړك څخه نيم ساعت د موټر د مزل په واټن لرې پروت دی. دی له هغه ځای څخه ډېر خواشينی راستون شو او د کليوالو ستونزې يې ماته بيان کړې.

دا خو ښخي يوه جوړه پروژه وه.

ماته سمدستي د کوسوو د کورونو د ورانۍ هغه صحنه راپه زړه شوه چې سربيانو په نژادي جګړو کې د خپلې ماتې پر مهال کورونه سوځولي او نړولي وو.

زه په دې ډېره حيرانه وم چې ولې په افغانستان کې د سرپنا موضوع ته جدي پاملرنه نه کېږي ، په داسې حال کې چې ددغه هيواد بې شمېره مهاجر له کلونو کلونو راهيسې په نورو هيوادونو کې په خيمو کې ژوند تېروي.

د اکو کلاچې بيارغونه شايد يو ښه سمبوليك ګام بلل شوی وای. زه په دې نظر يم ، څومره به ښه وای چې امريکايي سرتېرو په خپل نظامي يونيفورم کې ددغه کلي بيا رغونې ته لستوڼي رابډ

(c) ketabton.com: The Digital Library


وهلي واى . زما په ذهن کې هغه سمندري سرتېري راوګرځېدل چې د کريسمس په ورځ ما ورسره مرکه وکړه. دې کار به د خلکو لپاره ښومره ښه پيغام درلودلاى واى ، چې امريکايان يې له هغه څه په بيا رغونه بوخت ليدلي واى څه چې دوى وران کړي وو.

همدې کار به د ولسمشر بوش هغه اعلان ته زياته ګټه رسولې واى ، چې د همدې جګړې د کمپاين پر مهال يې د افغانستان خلکو ته کړى و ، چې دا جګړه ستاسو په وړاندې نه ده بلکې دا جګړه د هغه مجرم رژيم په وړاندې ده چې هلته په واک کې دى.

د اکو کلاچې زيات اوسيدونکي بزګران ، د لويو لارو ټکسي ډرايوران او مستريان دي چې اکثرو يې خپل کورونه د امريکايي بمباريو له کبله پريښي وو ، چې کېداى شول دې ځاى د اسامه لپاره کوم خاص ارزښت هم نه درلود. که دوى ته ددغې ورانۍ تاوان چې ددې وروستي رژيم د بدلون پر مهال ور اوښتى و ورکړل شوى واى ، ښايي دوى په دې پوهېدلي واى چې ددې او هغو نورو بدلونونو تر منځ خورا ډېر توپير وجود لري. ښومره به ښه واى که د امريکايي سرتېرو بېلچې اوکولنګان په لاس واى او په بيارغونه کې يې برخه اخيستلاى.

د افغانستان لپاره د بشري مرستو د راجلبولو په غونډه کې د يوې ادارې مشر پر دې انتقاد کاوو چې ولې سرتېري د بيارغونې په کارونو کې برخه اخلي. ده استدلال کاو چې د هرې ادارې کارونه او وظايف بايد څرګند وي.

نظامي ادارې بايد د خيريه ټولنو لپاره امنيت برابر کړي تر څو هغوى وکولاى شي د خلکو لپاره خپل کارونه په سمه توګه تر سره کړي. خو زه بيا په بل نظر وم هغه دا چې تر دو يمې نړيوالې جګړې وروسته د اروپا لپاره مارشال پلان وضعه شو نو دلته بيا څه مشکل وو ؟

کله چې پر سربيانو د ناټو لومړى بم راپريوت نو هغوى په لسګونو زره کوسوويايي البانيايان له خپلو کورنو څخه مقدونيې ته وشړل. د ملګرو ملتونو د مهاجرينو ادارې په خورا بې وسۍ سره د هغو مهاجرينو د کړاو ننداره کوله.

زه په هغه وخت کې په بروکسيلز کې د ناټو په خبري خونه کې وم او د ټلوېزيون پر پرده مې د هغو کوسوويايي البانيايانو د کړاو ننداره کوله چې په متينو دښتو کې يې د مقدونيې پر پوله د مقدونيې د اردو د مهربانۍ لپار اړولي وو. د ناټو په زرګونو سرتېري د دوى په څنګ کې اوسېدل خو يوازې يې ددې مهاجرو د کړاو ننداره کوله. که د دوى نور څه په وس نه وه دا خو يې په وس پوره و چې ددغو مهاجرو لپاره د يو کمپ نقشه واچوي.

ولې سرتېرو له مهاجرينو سره د خيمو په درولو کې مرسته نه کوله ؟

ما به په همدې اړه زما ملګرو ژورنالستانو ته چيغې وهلې چې تر يوه چتر لاندې به د ټلوېزون د ليدلو لپاره راټول شوي وو. زه وروسته وپوهېدم چې دا د بشري مرستو چارې وې چې يوازې بايد د بشري ادارو لخوا تر سره شوې واى ، له همدې کبله سرتېري ددغه کړاو له مخنيوې څخه منع شوي وو.

په دې اړه (ACS) خورا جدي وه ، همدا لامل و چې موږ له امريکايي سرتېرو څخه د مرستې غوښتنه وکړه. موږ هغوى ته وويل: د اکو کلاچې بيارغونه به ستاسو اعتبار نور هم پياوړى کړي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر څنګ به يې پر امنيتي چارو هم ښه اغيزه وشيندي. د ملکي چارو اداره د امريکا د اردو يوه برخه ده چې پخپله کارونه نه تر سره کوي ، بلکې دوی ملکي قرارداديانو ته قراردادونه ورکوي او دوی يې يوازې د کار څارنه کوي. په افغانستان کې د امريکا د اردو د ملکي چارو څانګه پر شخصي ملکيتونو پيسې نه لګوي. د عمومې پاليسۍ د لرليد څخه دا بيا يو څه منطقي دليل و. که داسې نه وای نو اردو به د هر کلي مشر ته څاه کيندلې وای او سرای به يې ورته جوړ کړی وای.

زموږ په نظر اکو کلاچې بايد له دغې پاليسۍ څخه استثنا وای ځکه چې دا ټول خلك د امريکايي بمباريو له کبله بې کوره شوي وو. دا يو عجيب حالت و ، موږ چې به ددې کلي په اړه هر څه ورته ويل هيچا به په دې اړه هيڅ اقدام نه کاو.

داسې هم نه ښکارېدل چې واشنګټن دې تر اوسه دې ته چمتو شوی وي چې د دوی د بريد له کبله چې چاته کوم زيان اوښتی وی دوی دې د هغوی تاوان ورکړي او يا دې يې بيرته ورته ورغوي. موږ په دې اړه د سټېټ ډيپارټمنټ له يوې څانګې (USAID) سره خبرې وکړې چې په افغانستان کې د بيارغونې د ټولو چارو مسئوليت ور له غاړې و. له هغوی څخه مو هم د نورو په شان ځواب واورېده.

په اپرېل کې زه د افغانستان له لنډ سفر څخه بيرته متحده ايالتونو ته راوګرځېدم او له خپلې خور (ايو) سره مې د (اين جي او) پر جوړولو کار پيل کړ. ځينو ملګرو د مسچېوسيټ د کنکورډ په ښار کې لکه ماري او ډيويډ کلرك ما ته په فرسټ پيريش کليسا کې د وينا کولولپاره بلنه راکړه. ايو او ما هلته هم د اکو کلاچې د بيارغونې موضوع رابرسېره کړه. کلرکز د اکوکلاچې د بيا جوړونې پر نظريه مين شو او د همدې کار د تر سره کولو لپاره يې په کنکورډ او نورو کسانو پسې لستونې راپورته کړل. کنکورډ د (ACS) لپاره څلوېښت نفره وټاکل تر څو دغې پروژې ته بسپنه را ټوله کړي.

د لومړني ښوونځي زده کوونکو هم د کنکورډ او اکوکلاچې تر شعار لاندې مرستې د اکو کلاچې د کوچنيانو لپاره راټولې کړې.

دوی به ويل: موږ د سولې په لاره کې د پله حيثيت لرو.

د کنکورډ پله ماته زموږ هغه مشهوره جګړه راپه زړه کوله چې په ۱۷۷۵م کال کې د (ريډ کوټس) پر ضد تر سره شوه. د پېښتون کلتور سره سم د نوي (انګلنډ) ښار ګوټي اوسيدونکي هم ددغه ښار د اداره کولو لپاره انتخابي شوراګاني لرلې. د کنکورډ ملګرو فيصله وکړه چې دوی به د اکو کلاچې خلکو ته تحفې او ليکونه ليږي.

ما په کندهار کې احمد ولي کرزي ته ټيلفون وکړ. ده وويل: کله چې ته راشې زه او ته به دواړه اکو کلاچې ته سفر وکړو. هلته به دغه پروژه کليوالو ته تشريح کړو او هوري به د شورا لپاره يوه خونه جوړه کړو چې نوم به يې کنکورډ وي.

ما په کنکورډ کې په يوه ورځ درې ويناوې وکړې چې اخري يې په فرسټ پيريش کليسا کې وه. د شپې لخوا دوه سوه کسان زما د ليدلو لپاره راغلل ، خو دا هر څه راته داسې ښکارېدل لکه يو سياسي کمپاين چې روان وي. دا هرڅه زما لپاره ډېر نابلده وه ځکه چې ما فکر نه کاو ، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دومره خلك دې ماته غوږ ونيسي. ما دغه ټول کسان حس کولای شول چې اکثرو يې زه شخصا پېژندلم د (اين . پي . ار) راډيو له وخت څخه يې پيژندلم او دوی ټول زما له ږغ سره اشنا وو.کله چې ټايلر دغه کسان وليدل راته ويې ويل: سارا دا دی دومره کسان تاسو پيژني او مينه در سره لري. د جمعې په شپه پر اوه نيمو بجو چې واوره هم اورېدله د لينکلن د مسچوسيټس کسان هم له موږ سره ملګري شول. زه چې خوني ته ورننوتلم په حيراني سره مې وويل: دا دومره خلك دلته څه کوي؟ په هغوی کې يوه کس د ګريك کبر په نامه په کندهار کې زموږ له راډيو سره ۱۰۰۰۰ امريکايي ډالره مرسته وکړه.

دغو خلکو پر موږ ډېر باور وکړ په داسې حال کې چې نه زموږ ټولنه د پاملرنې ټولنه وه او نه هم امريکايي سور صليب. داسې نه و چې دې ټولو کسانو خپلې پيسې په اور کې اچولې ، بلکې موږ هغوی په دې راضي کړي وو چې تاسو ته به ستاسو د پيسو د هرې انې حساب در کول کېږي. هغوی هم د هرې انې د حساب غوښتنه کوله. ايا په ماکې دومره وړتيا وه چې ټول ډونران او دغه کسان مې راضي کړي وای. کله چې ما ددغو کسانو د راجستر پروسه وليدله ، نو زه ډېره ووېرېدم چې څنګه به له دغه پړي څخه ځان خلاصوم؟ ايا موږ په رښتيا سره هم کولای شو چې د دومره خلکو باور پر خپلو غاړو واخلو؟

(۱) متحده ايالات بايد له افغان ولس څخه مننه وکړي چې د خپلو بچيو په وينه يې د نړۍ ستر ځواك ، هغه ځواك چې د يوه راکټ د نوم په اورېدلو سره به يې ټول غرب له خوبه راويښاو داسې دړې وړې کړ چې بيا يې د يو ځای کېدو تصور هم نه شي کېدای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بسپنه او تالان

## (مي- سپټمبر ۲۰۰۲)

په امريکا کې سړی نه شي کولای چې تر ۱۰۰۰۰ (لس زره) امريکايي ډالرو زياتې نغدې پيسې له ځان سره ولري.

که سړی غواړي چې له امريکا څخه تر لسو زرو امريکايي ډالرو زياتې پيسې د باندې يو سي نو بايد له ګمرك څخه اجازه تر لاسه کړي. خو په داسې ځای کې کار کول چېرې چې د بانك درك نه وي بيا هم زه له دغو رسمياتو څخه نه ستړې کېدم. خو کله چې زه د مۍ په مياشت کې افغانستان ته راتلم نو مې د کنکورډ ۱۸ زره امريکايي ډالرله ځان سره په پټه توګه افغانستان ته راوړل.

ژوند تېرول اسانه و زه بېرته زما اڅکزۍ کورنۍ ته ورغلم ، چې نه يې تشناب درلود او نه مې د ډېر وخت تېرولو لپاره هلته شيان ترتيب کولای شوای. د منې په رارسېدو سره زما کورېنو سټلايټ ډيش او ټلوېزون راونيول خو دا هغه مهال و ،چې د (اين ، پي ، ار) لخوا څخه زما عوض راروان و.

تر دې وروسته به هر ماخوستن مېلمستون له نارينه مليمنونه ډك و ،چې د شا وخوا ګاونډيانو په شمول به ددوی انډيوالان او دوستان هم د باليوډفلمونو د ليدلو لپاره راتلل. نور نو زموږ قطعه بازي ختمه شوې وه.

زماله راته سره سمدستي ضابط اکرم هم خبر شوی و ، خو ده داخل رسمي مکتوب راولېږه. تر اوسه لا ما ته په شخصي کورنۍ کې د اوسېدلو اجازه نه وه. تر دې وروسته زه او زما د کور بنو مشر ورور د امنيه قوماندان د ليدلو لپاره دده د فتر پر لور روان شوو. د دوی دوو تر منځ مجلس ښخي په شخړه واوښت ، چې ما پکې برخه نه اخيستله. اکرم زما کوربه ته وويل که ته غواړې ،چې دا ستاسو په کور کې و اوسي نو ته به ددې د امنيت مسئوليت پر غاړه اخلې.

په افغانستان کې دا خورا لوی مسئوليت دی. زما کوربه اکرم ته وويل ، امنيت برابرول د پوليسو وظيفه ده که ته غواړې ، چې موږ ددې امنيت وساتو نو ته بايد موږ ته وسلې راکړې.داسې نه و ، چې زما کوربنو وسلې نه لرلې خو کله چې موږ بېرته کور ته راستانه شوو ، ده ما ته وسلې راښکاره کړې ، بلکې دا هسې د يوه او بل د تسليمۍ لپاره يوه بهانه وه.

اکرم موږ ته ضرب الاجل راکړ. ما کوښښ کاو ، چې ددغه وخت په پای ته رسېدو سره زما کوربانه ارام کړم.

تر دې وروسته يوه ورځ زه زما له نوي مشر قيوم سره مخامخ شوم. دی او احمد ولي کرزی يوې فاتحې ته روان وو. دوی ډېر حيران شول ، چې زه په دغسې خطرناك ځای کې څه کوم. د دوی يوه ملګري ورته وويل ،چې دا دلته اوسېږي. نور نو دلته زما د اوسېدلو پای رارسېدلی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی په جدي توګه راته وويل ، موږ ستا د امنيت مسئول يو ، ته نوره دلته نه شې اوسېدلای. حقيقت هم همداسې و ، چې دوی زما د ساتنې مسئوليت درلود. له کومې ورځې څخه چې ما له قيوم سره کار پيل کړ نو زه هم له هغې ورځې څخه د کرزي د کورنۍ په کسانو کې وشمېرل شوم ،چې امنيت مې هم ددوی پر غاړه وو.

د کرزيانو د شهرت ساتلو لپاره ما هم نه غوښتل ، چې نوره په دغسې يوخطرناك ځای کې و اوسم. تر دې وروسته زه د ښار په يوه څنډه کې يو سرای ته کډه شوم چې لوی غولی يې درلود. کله چې احمد ولي کرزي (اين ، جي ، او) چلوله په دغه سرای کې يې دفتر و خو اوس دلته درې غواوې هم ساتل کېدې. د امريکايي بمباريو په وخت کې دغه سرای خالي و ، خو د ښار د تسليمېدو په وخت کې دغه سرای هم چور کړل شو ، چې اوس په دغه سرای کې د کرزي د کورنۍ انجنير عبدالله مېشت وو.

احمد ولي ويل چې دده د خوب خونه ټوله د UNDP د سپانسر پروژو په مکتوبونو ډکه ده چې دا ځای د کاغذونو په کثافت دانۍ بدل شوی وو.زه به د شپې لخوا پر بام ويده کېدم. موږ په هال کې تشناب جوړ کړ او فرشونه مو پکې اوار کړل. ټول کتابونه او د کرزي مکتوبونه مو راغونډ ، سره ترتيب او په منظم ډول مو په تاخچو کې ووډل. په اخير کې مو ډېيو زما د بېدېدو لپاره پاك کړ او زه هم له بام څخه راکښته شوم.

په کندهار کې د ټيلفون سيستم نه واو انټرنيټ خو بېخي څو پېړۍ لرې و. د ټيلفون کولو لپاره به زه په ښار کې (پي ، سي ، او) ته ورتلم او يا به مې له خپل سټلايټ ټيلفون څخه استفاده کوله.

د بيارغونې د پروژو لپاره زما لومړی سفر اکو کلاچي ته و ،چې په امريکايي بمباريو کې ورانه شوې وه. دغه کلی د کندهار هوايي ډګر ته مخامخ پروت دی. له ما سره داسې مفکوره وه ، چې ددغه کلي کورونه بايد بېرته ورغول شي ، چې په دې اړه مې له هيڅ ستونزې سره د مخامخ کېدو هيله نه لرله. کله چې موږ په هغه کلي کې تم شوو ، ددغه کلي يوه اوسيدونکي راته وويل چې په سرای کې يې ۹ خونې وې ، چې هرې يوې تشناب هم درلود. ددې خبرې د تثبېت لپاره زه نورو کليوالو ته ور وګرځېدم ، چې هغوی يې هم په سر ښورولو سره تائيد وکړ او يوه بل کليوال وويل ، چې ما هم په سرای کې ۷ خونې لرلې.

تر دې وروسته وپوهېدم ، چې هيڅکله به د کلي د اصلي وضعيت په اړه سم انځور تر لاسه نه کړم.

ددغه کلي اوسيدونکي داحمد ولي کرزي قوميان و چې د پوپلزو د قبيلې سره يې تړاو درلود او دی ددې قبيلې مشر و چې کولای يې شول له دوی سره ددغو کورونو په بيا رغونه کې مرسته وکړي. احمد ولي کرزي له دغه کلي څخه ليدنه وکړه ، د کليوالو سره يې ډوډۍ وخوړه او بهرنيو مرستندويانو ته يې ددغه کلي د بيارغونې وړانديز وکړ. احمد ولي دوی ته وويل ، چې کليوال بايد د جرګې لپاره يوه خونه جوړه کړي ، چې دا کار د کلي مشر پر خپله غاړه واخيست. نژدې و ، چې دې پروژې د بمباريو له امله ټول نړيدلي کورونه يو ځل بيارغول شوي وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې موږ پر مځکه باندې د نويو کورونو لپاره نقشه اچوله يو بل مشکل را پيدا شو ، هغه دا چې د اکوکلاچي اوبه وچې شوې وې. د اکو کلاچي وياله د يو لوی کانال څخه راجلا شوې ده. دغه کانال د ۱۹۷۰م کال زوړ سيستم دی ، چې د ارغنداب له رود څخه سرچينه اخلي. د وچکالۍ له کبله هغه ونې چې د روسي يرغلګرو څخه په امن کې پاتې شوې وې اوس مخ پر وچېدو وې. په کوم ځای کې چې د ارغنداب له رود څخه د اکوکلاچي وياله رابېليږي هورې يې دروازه تړل شوې وه. د اکو کلاچي اوسيدونکو به د څنګ له کلي څخه په پلاستيکي سطلونو او نورو لوښو کې خپلو کورونو ته اوبه راوړلې.

په دغه کلي کې يو ځاه و چې په لومړي سر کې موږ فکر کاوو چې دا به پر شخصي ځمکه وي ، خو وروسته و پوهېدو چې دا ځای د هيچا ملکيت نه دی چې اوس نو په دې اړه امريکايي ځواکونو يو څه کولای شول. د امريکايي ځواکونو د ملکي چارو ټيم د سور سري ښې هستې لخوا چې يو هايډرولوجست و اداره کېده. په هغو لومړيو ورځو کې چې موږ يعنې د بشري مرستو موسسو بشري کارونه تر سره کول نو تر څنګ به يې د امريکايي ځواکونو د ملکي چارو ټيم هم د باندې راوت ، ښوونځي او ځاګان به يې جوړول.

خو د اکوکلاچي د خلکو لپاره يې هيڅ ځاه نه وه کېندلې ، دا ځکه چې ددغه کلي خلکو د لاسي بمبو يوڅه شيان چور کړي وو ، نو له همدې کبله يې له دغه کلي سره د يو څه وخت لپاره خپلې مرستې درولې وې.

ښه نو چې داسې ده نو بيا ولې په همدې اړه له (USAID) څخه د مرستې غوښتنه نه کوو ؟

دا د متحده ايالتونو پراختيايي اداره ده چې د سټيټ ډيپارټمنټ ښې اوږه بلل کېږي او په ټوله نړۍ کې د امريکا ملکي مرستې د دوی لخوا تر سره کېږي. داسې فکر کېده چې دغه اداره به د افغانستان په بيارغونه کې پوره ونډه واخلي.(USAID) د کاله ۱۰ ببليونه ډالره بوديجه او دوه زره نارينه او ښځينه کار کوونکي لري ،چې له دغو څخه نيمی يې په واشنګټن کې د ريګن په ښايسته ودانۍ کې اوسېږي.

په کابل کې د امريکا د سفارت د پرانيستنې پر مهال موږ په واشنګټن کې د (USAID) له يوه افسر سره پر دې سختې خبرې وکړې چې کندهار ته بايد د يوې اوونۍ په موخه د ارزونې او سروې يوه ډله را واستوي.

ما د دوی دوه ملګري په هديره کې زما د اڅکزو کور ته وروستل ، هلته مې له يوې ډلې ښځو سره معرفي کړل تر څو د ښځو پر لومړيتوبونو سره وږغېږو. زموږ او (USAID) دغه تماس خورا هيله من ، دوستانه او له وعدو ډك و . دوی وويل چې موږ همدا اوس تيار يو چې تاسو ته ۷۰۰۰۰ (اويا زره) امريکايي ډالر د نوې راډېو د فعالولو لپاره درکړو او د مسلکي روزنې د کورسونو ښوونځي هم ښه نظر دی او داسې نور.

خو د اکوکلاچي د ځاګانو د کيندلو لپاره يې ځواب د نورو امريکايي بسپنه ورکوونکو په شان وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ما دوی ته د لسو زرو امریکایي ډالرو په ارزښت د اکو کلاچي د ځاګانو او د اوبو د سیستم د بیارغونې لپاره یو رسمي پروپوزل ولیکه ، چې په دې اړه یې موږ ته پوره ډاډ هم راکړ. خو د پروپوزل تر تسلیمۍ وروسته موږ د منظورۍ لپاره خورا ډېر وخت انتظار وویست.

زه ډېره خواشینې وم چې دا د (USAID) خلك ولې داسې کوي ؟

کله چې مې د هغه پروپوزل په اړه معلومات تر لاسه کړل هغه کس ، چې موږ پروپوزل ورسپارلی و ، واشنګټن ته تبدیل شوی و او پر ځای یې نوي کسان راغلي وو. نوي کسانو به د زړو کسانو له پروپوزلونو سره هیڅ دلچسپي نه لرله او کله ، چې به دې له نویو کسانو څخه د خپل پروپوزل په اړه پوښتنه وکړه نو هغوی به د هغه پروپوزل یوه بله کاپي در څخه وغوښتله ، چې هغه دې باید په کابل کې د امریکا په سفارت کې تر دوی پورې ور رسولې وای. د (USAID) او امریکا د سفارت لپاره د طالبانو دحکومت د نسکوریدلو لومړنۍ مباشتې خورا ازمایښتي وې.

د امریکا په ټول رهبري پلاوي کې یوازې یوه تن په افغاني ژبه خبرې کولای شوې ، چې هغه یې هم دېرش کال وړاندې په ایران کې زده کړې وه. دغه کس د تقاعدي په خاطر په افغانستان کې تر شپږو اوونیو پورې پاته شو خو نورو ټولو کار کوونکو به تر دوو یا درې اوونیو زیات وخت په افغانستان کې نه تیراو.هرشي به په افغانستان کې په خورا چټکۍ سره بدلون کاوو دا ځکه چې متحده ایالتونو په افغانستان کې کومه ځانګړې پالیسي نه لرله. دغسې یو حالت کولای شوای چې د هیواد راتلونکې په خطر کې واچوي.

د بیارغونې لپاره یې داسې ستراتیژي چې هدفونه یې ټاکلي وای نه لرله ، تر څو د خلکو په ژوند کې یو څرګند بدلون راشي. د افغانستان د وضعیت په اړه له هیچا سره سم انځور نه و. د سفارت کار کوونکو له سیمې سره هیڅ اشنایې نه لرله ، تر څو یو معقول پلان طرح کړي او په دې اړه ورته له واشنګټن څخه هم کومې لارښوونې نه کېدلې.

هیچا په دې اړه فکر نه وکړی چې تر طالبانو وروسته به څه کېږي. د امریکا یرغل په ډېر بې باکه او ناڅاپي توګه تر سره شو. ددې ټولو زیانونو لومړني قربانیان عادي افغانان و ، خو دا زیان به هغه وخت دوه چنده کېده چې امریکایي ځانګړو قواوو او پیاده ټولیو به په اطرافو کې عملیات تر سره کول.

یوازې اردو ددې فیصله نه کوله ، چې کوم کلی دې تلاشي شي ، یا دی کوم شکمن ونیول شي او یا دې ووژل شي ، بلکې د امریکا محلي زور واکو ایتلافیانو به هم د دوی د ملګري له حضور څخه ناوړه ګټه پورته کوله. دغه ټول تصمیمونه د جګړې په تاوده ډګر کې نیول کېدل ،چې بې ګټې او خورا لنډ مهاله و ، چې زور واکو به هم پکې خپل رول درلود.دغو نظامي افسرانو به د اوږدې مودې د سیاسي وضعیت هیڅ خیال نه ساته ځکه چې سیاست د دوی دنده هم نه وه.

په داسې یو حالت کې چې هیڅ پالیسي نه وي نو (USAID) هم څه نه شو کولای ، همدا لامل و چې هغوی یوازې د QUIP په نامه یو پروګرام پر مخ بېوه. په دغه پروګرام کې یوازې ښوونځي ، کلینیکونه ، د سړکونو پلونه او د کلو ځاګانې رغول کېدې. دوی پر داسې پروژو پیسې لګولې چې یو یې د پیسو کار ژر کېدای او له بله پلوه ډېرې څرګندې وای. دوی ټولو خلکو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويل ، که غواړي چې فنډ تر لاسه کړي بايد داسې يوه پروژه ډيزاين کړي چې فزيکي څرګندتيا ولري او قيمت يې بايد تر ۳۰۰۰۰ (ديرش زره) امريکايي ډالرو ډېر نه وي ، چې دغه يې د چارو د تر سره کولو کريټېريا وه.

زما لپاره خو دا نظر پر يو ديوال باندې د اهاکو د اوبو د شيندلو په شان وو. ما په هغه غونډه کې برخه لرله ، چې د کندهار د قومي مشرانو او د امريکا د سفارت د چارواکو تر منځ د طالبانو تر نسکورېدلو يو کال وروسته تر سره شوه.

يوه ړيرور سړي په دې سره چې موږ انګور خرڅوو مجلس پرانيست. په جولای کې د انګورو خرڅولو لپاره په ارغنداب کې د هر باغ څنګ ته کريټونه او شالۍ تر سترګو کېدې. دغو قومي مشرانو امريکايي چارواکو ته وويل ، تر دې وړاندې به زموږ موټرونه کابل ته په شپږ ساعتونو کې رسېدل.

زموږ موټرونو به لومړی مالونه د کندهار په ښار کې کښته کول او بيا به د شپې لخوا کابل ته روانېدل ، چې دوی بايدهلته ځانونه د مارکېټ له پرانيستلو مخکې رسولي وای. د کابل مارکېټ به د سهار پر څلورو بجې پرانيستل کېده. کابل زموږ عمومي مارکېټ دی ، چې په هغه وخت کې به لا موږ ددغه مارکېټ ټولې غوښتنې نه شوې پوره کولای ،خو اوس زموږ کارګو موټرونه له کندهار څخه کابل ته په ۷۲ ساعتونو کې رسيږي چې په داسې يو حالت کې به څوك دې ته چمتو وي چې هلته خپل انګور واستوي؟

اوس زموږ لپاره يواځينی مارکېټ پاکستان دی ، هلته موږ بايد اخيستونکو ته عجز او زارۍ وکړو تر څو هغوی په دې راضي کړو چې انګور راڅخه واخلي.

ددغه سړك جوړېدنه به د ټول جنوب لپاره يو ښه زيری وي او دا به د ټول جنوب پر اقتصادي بيارغونه ښه اغيزه وکړي.

صفوي شاهانو د خپلې واکمنۍ د استقرار موندنې او پراختيا لپاره د سړکونو جوړونې ته خورا جدي پاملرنه کوله ، خو اوس پنځه پېړۍ وروسته له نړيوالو څخه د افغانستان د بيارغونې پروګرام ورك وو.

يو ځل ما د (USAID) له يوې کار کوونکې څخه وپوښتل چې تاسو ولې دغه سړك نه جوړوئ؟

دې په ځواب کې راته وويل ، که موږ دغه پروژه پيل کړو زموږ ټولې پيسې به همدلته مصرف شي ددې تر څنګ نور شيان هم شته چې بايد موږ يې په افغانستان کې ورغوو.

دا د پيسو لګولو تر ټوله ښه پروژه وه. زه په دې باور يم چې دا تر زر QUIP پروژو ګټوره پروژه ده.

که چېرې دغه سړك جوړ شي نو دابه د نوي افغانستان د اقتصاد لپاره يو ښه زيری وي. لکه څنګه چې قومي مشرانو وويل دا به د ټول جنوب د اقتصادي زيربېنايي لومړۍ خښته وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


پاخه سرکونه به په جنوب کې د طالبانو په سخت دريزه ايډيالوژۍ کې نرمي راولي. په دې سره به ليرې پرتو ولايتونوته د ترانسپورټ او مخابراتو اسانتياوې برابرې شي ،چې کېدای شي له همدې کبله د افغانستان د دا تېرو دوو لسيزو د ورانيو جبران وشي.

د ترافيکو ګټه ګونه به په امنيت کې هم ډېره مرسته وکړي او د هغو ټوپکسالارانو د بې وسلې کولو په پروسه کې به هم مرسته وکړي چې د نوي افغانستان د شتون لپاره يې يو لوی ګواښ متوجه کړی دی.

په ډلو ډلو افغان ځوانان بايد سره راغونډ شي تر څو د افغانستان په بيارغونه کې خپل رول ادا کړي. ضمنا به دا د افغانستان د حکومت او متحده ايالاتو اعتبار ته هم ډېره ګټه ورسوي.

داسې يوه پروژه د افغانانو لپاره تر نورو زرو پروژو زيات ارزښت لري ، خو د ښوونځيو جوړول يوازې د امريکايانو لپاره ارزښت لري. ددغه سړك كار بالاخره د طالبانو تر واکمنۍ يو نيم کال وروسته د ۲۰۰۳ م کال په دوبې کې پيل شو خو دا مهال ډېر ناوخته شوی و. په دې سره د افغان حکومت اعتبار ته ډېر زيان ورسيد ، چې تر دې مهاله طالب ياغيان بيا سره يو ځای شوي وو. دوی به د سړك جوړونې پر کار کوونکو حملې کولې ، چې هغوی به يې وژل يا به يې يرغمل نيول. له همدې کبله يو ځل بيا ټوپکوالو ته اړتيا پيدا شوه. د بيارغونې کار کوونکي اړ وو ، چې د خپل امنيت لپاره له ځان سره ساتونکي ولري. يوې امنيتي شخصي کمپنۍ پر سړك د ګزمو کولو لپاره زيات شمېر کسان وګمارل.

زه په دې ډېره حيرانه وم ، چې ولې دغه حياتي پرژه دومره وخت وځنډېده. تر دې يو کال وروسته د سټيټ ډيپارټمنټ يوه کار کوونکي په دې اړه معلومات راکړل. ګريګ بوك زما هغه نا ځواب شوي سوال ته ځواب ووايه. ډور بوك په ۲۰۰۲ او ۲۰۰۳ م کلونو کې په افغانستان کې د (USAID) مشر وو. ګريګ وويل چې موږ سړکونه نه جوړوو ، بلکې دا کار د نړيوال بانك پر غاړه دی.

دا عينا هغسې ځواب و ، چې مايو وخت په يوه غونډه کې له بوك څخه واوريده. اصول خو داسې دي ، چې په جنګ ځپلي افغانستان کې د متحدو ايالتونو د عمومي پاليسۍ ملاتړ بايد د (USAID) په شمول د ټولو له خوا شوی وای. داسې اداري لکه (USAID) بايد هرڅه ددغې پاليسۍ مطابق او په ملاتړ تر سره کړي وای. پاتې شوه د لويو لارو د جوړولو مسئله. تر کومه ځايه ، چې ما د سټېټ ډيپارټمنټ له غړو او نورو سره خبرې وکړې ، بايد د (USAID) ځايي مشرانو په دې اړه يوه ښه پاليسي جوړه کړې وای ، چې تصميم به يې هم ددوی په لاس کې وای ، چې خورا ډراماتيکي پايلې به يې لرلای.

يوه بله مسئله چې افغانستان ته يې د لويې ماشينيرۍ رالېږل ټکني کړل هغه د امريکا د عراق جګړه وه.

ډېر خلك له ما څخه پوښتنه کوي ، چې ولې د ۲۰۰۳م کال په پسرلي کې د افغانستان د بيارغونې کار ټکنی شو؟

ايا هلته يو څرګند توپير موجود وو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پيسو کومه نل ليکه ، چې افغانستان ته روانه وه په ناڅاپي توګه وچه شوه ؟

په رښتيا هم د حقيقت موندل کومه ساده خبره نه وه. عراق ته د کار کوونکو تګ او د عراق مسئلې پر افغانستان يوه ډراماتيکه اغېزه لرله. په (USAID) کې چې ما هر څوك پېژندل ټول د ۲۰۰۳م کال په لومړيو کې عراق ته واستول شول ،خو زما په ذهن کې تر اوسه يوه پوښتنه ده چې تر اوسه ورته چا ځواب نه دی ويلی هغه دا چې دوی ولې افغانستان ته د پيسو د ځنډ خبرې کوي.

حال دا چې موږ د هيچا پيسې په افغانستان کې نه دي ليدلې.

سړی نه پوهيږي چې دوی کومې پيسې يادوي ؟

د ۲۰۰۲م کال په اوړدو کې موږ په دې حيران وو ، چې دغه لوی لوبغاړي د څه شي انتظار کوي. دا يو منل شوی حقيقت دی ، چې په افغانستان کې کار کوونکو هم ددې تائيد کاوه تر دې وړاندې چې په افغانستان کې کوم منابع ايجاد شي هغه ځينې لغو شول.

د ۲۰۰۲م کال په فبروري کې د سټيټ ډيپارټمنټ يوه کارکوونکي راته وويل ، افغانستان ته له دې کبله پاملرنه کمه شوې چې د عراق د جګړې لپاره اماده ګي نيول کېږي.

خو بالاخره (USAID) موږ ته د اکو کلاچي د څاګانو د کيندلو په اړه ښرته مراجعه وکړه. موږ په دې باور ووچې د اکو کلاچي سره د مرستې ژمنه کول د امريکا افغانستان ته د بيا پاملرنې په معنی ده چې داپه خپله په امريکا کې د ځايي ټولنو لپاره يوښه زيری دی. موږ په دی باور وو ،که چېرې (USAID) ددغې پروژې ملاتړ وکړي نو دابه يې تر ټولو ښه پروژه وي او موږ په دې اړه ډاډه وو.

خو دا ځل هم ځواب منفي راووت .

لويو ملکي بسپنه ورکوونکو اعلان وکړ ، چې دوی نور څاګانو ته پيسې نه ورکوي. دا اعلان په داسې حال کې وشو چې په ټول افغانستان کې وچکالي د اوبا د مرض په څير خپره شوې وه. ددې پر ځای چې پيسې پرې بندې شي ، بايد د وچکالی ځپلو سيمو لپاره د اوبو ستراتيژي جوړه شوې وای. موږ په خپلو سترګو ليدل ، چې د اوبو کچه ورځ تر بلې کښته روانه وه ، چې د کليوالوسيمو پر اقتصاد يې خورا بده اغيزه شيندله. د افغانستان د جنوب راتلونکی يوازې پر دې ولاړ وچې څنګه يې بايد د اوبو غم خوړل شوی وای.

(USAID) په دې اړه دوه د لايل وړاندې کول.

لومړی: داچې هيچا د اوبو د ستراتېژۍ ښړنی پلان نه درلود. موږ د (USAID) رئيس ګريك بوك ته له يو پلان سره ور وړاندې شوو ، چې په هغه کې د ټول کندهار ولايت د اوبو مطالعه ، په دې اړه د ټولو اداروتر منځ هماهنګي راوستل او د اوبو د ساتنې اوسم استعمال لپاره د عامه ذهنيت د روښانتيا لپاره کمپاين چلول شامل و.

بوك وويل ، موږ هيڅ مطالعې ته پيسې نه ورکوو. موږ بايد لومړی د وړو کوچنيانو ګېډه ور مړه کړو. (USAID) ددې انتظار کوي ، چې د اوبو ستراتيژي به له اسمان څخه ورته راکښته شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دويم مشکل دا و ، چې هيڅ لوی بسپنه ور کوونکي نه په دې اړه فکر کاو او نه يې فنډ ورکاو. که اوبه وچېږي نو طبيعي خبره ده چې دداخلي بې ځايه شوو کسانو شمېر به ور سره ډېرېږي. ځينې کسان به ښارونو ته کډه کوي او ځينې خو به يې ښخي د هيواد پرېښودلو ته اړشي.

البته دا پروسه لا له وړاندې پيل شوې وه.

د همدې کار لپاره موږ د امريکا د اردو هايدرولوجيست ښېن هستېن او د هغه د ملکي چارو ټيم ته مراجعه وکړه. هستېن بيا موږ ته د اوبو په اړه د خپلې تجربې له مخې هغه زړې بابولالې پيل کړې. ده وويل چې جنراتورونه ژر ژر خرابېږي ، شتمنې کورنۍ هغه چې د تېلو پيسې ، ورکوي ټولې اوبه په خپل انحصار کې اخلي ، کوچنيان دساعت تېرولو لپاره پيپ ته لاندې ډېرې ور اچوي او سمرسيبل پمپونه يې ور ماتوي. ده وويل چې کېدای شي موږ يو لاسي پمپ ورته جوړ کړو ، البته دابه يوازې د ښځاك لپاره وي نه د کرنې چې يوازې به انسانان له مرگ څخه وژغوري او دا کار په يو څو زره ډالره هم کېدای شي.

ما وويل که داسې وي نو بيا خو دومره پيسې موږ د خپل کنکورډ له پيسو څخه هم ورکولای شو چې ددې کار د تر سره کولو لپاره بيا د چا مرستې ته اړتيا نه لرو.

موږ اکو کلاچي ته سفر وکړ ، هلته تر تګ وروسته زياتو کسانو خپلې ځمکې موږ ته د ښا کېندلو لپاره په واك کې راکړې ، خو موږ د وياليې پر غاړه ، يو ځای چې هغه ځای مخکې هم د کليوالو گودر و وټاکه. موږ د برمې کېندنې يو ماشين چې دووکسانو کار پرې کاوو کرايه کړ. هغوی کار پيل کړ او موږ به هم هره ورځ د کار څارلو او د مزدورانو د تشويقولو لپاره هلته ورتلو.

کار نژدې بشپړ شوی و ، چې يوه ورځ مې ددې کلي په منځ کې او د همدې کلي د خان له سرای څخه سل متره لرې يو سپين موټر ولېد. موږ ددغه موټر چلوونکي ته ورغلو ، پر دغه موټر ځايي قراردادي نښان لګول شوی و. په موټر کې ناست کس راته وويل چې د هغو دوو نورو ښاگانو پيسې څوك ورکوي ځکه چې امريکايي ځواکونو يې له ورکړې څخه ډډه وکړه. ما هغوی ته وويل ، دا څنګه امکان لري چې دوی دې د پيسو له ورکړې څخه انکار وکړي ځکه چې دوی زموږ سره په دې اړه کلکه ژمنه وکړه. ما هغه ته وويل چې ايا ښن هستېن موږ ته ونه ويل چې د ملکي چارو اداره نورو ښاگانو ته پيسې نه ورکوي ، خو موږ به يوازې ستاسو ښاگان وکينو.

موږ د همدې خبرې د سپيناوي لپاره د امريکا په اډه کې د ملکي چارو د ټيم د ليدلو لپاره ورغلو او د هغوی مخ ته مو دغه ستونزه کېښېښوده. د ملکي چارو افسرانو قسم وکړ ،که دوی په اکو کلاچي کې ښا وکيندي.

موږ ډېر حيران شوو چې دا هر څه ولې داسې په بل مخ اوړي؟

د موضوع د لاروښانتيا لپاره مو بايد ښېن هستېن ته انتظار ايستلی وای تر څو هغه په متحدو ايالتونو کې له رخصتۍ تېرولو وروسته بېرته افغانستان ته راګرځېدلی وای. دهغو ښاگانو کار هم هغسې پاته شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه کلي چې دوه ځاګان يې لرل په اکوکلاچي کې وو خو د ملکي چارو ټيم ته په بل نامه ور ښودل شوي وو. د تجربې له مخې له پېړيو راهيسې زموږ کليوال کوښښ کوي ، چې د بهرنيانو دېرې مالي مرستې تر لاسه کړي.

خو فکر مه خرابوئ ځکه چې اکو کلاچي اوس درې ځاګان لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# له شیرزي سره ناسته
## (اکتوبر ۲۰۰۲)

ماغوښتل چې د اکو کلاچي د ورانو کورونو د بیارغونې لپاره په خپلو لاسونو یو څه وکړم. د همدې کار د تر سره لپاره په خپله لاس په کار شوم او اکو کلاچي کې د نړېدلو کورونو له ورانیو څخه مې د روغو خښتو په را ایستلو پیل وکړ. ددې کار د تر سره کولو لپاره مې د کوچنیانو یوې ډلې ته ور نارې کړل. زما د ږغ له اوریدو وروسته یو کوچنی په خندانه څیره زما خواته راروان و. ده ماته خپل لاسونه په داسې حال کې وغوړول چې د بولدوزر غوندې ږغونه یې کول او ما هم دی په دو خښتو بار کړ.



همدا زموږ د خپلو نړیدلو کورونو د بیارغونې د کار پیل وو. له دې کار سره کوچنیانو خورا دلچسپي لرله، چې حتی حاجي بابا لا چې ددې کلي تر ټولو سپین ږیری کس و په همدې کار کې د ګډون لپاره راودانګل. ددې ترڅنګ د کلي ځوانانو هم له دې کار سره پوره مینه لرله. په دې سره زموږ کار خورا په ښه توګه پر مخ روان وو.

موږ ډیر ژر د کورونو د بنسټ ایښودلو او د چریو کار پای ته ورساوه خو یوه ورځ د کرزي د کورنۍ انجنیر عبدالله چې اوس زما مرستیال هم و زما دفتر ته راغی. ده وویل د اکو کلاچي لپاره له ډیرو ستونزو سره مخامخ یو. دی یواځینی کس و چې د افغانستان له پنځه ویشت کلنې جګړې څخه روغ پاته شوی و . نوموړی ډیر خوږ ژبی او د ښه طنزیه طبعې خاوند وو. خو داخل یې د غوسې له امله رنګ تغیر کړی و او خپلو افغانانو ته یې سپکې سپورې ویلې. ده ویل چې یو اټوم بم د کندهار ، فراه ، وردګو او هزاره ګانو لپاره یوازینۍ د حل لاره ده. ده زیاته کړه: که چېرې ما واک لرلای نو همداسې به مې کړي وای.

زه وروسته په دې هم خبره شوم چې ده د اکو کلاچي اوسیدونکو ته ویلي و، چې تاسو به هیڅکله د نویو کورونو څښتنان نه شئ.

انجنیر عبدالله به همیشه زموږ له ټولنې (ACS) څخه د پیسو بیلونه غلا کول ،خو ده به تل په خپلو خبرو کې هڅېوال او ځایي قراردادیان د درغلۍ له کبله ملامتول.

دا د سپټمبر میاشت وه، چې انجنیر راته وویل: موږ د اکو کلاچي لپاره د ډبرو په تر لاسه کولو کې له ستونزې سره لاس او ګریوان یو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما وپوښتل څه ډول ستونزه ؟

ده وویل ، چې د شيرزي کسانو زموږ ترکتوران ودرول ، موږ ته يې وويل چې دا دېرې زموږ پخپله په کار دي. زه ډېره حيرانه شوم چې زه څه کوم او دوی څه کوي ؟

له ده څخه مې وپوښتل چې دوی ډبرو ته په خپله څنګه اړتيا لري ؟

عبدالله وويل چې د افغانستان په بيارغونه کې داسې ستونزې شته ، همدا لامل دی چې ددغه هيواد بيارغونه پر مخ نه ځي. ما خپله چوکۍ شاته پورې وهله ، ده ته مې وويل درځه چې ځو . موږ په تور تويوټا لنډکروزر کې سپاره شو. دغه موټر احمد ولي کرزي زموږ ټولنې ته ورکړی و او د ملا عمر هغې تورې غوا ته ورته و چې زموږ د کور تر شا ساتل کېدله.

موږ خپل موټر پر هغه سړك ورسيخ کړ ، چې د هغه غره تر څنګ تيرېږي ، چې موږ اکو کلاچي ته ډبرې ځنې وړلې. زه شايد لومړنۍ ښځه وم ، چې په دغه سيمه کې د موټر جلو ته ناسته وم. موږ هغه غره ته په رارسيدلو سره چې موږ ډبرې ځنې وړلې له پاخه سړك څخه د غره پر لور ور وګرځيدلو.

هلته له ور رسيدو سره سم موږ د همدې کان د ساتونکي زوی ته ور نارې کړې ، چې ور سره سم دلته د ډبرو ټول کار کوونکي پر موږ راچاپير شول.په دوی کې يوه وويل چې دلته يو ډير بد سړی له کلاشينکوف سره راغی ، موږ ته يې وويل چې هيچا ته له دې ځای څخه د ډبرو د وړلو اجازه نشته او که هر چاوړي وي ، بيا حق د شکايت نه لري. کله چې موږ ددغه بد سړي په اړه پلټنه وکړه هغه د والي شيرزي د ورور رازق شيرزي نفر راووت.

موږ په موټر کې سپاره شو تر څو ددي کان له مشر سره چې د عمومي سړك پر غاړه يې د تيلو له پمپ سره ژوند کاوه ووينو. ددې کان مشر راته وويل چې شيرزی دلته د سيمنټو فابريکه جوړوي. د همدې کار لپاره خو دوی پنجابي کار کوونکي هم له پاکستان څخه راغوښتني دي. دغه کارګر چې په ځايي ژبه نه شي رغيدلای همدلته په کار بوخت وو.

ده زياته کړه ، چې شيرزي له امريکايانو سره د دوی د اډې لپاره د زړګونو ټنو ريګ او جغل قرارداد کړی دی ، له همدې کبله شيرزی دلته د ريګريشن فابريکه جوړوي. که چېرې شيرزی د هغوی اړتياوې ور پوره نکړې نو بيا دې يو تراکتور جغل له بل چا څخه په اته ډالره رانيسي او پر امريکايانو يې تر سلو ډالرو په لوړه بيه خرڅوي. له همدې کبله شيرزي امر کړی دی چې له دې ځای څخه دې بې له ميده شوي جغل څخه بل هيڅ شی نه خرڅيږي او هيچا ته اجازه نشته چې له دې ځای څخه ډبرې يو سي.

په داسې حال کې چې د افغانستان بيارغونه د ټولو لومړيتوبونو په سرکې راځي ، خو حکومت د هغو ټولو اومو موادو پر زيرمو بنديز لګولی و چې د ودانيو په بنسټ ايښودلو کې ګټه ترې اخيستل کېږي. دغه کس په خواشيني غږ راته وويل چې په اسلام کې غرونه د هر چا ملکېت دي ، هيڅوك ددي حق نه لري چې ووايي دا زما شخصي ملکيت دی. ده هغه ليك هم راښکاره کړ ، چې په کابل کې يې له وزارت څخه راوړي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دغو ورځو کې هغه زړه تجربه يو ځل بيا را ژوندۍ شوې وه ، چې يو کس به له بل کس څخه د پيسو شکولو لپاره تر سره کوله ، له همدې کبله خو شيرزی هندوستان ته د خپل ولايت لپاره د مرستې د راټولولو لپاره هم تللی وو.

د کان مشر وويل: که غواړئ چې له دې ځای څخه ډېرې يوسئ ، بې له دې چې تاسو د والي شخصي مکتوب رانه وړئ بله هيڅ چاره نشته .

ددې خبرې تر اوريدو وروسته ما عبدالله ته وويل درځه چې له شيرزي سره ووينو. د ولايت د مقام لرغونې ودانۍ چې د احمد شاه دراني لخوا جوړه شوې وه اوس د شيرزي په امر تر بيارغونې لاندې وه. د ولايت اوسنی لندمهاله مقام په نوي ښار کې له زاړه ښار څخه څو سوه متره لرې موقعيت درلود. دغه ودانۍ لوړ کنکريټي ديوالونه لري او په منځ کې يې يو پارك دی. کله چې موږ هلته ورسيدو ، والي تر غرمې وروسته خوب کاوه.

موږ په هغه ورځ ولاړو او په صبا يې راغلو. له دې کبله چې د شيرزي کسانو زه د کندهار د نيونې له ورځې څخه پيژندلم تر روغبړ وروسته يې موږ ته پلاستيکي چوکۍ تر سوځوونکي لمر لاندې کيښودلې. ما له دوی څخه هيله وکړه که تاسو يو ځل د والي پوښتنه وکړئ چې دلته دی که نه او يا مصروف دی که وزګار. زما ددې خبرې په اوريدو سره يو کس ولاړ شو او د ديوال تر شا ورك شو.

تر دې څو شيبې وروسته څو موټرونه ، چې له جنګياليو ډك و راښکاره شول چې دلته ناستو کسانو يې په ليدلو سره پر موټر ګڼه ګوڼه جوړه کړه ، خو جنګياليو ډير ژر هغوی د ټوپك په څوکه تيت او پرك کړل.

دغو جنګياليو له نوموړو کسانو سره داسې سلوك وکړ لکه افغانان چې يې له خپلو بې ژبو ځارويو سره کوي. دا په افغانستان کې د واکدارۍ تر ټولو ښه لاره ده. په افغانستان کې واك له يوه کس سره وي. هلته نه اصول شته اونه هم قانون ، بلکې هر څه د افرادو په لاس کې وي.

د والي له دفتر ه د باندي ناست کسان په بورقو کې مسکنې ښځې او سپين ږيري کسان و ، چې د والي ځوانو ساتونکو ورته سپکې سپورې ويلې او سره پورې وهل يې. د دغه زياتي د مخنيوي په اړه هيڅ داسې اصول نه و ، چې خلکو دې د خپل حق غوښتنه کړې وای او نه هم مرکزي حکومت ددغې تشې په ډکولو کې کوم اقدام کاوه.

بالاخره موږ ميلمنو يعنې سرو امريکايانو ته د امتياز په توګه دننه د ور تګ اجازه راکړل شوه. موږ د والي د ياور دفتر ته رهنمايي کړل شو ، هلته تر کيناستو وروسته يوه سپين ږيري سړي ياور ته وويل چې لطفا زما اپيم راکړئ . ده په جواب کې ورته وويل چې د اپيمو کار وبار خو غير قانوني دی نو ته د کومو اصولو له مخې د اپيمو د بيرته تر لاسه کولو غوښتنه کوې ؟

سپين ږيري ورته وويل: دا څنګه قانون دی چې زما لپاره شته او د حاجي عبدالله لپاره بيا نشته ؟

حاجي عبدالله په کندهار کې يو لوی سوداګر دی ، چې په کندهار کې په قاچاقبر سره پيژندل کيږي. نوموړی ددې تر څنګ د صرافي ، جايدادونو د رانيولو او خرڅولو کار وبار هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي. پر همدې مهال حاجي عبدالله له والي شيرزي سره په مجلس کې و چې ښايي د غرمې ډوډۍ يې هم له ده سره خوړله. د همدې خبرو پر مهال د دې ځای سمبالوونکو ابرکنډېشنر خونې ته د غرمې د ډوډۍ د خوراکي توکو د لوښو راوړل پيل کړل. موږ ته وويل شول چې له موږ سره د غرمې ډوډۍ وخورئ او که څوك ډوډۍ نه خوري ، نو بهر دې په پارك کې انتظار وباسي. موږ خونه پريښوده بهر راووتلو. دغه چمن هغو خلکو چې والي ته د ليدلو لپاره راغلي و پر سر اخيستی و. ما له ځان سره فکر وکړ ، چې يوه داسې کلتور ته ور ننوتې يم چې د وخت هيڅ خيال نه ساتي.

د غرمې تر ډوډۍ وروسته د شيرزي ميلمانه د حاجي عبدالله په مشرۍ بهر راووتل. نوموړی زموږ پر لور راروان و چې هر قدم يې په ډېر ناز او نخرو پورته کاوه.

تر دې وروسته موږ ته له شيرزي سره د ليدلو اجازه راکړل شوه. شيرزي خپلې محلي جامې اوپگړۍ په غربي جامو بدلې کړې وې او د هغه ټپ نښې نښانې يې لا تر اوسه په سر کې و ، چې کله ولسمشر کرزی کندهار ته د خپل ورور احمد ولي د واده لپاره راغلی و ، د شيرزي د يوه شخصي باډيګارډ لخوا پرې مرګونی بريد وشو او شيرزی د ولسمشر د ساتنې پر مهال ژوبل شو.

ددغې پيښې ښېړنې لا تر اوسه له موږ څخه پټې ساتل شوې دي. تر دوستانه روغبړ وروسته ما شيرزي ته د ډېرو مسئله ور ياده کړه او په دې اړه مې ورته ډېر معلومات ورکړل. ما وويل چې د کندهار د خلکو لومړی هدف ددې وروستيو بمباريو د ورانيو بيرته جوړول دي. ستاسو بايد په ياد وي چې اکو کلاچي په دغه لاره کې لومړۍ پروژه ده.

شيرزي ماته په دوستانه لهجه وويل: ګوره موږ دلته د سيمنټو فابريکه جوړوو ، له همدې کبله نو بايد تاسو له دې ځای څخه ډېرې يو نه سئ. وروسته يې وخندل او بيا يې راته وويل: غواړم پدې اړه تاسو ته يوه مشوره درکړم ، هغه دا چې تاسو بايد د کورونو بنسټونه په خښتو او سيمنټو کښېږدئ ، ځکه چې دا تاسو ته تر ډېرو ډېر ارزانه تماميږي.

ما ورته وويل چې ما له کليوالو سره ژمنه کړې ، چې زه به مو د کورونو بنسټونه هغسې ږدم لکه څنګه چې مخکې وو. مخکې دغه بنسټونه په ډبرو راپورته شوي و ، له همدې کبله زه ډبرو ته اړتيا لرم. خو تر دې مهاله لا والي دا نه منله. په پای کې موږ پر دې راضي شوو ، چې صبا پر اتو بجو به دده د دفتر يو پلاوی له موږ سره ځي ، تر څو هلته موږ ته د ډبرو يوه بله منبع را پيدا کړي.

ما ورته وويل: ښاغلې ما خو تر اوسه تاسو ته د هغې پيښې په اړه څه ونه ويل کوم چې يوه اوونۍ وړاندې تاسو ته پيښه شوه. زما تر خبرو وروسته والي ماته په ويروونکې توګه وکتل. تر دا مهاله لا د والي شيرزي سر په سپينه پټۍ تړلی وو.

په دا صبا د ولايت د مقام په دروازه کې د سرتيرو نظر زموږ په اړه ډېر بدل شوی وو. دوی موږ ته د ننه د ورتګ اجازه نه راکوله ، ما دوی ته وويل چې پرون موږ له شيرزي سره وليدل. په دوی کې يوه وويل: پرون له پرون سره ولاړ. ما دوی ته وويل چې نن هم موږ د هغې تيرې ورځې د مسئلې په تعقيب دلته راغلي يو ، خو تاسو پر موږ ناوخته کوئ.

يوازې د ولايت مقام ته ورننوتلو پوره يو نيم ساعت وخت ونيوه. د شيرزي د دفتر مسئول چې تيره ورځ زموږ په غونډه کې حاضر و په خپل دفتر کې ناست وو. نوموړي د نن د اتو بجو له

(c) ketabton.com: The Digital Library


مجلس څخه بالکل ناخبري وښوده. ده زما په اړه بې پروايي ښودله ، کله به يې مخ خپلو کار کوونکو ته ور واړاوه او کله به يې ځان په ټيلفون مصروف کړ ، په پای کې يې خپل بکس راواخيست او د دفتر د پريښودلو په غرض د هغه په منظم کولو بوخت شو.

ددې کار په ليدلو سره ما پر ده يوه مسخره هم وکړه. کله چې دی له خپل ميز څخه راولاړ شو او له دفتر څخه ووته ، زه يې په دروازه کې مخې ته ودريدم او د وتلو لار مې ورته بنده کړه. ما ورته وويل: تر هغه به دې پرېنږدم چې له ما سره د ډبرو مسئله حل نه کړې. د نورو چارواکو په شان ده هم مخ بل لور ته واړاوه او يوه کس ته يې د يو مهم کار د تر سره کولو امر وکړ. ما دده لاره په پوره توګه بنده کړې وه او بله د وتلو لاره هم نه وه. دی بالاخره دې ته اړشو ، چې له ما سره يوځه وکړي. ده زه د يو بل چارواکي دفتر ته رهنمايي کړم ، دا بيا دده د مشر دفتر وو. دغه دفتر ته په ننوتلو سره زموږ دومره درناوی وشو چې ما تر اوسه بل چېرې نه و ليدلی. دغه کس سمدستي ټيلفون ته لاس کړ او په ښار کې دننه يې د کانو او صنايعو د رئيس د ټيلفون نمره دايره کړه.

د کانو او صنايعو له رئيس سره تر خبرو وروسته يې موږ ته وويل ، چې تاسو بايد له ده سره ووينئ. د کانو او صنايعو رياست د ښار پر عمومي سړک د محمد انور له مرکز سره نژدې موقعيت درلود. موږ د رئيس دفتر ته ورغلو تر روغبړ وروسته زه نوموړي ته مخامخ کښيناستلم. ده هم د نورو چارواکو په شان افغاني جامې په غربي يونيفورم بدلې کړې وې.

ما ده ته وويل: موږ غواړو دغه کلی بيا ورغوو ، چې ژمی هم راروان دی او خلك له موږ څخه خپل کورونه غواړي. که لطفا موږ ته يو ځای را په نښه کړې چې موږ له هغه ځای څخه ډبرې يو سو. ده وويل: تر څو چې ما په خپله هغه ځای نه وي ليدلی زه تصميم نه شم نيولای. ما وويل چې داسې ده نو درځئ چې ځو. موږ په موټر کې سپاره او د هغه ځای پر لوري روان شولو.

له عمومي سړك نه له ګرځيدو سره سم مو زموږ ښي لوري ته دځلورو په شا وخوا کې تراکتوران وليدل ، چې له همدې ځای څخه يې ډبرې ليږدولې. رئيس موږ ته د دريدو امر وکړ. ده موږ ته وويل: دا خلك وګوره چې د قانون هيڅ خيال نه ساتي. کله چې يو تراکتور موږ ته رانژدې شو ډرايور ته يې د درولو امر وکړ.

ده ډرايور ته وويل: دا ډبرې دې له کوم ځای څخه راوړې ؟

ډرايور هغه غره ته اشاره وکړه.

رئيس ورته وويل: څنګه هلته ورغلې ؟

ډرايور خبرې نه کولې.

ده وويل: ايا هلته سرتيري نه وو ؟

ډرايور وويل: وه خو هغوی پيسې غواړي.

رئيس ورته وويل: په راتلونکي کې بايد عسکرو ته پيسې ورنکړئ ، له دې خبرې وروسته نوموړي ماته مخ راواړوه او ويې ويل: که چېرې موږ يوه کس ته د ډبرو وړلو اجازه ورکړه ، صبا به هر يو د همدې کار کولو ته راودانګي.

قانون ، قانون دی. موږ دې ډبرو ته د خپل کريشر لپاره اړتيا لرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ د ډبرو کريشر ؟

ما ورته وويل: تاسو دا ټولو ډبرو ته د ډبرو د کريشر لپاره اړتيا لرئ؟

ددې خبرې تر اوريدو وروسته نوموړی موټر ته وخوت ، ما فکر وکړ ، چې چانس مې له لاسه ورکړ. ما ورته وويل چې د همدې لپاره موږ ته والي شيرزي اجازه راکړه ، چې زموږ له ملکري ځخه چې د همدې ځای مشر دی ډبرې يو سئ.

دا درواغ و ، خو ما بايد يو څه کړي وای.

ده وويل چې داسې ده نو بيا له همدې ځای مشر راضي کړئ. ما ورته وويل چې هغه له موږ سره هيڅ ستونزه نه لري او هغه پر موږ د ډبرو خرڅولو ته تيار دی.

خو اوس دلته ټول واک له رازق شيرزي او د هغه له کار کوونکو سره دی.

رئيس هغه مسئول کس ته زموږ د دفتر تجارتي کارډونه ور کړل. ده زياته کړه: که هر تراکتور چلوونکي دغه کارډ له ځان سره درلود ، هغه ته د ډبرو وړلو اجازه ورکوئ. کله چې رازق شيرزی خبر شو ، و يلي يې و چې زه هيڅ رئيس نه پيژنم. په دا صبا چې زموږ تراکتور له ډبرو ډک و او رازق شيرزی پرې ورغلی و ، چلوونکي ته يې په غوسه ويلي و ، که څوک د گل اغا ليك هم له ځان سره ولري لا به يوه دانه ډبره له دغه ځاي څخه يو نه سي.

خو دا هسې يوه پټکه وه. په پای کې موږ ډبرې تر لاسه کړې او د اکو کلاچي د هغه سپين ږيري حاجي بابا سرای چې هميشه يې زموږ پر کارونو نيوکې کولې ، بالاخره ورغول شو. نوموړي دا نوی سرای خورا خوښاوه. د راروان ژمي تر رارسيدو وړاندې چې په لومړي ځل تر شپږو کلو وروسته باران پکې واوريده ، مسجد او د همدې کلي ټول هغه کورونه چې په امريکايي بمباريو کې وران شوي و ، ټول ورغول شول.

ټول کليوال ډير خوښ وو.

د کانو او صنايعو د رياست هغه استازی ، چې موږ ته يې ډبرې راکړې څو اوونۍ په زندان کې وو. والي شيرزي پاکستان ته د تگ پرمهال د تيلو هغه پمپ ته له رارسيدو سره سم چې هغه استازی په کې اوسيده ، خپل کاروان ودراوه او سرتيرو ته يې وويل چې هغه استازی نور له دغه ځاي څخه وشړي ، خو خوشبختانه چې پر همدې مهال له هغه ځای څخه د ښښې د نړيوالې ټولنې يو پلاوی تيريده.

دوی به په شخصي زندانونو کې د بنديانو د وضعيت په اړ ه خورا سختې پوښتنې کولې. موږ هم د دوی په ليست کې د هغه کس نوم ور اضافه کړ ، چې والي وهلی او بيا يې له هغه ځای څخه شړلی وو. که څه هم له هغه سره په زندان کې بد چلند نه و شوی ، خو بيا هم دا د ټولو قوانينو خلاف کار وو.

د ښښې د نړيوالې ټولنې ډله زموږ ځای ته راغله ، ما له هغوی څخه په کندهار کې د بنديانو وضعيت وپوښته.

ددې ډلې مشر راته وويل چې د تمې خلاف په کندهار کې حالت خورا ډير ښه دی. ده زياته کړه: زما ټيم خورا گټور ملاقات درلود. په نورو ښارونو کې موږ ته هيڅ شی هم په لاس نه راځي. هر

(c) ketabton.com: The Digital Library



چېرې چوپه چوپتیا وي ، خو ددې ځای امنیه قوماندان خورا حیرانوونکی دی او له موږ سره یې پوره همکاري وکړه.

زموږ په وړاندې یې د خپل ټول ډیپارټمنټ ټولې دروازې پرانیستلې. ده په ریښتینې توګه موږ ته وویل چې زه له خورا لوېې ستونزې سره مخامخ یم او هغه دا چې زما ټول ملکري جنګیالي دي ، نه مسلکي پولیس. همدا ډول ده زیاته کړه ، چې زه پوهیږم دلته به له بشري حقونو څخه تیری شوی وي ، خو زه په دې لاره کې ستاسو مرستې ته اړتیا لرم. ده وویل چې ما دا ډول انسان تر اوسه په افغانستان کې نه و لیدلی.

دا کسان داکرم په اړه رغېدل.

دې هر څه زه دې ته اړه کړم چې نوره نو خپله بې باوري پر دغه کس لرې وغورځوم. د اکو کلاچي مسئلې پر ما او زموږ پر ټولنې (ACS) بې اغیزې نه وې.زموږ دنده په پالیسي او عمل دواړو کې ګډون لرل و خو دا ډیره ګرانه وه ، چې د خلکو پوښتنو ته دې سړی ځواب ووایي ، چې پوښتل به یې تاسو دلته څه کوئ او د راتلونکې لپاره کوم پلان لرئ؟

دغو ساده پوښتنو ته قناعت ببښونکی ځواب په اسانۍ سره نه تر لاسه کېد.

له کومې ورځې څخه چې زه کندهار ته راغلې وم ، له همغې ورځې راهیسې له ټوپکسالارۍ سره لاس او ګریوان وم. زما لپاره دا ډیره ګرانه وه چې په دغسې یوه حالت کې ژوند تیر کړم ، بې له دې چې له ولایتي ادارې سره خپلې اړیکې سمې کړم او له همدې لارې دوی د خلکو خدمت ته راضي کړم.

نورو غیر دولتي ټولنو او نړیوالو ادارو هم د همدې میتود له لارې خپل کارونه پر مخ بېول. یو څو نړیوالو لوبغاړو لکه (USAID) د افغانستان سیاسي چوکاټ په نظر کې نیوه ، چې دا په خپل ځان کې لویه تېروتنه وه.

دوی ویل چې زموږ د کارونو موخه د افغان حکومت روزل ، ملاتړ او هغه ته وده ورکول دي ، خو د وزارتونو په شمول ټولې ولایتي ادارې د هیڅ بنسټیزو اصولو پر اساس منځ ته نه وې راغلې.

د لویدیز سیاسي کلتور له مخې موږ باید همداسې فکر کړی وای. د تیرو دریو او څلورو پیړیو په لړ کې موږ غربیان خورا خواري کښ ، اصولو ته پابنده او د ظلم او استبداد په وړاندې خورا حساس روزل شوي یو. تاریخ دا ښودلې ده چې لویدیزوال د قانون خورا درناوی کوي او ورته په درنه سترګه ګوري او که کوم ځای قانون ته شاړول شوې وي ، هغه به هم په فردي توګه وي نه په ټولیز ډول. په ټولیزه توګه د قانون د نه درناوي پېښې به په لویدیزوالو کې ډېرې لږې ولیدل شي. په لویدیز کې له قانون نه د سرغړونې یو ښکاره بېلګه د امریکا د متحدو ایالتونو د ټولټاکنو مسئله ده چې د یو څه جنجال له رامنځ ته کېدو وروسته سترې محکمې ته خبره ولاړه او هلته هر څه سم شول.

په افغانستان کې لویدیز چارواکي د خپلو کاري چوکاټونو په دامونو کې راګیر دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دابه مې د هر چا له خولې اوريدل چې ويل به يې: موږ دلته د افغان حکومت د ملاتړ لپاره راغلي يو. ګل اغا والي دی نو موږ يې بايد ملاتړ وکړو. خو افغانستان لا تر اوسه هغه پړاو ته نه و رسيدلی. په افغانستان کې وفاداري او تابعيت فرد ته وي ، نه حکومت ته .

په دغسې يوه سيستم کې نو والي شيرزی له نړيوال ملاتړ څخه برخمن وو. تر دې نامه لاندې چې دی د افغانستان د حکومت استازی دی ، ټول لويديز مرسته کوونکي يې پر ځان را مات کړي و او د هغوی په مرسته يې خپل شخصي ځواک جوړ کړی و. دا هغه څه و چې د لويديزوالو له سترګو څخه پټ و. شيرزي هم د خپل ولايت پيسې او هم يې له نړيوالو مرسته کوونکو څخه پيسې پټولې. په بل عبارت ويلای شو ، د کوم هدف لپاره چې دوی پيسې ورکولې هغه د هغه هدف پر ضد مصرفېدلې.

هر وخت چې ما دغه موضوع له امريکايي چارواکو سره راپورته کړې ده ، هغوی به ويل چې دا يوه اړتيا ده.

نو چاره څه ده ؟

دوی به ويل چې موږ ددې واک نه لرو چې ووايو پلانی دې پر دغې يا هغې څوکۍ وټاکل شي. دا ولسمشر کرزی دی چې ګل اغا يې دلته ټاکلی دی ، خو دا يوازې يوه بهانه وه. واشنګټن د افغان چارواکو په ټاکلو کې تر ولسمشر کرزي زيات واک درلود. کرزي په خپل سر څوک پر کومه دنده نشوای ټاکلای.

د شيرزي په مسئله کې تر کومه ځايه چې زه پوهيږم دی ولسمشر کرزي نه و ټاکلی. ولسمشر کرزي ملا نقيب دهغه پر ځای ټاکلی وو. دا امريکا وه ، چې د سپيشل فورس(ځانګړو ځواکونو) په واسطه يې د ولسمشر کرزي هغه پرېکړه شاته وغورځوله چې ملا نقيب يې ټاکلی وو.

يوه بله مسئله چې ما غوښتل د امريکايي او د ملګرو ملتونو د چارواکو سر په خلاص کړم ، هغه د دوی لخوا شيرزي ته د سپينو چېکونو امضا کول وو.

په هغو بې شميره غونډو کې چې ما به له عادي کندهاريانو سره کولې ، دوی به ويل چې دلته د امريکايانو حضور د دريو موخو لپاره دی لکه امنيت ، بيارغونه او په حکومت کې د وړتيا پيدا کول.

دوی ويل چې زموږ ټول لوستي کسان د زور واکو لخوا له حکومتي ادارو څخه لرې پاتې شوي دي چې هغوی اوس د خپل ژوند د تامين لپاره په محلي انجوګانو کې کار کولو ته مخه کړې ده.

دغه کسان د سرو لښکرو د اشغال پر مهال د بې شمېره پيسو د تر لاسه کولو له کبله خورا ډير ځواکمن شوي دي. نور نو هغوی په هغه سرطان اوښتي دي چې په سمه تر کنترول لاندې نه شي راتلای ، خو کله چې طالبان ولاړل ، هغوی بيرته ځواک تر لاسه کړ. څپل شويو کندهاريانو يوازې بهرنيانو ته له دوی څخه د ژغورنې هيله لرله.

دوی موږ ليدلو چې موږ ددوی تر خپلو هيوادوالو باوجدانه ، روڼ اندي او خواري کښه يو. زه په دې باور يم چې تر يوڅه کچې پورې موږ کولای شو ، چې د هغوی ساتنه وکړو. امريکايي

(c) ketabton.com: The Digital Library


چارواکو کولای شوای چې والي شيرزي ته يې اصول وضع کړي وای او دوی کولای شوای ، چې هغه پيسې چې ده ته يې ورکولې د حکومتي ادارو د پرمختګ لپاره يې لګولې وای. دوی خو بايد په دې پوه شوي وای چې هغه پيسې چې موږ يې ده ته د بې وزلۍ د مخنيوي لپاره ورکوو تولې دده پر کورنۍ او قوميانو لګول کېږي.

هسې خو يې بايد د شتمنيو د سم استعمال لپاره يو څه کړي وای تر څو ددغې پروسې څخه ټول کسان برخمن شوي وای. دوی خو بايد دده شخصي مليشه بې وسلې کړې وای. دوی خو بايد د نورو ټولنو مشران هم رابللي وای او د هغوی نظرونو ته يې غوږ نيولی وای.

په بل عبارت که چېري ددې اړتياوای چې موږ بايد له والي شيرزي سره کړي واي ، نو لږ تر لږه هغه خو مو بايد د کارونو د ښه سمون لپاره يو څه ټيله کړی وای.

د اکو کلاچي مسئله ددې هر څه يو ښه مثال و او له دې څخه بايد موږ درس اخيستی وای. ما ددغې مسئلې په اړ ه ډير څه وليکل. ما دغه مسئله له امريکايي چارواکو سره او په راډيويي مرکو کې يو مثال ګرځولې وه. ما له دې څخه ژونالستان خبر کړل او هغوی په دې اړه ډير څه وليکل. له دې هر څه سره سره بيا هم د کانو او صنايعو هغه سپين ږيری او بيچاره استازی په زندان کې ژوبل پروت وو.

د اکو کلاچي د مسئلې هره خبره داسې ښکاريدله لکه چې زما او د کندهار د والي تر منځ چې شخصي دښمني وي ، خو خبره د شخصي دښمنۍ نه وه او نه دلته د شخصي دښمنۍ کوم څه ځايېږي.

ما يوازې د ګل اغا پر هغه حکومتي سيستم انتقاد کاوه ، چې ده روان کړی و ، چې دغسې يو سيستم د افغانستان د راتلونکې په خورا ډير زيان تماميده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ضابط اکرم

## (نومبر ۲۰۰۲)

زما او والي تر منځ په ناڅاپي توګه تربګني پيدا شوه. له امنيه قوماندان ضابط اکرم سره مې ډېر ښه اړيکي لرل.اکرم هم زما په خير له والي سره وران و. له والي سره زما او اکرم دښمني له يوه ځای څخه سرچينه اخيسته. يوه ورځ په ۲۰۰۲ز کال کې چې زموږ د ښځو اوونيزه غونډه د پای ته رسيدو په درشل کې وه ، ښځو خپل بيګونه سره ټولول او بورقې يې پر سر سمولې ، چې له دفتره دباندې خپل مخونه پټ کړي.

دغه غونډه د مدني ټولنې په دفتر کې جوړه شوې وه. په دغې غونډه کې يو درجن ښځو ګډون کړی و ، چې اکثره يې وتلې او نورې يې عادي ښځې وې.

يوه يا دوه پکې نالوستې وې خو زموږ هڅه دا وه ، داسې يوه غونډه ولرو ، چې د ټول کندهار د ښځو استازيتوب وکولای شي. په دغو ورځو کې زموږ غونډو ځانګړې اجنداوې نه درلودې ، موږ به د ښځو پر لومړيتوبونو او د لويې جرګې لپاره د ښځينه استازو لپاره د يوه دفتر پر پرانيستلو خبرې کولې. يو ماپښين مې غوښتل چې له پورته منزل څخه لاندې را کوزه شم ، چې مامي جانه راوخته.

زړه وره او احساساتي مامي جانه د لويې جرګې لپاره ښځينه استازې او د ښځو لپاره د يوه کلنيك چلوونکې وه.

دې ويل چې قوماندان صاحب غواړي له تاسو سره ووينې.

قوماندان صاحب ؟

ما فکر وکړ شايد دابه هغه قوماندان يادوي ،چې زه ورسره پيژنم خو راغبرګه يې کړه چې ضابط اکرم يادوم. اته مياشتې وړاندې زما او اکرم تر منځ دده په دفتر کې يو خواشنوونکی مجلس و شو خو داسې هيڅ څه نه و چې دده په وړاندې دې زما نظر بدلون ومومي. تر اوسه هم د ښښنې د نړيوال سازمان د ډلې غړيې غړی (AIT)دده په اړه زما له هغې ستاينې سره موافق و ، چې دوی له ما څخه پوښتلې وو او ماورته ځوابونه ورکړل.

خو د اکرم دغه کار بيخي د تير ايستنې په مانا و. ده بايد د ور بلنې لپاره يو عسکر راليږلی وای ، چې زه يې مخې ته ورغلې وای. دغه کار زما او اکرم تر منځ د ښې ملګرتيا يوه ښکاره بېلګه وه. له بله پلوه زه يوه ښځه وم ، ده نه خو غوښتل چې زه دې دده په ميلمستيا کې ستړې شم.

امنيه قوماندانې چې د ولايت مقام ته نژدې ده تل به پکې ګڼه ګونه وه ، نو ځکه مو د ماښام تر ډوډۍ وروسته زما په کور کې د مجلس لپاره وخت وټاکه.

زما هغه منډې يادېږي چې له چای سره مو د مميزو او جوزو د لوښو د برابرولو لپاره کولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


بالاخره هغه لنډ وخت چې زما او اکرم تر منځ ټاکل شوی و پوره شو ، خو ماته خپل ځان ډیر خیجل ښکارېده ، ځکه ، چې ما د مېلمه پالنې ښه تجربه نه لرله او هر څه مې په غیر منظم ډول برابر کړي وو. له بله پلوه دا هر څه دده له شخصیت ،رتبې او شهرت څخه ډیر کم وو. ما وسله وال خلک او ایس . او. وي زغره لرونکي ګاډي له وسله وال ډرایور سره نه لرل ، چې د کندهار په پیښو کې دې ژوره اغیزه ولرم خو بیا هم دی ما ته راته.

په لومړي ځل دی ما زموږ په کور کې ولید ، چې د ځاي د تنګوالي له کبله یې ویل خداي دې وکړي چې په زحمت مو نکړم.

زه همیشه دده په کور کې په مجلس کولو خوشاله کېدم او ځان به مې هوسا احساساوه. د نوموړي کور په ملکي سیمه کې د امنیه قوماندانۍ شاته د یوه لوي سړک پر غاړه و. د اکرم کوچنۍ لور چې اسما نومیده کله کله به دده پر اوږو سپریده او دی به یې تر ږیرې کشاوه. وروسته به یې کوښښ کاوه ، چې هغه د کوټې پریښودلو ته و هڅوي ، په همدې وخت کې به ما و نکړای شواى ، چې ددغه درانه شخصیت په وړاندې خپله شوخي پټه و ساتم.

ما نوموړی زموږ د خونې په کونج کې کېناوه ، چې په افغاني ډول په افغاني غالیو فرش شوې وه ، ددیوال شا وخواته کوربچې اوارې وې او د تکیې لپاره بالښتونه پرې ایښودل شوي وو.

ما په خپله الماری کې دوه د ژېړو زاړه پاپیونه ایښي وو ، چې هغه تاریخي په ختو پلاستر شوي مسجد ته نژدې مې د دوو ډالرو په ارزښت رانیولي وو. ددغه مسجد څنګ ته به زاړه پلورونکي ناست و او پر خیرنو ټوکرانوبه یې شیان د پلور لپاره غوړولي وه.

زما او دده تر منځ د خبرو پر مهال و پوهیدم چې اکرم څومره ډار شوی دی. ده یوه کېسه راته وکړه ، چې پر ما یې هم ډیره اغیزه وکړه. واقعا دا هر څه ډیر خطرناك و او په دا یو څو ورځو کې په کندهار کې خورا مشکوك شیان پیښیدل.

کېسه داسې وه ، یو کس چې له شیرزي سره یې د ولایت په مقام کې کار کاوه او په اصل کې د اکرم ملګری و ، اکرم ته خبر راوړی و ، چې له پاکستان څخه د وسلو او مهماتو ډك موټرونه راځي او مستقیما د والي په کوټۍ کې خالي کېږي.

اکرم زیاته کړه: یو تیز رفتار موټر له تومانچو او نورو چاودیدونکو توکو ډك شیرزي ته راغی ، کله چې شیرزي دغه توکي ولیدل سمدستي یې وویل: پدې کې یې هغه ښه شیان کوم دي؟ له دغو وسلو څخه ځنې له کندهار څخه بهر د جنګ سیمې ته لیږل کېدل.

شپږ ورځې وړاندې اکرم خپلو کسانو ته دنده سپارلې وه ، چې هر څه وڅاري ، په همدې موده کې دوی د والي له کوټۍ د باندې څو موټرونه ولیدل ، چې د اوبو تر پلاستیکي بو تلونو لاندې په کې کلاشینکوفونه ځای پرځای شوي وو.

دده کسانو زیاته کړه: دغه موټرونه شینډنډ ته ولیږل شول. شینډنډ د کندهار او هرات تر منځ پر غزیدلې لارې پرته ولسوالي ده. شینډنډ سوېل ته د پښتنو او شمال ته د تاجکو تر منځ پوله بلل کېږي ، همدا لامل و ، چې داسیمه د ډیرو خونړیو پیښو شاهده پاتې شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرات د پارسي ژبې کلتور يو مهم مرکز و ، خو د افغانستان له منځ ته راتګ وړاندې دا د ابدالي پښتنو په يوه غښتلي مرکز بدل شو او دامهال يووار بيا د پارسيوانانو تر واك لاندې و.

هرات د غښتلي پارسي ژبي تاجك ټوپکسالار قوماندان اسماعيل خان لخوا اداره کېده.

اسماعيل خان د طالبانو تر نسکوريدو يو کال وړاندې لا د جنوب پښتنو ته ګواښيده. کله چې د کندهار مشرانو په نومبر د ۲۰۰۱ز کال کې له طالبانو سره ددوی د واك د پای ته رسيدو وروستۍ خبرې کولې ، په همدې وخت کې اسماعيل خان په ډيره بې صبرۍ سره ويل ، چې زه کندهار په زور لاندې کوم!

که چېرې اسماعيل خان پر جنوب بريد کړی وای ، دا به د کورنۍ جګړې پيل وای او د جنوب ټول پښتانه به د اسماعيل خان پر ضد راپورته شوي وو.

په دي وروستيو کې په شينډنډ کې د يوه پښتون قوماندان او اسماعيل خان تر منځ څو ځلې جګړې هم شوې وې.(له دغه قوماندان نه ښايي د ليکوالې موخه امان الله نيکزاد وي چې په هرات کې د اسمعيل خان عمده سيال بلل کېده او وروسته په مرموز ډول ووژل شو. ژباړن) اکرم وويل: دا قومي جګړې ته لمن وهل دي ، له همدې کبله د پاکستان حکومت غواړي دغه اور ته لمن ووهي او د همدې لپاره شيرزی د يوې آلې په توګه کاروي. هغه وويل: له همدې امله پاکستان غواړي شيرزی وهڅوي او بيا يې د هرات پښتنو ته د يوه قهرمان په څير راڅرګند کړي. هغه زياته کړه ، پاکستان له دې لارې غواړي افغانستان د نظامي قوت له لارې د امريکا په ياغستان بدل کړي.

ماهم په دې اړه يو څه اوريدلي و ، والي شيرزي په يوه راډيو يې مرکه کې ويلي و ، چې په هرات کې د پښتنو پر بشري حقوقو تيری کېږي. اکرم زما ټولو پوښتنو ته ځواب ووايه.

تر دې يوه ورځ وروسته د اکرم سړی هغه ته يو نوی خبر راوړ. تر دې شپې يوه شپه وړاندې د شپې پر نهو بجو د ولايت په مقام کې نوموړی کس موجود و ، چې د پاکستان د اردو دوه افسران راغلل او شيرزی يې له دې کبله ملامت کړ ، چې د هرات په نيولو کې ډير کرار دی. دغو افسرانو له شيرزي څخه ددغه کار په وړاندې د پرتو ستونزو په اړه پوښتنه وکړه.

شيرزی د پاکستان په لمسونه له هرات سره په شخړه جوړونه کې ډير ورو و ، چې شيرزي يې ملامتي پر دوو کسانو اچوله.

لومړی: شيرزي ويل ، چې کرزی په نوي افغانستان کې د نژادي جګړو هيڅ حوصله نه لري.

دويم: په دې برخه کې بل ستر لامل شيرزي ضابط اکرم په ګوته کاوه. هغه ويل چې اکرم زما په مخ کې خنډونه جوړوي ، هر کله چې زه امنيتي مجلس راوغواړم هغه زما په وړاندې دريږي. دی د هغو قوماندانانو مخه هم نيسي چې زه يې د هرات په وړاندې جګړې ته هڅوم.

پاکستاني افسرانو ورته وويل: ته هم ضابط اکرم ته مشکلات جوړ کړه. اکرم ووژنه.

زه فکر کوم چې په کندهار کې د اکرم د پوليسو او د شيرزي د شخصي مليشو تر منځ شخړې هم له همدې ځايه سر چېنه اخيستله. دغه شخړه د بازار په منځ کې ختين زاړه مسجد ته نژدې

(c) ketabton.com: The Digital Library


پيښه شوې وه. د راکټ په يوه بريد کې يوه کس خپل ژوند له لاسه ورکړ ، خو نوم يې زما په ياد نه دی.

د اکرم له خبرو څخه داسې ښکاريده ،چې نوموړي ته د پاکستان لخوا جدي ګواښ متوجه دی. ما له اکرم څخه وپوښتل که مو خوا نه بديږي زه به ددغې موضوع په اړه يو څه يادښتونه واخلم؟ ما خپله وړه جيبي کتابچه چې د رپوټ جوړونې پر مهال به مې کاروله پرانيسته.

له اکرم څخه مې وپوښتل چې ايا د پاکستان استخباراتي ادارې خو به دلته د جاسوسي لپاره خلك نه وي ګومارلي؟

اکرم د ډيرو کسانو نومونه ياد کړل چې په لاندې ډول دي.

سيد کريم اغا چې د قول اردو په قرارګاه کې اوسيده ، خو اوس په اسلام اباد کې و. ايوب پهلوان چې د پاکستان پر پوله اوسيږي او حاجي نعمت نورزی.

موږ د هغو مليشه يي قوماندانانو په اړه هم خبرې وکړې ، چې په هلمند کې يې د امريکايي ځانګړو ځواکونو (سپيشل فورس) سره يې کار کاوه ، خو په اصل کې د پاکستان د استخباراتي ادارې لخوا استخدام شوي وو. ما له اکرم څخه د هغو شخصي زندانونو په اړه هم وپوښتل ، چې د ولايت د مقام شاته د والي د چرګوني خالد پښتون لخوا جوړ شوي وو.

اکرم د هغوی شتون تائيد کړ او د زندان د دوو مسئولو کسانو نومونه يې هم راوښودل. ده وويل: زه کولای شم ، چې تا له هغو کسانو سره مخامخ کړم ، چې په دغه زندان کې ساتل شوي وو.

دی د هغو پاکستاني جنګياليو په اړه هم وږغيده ، چې د کندهار د هوايي اډې په شا وخوا کې به يې د ورځې د امريکايانو د ساتنې لپاره پوستې ساتلې خو د شپې لخوا به يې د امريکايانو معلومات ټولول او په اډه کې دننه مهم ځايونه به يې په نښه کول.

موږ په تير دوبي کې د کرزي د ممکنه ترور په اړه هم سره وږغيدو. اکرم د ښو څېړنو د نشتوالي له کبله اسويلی وکېښ او زياته يي کړه ، چې ولې د پيښې اصلي شاهد د شيرزي په زندان کې ، چې د کندهار په هوايي ډګر کې دی ، مړ شو؟

کوم انځور چې نوموړي ماته د کندهار په اړه راکړ زه يې ډيره حيرانه کړم. د امريکا په ډالرو شيرزي خپله شخصي مليشه جوړه کړې وه ، چې د پيسو او وسلو له پلوه خورا غښتلې مليشه وه. همدغه مليشه بيا د اکرم د پوليسو په وړاندې جنګيدله.

شيرزي د کندهار ښار شا وخوا امنيتي پوستې جوړولې او بيا به يې خپل ځانګړی ځواك پکې ځای پر ځای کاوه. زه په دې پوهيدم چې د اکرم قانوني پوليس د کندهار ښار يوه کونج ته پورې وهل شوي وو.

پوليسو په ښار کې يوازې پر يو څو سړکونو ګزمې کولې او د يو څو حوزو د ودانيو د اداره کولو واك يې په لاس کې و ، نور په هر ځای کې د شيرزي غله ځای پر ځای شوي وو.

موږ پر دغه شپه ډير مسايل وڅيړل. اکرم زما هغو ټولو پوښتنو ته ځوابونه وويل ، چې زما ذهن ته راتلل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اکرم ساتونکو له څو ساعتونو راهيسې په زرغونو لنډکروزرو ګاډو کې انتظار ايسته. ما او ده وعده سره وکړه چې په اوونۍ کې بايد يو ځل خامخا سره کينو او يا به ټيلفون کې خبرې سره کوو. که ضرورت وي نو ليکونه به هم سره تبادله کوو.

ضابط اکرم په هغو کسانو کې چې ما په افغانستان کې ورسره پيژندل تر ټولو د ښه سياسي فکر خاوند و ، خو متاسفانه چې زما په مخ کې ووژل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نظامي مسايل
## (۲۰۰۲ - ۲۰۰۳)

ضابط اکرم غوښتل په افغانستان کې د امريکا ميشن ته د کره معلوماتو په زور صحيح لورى وټاکي ، مګر امريکايان د دوى د ملګري ګل اغا شېرزي مهار شوي وو. امريکايانو د شېرزي په غوږونو اورېدل او د هغه په سترګو يې ليدل. خو اکرم ددغه حالت د منځه تللو لپاره له ما څخه مرسته غوښتله ، خو ده چې زما په اړه کوم فکر کاو هغه سم نه و. زما او امريکايانو تر منځ اړيکې تصادفي وې نه مسلکي.

خو زما او امريکايي پوځونو تر منځ ذاتي اړيکې بيا بېله خبره ده.

ما نه غوښتل چې امريکايي افسرانو ته د خلکو په منځ کې ورشم. د امريکايانو اډه د کندهار په هوايي ډګر کې ده ، دا ځاى د القاعدې وروستى مرکز و.

اوسپنيزه دروازه ، چې د شېرزي په ابتکار جوړه شوې ده ، مخې ته يې يوه روسي جيټ مېګ ۲۱ ډوله الوتکه چې برګ رنګ ورکړل شوى دى درول شوې ده. د دروازې شاته په مرمرو يو بارك ودان شوى او د دروازې د ساتنې لپاره يې د ساتونکو خونه د ګلف توپ غوندې شکل لري.

دا د شېرزي د کسانو ځاى دى چې د هوايي ډګر د ساتنې دنده ورسپارل شوې ده. دا ځاى د کرزي لخوا شېرزي ته اصلي سوغات دى ، کرزي د طالبانو د حکومت د ړنګيدو په وخت کې شېرزي ته ويلي وو ، چې د هوايي ډګر واك په لاس کې واخلي.

شېرزي د کرزي مخالفت وکړ او غوښتل يې چې د هوايي ډګر تر څنګ ولايت هم ورسره وساتي. ددې دروازې څخه د نيم مايل په واټن کې بله دروازه ده.

د ناجو جګې ونې چې پخوا سيمه پرې پوښلې وه خو اوس د امريکايي سرتېرو لخوا د امنيتي انديښنو له کبله غوڅې شوې وې.

څه چې پاتې وي ، هغو هم د نه پاملرنې له کبله خپل طبعي رنګ له لاسه ورکړى و چې اکثرو يې ځانته نصواري رنګ غوره کړي و خو ځينې بيا ببخي پکې ژيړې شوي وي.

په دې سيمه کې لا تر اوسه امريکايي سمندري ځواکونو په غارونو کې د ځان لپاره استوګن ځايونه جوړ کړي و ، خو د کريسمس په رارسېدو سره سرتېري خيموته تبديل شول. د خيمو فرشونه له تختو څخه جوړ شوي و ، خو اوس په همدې اډه کې ټولې ودانۍ له تختو څخه جوړي شوي دي.

ما هلته د ډېر وخت د لګېدو له کبله هيڅ کله تګ نه خوښاوو. تاسو بايد خپل موټر هلته لرې تم کړى واى. چې د موټرانو لپاره نښه شوى وو. وروسته مو بايد سل متره په پښو تګ کړى واى تر څو هغې اوسپنيزې پنجرې ته رسېدلي واى. په لاره کې رسۍ جارشوې وې او خندونه د سړك دواړو خواوو ته کاږه واږه ايښودل شوي وو ، چې سړى يې کوږ ووږ تګ ته اړ ايسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر دې شاته دويم نمبر دروازه ده. دروازې ته تر رسېدو وروسته د نظامي پوليسو افسر له ۳۰ متره لرې د دريدو امر کوي چې هلته بايد سړ ی ددې لپاره په ليکه کې ودريږي ، چې هغه نظامي افسر يې د پېژندلو په خاطر ښه تر نظر تير کړي.

تر پوره ډاډ وروسته به هغه ډېر کرار د پوره تيار سئ په حال کې ستا خوا ته راروان وو.

هيلمېټ پر سر ، اوږده لستوني نظامي يونيفورم اغوستی ، شل پونده زغره په تن ، جگ پوندي عسکري بوټونه په پښو ، د جابو ډکه چانټه تړلې او M-16 ټوپك به يې په اوږه و.

نوموړي به کارډ چېك کاوو او بيا به بېرته خپل ځای ته ستنېده ، تر څو له هغه نفر سره تماس ونيسي چې ستاسو ورسره کار دی. وروسته بايد تاسو په گرمي ، دوړو او باد کې له يوه ساعت نه تر دريو ساعتونو انتظار ايستلی وای ، تر څو يو کس راغلی وای او تاسو يې ورسره بېولي وای.

دلته زه ډېرو شيانو زوروولم ، چې له هغوی څخه يو يې د ټيلفون زوړ سيستم وو.

ددې هيڅ امکان نه و چې له اډې د باندې دي يو کس اډې ته ټيلفون وکړي ، تر څو ددغه انتظار مخه ونيول شي. هغه انټرنيټي سيستم چې سرتېرو څنې کار اخيسته په کندهار کې نه وو.

يو څو افسرانو زاړه ماډل پند انتن لرونکي ټيلفونونه لرل چې تر ټولو لومړی بايد په صحيح لوري عيار کړای شوي وای. همدا کار دې بايد د خبرو کولو په وخت کې هم تر سره کړی وای.

دا امريکايي شخصي اريډيم ټيلفونونه وو ، چې د ترايا ټيلفون له کارولو سره يې ډېر توپير درلود.

يوازې دانه چې دلته به د رېگو له گونيو او اغزنو تارونو څخه تېريدلو سړی ته فزيکي مشکلات پېښول ، بلکې دوی دغه مشکل د هغو کسانو سره هم لاره ، چې په سيمه کې به يې عمليات تر سره کول.

د ارتباط دغه خراب سيستم نظامي پوليس په دې اړ کړي و ، چې خپل ډېر کسان په دروازه کې و گماري.

دغې ستونزې ته د امريکا حکومت هم پاملرنه نه کوله ، چې په پايله کې ځينو سرتېرو په خپلو شخصي پيسو ټيلفونونه واخيستل.

تر ټولو خراب سيستم لا تر دروازې څو سوه متره اخوا دننه په اډه کې و.

ستاسو په اړه د کره معلوماتو ورکولو لپاره به نظامي پوليسو له هغه درانه نظامي ټيلفون څخه تار راوکښي او بيا به يې په يوه بله اله کې وتاړه ، تر څو ستاسو له راتگ څخه (سوق و اداره (TOC) Tactical Operation Center) خبر کړي.

هغو سرتېرو چې په سوق و اداره کې به يې وظيفه ترسره کوله ، هم همدا شان پروسه تر سره کوله تر څو هغوی بيا ستا په اړه د ټولنيزو چارو څانگې يا بلې هغې څانگې سره تماس ونيسي چې ستاسو به ورسره کار وو.

دغه د ارتباط نيولو پروسه وه چې يوازې به يو نيم ساعت دلته لگېده. دا خو پرېږده چې د ټولنيزو چارو څانگه دې په تاسو پسې يو کس دروازې ته راولېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په بېړني ارتباط نيولو خو زما هيڅ اعتبار نه و.

ما مدني ټولنې ته يو يادښت وړاندې کړ او په هغه کې راغلي وو چې د ارمې سره د تماس نيولو څخه تېر شي او پر ځای يې د لوړ توان درلودونکي د بريتانيې د هوايي خدمتونو له ټيم سره اړيکې ټينګې کړي چې دننه په ښار کې مېشت وو.

په اډه کې بل مشکل دا وو چې وخت پر وخت به پکښې بې معنا اصول وضع کېدل.

ما فکر کاو ، چې د اردو هر پروسيجر نه يوازې د کندهار هوايي اډه کې ، بلکې هر چېرې د اوسپنې په شان دی. د مثال په توګه ، د نظامي پوليسو يوه ټيم به موږ ته اجازه راکوله چې له دوی سره په بنکرونو کې کښينو چې ورسره به يې موږ ته د ښناك لپاره ګيډريډ راکول او له دوی سره به مو خبرې هم کولې.

خو بل ټيم به موږ ته ويل چې د هغو اوسپنيزو پنجرو هاخوا په ترافيکي ساحه کې انتظار وباسئ.

د ټولنيزو چارو کار کوونکي زموږ په ليدو ډېر خوشحاله کېدل خو يو بل وخت يې راته وويل چې تاسو يوازې د جمعې په ورځ راتلای شئ.

څه موده خو شېرزي ويل ،چې زه اوس دومره لوی شوی يم ، چې زما له اجازې پرته هيڅوك اډې ته نه شي ننوتلای. کله چې به زه تر نيم ساعت تګ وروسته د کندهار هوايي اډې ته ورسېدم نو زما په وړاندې به مختلفې بهانې جوړيدې. د امنيتي اندېښنو له کبله هيڅا ته له ښار څخه د وتلو اجازه نه وه ، خو له بلې خوا په هوايي اډه کې زموږ د بدرګې لپاره هم څوك نه و. کله چې به زه هلته ولاړه وم ډېر هغه کسان به مې ليدل چې د پاکستان د اردو د استخباراتي ادارې لپاره به يې کار کاوو ، خو پر اډه به د يو سيلاب په څېر ور مات وو.

څه وخت وروسته وپوهېدم ،چې د ټولنيزو چارو څانګې اردو ته ويلي وه چې مدني ټولنه زموږ سره کومې اړيکې نه لري نو تماس ورسره نيول هم ضروري نه دي.

د زاړه ټيم تر تبديلي وروسته چې قومانده بل ټيم ته وسپارل شوه ، ماته يې يو کارډ راکړ ، چې په هغه کې ما دننه په اډه کې د موټر چلولو اجازه لرله خو هر راتلونکي تورن به نوي اصول وضع کول. په دروازه کې يوه بله ستونزه هم وه ، د شېرزي ځوانو هلکانو چې تورې عينکې به يې پر سترګو وې ، په نوي پيکپ موټرونو کې به سپاره وو د خلکو توهين به يې کاوو.

کله چې کرزي د ولايت امنيتي چارې د الکوزو قبېلې ملا نقيب او خاکريزوال ته وسپارلې نو شېرزي خپلو تاکتيکونو ته تغيير ورکړ او د ځان لپاره يې شخصي مليشه يې ځواك جوړ کړ. له امريکايانو څخه په منني ، چې د شېرزي دغه ملېشه يې تمويلوله. شېرزي د ځان لپاره دوه نوي جزوتامونه جوړ کړل ، چې د نظم خاص او ځانګړو ځواکونو په نامه يادېدل. ددغو ځواکونو لپاره د ښار په منځ کې په عصري ډول د لويې لارې په خوا کې بارکونه جوړ شول.

د جنګياليو دويمه ډله د کندهار هوايي اډې د باندې د رازق شېرزي(د ګل اغا شېرزي د ورور) تر مشرۍ لاندې کار کوي. دوی د امريکايي سرتېرو سره د تروريزم ضد جګړه کې مرسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوله ، چې د دوی رول يوازې نظامي و. دغو ځواکونو له امريکايي سرتېرو سره په جنګي ، سوله ييزو او د ارزيابي يا سروې په عملياتو کې هم برخه اخيستله.

انجينر عبدالله ماته وويل: رازق او دده ملګري د امريکايانو هر ضرورت پوره کوي. امريکايان په ډېره بې وسۍ د شېرزي د دوستي په جال کې بند راغلي وو.

امريکايي سرتېرو پيکپ موټرونو ته اړتيا لرله ، چې شېرزي هغوی ته په ډېره لوړه بيه برابرول.

اډې جغل ته ضرورت درلود.

شېرزي ددې لپاره د ريګرېشن نوې کار خانې جوړې کړې او يا به يې د بل کار ځای څخه يو تراکتور جغل په اته ډالره رانيوه خو پر امريکايانو به يې په سل ډالره پلوره.

ځايي اقتصاد ته په ګټې رسولو سره امريکايانو په اډه کې د کارونو سرته رسولو لپاره ملکي کار کوونکو ته اړتيا لرله ؟

شېرزي دغه کار ګر ، چې شمېر يې زرو تنو ته رسېده امريکايانو ته برابرول ، چې د دوی د تنخوا دريمه برخه شېرزي اخيستله او که به چا نه ورکوله نو سمدستي به يې له کاره ايسته. د همدغو مزدورانو د تنخوا له لارې شېرزي ته د ورځې دوه زره امريکايي ډالره ګټه رسېدله.

له بل پلوه ياد شوي کار ګر نژدې ټول د شېرزي د بارکزو له قبيلې څخه وو.

دوو مليشه يي قوماندانانو ته د قرارداد له مخې امريکايانو هر يوه ته د مياشتي سل زره امريکايي ډالر ورکول. ددې تر څنګ دوی ته د مشروباتو کارتنونه او د پي ايکس امتيازونه ورکړل شوي وو ، چې همدې اړيکو دوی د نورو محلي خلکو په سترګو کې د ډېر عزت څښتنان ګرځولي وو.

ددې ټولو پايله دا سې انګېرلای شو ، چې امريکايان د خپل ائتلافي ملګري لخوا محاصره شوي وو.

د اډې د باندې د امنيتي کمربند ساتل ، د لومړي نمبر دروازې کنټرولول او هوايي اډې ته د شېرزي د نفرو پوره لاسرسی يې ښې بېلګې دي. له بل پلوه هيڅ سيال نه شوای کولای ، چې تر امريکايانو پورې ځان ور ورسوي تر څو امريکايانو ته په ښه نرخ د شيانو راوړلو وړاندېز وکړي.

ددغه انحصار په پايله کې که له يوې خوا ټولې پيسې بېځايه مصرفېدلې ، له بلې خوا يې په افغانستان کې د امريکايانو د عملياتو د څرنګوالي په وړاندې ډېر خنډونه پيدا کړل.

د ټولنيزو چارو څانګو په کليو کې د ښوونځيو او څاګانو د جوړولو لپاره د نرخ بولۍ د رازق په ځای کې تر سره کوله ، چې په دې غونډه کې به يوازې د رازق يو څو دوستانو ته د ورتګ اجازه ورکول کېده. په دغو قرارداديانو کې يو څو د ګوتو په شمېر کسان د رازق شېرزي خپلوان نه وو ، چې د دروازې دننه د ورتګ اجازه ورکول کېده ، خو نور نږدې د ټولو چارو تر سره کوونکي او ارتباط ساتونکي د رزاق شېرزي کسان وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولو کندهاريانو ته څرګنده ده ، والي شېرزي چې به د بيا رغونې کومې پروژې پيشنهادولې ، ټولې به د شېرزي او د هغه د بارکزو د قبيلې لپاره وې. د امريکايانو د عملياتو لومړنۍ برخه هم د دوی لپاره ځانګړې شوې وه.

ما ته په دې اړه اکرم په خپل اطاق کې داسې معلومات راکړل:

نورې ټولې قبيلې زړه تورې کېږي او د حکومت او خلکو تر منځ ورځ په ورځ واټن زياتيږي. موږ د شېرزي پر هغو سياسي فعاليتونو هم وږغيدو چې په هغه کې به ده د قبيلو مشران راغوښتل او هغوی ته به يې لونګۍ او غالۍ د سوغات په ډول ورکولې.

اکرم په دې نه پوهيده چې امريکايان ولې له شېرزي سره په نه سترې کېدونکې توګه مرسته کوي. هغه په دې ډېر حيران و ، چې ولې امريکايان هر څه د شېرزي او خالد پښتون لپاره کوي. ټول ښوونځي او څاګان د بارکزو لپاره جوړيږي خو په حقيقت کې دا ډېره کوچنۍ قبيله ده.

له بل پلوه شېرزي د امريکايانو پيسو ته هيڅ اړتيا نه لري ځکه هغه د ګمرك ټول عايدات له ځان سره ساتي. د کندهار د ګمرك ټول کارکوونکي د شېرزي د بارکزو له قبيلې څخه وو او د کابل د اسنادو له مخې دغه ګمرك د مېاشتې له پينځو څخه تر اتو مليونو ډالرو پورې عايد لري.

د شېرزي په وړاندې د امريکايانو لېوالتيا په اصل کې دده د جنګياليو د ځواکمنولو په مانا وه او د شېرزي دواړه ، نظم خاص او په هوايې ډګرکې ځواکونه د امريکايانو په چوپړ کې وو.

په هوايي اډه کې مېشتو د شېرزي ځواکونو امريکايي يونيفورم اغوسته ، چې دا يې د امريکايي نظم او څارنې تر ټولو لويه نښه وه. نورو افغان جنګياليو دغسې يونيفورم نه درلود. دوی په خلکو کې يو ډول وېره خپره کړې وه او دغه وېره د امريکايي ځواکونو لخوا حمايه کېدله. ما به چې د امنيت په اړه له هرکندهاري څخه پوښتنه وکړه هغوی به يې په اړه ډېرې انديښنې لرلې.

د هغه وخت څو لويې پيښې په لاندې ډول دي:

1. يوه هلك له يوه وسله وال څخه د خپل بايسکل د تر لاسه کولو غوښتنه وکړه ، سرتېري هلك پر پښه کې په ګولۍ وويشت.
2. د واده د ډلې يو موټرچلوونکی هغه وخت د سرتېرو له خوا وويشتل شو ، چې چلوونکي سرتېري ته د شيريني له ورکولو څخه ډډه وکړه.
3. يو کور په دې پلمه لوټ شو ، چې هلته سرتېري د ترياکو په لټه پسې ورغلي وو.

هر ځل چې به ما د سرتېرو د يونيفورم په اړه له خلکو څخه وپوښتل عيني شاهدانو به د امريکايانو د يونيفورم په شان د وسله والو کسانو شاهدي ورکوله. داسې يونيفورم يوازې د شېرزي نفرو اغوسته.

ددې ټولو په وړاندې د کندهاريانو نظر:

داچې د شېرزي کسانو د امريکايانو تر قوماندې لاندې عمل کاوو ، نو ددوی دغه عمل يې هم د امريکايانو د پاليسۍ يوه برخ بلله ، چې دغه کار د امريکايانو په وړاندې د خلکو احساسات راپارول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شېرزي  نفرو د هوايي اډې له ساتلو څخه دېرې ګټې ترلاسه کولې او دا سيمه له امنيتي پلوه خورا خوندي وه. لومړی نمبر دروازه د افغانانو او دويم نمبر دروازه د امريکايانو لخوا ساتل کېده ، چې په خپل منځ کې يې نيم مېل فاصله لرله. د اډې پر شا وخوا راګرځېدلې احاطه ټوله د شېرزي د نفرو لخوا ساتل کېده. له همدې ځای څخه د استفادې په توګه به دوی دلته د چرسو بارونه ترل او بيا به يې پاکستان ته لېږدول.

يو وخت امريکايانو هوايي اډې ته د تېلو د راوړلو د نرخ پر سر د بولۍ وهلو اعلان وکړ ، چې دغه بولۍ رازق شېرزي وګټله. ده به له پاکستان او ايران څخه د کندهار هوايي اډې ته د تېلو ټانکرونه راوړل ، چې وروسته به همدلته خالي کېدل. د شېرزي نفرو به دغه ټانکرونه په هوايي اډه کې له نشه يي توکو څخه ډکول وروسته به يې پاکستان ته  لېږل. له همدغو ټانکرونو څخه يو يې په مارچ ۲۰۰۳ م کال کې د سرحدي پوليسو لخوا ونيول شو. د سرحدي پوليسو قوماندان زما دوست او د اڅکزو له قبېلې څخه وو. دده ځوان باډي ګارډ ددغه ټانکر په اړه داسې معلومات راکړل. زه د ۲۰۰۳م کال په پسرلي کې له کندهار څخه د چمن سرحدي ښار ګوتې ته د محمد انور د ليدلو لپاره  روان وم.

هلته د سرحدي پوليسو په قوماندانۍ کې تم شوم ، تر څو د سرحد هغې بلې غاړې ته د اوښتلو لپاره د موټر سايکل غم وخورم. د چايو تر راوړلو وروسته نوموړي قوماندان هغه کيسه راته وکړه ، چې څه ډول يې څو ورځې وړاندې له نشه يي توکو ډك ټانكر ونيوي.

ده د هغو پاڼو د را ايستلو لپاره د مخ جېب ته لاس کړ ، چې د همدې ټانکر چلوونکي له ځان سره لرلې.  قوماندان يوه پاڼه راو ايستله ، چې د ولايت مقام رسمي مکتوب پاڼه وه. دا پاڼه د باچا شېرزي چې د والي شېرزي بل ورور دی لخوا لاسليك شوې وه.

د پاڼې متن په لاندې ډول و:

ددغه ليك لرونکی زما شخصي انډيوال دی ، چې له ما سره د سوداګرۍ په چارو کې مرسته کوي ، نو لطفا ټولې لازمې مرستې ورسره وکړئ. دا ليك ددې لپاره و ، چې دغه ټانکر د لارې له ټولو پوستو څخه د پاکستان تر پولې پورې خوندي ورسېږي.

دويمه پاڼه يو مرموز ليست و. د ځينو نومونو تر څنګ نمبرونه وو ، چې ټول ټال څلوېښتو ته رسېدل. د بېلګې په توګه عطا جان ۷ يا نجيب الله ۴ چې زما يې نومونه په دې ډول يادېږي ، چې کېدای شي غلطه شوې به يم. دا يو ډول مالي رسيدونه وو ، چې د سرحد هغې بلې غاړې ته د نشه يي توکو د اړولو لپاره د هر سړي نوم او اندازه پکې ليکل شوې وه. يو کندهاری من ، چې له څلور نيمو کېلو او يا نژدې لسو پونډو سره برابر دی ، نو عطا جان بايد د څلوېښتو پونډو په اندازه لوښي پاکستان ته اړولي وای.

د شېرزي کسانو په ډېره ېېغمي سره په دغه خوندي ځای کې ، چې د امريکايانو اډه وه خپل مالونه بارول او بيا به يې تر پاکستان پور ې د امنيت غم ورته خوړ.

په اډه کې يوه بله لنډه غري هم روانه وه ، چې دا ځل امريکايي سرتېري په خپله په نشه يي توکو روږدي وو. د شېرزي کسانو به اډې ته د امريکايي سر تېرو د استعمالولو لپاره چرس راوړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



داکېسه هغه وخت رسوا شوه ، چې افغانانو به د تېلو ډك ټانکرونه اډې ته راوستل او سرتېرو به دوی ته د څه چرسو ورکولو په مقابل کې د ټانکر د اندازې ريکارډونه په غلطه لاسليکول چې هر ټانکر به تر خپلې اندازې ډېر کم وو.

بالاخره دا کېسه رسوا شوه ، هغو سرتېرو چې دغه کار يې تر سره کړی و ، رتبې يې ټيټې شوې خو شېرزي ته تر پايه چا هيڅ هم ونه ويل.

داسې ښکاري ، چې امريکايي ځواکونو د نشه يي توکو په دغه لوی قاچاق کې لاس درلود خو په ښکاره بايد دوی ددغه کار غندنه کړې وای.

په امنيتي چارو کې تر ټولو بد شی ، چې زما ذهن ته راځي هغه د ژباړې او ترجمې چار ې وې. سرتېرو د هغو افغانانو لپاره چې پر دوی راچاپېر وو ، ژباړنو ته اړتيا لرله .زما ياديږي چې يوازې يوه سرتېري په پښتو خبرې کولای شواې ، نو له همدې کبله د اردو د هر حرکت لپاره محلي ژباړنو ته اړتيا وه.

خو بيا هم ژباړن د رازق شېرزي لخوا اردو ته برابرېدل. دوی ته معاشونه هم امريکايانو نه ، بلکې رازق ورکول. د ټولنيزو چارو يوې ضابطې هغه وخت د ځان لپاره سرخوږی پيدا کړ چې ددغه پروسيجر د بدلولو هڅه يې وکړه. دې ته امر وشو ، چې پيسې رازق ته ورکړي او دی پرېږدي چې ژباړنو ته معاشونه ورکړي. همدې ژباړنو د رازق په ځای کې ژوند کاوو. د افغانانو د کلتور له مخې دغه کار ژباړن ددې پرځای چې امريکايانو ته وفادار پاتې شي رازق ته په وفادارۍ اړ ايسته. له همدې امله ژباړنان د رازق تر پوره واك لاندې راتلل او د نوموړي امر ته تابع وو.

همدا دليل و ، چې په جنوب کې د امريکايانو او افغانانو تر منځ يو پټ حالت رامنځ ته شوی وو او اوضاع ورځ تر بلې پر خرابېدو وه.

هغه معلومات ، چې به امريکايانو تر لاسه کول په بشپړه توګه نا سم و ، يا خوبه پکې پوره بې پلوي نه وه شوې. امريکايي افسرانو ، چې به افغانانو ته کوم پيغامونه لېږل يا خو به نه رسېدل او که به رسېدل نو د شېرزي د نظر سره به سم وو. ځينو زړورو افغانانو لکه خاکرېزوال چې به غوښتل شکايتونه او وړانديزونه د امريکايانو تر غوږو پورې ورسوي نو په همدې برخليك به اخته کېدل.

د امريکايي قوماندانانو نيمګړتيا دا وه ، چې ددغسې ناسمو معلوماتو پر بنسټ به يې جګړه ييز عمليات او د بيارغونې چارې تر سره کولې.

دغه حالت زه ډېره ناهيلې او ځورولم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# امنيت

## (ډيسمبر ۲۰۰۱- فبروري ۲۰۰۳)

پر افغانستان د امريکې د بريد په پيل کې د القاعدې او افغانانو تر منځ اړيکې وشليدې. په لومړي سر کې القاعده شبکې دومره غړي نه لرل چې جګړه دې وکړي. طالبان او القاعده تللي وو. لومړۍ شپږ مباشتې ډيرې ارامې وې او هغو کسانو چې د افغانستان د راتلونکې لپاره يې جګړه کوله په دې هڅه کې وو چې د ټولو بلاکانو د بيا راژوندي کېدو مخه ونيسي. کندهار چې د طالبانو د خپسکې څخه تازه خلاص شوی و لږ لږ ناهيلي پکې له ورايه ښکاريدله.

د اوس لپاره هيڅا د امريکا د راتګ تجربه نه لرله. کندهاريان د هغو مسئوليتونو تر سره کولو ته ژمن وو چې ژمنه يې کړې وه. په بازار کې به ګڼه ګوڼه وه، خو د خلکو ځيرې نيولې ښکاريدې خو بيا هم حالت ښه و.

ترافيکي ګڼې ګوڼې په سړکونو کې ډېرې ستونزې پيښې کړې وې، خو خطر نه و. ما په کندهار کې په ډېر ډاډ سره موټر چلاو، له دې څخه مې هيڅ وېره نه لرله چې پر موټر سايکل سپور کس دې زما موټر ته تر کړکۍ لاسي بم راوغورځوي. د ناارامۍ لومړۍ نښانې ته موږ د بدشګون په سترګه نه کتل، ځکه چې دغه نښې نښانې په افغانستان کې نه وې، بلکې دا د افغانستان ګاونډي پاکستان لخوا وې. دا يو ډول مذهبي خندوونکې څرګندونې وې.

ړيرور طالبان چې سپينې او تورې ځليدونکې جامې به يې په تن وې او پګړۍ به يې پر تنديو را ايله کړې وې، کرار کرار بهر راوتل، دلته او هلته به د يوه ګري لپاره په ډلو ډلو سره ولاړ وو. د افغانستان ګاونډي پاکستان د کويټې د ښار په پښتون اباد سيمه کې خو به په خورا ډاډ سره په ډلو ډلو ولاړ وو او په دغه سيمه کې خورا لږ ښځې په بورقو کې تر سترګو کېدې چې همدا د دوی ارمان و.

ننداري د دوی انتظار کوي: دوی غوښتل چې خپل غبرګون وښيي. د دوی حريف افغان حکومت چې امريکا يې ساتنه کوله د دغو کسانو په وړاندې هيڅ غبرګون نه ښوده، ځکه نو د دويمې مرحلې لپاره لاره خلاصه وه.

دا د شپې ليکونه او تهديدونه وو. دغه ليکونه به يې د مسجدونو پر مخ ځوړند کړي وو او يا به يې د خپلو ملګرو له لارې يو او بل ته لېږل. په دغو ليکونو کې به ليکل شوي وو چې د افغانستان حکومت اسلام پرېښې دی نو له همدې امله يې په وړاندې جهاد روا دی. دغه پيغام به په کويټه کې د سپينو مسجدونو له لوډسپيکرونو څخه هم راوت او د مسجدونو غولي ددغو کسانو لپاره په خوندي جنتونو اوښتي وو.

ډېر ژر ملا امامانو دغه جنګ ته د سپيڅلې جګړې نوم ورکړ. دوی به ويل، هر څوك چې د افغانستان په دغه مردود حکومت کې کار کوي بايد ووژل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مېرانه:

افغانان د مېړانې له کبله خورا مشهور دي. دوی د وينې په تويولو کې خورا افسانوي نومونه ګټلي دي. افغان شعر او شاعري له خورا توندخويي او بې رحميو سمبولونو څخه ډکه ده.

ځينې غربيان افغانانو ته د عربو په وړاندې د بريالیو کسانو خطاب کوي ، چې ديارلس سوه کاله وړاندې يې پرافغانستان له دې کبله يرغل کړی و چې نور نو د غرنيو سيمو څخه اوارو مځکو ته را کښته شي. په رښتيا هم افغانان ډېر مېړني خلك دي. دا د افغانانو وياړ دی چې له هغو عربانو سره يې سختې جګړې کړې دي چې اسلام يې خپراوه.

په ۱۸۴۲م کال کې د بريټانوي اردو سرتېري او هندوستاني عسکر ټول په افغانستان کې قتل عام شول او له هغوی څخه يوازې يو کس ژوندی خلاص شو. دا د دوی لپاره کومه مهمه خبره نه ده ، چې دوی دې د قصابي په تاريخي پسمنظر خبر وي.

که د افغانستان دا اوسني تاريخ ته و ګورو نو د مېړانې څرك پکې له ورايه ښکاري. افغان جنګيالي په دې پوهيږي چې څه ډول له يو چا سره لنډ مهاله ملګرتيا وکړي او له همدې ملګرتوب څخه په ګټې اخيستنې سره د خپلې مرګ ژوبلې کچه راټيټه کړي.دغه سور کوټي په ۱۸۴۲م کال کې په يوه ډبرينه دره کې راحصار شول. دا دره دومره لوړه ده چې جګې څوکې يې تر اسمان پورې رسېدلې دي. افغانانو په لوړو څوکو کې کمينونه نيولي وو چې له هغه ځای څخه يې پر دغو چاغو انګريزانو او نريو او کمزورو هندوستاني عسکرو ګولۍ اورولې چې د همدې درې له هرې ډبرې څخه به د وينو چينه روانه وه. دغه قصابي تر هغه خورا لوړه وه چې انګريزي جنرالانو يې د افغانانو د مېړانې او شجاعت په اړه اټکل کړی و.

تر ټولو مشهور په نولس سوه اتيايمو کلونو کې د سرو لښکرو د اشغال پر وخت د افغانانو د کچرو د کار نامو داستانونه دي. افغانانو به له خپلو ګاونډيو هيوادونو څخه پر دغو کچرو ټوپکونه او مهمات راوړل تر څو يې د سرو لښکرو پر ضد وکاروي. په هغه وخت کې ټولې جګړې ګوريلايي وې نه لويې ځمکنۍ جګړې.

افغان جنګيالي به په وار وار له خپلو مخالفينو سره يو ځای کېدل خو ډېر ژر به يې خپله ژمنه ماته کړه او بېرته به يې پر خپلو پخوانيو ملګرو د ګوليو باران جوړ کړ.

تور چې يو ډنګراو معصوم انسان دی اوپه دغه ټوله جګړه کې يې برخه لرله راته وويل چې هيڅکله مې ددغسې غرونو په اړه تصور نه شوکولای ، خو وروسته هغوی زما د ژوند تېرولو په يو پنډ غالي واوښتل. دده خپل سپين او برګ اس په ياد دی چې ټوله ورځ به يې مزل پرې کاو ، چې تر خورا لرې واټن وهلو وروسته به مو لږ دمه کوله چې د خوراك لپاره به بې له کلچو بل هيڅ نه و راسره. تر دې تمېدو وروسته به مو بيا خپل سفر ته ادامه ورکوله تر څو يو بل ځای ته ځان ورسوو. تور چې کله د هغه آس په اړه خبرې کولې له سترګو او څېرې څخه به يې داسې ښکارېده لکه يو کوچنی چې د خپل بايسکل په اړه ږغيږي.

مګر دا يوه ريښتينې جګړه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د باغونو د اوبو لګولو سيستم چې له منځه ولاړ له همدې کبله به دغه باغونه د جنراتور په اوبو او وينو اوبه کېدل ، البته دا وينې به ټولې د معصومو انسانانو وې. له کوم کلي څخه چې به پر سرو لښکرو ډزې وشوې هغوی به د هغه کلي ټول کورونه چې په اومو خښتو به اباد شوي وو ، له خاورو سره برابر کړل. هغه ښځې چې تر اوسه به يې نابلده انسان پلونه و ليدلې کوڅې او د بدن نور غړي به يې د زردالو او بادامو په ونو کې بند وو. د جګړې په دغه لسيزه کې يو ميليون ملکي افغانان ووژل شول.

بالاخر افغانانو په خپلو سپينو اسونو ، ټوپکونو او امريکايي ستينګر مېزايلو سره دغه جګړه وګټله ، خو تر دغې جګړې وروسته د تمې په خلاف افغانان هېرکړل شول. افغانانو خپله زړورتيا له لاسه ورکړه. د ستينګر تر رارسېدلو وړاندې افغانانو خپله مېړانه وباييلله ځکه چې مېړانې نو له هغو هليکوپترو سره څه نه شوای کولای چې په هوا کې به ګرځېدې او د سړي وس به پرې نه رسېده. د جګړې په ډګر کې د افغانانو او سرو لښکرو پرتله د ټکنالوژۍ له مخې هيڅ د پرتلې وړ نه ده ، نو ويلای شو چې دلته بيا بې له مېړانې بل څه نه پاتې کېږي ، خو اوس د افغانانو هغه افسانوي غرور پر ماتيدو و.

ما د افغانانو د مېړانې يوه بېلګه په خپلو سترګو وليده چې هغه زما د اڅکزو د کوربه کورنۍ د پلار ژوبل بدن و چې تر ټپي کېدو وروسته يې کولمې د باندې راوتلې وې. ما ځينې وپوښتل ته لا څنګه ژوندی يې ؟ په داسې حال کې چې ټيشو کاغذ يې په لاس کې و په ويرونکې توګه يې ژوره ساه وکښه او بيا يې راته داسې وويل: کله چې زه زخمي شوم سمدستي مې خپل پټو راواخيست او خپل ځان مې ټينګ پرې وتاړه. په ريښتيا سره چې دا د زړه ورتوب يو ډېر ښه مثال دی. دا د بشر د ځواك تر ټولو ښه نمونه ده خو دا کار نه شي کولای چې يو ميليون بې ګناه انسانان له مرګه وژغوري.

زه خو وايم چې هر وخت افغانان د خپلې مېړانې له کبله پر ګونډو شوي دي. ددغو قربانيو هدف دا نه و چې افغانان دې ووژل او وګواښل شي ، له دې ټولوسره سره زه به د خپلې راپورټرۍ په وخت کې ډېره حيرانه شوم چې کله به زه لږ خطرناکه ځای ته تللم ، نو زما موټرچلوونکی به ډېر وېريده. زه په دې هم حيرانه وم چې زما ژباړن د لږ خطر په ليدلو سره خپله د ډېرو پيسو دنده پرېښوده. يوه ورځ زه له موټر څخه راکښته شوم او خپل موټرچلوونکي ته مې وويل چې موټر په ماپسې را روان کړه او زه پر يوه خامه لاره مخ د هوايي ډګر پر لور روانه شوم. زما ژباړن وويل ، دوی به مو ووژني. ما ورته وويل چې امريکايي سمندري سرتېري په دغسې ځای کې پر چا ډزې نه کوي. ده وويل: دلته ماينونه دي. ما ده ته د موټر د ټايرونو هغه تازه نښې ور وښودې چې دلته تير شوي وو او دې نښو ماته د ګام اېښودلو توان راکاوه ، چې چېرې بايد پل کښېږدم. زه به ډېره حيرانه وم چې خپل ځان به مې تر افسانوي افغانانو زړور وليد.

د زړورتوب له امله زه په کندهار کې خورا مشهوره وم ، خو زه په دې باور يم چې زما لپاره دا نوم ريښتونی نه دی. زه ډېره زړوره نه يم. دلته يواځينی شی دا و چې ما هيڅکله د افغانانو پر پرهرونو مالګې نه دي دوړولي او نه مې له تشدد څخه کار اخيستی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وېره په افغاني ټولنه کې يو څرګند فکتور دی. ډېرې لارې شته چې د يو چا واك را کم او تهديد کړي. د ( شپې ليکونو) کورنۍ تهديدولې چې خپلې نجونې د کفارو له ښوونځيو څخه را وباسئ که نه نو بيا مو ګيله له خپله ځانه ده. دې کار پايلې هم لرلې. هغه کسان چې بهرنيان کورونو ته د چايو څښلو لپاره بيايي کېدای شي چې په لوی زيان ورته تمام شي. دلته نو بيا مېړانې هيڅ په درد نه خوړل. مګر نن بايد افغانستان د ګواښونو له امله کم ارزښته ونه ګڼل شي.

د ۲۰۰۲م کال منی خورا ګواښونکی و. هره شپه به مو د يوې چاودنې ږغ تر غوږو کېده. دا به يا راکټ ، لاسي بم او يا به له يو ځای څخه پر کوم ځای د هاوان بريد و ، خو مرګ او ژوبله به يې خورا کمه وه. موږ به سهار د چاودنې پر څرنګوالي ږغېدو چې کوم زيان خو به يې نه وي اړولی. تر سره کوونکي او هدف يې څوك و؟ خو دا هر څه بې نتيجې وو چې په دې اړه د خبرو کولو سره عادي شوي وو ، خو وروسته په نوي کال کې هدفونه خورا ډېر شول. د بشري مرستو د دفترونو تر څنګ به چاودنې کېدې چې د کړکيو ښيښې به يې ورماتې کړې او يابه په هغه وخت کې چې په دغو دفترونو کې به څوك نه و لاسي بمونه به تر دېوالونو ور غورځول کېدل.

دا اکرم و چې دغه معمايې راته روښانه کړه. په دغه ژمي کې ده خپل يو قومي د ترهګرو په هغه ډله کې ځای کړی و چې تر پولې هاخوا په پاکستان کې روزل کېدل. په دغه کمپ کې ترهګرو ته د بمونو جوړول په ځانګړې توګه د بخار له ديګ څخه ، د يو ملکي چاروآکي د وژلو پلان جوړول او ترورول. دوی ته به ښودل کېدل چې څنګه د دوی لار پيدا کړي ، چېرې بايد انتظار ورته وباسي او څنګه يې بايد په نښه کړي. دغه ترهګر د پاکستان د اردو د يوه ډګروال او دوو جګړنانو لخوا روزل کېدل چې اکرم ما ته د هغوی نومونه هم راکړل.

ده وويل چې پاکستانيان خلك روزي او هغوی ته پيسې ورکوي تر څو خلکو ته ماينونه ښخ کړي ،خو کله چې افغانستان او امريکايان په قار شي نو دوی بيا يو څو کسه ونيسي او هغه اصلي طالبانو ته ووايي چې د يوې او يا دو مياشتو لپاره ځانونه پټ وساتئ. همدا د پاکستان ستراتيژي ده: دوی همېشه دوه قدمه رامخ ته کېږي او څلورګامه بيرته شاته ځي. اکرم لومړی کس و چې دايې راته وويل. نوموړي د ده تر وژل کېدو يوه شپه وړاندې هم په دې اړه معلومات راکړل.

د فبروري پر لومړۍ نېټه هغو خيريه ټولنو چې په کندهار کې يې دفترونه لرل تصميم ونيوچې په هغه ښارونو کې چې افغانانو به د سفر کولو لپاره زړه نه ورته ښه کاوه خپل کارونه وځنډوي او يايې پر مخ ودروي. امنيت د همږغۍ په هغه اوونيزه غونډه کې د سر موضوع وګرځېده. همدا شان امنيت د افغانانو په خبرو کې د څو مياشتو راهيسې لومړی ځای درلود.

د امنيت په اړه د افغانانو او بهرنيانو انديښنو توپير درلود. بهرنيانو د پخوانيو طالبانو او امريکايي ضد بلوا څخه وېره لرله ، خو افغانان بيا له هغو چپاولګرو څخه انديښمن وو چې امريکانانو واك ته رسولي وو.

افغانان د ټوپکسالارۍ له راد بره کېدو څخه سخت په وېره کې وو چې خدای مه کړه يو ځل بيا افغانستان د مجاهدينو وخت ته ور ونه ګرځي چې په نويمو کلونو کې د سرو لښکرو تر وتلو وروسته واك ته رسېدلي وو. يو ځل بيا پر سړکونو باندې پاټکونه ولوېدل. د شېرزي کسانو به له

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټکسي موټرونو څخه شيان اخيستل. ماما عبدالله چې په سپين بولدك کې يو سوداګر دی زما د اڅکزو ملګرو په وينا چې ښايسته زوی يې د پيسو په خاطر تښتول شوی و ، خو خدای خبر چې نور به د څه لپاره وو.يو ځوان ترکاڼ چې زموږ د راډيو سټډيويې راجوړوله په کندهار کې د عسکرو لخوا له دې امله بندي شوی و چې غلا وکړي خو نوموړي ددې کار له تر سره کولو څخه انکار کړی و. تر دې وروسته دغو عسکرو د نوموړي څخه د اشپزي تر څنګ د نورو کارونو تر سره کولو کار اخيست او ورته ويلي يې وو چې ته به تر هغه وخته پورې له موږ سره يې تر څو چې ستا قضيه له موږ سره وي.

د نظرجان کسانو په لويه وياله کې زما د پخواني کور تر شا په هديره کې پوسته واچوله ، تر څو د ښځو زيارت کوونکو مخه ونيسي.د شېرزي ملګري افغان امريکايي خالد پښتون شخصي زندانونه لرل خو نوموړی اوس د کندهار د بهرنيو چارو رئيس وو. اکثره وخت خو به په دغو زندانونو کې د پيسو لپاره خلك ساتل کېدل. هر کندهاري يوه کيسه لرله. هر يوه ته به د يو چاد کړاو داستان معلوم و. کندهار ويرې پر سر اخيستی و. ناهيلي د هرچا په سترګو کې له ورايه ښکارېده. دا نوی افغانستان وو ؟ د خلکو اندېښنې ورځ تر بلې ډېرېدې.

د ۲۰۰۲م کال په ژمي کې ما د جون په مباشت کې د تر سره شوې لويې جرګې ځينې غړي پر ځينو شيانو د بحث کولو لپاره راغونډ کړل. دغه نارينه او ښځينه چې له مختلفو قومونو څخه وو تر شپږو مباشتو وروسته په يوه خونه کې سره کښېناستل او دوی ټول پر يوه شي سره موافق وو ، چې هغه د ټوپکسالارانو مسئله وه. دغه غړي په دې موافق وو چې د جون د مباشتي لويه جرګه د همدې ټوپکسالارانو له کبله تالان شوه او د افغانستان په حکومت کې ددغو کسانو شتون د ډيموکراسۍ لپاره ستر ګواښ دی. په دغو غړو کې اکثره ډېر بد نام ټوپکسالاران هم وو چې غربيانو هغوی ته د مذهبي رهبرانو په سترګه کتل. دوی همېشه د اسلام له نوم څخه بده استفاده کوي ، خو د دوی يو کار هم له اسلام سره برابر نه دی. يوه کس وويل ، د دوی په وړاندې څه ويل له اسلام سره هيڅ تړاو نه لري. دغو کسانو په زرګونو مسلمانان ووژل خو هيچا د هغوی يادونه ونه کړه. موږ بايد دغه کسان نيولي وای او زندان ته مو اچولي وای او دا مو معلومه کړې وای چې دوی له چا سره تړاو لري. خو اوس دغه کسان د لويې جرګې غړي دي چې اوس دغه کار نا شونی دی.

دا د لويې جرګې د هغو غړو شکايتونه وو چې حامد کرزی يې د افغانستان د انتقالي ادارې د رئيس په توګه وټاکه.دغو ټولو غړو کابل ته يو روښانه پيغام رسولی و او هغه دا چې نوربايد ټوپکسالاري ته د پای ټکي کښېږدي او د قانون حاکميت رامنځ ته کړي. يوه غړي وويل چې موږ ښوونځي او روغتونونه نه غواړو ، موږ امنيت ته تر هر څه لومړی اړتيا لرو. ددې پر ځای چې ټوپکسالاري ته د پای ټکی کېښښودل شي او دوی له افغان سياست څخه لرې کړل شي ، د کرزي په اداره کې ټول واك له دوی سره دی.دا د دغو غړو نظرونه وو. په دوی کې يوه وويل: پخوا به هر ټوپکسالار په سوونو کسان لرل چې اوس دغه کچه زرګونو ته پورته شوې ده. د دوی دريځوانه اوس تر پخوا لا غښتلي شوي دي. پخوا به يې لږ زرونه رېږدېدل خو اوس خورا ځواکمن شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کندهار اکثريت نارينه او ښځو ولسمشر کرزی او امريکايان ملامتول. يوه غړي وويل چې بهرنيان هم لکه ټوپکسالاران داسې دي. زما ملګري محمد انور څو مباشتې وړاندې خورا سپينې خبرې وکړي. ده وويل: ولې لا موږ ټوپکسالاران په واک کې پاتې يو؟ ما ورته وويل ، که يو ځل بيا دا خبره تکرار کړي. ده زياته کړه موږ ټوپکسالارن بايد همدا اوس خپلو کورونو ته ولېږل شو. امريکايانو موږ ته وويل چې تر لوېې جرګې وروسته بايد تاسو ټول خپلو کورونو ته ولاړ شئ. دوی بايد موږ برطرفه کړي. دا حکومت خو بايد له تعليم يافته کسانو څخه وای.

تر دغو خبرو وروسته محمد انور د شېرزي سره د هغه قسم تر خوړولو وروسته چې وروسته به واک اهل کسانو ته پرېږدو له واک څخه لاس په سر شو او خپل کور چمن ته لاړ.

ما په لوېديځ کې څو ځله دا پوښتنه وکړه ، چې ايا لوېديځ دا حق لري چې پر هغو خلکو ډيموکراسي وتپي چې نه يې غواړي او يا ورته اماده نه وي؟ تر دغه بحث وروسته او له نورو بې شمېره افغانانو سره له خبرو وروسته زه په دې پوه شوم چې افغانان د ډيموکراسۍ خورا ليوال خلك دي.دوی د همدې لپاره نارې او سورې وهي. دوی له خپل حکومت څخه هغه څه غواړي چې امريکايان او اروپايان يې د دوی له حکومت څخه غواړي.دوی د سفر لپاره سړکونه ، مسلکي ډاکټران چې ناروغ ته د زهرو پر ځای درمل ورکړای شي او د ماشومانو لپاره ښوونځي غواړي. همدا شان نور بنسټونه او امنيت ، قانون او اصول او دوی غواړي په ريښتيني توګه د خپل هيواد لپاره څه تر سره کړي ، خو اوس افغانان لږ پرېشانه ښکارېدل ، له امريکايانو څخه په مننه چې د شېرزي غوندې ټوپکسالاران يې په واک کې ساتلي وو.

د امريکا پاليسي په افغانستان کې د ډيموکراسۍ د تطبيقولو او هڅولو لپاره نه وه لکه څنګه چې يې د امريکا حکومت ادعا کوي ، بلکې د دوی پاليسي د ډيموکراسۍ پر ضد وه. دلته يو اساسي تشدد روان و. په غير پيشبيني شوې توګه يې د سړي اروا نا ارامه کوله. دا ښکاره حقيقت دی او هر کندهاري به هم ويل چې د طالبانو د وخت ظلم تر اوس خورا لږ و. د طالبانو تر واکمنۍ لاندې کم تر کمه يو سيستم خو و. هلته قانون او اصول وو او يو ډول قانون حاکم و.هغو کسانو چې د دوی دغو اصولو ته به يې غاړه ايښوده کولای يې شوای چې په ډېره ارامه فضا کې ژوند وکړي ، خو اوس دلته هيڅ قانون نشته. د خپل سريو او جبر ټغر اوار دی. دلته د ځنګل قانون حاکم دي ، چې دغه حالت خلك خورا ډېر نا ارامه کوي.

که څه هم په کندهار کې ځينې پيښې ډېرې غټې نه وې خو بيا هم د مجاهدينو تر وخت هر څه ډېر سم وو چې کندهاريان پرې هم پوهېدل. دوی د امريکايانو له حضور څخه ډېر خوښ وو او قسم به يې خوړ ،که چېرې امريکايان ولاړ شي نو پر دغو سړکونو به د ارغنداب د رود په شان وينې وبهيږي ، خو بيا هم روان حالت خورا نا ارامو ونکی و.

خلکو به د طالبانو په مهال پسې ارمانونه کول.د طالبانو په وخت کې به موټرچلوونکو هرات ته د شپې لخوا په ډېره ازادانه توګه بې له کومې ويرې سفرونه کول. دوی به ويل چې په هغه وخت کې به سړي کولای شوای چې د پيسو له پلنډې سره په بازار کې سودا وکړي او هر ځای ته چې يې زړه وي ولاړ شي. دوی د طالبانو په وخت پسې خورا ارمانونه کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له همدې کبله نو طالبانو د خلکو په زړونوکې دغه حالت ته د یوې چارې په توګه لاره پیدا کړه. د دوی طالبان د یوې ځانګړې مفکورې او ایډیالوژۍ له کبله نه خوښېدل ، بلکې د خپلو ګټو له کبله یې په هغوی پسې ارمانونه کول. باید ووایم چې افغانان د ځمکې پر مخ تر ټولو لږ کسان دي چې ایدیالوژي دې وده پکې کړې وي. د دوی فکر حقیقي و هغه داسې چې دوی ته د طالبانو تر حکومت لاندې ځینې ګټې رسېدې.

(c) ketabton.com: The Digital Library




# ځنګه باید ټوپکسالاران له واکه لیرې کړو
## (د ۲۰۰۲ ژمي – ۲۰۰۳د پسرلي پیل )

پر کندهار باندي د پخوا په شان د توري تیارې سیوری غوړېدلی و. دواك نه اندول کولای شوای چي هر ګړی په یو لویه غمیزه واوړي.

حالت ورځ تر بلې مخ پر خرابوالي روان و ، هره شېبه د یوې ټکي رالویدل ممکن و.

یو سهار مي ولیدل چي په دوړو لړلی د بېلر ځخه جوړ د بخارۍ نلان د خاورو ځخه پاکېدل او د بوټو بوخاری کي نصب کېدل ، ځکه چي په کندهار کي د وژونکي ګرمۍ موسم تېر شوی و او یخ په رارسېدلو و. ما د خوب لپاره یوه وړینه د خوب چرکي بستره لرل چي د امریکایي سرتیرو لخوا د هغوی افغان ملګرو ته د طالبانو ضد جګړې پر مهال ور کړل شوې وه.



کله چي موږ د بوخارۍ نلان لوړ په دیواله کي تر سوري ایستل د احمدولي کرزي کسانو د هغه یو پیغام راته راوړ چي ویل یې زما سره ووېنه ،البته داسي ډېر لږ پېښېدل چي د هغه دي زه په کار یم.

موږ تر اوسه په مدني ټولنه کي د احمدولي وړیا ډوډۍ خوړل. موږ به یو کس د ډوډۍ راوړلو لپاره هغه پخلنځي ته ور استوی چیري چي به دوه یا درې اشپزانو د سلګونو کسانو لپاره خواړه په لویو دېګونوکي د اور په لویو لویو کندو تیارول.

موږ او نور کسان به د ډوډۍ د تر لاسه کولو لپاره په لیکو کي درېدلو او د پسه غورمه ، پټاټې او ورجي به راکول کېدل ، خو هغه ورځ به بیا ډوډۍ ډېره مزه داره وه چي بینډۍ به هم ور سره وې.

نو له همدې امله موږ د احمدولي کسان بلل کیدو اودده په کور کي مو ډوډۍ خوړل ، د ډوډۍ خوړلو لپاره یو هال و چي په غالیو پرش کړل شوي و او په همدې هال کي لوړ منزل ته ځینې هم پور ته شوي وې ، چي په لوړ منزل کي ناستو کسانو به د سرای په غولي کې د احمدولي کرزي د جوړ شوي حوض ننداره کول. خو کله چي به زه ده په یو ځه وخت کي ونه لیدم ډېره ګیله به یې کول ، خو دا ځل کیسه بل ډول وه ، ځکه چي هغه زه په ضروري توګه ور بللې وم.

دی زما سره په لوړ منزل کي د حوض د مېز سره مخامخ شو.

ده زما د ډاډ لپاره وویل: هیڅ اندېښنه مه کوه او بیا یې یوه چوکی ځان ته راکش کړل ، ما ته مخامخ پر کښېناستی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده وويل: لکه څنګه چي ښکاري هغه سي نه ده ، زه هم په همدې نظر وم. احمد ولي وويل: سي‌ـــ‌ای‌ـــ‌اې غواړي ستاسو سره ووينې.

ده زياته کړله: هغوی ماته ويلي چي ستاسو ژوند په خطر کي دي. خو ما وروسته هغه کس پيدا کړ چي دغه چال يې جوړ کړی و.

په ولايتي اداره کي يو نفر پروپاګند خپور کړی و چي يوه ترهګريزه شبکه غواړي ما ووژني.

دغه شبکه د شوروي اتحاد په وړاندي د يو راډيکال مشر سره اړه درلودل چي تر طالبانو وړاندي د پاکستان بوډاګی و.

دوی ويل دغه شبکه سمدستي د يوې حملې پلان لري چي موخه يې د ژورنالستي په بڼه د سي‌ـــ‌ای‌ـــ‌اې ايجنټه سارا ده.

دغي شبکي زما د موټر د راتګ او نورو شيانو په اړه پوره معلومات لرل چي بيا احمد ولي ددغي موضوع په اړه زه پوره وپوهولم. هغه ويل زه فکر نه کوم چي دغه خطر دي ريښتنې بڼه ولري. دده د لهجې څخه داسي ښکارېدل چي دا به د والي شېرزي او يا خالد پښتون کار وي چي شخصي زندانونه يې هم لرل.

خالد پښتون د سي‌ـــ‌ای‌ـــ‌اې سره خورا نژدې اړيکي لرلې.

احمد ولي وويل: کېدای شي چي دا دسيسه د پښتون لخوا ددې امله جوړه شوې وي چي تا ددغه ولايت پريښودلو ته اړباسي.

دا حقيقت و او پدي اړه زه هم د احمد ولي سره موافقه وم.

ددغه افسانوي رهبر په اړه ما او اکرم زموږ په يوه پخواني مجلس کي هم خبري کړي وي هغه راته وويل تر کومه ځايه چي زه پوهيږم په کندهار کي دده حزب هيڅ حضور نه لري خو شايد يو څو کسان په هلمند کي ولري.

په دا سبا ورځ زه د سي ای اې مرکز ته چي د ملا عمر په کور کي او د ناجو اونو په منځ کي موقعيت لري ورغلم. د طالبانو د حکومت تر نسکوريدو وروسته په دغه ځاي کي يو څه تغيرات راغلي و.هغه ځايونه چي د امريکايي بمباريو له کبله نړيدلي وه اوس بيرته رغول شوي و خو د واده د کيك غوندي مسجد او پر ديوالونو په غيري هنري توګه کښلي شوي منظري لا پر ځاي پاته وي.

د استخباراتو کار کوونکي پدي کي پاته راغلي و چي په دروازه کي مسول کسان زما د راتګ څخه خبر کړي نو له همدي کبله سراي ته د ننه ورتګ يو څه وخت واخيست.

له بله پلوه کوم نفر چي زه ورغوښتي وم زمايي نوم هم نه و زده زما لپاره دا ډير ګران کار و چي په دروازه کي موظف افغانان راضي کړم چي دننه مي ورپريږدي.

د سي اي اي مرکز ته په ور ننوتلو سره د هغوي دښمني زما په وړاندي د ورايه ښکاريدل څکه چي يو کس پر څلور اربيزه موټر سايکل سپور و ماته د ورتګ لپاره يي لاسونه غورځول. په هغوي کي يوه پنډ ايجنټ چي لنډ جاکټ يي اغوستي و هغه وخت لاتندي تريو کړ چي مايي پر خوا لوي لوي ګامونه واخيستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دده دوو ملګرو زه په يوه کوچنی خونه کي کښېنولم او د موضوع په اړه يې معلومات راکړل او ويې ويل چي د موضوع څخه ستا خبرول زموږ دنده وه.

ما هغوی ته د احمد ولي تحليل وړاندي کړ ، دوی هغه صرف نظر و ګرځوی او ويې ويل چي موږ ددې لپاره هيڅ دليل نه وينو چي د والي کسان دي دا کار وکړي.

د سي_ای_اې ايجنټانو د همدې کار ممکنه منلو ته لا نه و حاضر او پدې اړه يې بيا زما سره يوه خبره هم ونکړل. نو له بله پلوه که چيري همداسي وای ، نو د کندهار هوايي ډګر کي د امريکا د سټيټ ډيپارټمنټ لايق استازي تر اروزګان پوري ټوله امريکايي سرتيري له دې کبله خبر کړل چي که په بېړني حالت کي دا زما سره په تماس نيولو بريالی نه شي ، نو تاسي مرسته ورسره وکړی. وروسته هغه په بالتيمور کي د قيوم کرزي مېرمني ته ټليفون وکړ ، هغې زما مور ته.

دا هغه څه وو چي په اخيره کي يې زه منلو ته تياره وم.

زه هيڅ نه بېربېدلم ، خو ډېره په غوسه وم ، زه د احمد ولي کرزي دهغو ټولو خبرو سره موافقه وم چي ويل يې دا د والي کار دی.

د لومړيو څخه زه په دې عقيده وم چي ټوپکسالاري به د افغانستان د نوي ادارې په وړاندي تر ټولو لويه ننګونه وي.

کله چي موږ شېرزي ته د اکوکلاچې د بيارغوني لپاره ورغلو ، نو شېرزي د کندهاريانو هغه وېره ثابته کړل چي ويل يې د شېرزي چي څه خوښ وي هغه کوي.

مدني ټولني ته د قيوم کرزي لخوا وويل شول چي په متحده ايالاتو او افغانستان کي به د ټوپکسالارۍ په اړه د پاليسۍ موضوع رامنځ ته کړي.

په همدې اړه د روشن فکرانو يوه غونډه هم بې پايلي پای ته ورسېده. په همدې وخت کي هيڅ داسي شی نه تر سترګو کېدی چي شېرزی او د هغه غوندي نور واليان را مهار کړل شي چي ډېر افغانان دهغوي له لاسه خورېدل او د دوی د زغم پياله نوره ډکه شوي وو.

خو اوس تصادفاً موضوع شخصي شوې وه.

يو وخت ما او اکرم پدې اړه خبري وکړې چي کرزي ولي پدې حوزه کي په ټېټو سترګو د ټوپکسالارانو منلو ته ادامه ورکوي. موږ پدې نه پوهېدو چي کرزي ولي د ستونزو نه درکولو او نه پېژندلو کي دلچسپي نه لري؟.

يو ماخوستن ما ته د خطر د متوجه کېدلو ، څو اوونۍ وروسته موږ د اکرم په خونه کي ناست و. اکرم چي شامقصودی ډېريني روښانه زرغونې تسبېح يې په ګوتو کي اړولې او بالښته ته يې تکيه کړې وه وويل: کرزی بايدغې سيمي ته ډېره توجه وکړي.

زه ورته غوږ وم.

کرزی ددې پر ځای چي د والي کسان د ګمرك د محصول ټولولو ته پرېږدي ، ولي خپله محصول نه ټولوي. دی بايد د والي دنده مشخصه کړي. که دی د والي او زما تر منځ دندي مشخصي کړي ، دا به په سيمه کي د ډېرو مشکلاتو د پيښېدلو مخه ونيسي. له بله پلوه کرزی بايد يو هيئت دلته راواستوي ، تر څو د ولايت د ټولو رياستونو کارونه ارزيابي کړي. د مثال په توګه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښووني او روزني رياست ، ښوونکي بايد په ښوونځيو کي يوازي د مرکزي حکومت په اړه خبري وکړي نه د شېرزي په اړه. ولسمشر بايد ددغي سيمي سره ډېر تماس ونيسي او وخت پر وخت يې د مشرانو سره ملاقاتونه وکړي. کرزی بايد سپين ږيري او مشران کابل ته وروغواړي ، د هغوی څخه مشورې وغواړي او هغوی ته غوږ کښېږدې ، هغوی په تحفو او يا لنګوټو ونازوي. همدا کار به د هغوی د خوشحالی لامل وګرځي او په سيمه کي به د ولسمشر ملاتړ نور هم پياوړی شي.

ما وخندل و مي ويل دا خو بلکل يوه سياسي ستراتيژي ده. ما د اکرم څخه وپوښتل چي ته د ولسمشر سره په همدې شان خبري کوې ؟.

ده وويل نه زه د ولسمشر سره د يو سرتېري په شان خبري کوم. زه نه پوهېږم چي دا به رښتيا وي که نه ، خو که رښتيا وي نو بيا ډېر د خواشينۍ ځای دی.

کرزی کابل ته د ډېرو هيلو سره ولاړی ، خلکو غوښتل چي کار به اهل کار ته وسپارل شي او ټول زور واکي بايد له واکه ګوښه شي چي په ناقانونه توګه يې واك ورسره ساتلی دي.

ټول ولس د کرزي ملاتړ کوي ، خو تر څنګ يې د ځايي ټوپکسالارانو څخه تر پوزي راغلي و.

دغه سرطان يو ځل بيا د امريکا متحده ايالاتو د افغانستان د سياست و جود ته ور پېچکاري کړي. کندهاريانو دا تمه لرل چي کرزی بايد د يو اتل په څېر راښکاره شي او د دوی لپاره بايد قانون اعاده کړي. ددې پر ځای چي کرزي ټوپکسالاران له واکه ليري کړي او يا ولس د هغوی له ظلمه وساتي داسي ښکاري چي ولسمشر د هغوی په اشاره ګډېږي او په کابل کي بې شماره ټوپکسالاران ترې چاپېره دي. هغه اوس تش په نامه مشر دی.

په دغه کال کي ما هغه ته څو ځلي دده د ورور له لاري پيغامونه واستول. ما په يوه ليك کي ولسمشر ته وليکل:( ستاسو لپاره دا ډېره مهمه ده چي د خپلو خلکو سره په تماس کي شی ، په ځانګړي توګه ستا په مرکز ياني جنوب کي).

که چيري ولسمشر د امنيتي اندېښنو له امله ولايتونو ته سفرونه نه شي کولای ، نو بيا يې ولي د اکرم نسخه نه پلي کول چي ولايتونه يې ځان ته ور غوښتي وای.

اکرم پدې کار کي ځانګړی استعداد درلود او په ځانګړي توګه يې د غلجيو د څو مخورو او قومي مشرانو سره ليدلي وو.

غلجي د پښتون قوم يوه څانګه ده چي په ۱۷۸۳ مېلادي کال کي د نادرشاه او دده د ابدالي پلويانو لخوا د کندهار څخه وشړل شول. اوس غلجي په کندهار کي په اقليت کي شمېرل کېږي.

ددې پېښي ډېر کسان ځکه د طالبانو د ليکو سره يو ځای شول چي د طالبانو رهبر ملاعمر غلجی و.

زه پدې کار سره ډېره خوشحاله وه چي اکرم د غلجو د مشرانو سره کتلي وه او اوس غلجو په کندهار کي يوه شورا هم جوړه کړې وه چي مشري يې د يو ډېر هوښيار کس په غاړه وو. نوموړي دوه مرستيالان لرل چي يو يې پخوانۍ کمونستی و ، خو اوس يې ازاد تجارت کاوه. دوی زما سره پټي او ښکاره اړيکي لرلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


موږ يو مجلس داير کړ چي په هغه مجلس کي د دوی لومړی شکايت دا و چي کار اهل کار ته نه دی سپارل شوی.

زه هغوي ته غوږ وم ، دوی زياته کړل: دلته ټوله خلك په زور سره واك ته رسېدلي دي او هغوی بيا هر چيري خپل کسان مقرر کړي دي. بيارغونه بايد د هر چا لپاره وي ، خو اوس د بيا رغوني پيسې ټولي غلا کيږي.

ما ددغه کس څخه وپوښتل چي ايا دغه دوې موضوعګاني اړيکي سره لري ؟

هغه وويل ولي نه ، واکدارو خلکو ټوله پوستونه خپلو کسانو ته ورکړي دي. ده د مثال په توګه د ښووني او روزني او د کليو او پراختيا رياستونه ياد کړل چي مسؤولينو يې ټولي پيسې په خپل شخصي جيبونو کي اچوي.

دوی ټولي پيسې يوازي په خپلو منځونو کي سره وېشي ، داسي چي بل چاته هيڅ هم نه په کي رسيږي.

ما يوه پروژه پر مخ بېول چي په هغه کي مي غوښتل د امريکا متحده ايالاتو ښوونځی په کندهار کي د ښوونځيو سره وصل کړم. همداسي هم وشول ، امريکايي زده کوونکو به خپل تصويرونه ، ليکونه او پيسې ټولولې او بيا به يې په افغانستان کي د دوی ملګرو ته را استولې. يوازي زما په شخصي ابتدايي ښوونځی کي دولس سوه ډالر ټول شول. ما هغه په کندهار کي د انجونو يوې ښوونځی ته ورکړل ، په هغه ورځ زما شخصي شپږ سوه ډالره هم په ناپامي کي په هغه پټاکيدانه کي را څخه هېري شوې. وروسته خبره شوم چي هغه پيسې د ښوونځی مدير ، يوه ښوونکي او د ښووني او روزني د رياست د څو نورو کار کونکو له خوا سره وېشل شوي وې.

کوم خوراکي توکي چي به نړيوال خواکي سازمان او پاکستان مېشت اسلامېك کريليف لخوا ښوونځي ته ورکول کېدل ، هغه به هم ددغو غلو لخو غلا کېدل. دغه رشوت خواره کسان ټوله د والي شېرزي کسان وو. له همدې امله مي د کندهار له ښوونځيو سره خپلي اړيکي پرېکړې ، که څه هم مدني ټولني لا پدې ډګر کي فعاليت کاوه ، خو ما کومه خاصه دلچسپي تر دي وروسته نه ور سره درلودل.

موږ په غونډه کي د ټوپکسالارۍ موضوع ته ور سېدلو.

دغو قومي مشرانو پر دې ټينګار کوی چي ټوله ملېشه يې کسان دي بې وسلې شي او بل کار دي ورته پيدا کړل شي. ما په کندهار کي د نورو کسانو سره هم په دې اړه خبري کړي وې ، خو د غلجو د قومي مشرانو وړانديزونه خورا مهم و.

زه کابل ته د خپلو مشرانو د ليدلو لپاره روانه وم چي ناڅاپه مي په زړه کي راوګرځېدل چي ولي د دوی او د امريکا د سفير تر منځ د ملاقات زمينه نه برابروم.

له همدې امله به زه د دوی شورا ته ورتلم ، تر څو پدي اړه خبري او ځني نوري لارښووني ورته وکړم. دغو مشرانو هره اوونۍ په يوه لويه خونه کي سره راغونډېدل چي مخ ته يې برنډه لرل او خونه په کړکيو روښانه شوې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يادېږي مي چي په هغه خونه کي د مچانو سيلونه ګرځېدل او پر پرتو پلمېتو را ټول شوي وه ، يو هلك د چايو لپاره موظف شوی و. دا د مارچ تر ټولو ګرمي ورځي وې.

يوه شي ته چي هغوی ما و هڅول دا و چي ولسمشر کرزي ته ښه په زړه پوري وړانديزونه رامخ ته کړي. کرزی د افغانستان د ولسمشر په توګه پدې عقيده دی چي قومي خانان د ډېرو مسئلو د حل توان لري.

ما هغوی ته وويل چي ولسمشر ته داسي مه ورځی لکه چي تاسو د هغه څخه د وظيفې د تر لاسه کولو غوښتنه کوی ، بلکي تاسو د خپل حق غوښتنه تري کوی. تاسو د هغه څخه د ملي پاليسی په اړه پوښتني کوی او هغه بايد په همدغه ډول ورته ووایاست.

همدې کار د غلجيو سره زياته مرسته کول تر څو دوی ولسمشر ته يوازي ضروري ټکي بيان کړي.

ما د دوی لپاره يوه تربيه وي غونډه هم دايره کړه چي مشري يې ما کول او بيا مي هغوی ته د خبرو بلنه ورکړل.

پر ما چاپېرو کسانو د خبرو کولو لپاره خپلي ګوتي پورته کړې. په هغوی کي ګردي سترګی او پراخ ږيری توخی ، ببر سری ګل محمد کوچيوال چي دعوه يي کول ددي حوزې د ټولو کوچيانو نمائنده ګي کوي او توخلا و چي ممکن تر اوسه يې د خپلو مشرانو مخ ته خبري نه وي کړي.

دا ډېره نابلده خبره ده چي يوی امريکايي ښځي د افغان قومي مشرانو د جرګې مشري کول ، په غونډه کي د غلجو مشرانو ډېر ښه ښه ټکي رامنځ کړل ، دمثال په توګه دوی ويل دا امکان نه لري چي دغه ټوپکسالاران دي د نړيوالي ټولني د همکارۍ پرته له واکه ليري شي ، څکه چي هغوی اوس خورا څواکمن شوي دي. همداد ټوپکسالاري تحفه د امريکا متحده ايالاتو لخوا افغانانو ته ورکړل شوې ده. همدا بهرنيان دي چي پر دغو خلکو وسلې خرڅوي او هغوی بيا افغانان پرې په نښه کوي ، خو اوس بيا دوی موږ ته د ټوپکسالار خطاب کوي. دوی بايد زموږ سره ددغو کسانو په مهارولو کي مرسته وکړي.

زه پدې ډېره حيرانه وم چي دي__دي__ار يا د بې وسلې کولو پروسه ولي دومره کراره وه ؟. څه چي ما په دغه غونډه کي زدکړل ، هغه دا و چي ټوله قومي مشران پدې باور و چي د بې وسلې کولو لپاره بايد زيات څه وشي.

زما په نظر چي دبې وسلې شو کسانو لپاره بايد د کارمندني په موخه لوی يې پروژې په کار واچول شي ، او دغه وسله وال کسان بايد د سړك جوړوني ، لويو بنيادي پروژو په کارونوکي په کار و ګمارل شي. له همدې لاري به دوی وکولای شي چي نظم ، دسپلين ، يونيفرم اغوستنه او کارډ څړونه زدکړي .که دوي نوي کسبونه زدکړي او د وسلې څخه څه موده لري وساتل شي دوی به د مدني ټولني تر ټولو ښه غړي جوړ شي.

يوه قومي مشر وويل: همدا کرزی دی چي ټوپکسالاران يې پيدا کړي دي ، و ګوری شېرزی ، اسماعيل خان او داسي نور. دا هغه څه دي چي کرزي بيرته راوستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ورته وویل: تاسو باید دا هر څه ولسمشر ته په ډاګه کړی ، هیڅ مه ځني شرمېږئ. زه په دې باوري یم چي کرزی هم زموږ په شان ددغو غلو څخه تر پوزي راغلی دي ، خو د ځینو لاملونو له وجهي هغه دغه کار ته زړه نه ښه کوي. ممکن ولسمشر به په خپل واك باوري نه وي او یا د ولس د ملاتړ د زرغون څراغ بلېدلو ته انتظار باسي. په دوي کي یوه وویل چي زه په دې نظر یم چي ولسمشر په موږ ټولو لوبي کوي.

ما د غلجو د قوم سره مرسته وکړل تر څو خپل وړاندیزونه ولسمشر او دامریکا سفیر رابرټ فین ته وړاندي کړي.

په افغانستان کي یو نظر حاکم دی ، هغه دا چي ټوله شیان د بهرنیانو لخوا اداره کیږي. دویمه لویه مسئله لوجیستکي وه.

دغه مشران زیاتره زاړه کسان وه چي کابل ته څو واره تګ او راتګ ورته ډېر ستونزمن کار و ، له بله پلوه دغو کسانو په کلونو کلونو د کندهار څخه دباندي پښه نه وه ایښې.

له بله پلوه دغو کسانو کابل ته د تګ پر مهال د لویې لاري په اوږدو کي د لاري د امنیتي کسانو څخه هم ویره لرل.

د همدي مشکل د مخنیوي په اړه مي د شورا مشر ته وویل چي د ټولي لاري په اوږدو کي باید زما سره ټلیفوني تماس ولري. زه به په کابل کي د ولسمشر په دفتر کي د دوی لپاره کارونه منظم کړم.

زما مشران ددي کار څخه ډېر ډېر خوشحاله و او دوې د هغه کار له امله چي ما تر سره کړي و ، ډېر خوښ وو.

دغه قومي مشرانو د کابل ښار په دروازه کي د شمال ټلوالي د وسلوالو کسانو لخوا ددې امله درول شوي و چي موټران یې د لاري په دوړو لړلي وو ، ږیري یې لرلې او بګړۍ یې تړلي وې او د جنوب په لهجه یې خبري کولې. ما سمدستي د ولسمشر دفتر ته ټلیفون وکړ. یو کس راغلی او هغوی یې ارګ ته ورسره بوتلل.

د کابل په دروازه کي د دوی درول او بیا د ولسمشر له دفتر څخه د یو نفر راغوښتل ، دغلجو لپاره دا پیغام ور کوی چي و ګوري موږ خپلي پلازمیني ته لا د یو بهرنۍ ښځي د مرستي پر ته نه شو ورتللای.

بل دا چي پلازمېنه کابل نور د دوی او د دوی د ولس نه دی ، بلکي د شمالي ټلوالي د ټوپکسالارانو په کنټرول کي ده.

د ولسمشر په مېلمستون کي هم دا شان ستونزي وې ، هلته نه اوبه او نه برېښنا وه او همدا ډول د ډوډۍ انتظام هم نه و شوی.

دغه کار خو بیا ښځي د بخښني وړ نه و ، ځکه چي د همدې لپاره ما هغوی ته څو اوونۍ وړاندي خبر ورکړی و. ددې مجلس موخه دا وه چي د کرزي او قومي مشرانو تر منځ باید اړیکي ټینګي شي ، تر څو په جنوب کي د کرزي ملاتړ نور هم پیاوړی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه په دې باور نه يم چي د ولسمشر دفتر دي ددې امر ور کړی و ، خو بالاخره دغه کسان به د ډوډی لپاره ښار ته ورل کېدل.

زما مشرانو ما ته ټليفون وکړ او دهغوی د رضايت په اړه يې را څخه راپور وغوښت.

د ولسمشر سره د دوی غونډه ډېره په زړه پوري وه ، بالاخره موږ ته ولسمشر او دده ريئس ارکان يو بربېښناليك را واستوی چي په هغه کي يې زموږ څخه مننه کړې وه.

ددې تر څنگ د غلجيومشرانو د امريکا د سفير سره يوه ورځ تېره کړل چي په ډېرو شيانو وپوهېدل. دوی د نورو غلجيو د ټولنو سره وپېژندل او د دوی د استقبال لپاره وزير را استول شوی و او دغه مجلس د ټلوېزيون له لاري هم خپور شو. د همدې امله زما مشر په کابل کي تر دوو اونيو پوري پاته شو.

ما په وزير اکبر خان کي دقيوم کرزي په کور کي ژوند کوی ، په تېرو شپږو مياشتو کي چي به د قيوم کرزي کورته که به امريکايي ډيپلوماتان ، د اردو افسران ، ژورنالستان او د بشري موسيسو کار کوونکي راتلل ، ما به د ټوپکسالاري مسئله ور سره مطرح کول.

خو دلته ستونزه دا وه چي امريکايانو کرزي ته کتل او کرزي امريکايانو ته هر يوه دا فکر کاوه چي هغه بل به قدم مخکي پورته کړي.

دغه ټوپکسالاران په اصل کي کاغذي پړانګان وو. ما يو سهار قيوم کرزي ته د چايو څښلو پر وخت وويل چي راسه ولسمشر کرزي ته د ټوپکسالارانو د واکه د ليري کولو لپاره يوه مسوده وليکو ، ممکن هغه به نه پوهيږي چي د کومه سره يې را پيل کړي. موږ بايد هغه ته يو نظريه ور کړو.

قيوم کرزي هم زما خبره ومنل ، موږ يوه مسوده وليکل چي اته برخي يې لرلې چي په لاندي ډول دي:

1. د گل اغا شېرزي څخه يې پيل کړه.

2. دده عوض انتخاب کړه ، داسي يو کس بايد هلته ولېږل شي چي ښه کاري تجربه ، نفوذ او نوري داسي ځانګړتياوي ولري ، تر څو ټوله کارونه په ښهٔ توګه منظم کړي.

3. گل اغا شېرزی کابل ته در وغواړه ، کابل ته تر رسېدو وړاندي بايد دده څخه دغه تصميم پټ وساتل شي. کله چي هغه کابل ته در ورسېږي ، ستاسو د تصميم څخه يې خبر که او ورته ووايه چي ددې هدف يوازي په کندهار کي د اداري چارو لا ښه سمون وو.

4. په يوه وخت کي تاسو او يا ستاسو استازي بايد د امنيه قوماندان ضابط اکرم ، خان محمد ، محمد شاه او امير لالی ستاسو دتصميم څخه خبر کړی. ستاسو يو باوري کس رازق شېرزی د گل اغا د ورور د څارلو لپاره و ټاکئ. ددې هر څه په اړه هغو ټولو افغانانو ته خبر ورکړی چي پر دوی باور لري.

5. د پاکستان پر پوله د سپين بولدك ساتل. دا ځای د امنيتي لحاظه خورا مهم دی چي کدای شي هلته ځني ورانکار فعاليتونه تر سره شي.

6. هم مهاله چي تاسو د شېرزي سره مجلس لری ، ستاسو يو باوري استازی بايد د کندهار

(c) ketabton.com: The Digital Library


ټوله قومي مشران راغونډ کړي او ستاسو د تصميم څخه يې خبر کړي او په همدې اړه ددغه مشرانو حمايت را جلب کړي.

7. نور ټوله حکومتي چارواکي بايد خپل پر ځای پاته شي ، نوی والي بايد د اوضاع تر ارزيابي وروسته د نورو حکومتي ادارو د تصفيه کولو چاري پيل کړي.

د همدې پلان په اړه د ملکي او نظامي لوړ رتبه امريکايانو سره خبري کول ، او په امنيتي چارو کي بايد له هغوی څخه مرسته وغوښتل شي. د مثال په توګه د هغوی څخه د سپين بولدك په ساتلو کي مرسته وغواړي. رازق شېرزی چي مرکز يې په هوايي ميدان کي دی ، پرېښردي چي کسان منظم کړي او امنيت ته ګواښ متوجه کړي. په کندهار کي د امريکا د ستيټ ډيپارټمنټ استازي بايد خالد پښتون ته خبرداری ورکړي چي که چيري هغه د امنيت خرپرولو هڅه وکړي ، نو د دوی له خوا به ورسره قانوني چلند وشي.

دا د ټوپکسالارانو د ليري کولو هغه اته مهم ټکي ول.

ما هغه پر نټ کړل ، قيوم هغه په دقت سره وکتل ، خو کله چي هغه په دغه شپه ارګ ته تلی په خپل بيګ کي کېښېښودل. تر دې وروسته چي زه هر ځل کابل ته تلم ، نو د امريکا د سفارت دروازه به مي خامخا ور ټکول. د سفارت د سياسي چارو مسئول کورت امېند و نوموړي د مرکزي اسيا د هيوادونو د کلتورونو سره د بلدتيا په خاطر خورا مشهور و او ډېر وخت يې په پاکستان کي هم تېر کړی و.

په مارچ کي د کابل په لور د ښځي د نړوالي ورځي په مناسبت په يوه کنفرانس کي د ګډون لپاره وخوځېدم او له بله پلوه مي غوښتل د ولسمشر کرزي سره هم ووينم.

قيوم به د ورځي څو ځله ارګ ته تلی ، خو هيڅکله يې ما ته د ورتګ بلنه نه ده راکړې او ما هم هيله نه ده ځني کړې.

د ارګ د ودانۍ په دويم پوړ کي ، تر ډېر انتظار وروسته مي ولسمشر کرزی د دويم ځل لپاره مخامخ او تنها وليدی.

په لومړي ځل مي ولسمشر کرزی دده د ورور د احمدولي په واده کي وليدی ، په هغه ورځ پر نوموړي مرګوني حمله وشول ، خو نوموړی ژوندی ترې پاته شو.

کرزي وويل ښه ته هغه يې چي ماته دي ليك ليکلی وو ؟.

زه او دی په يوه خوندي ځای کي مخامخ سره کښېناستلو ، چای او کشمش مو مخ ته د خوراك لپاره پراته وه. زموږ د خبرو په پای کي ما ورته وويل تاسو د يو داسي پلان په لټه ياست چي ټوپکسالاران له واکه ګوښه کړي.

زه پر قيوم شکمنه وم چي هغه به زما ليك خپل ورور ولسمشر ته نه وي ورکړی. ولسمشر د يو داسي پلان په لرلو سره انکار وکړ ، ما ورته وويل زما سره يو څه شته که مو ورته ضرورت وي ، ولسمشر وخندل او د پلان د اخيستلو لپاره يې خپل لاس راو غځوی.

پلان يې واخيست او په خپل بيګ کي يې کېښودی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه چي زما په وس کي وه هغه مي تر سره کړل اوس نو يوازي زما لپاره انتظار ايستل پاته وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# وږمه

## (مارچ ۲۰۰۳)

په همدې پسرلي کې د کندهار امنيت مخ پر خرابېدو روان و.

په مارچ کې يو ماپښين چې اکرم په خپل دفتر کې ناست و ، ويل يې کرزی بايد نور ددې وضعي په را کابو کولو کې کې جدي اقدم وکړي.

د همدې خبرو په جريان کې يو تن خوني ته را ننوت ، د اکرم و غوږ ته يې خوله ور نژدې کړل او په پسکي يې خبري سره کولې.

زه د دوی په خبرو نه پوهېدم چې څه سره وايي ، پر دي مهال لا زما پښتو دونه نه وه شوي چې په هر څه دي پوه شم او له بله پلوه ما هم دوی د ژباړي لپاره نه په تکليف کول.

ددغه نفر د وتلو سره سم اکرم مخ زما خوا ته را واړوی او په اړه يې معلومات راکړل.

دغه نفر د اکرم خبرونکی و چې د طالبانو د يوه پخواني ګروپ سره يو ځای شوی و. دغه ګروپ د پاکستان څخه پر خامه لار را اوښتی و او د کندهار په شمال کې ځای پر ځای شوی و.

دغه نفر وويل: کندهار ته د رارسېدو وروسته موږ ټوله په کليو او غرونو کې تيت او پرك شو. ما تر اوسه نه دی ليدلی چې په يوه وار دي ډېر شورشيان افغانستان ته را اوښتي وي او زموږ ګروپ ټوله پنځه ويشت کسان وو.

اکرم زياته کړل چې دغو جنګياليو ته په پاکستان کې پيسې او تربيه ورکول شوې ده ، ده همدا راز وويل چې دغو او نورو جنګياليو ته امر شوی دی چې په لومړي ځل د کندهار لري پرتو ولسواليو ته لاړ شئ او د همهغه ځای څخه کرار__کرار عمليات پيل کړی ، تر څو د کندهار ښار تر څنډو پوري راورسيږي.

تر دغو خبرو درې ورځې وروسته د سره صليب د نړيوالي ټولني يو کاروان په هغه سيمه کې په کمين کې ونښت چې هغه خبر رسونکي يې يادونه کړې وه.

په هغه کمين کې ددغه خيريه موسيسې يو بهرنی کار کونکی ووژل شو.

دغه پېښه په جنوب کې د بيار غوني کارونو لپاره خورا لويه ضربه وه.

تر پيښې وروسته نړيوالو خيريه ټولنو په تدريجي توګه خپل کارونه و ځنډول. ددغه وژل شوي کس هيدرو ليکلي انجينر او ريکارډو منګويا نوميدي.

د نوموړي سره درې افغان ملګري هم ورسره وو. دا پېښه د کندهار او ترينکوټ تر منځ چې د اروزګان ولايت مرکز دي رامنځ ته شول.

د يادوني وړ ده چې اروزګان ډېر نا ارامه ولايت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د همدې ولايت والي يو شدل ، بې مهارته او خونخوار انسان دی. دا هغه ځای دی چې ولسمشر کرزی د طالبانو د رانسکورولو لپاره د همدې ځایه کمپاين پيل کړ تر څو پښتانه د طالبانو د ملاتړ څخه بېل کړي.

د طالبانو ډېر مشران هم د همدې سيمې و. دا ولايت ډېر وروسته پاته دی ، له همدې امله د خيريه موسيسو لپاره کار کول پکښې کې ډېر ګران کار دی.

د ريکارډو تر مړيني يوه ورځ وروسته ما د اکرم سره دده په کور کې يو بل مجلس درلود. دا هغه وخت و چې کندهار ته د امريکا د متحده ايالاتو د سټيټ ډيپارټمينټ استازی تازه رارسېدلی و ، ما هغه هم دغه مجلس ته دعوت کړ. دغه استازي د ريکارډو د جسد تر ليدلو وروسته ډېر وېرېدلی و او په همدې اړه يې د امنيه قوماندان نظر و غوښت.

ده وويل: ايا فکر نه کوي چې دغه کار دي د جهادي سخت دريزه قوماندان حکمتيار نفرو تر سره کړی وی ؟ او همدا افسر د خپل نظر مطابق پر نورو شيانو هم و ږغېدی. په اخره کې ده د اکرم څخه وپوښتل زموږ لپاره څه پکار دی چې بايد تر سره يې کړو ؟.

اکرم هغه ته داسي عالمانه ځواب ورکړ چې هغه يې ډېر حيران کړ ، خو پر مجلس باندې د رسمي ژباړن چې د شېرزي انډيوال و ، سيوری خپور و.

اکرم هغه ته په جنوب کې د ښه حکومتدارۍ ټوله لومړيتوبونه په نښه کړل. داسي چې د امنيتي ارګانونو او اداري رياستونو تر منځ بايد دندي په روښانه توګه ووېشل شي. د مرکزي حکومت لخوا بايد ټوله کارونه و څارل شي. اداري واحدونه بايد په مناسبه توګه ووېشل شي او بيا رغونه بايد د ټولو قومونو لپاره په مساوي توګه تر سره شي ، تر څو ټوله کسان په مساوي توګه ددغه پروسې څخه برخمن شي. اکرم دغه استازي ته غوره او منطقي د لايل وويل ، خو څومره چې زه پوهېږم دغه استازي هيڅ داسي کوم اساسي شی د اکرم څخه زده نه کړ.

ما لا هغه ژورنالستکي عادت نه وپرېښی ، د اکرم څخه مي د شورشيانو په اړه دا لاندې پوښتني وکړې: هغوی څوک دي ، څو کسان دي ، او څو موټره ورسره دي ؟

اکرم وويل: شورشيان په ګروپي شکل له چمن څخه را اوړي د ريګستان پر لار د کندهار په شمال کې د سلو کسانو په اندازه سره را غونډيږي.

دوی د کمينونو لپاره ځايونه په نښه کوي چې اکثره يې د اروزګان او کندهار تر منځ په يوه دره کې دي چې د همدې ولايتونو لار هم د همدې درې څخه تېريږي. دغه ليري پرته سيمه ده چې حکومت هلته پوره واکمني او نفوذ نه لري. او هلته ګزمې هم نه تر سره کيږي ، که وي هم ډېر لږ وي.

طالبان څلوېښت کسان د درې يوې خوا ته او څلوېښت يې هغه بلې خوا ته مورچې نيسي او دوه کسان لاندې پر سړك د موټرانو درولو لپاره ولاړ وي.

په هغه ورځ طالبانو په سيمه کې کمين نيولی و چې پر دي لار تيريدونکي ټول موټران به د تلاښي لپاره درول په همدي مهال کې د دوو موټرانو کاروان چې نوي ماډل ټويوټا ، لنډ کروزران و

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ای_سي_ار_سي ټاپه پر وهل شوې وه او د مخابرو انتنان یې د اسمان پر لور ختلي و، ریکارډو او درې نور افغان ملګري یې هم پر همدې کمین ور پېښ شول.

د همدې پېښې یو عیني شاهد چې د طالبانو د همدغه ډلي غړي او د اکرم نفر و، اکرم ته داسي کیسه کړې وه.

زموږ یوه ملګري په ستلایټ ټلیفون کي خپل مشر ته خبر ورکړ چې څلور کسان مو ونیول یو پکښې بهرنی دی. څلور سره مو په کار دي که دغه یو؟

خو ځواب یوازې د خارجي راغلی. دغه طالب خپلو کسانو ته امر وکړ چې هغه خپل موټر ته و دروی او په ګولیو یې وولی.

د ریکارډو تر ویشتلو وروسته موټر اور وا خیست د ای_سي_ار_سي افغان کار کوونکو طالبانو ته خواست وکړ چې د ریکارډو جسد و نه سوځي.

د اکرم د کور تر پرېښودلو وروسته مي د هغو دوو کلوو نومونه پیدا کړل چې طالبانو په هغه کي شپه تېره کړې وه.

دغو پیښو زه ډېره خواشینې کولم چې باید مخه یې نیول شوې وای.

د ریکارډو وژنه هیڅ مبهم کار نه و، بلکي پخوانیو طالبانو هغه وواژه او جسد یې په اور وسوځی. دا کار په کندهار کي کوچنیو نړیوالو موسیسو ته د برقي شاټ په شان و. کله چې د ریکارډو جسد د کندهار هوایي ډګر ته بدرګه کېدی، نو ډیرو بهرینانو د بیارغوني د کارونو د درولو تصمیم ونیوی او ډیرو کار کوونکو کندهار پرېښود کابل ته لاړل.

کله چې م د برتانیا د ځانګړو هوایي خدمتونو د یو متقاعد افسر سره د تجارت د ارزیابی په اړه خبري کولې، هغه را ته وویل چې بوسنیا په ۱۹۹۶ م کال کي تر افغانستان ډیره خطرناکه وه. خو هغه ځای چې ریکارډو پکښې ووژل شو، تر یوه کال وروسته د غرب په سر سختو دښمنانو واوښت.

د امنیت په اړه نړیوالو خیریه ادارو یوه ځانګړې غونډه راوبلل. په هغه غونډه کي وویل شول چې موږ باید ټول کارونه د امریکایي ټګ لاري سره عیار کړو.

په افغانستان کي د خیریه ټولنو اکثره کارکوونکي امریکایان نه و، هغوی د مختلفو هیوادونو څخه وه چې د امریکا د بهرنی پالیسی سر همنظره هم نه و.

د سپټمبر تر یوولسمي وروسته د اروپا ټولو خلکو د امریکایانو سره همدردي و ښودل، خو امریکا ددغه همدردی څخه ناوړه ګټه پورته کوي او غواړي چې خپل نوري اجنډاوي په تر سره کړي. د خیریه ټولنو کارکوونکي په افغانستان کي د امریکا د شتون له امله په نښه کېدل.

ډیر امریکایان او اروپایان په دې باور وه چې دا امریکایي سرتیري دي چې زموږ ژوند په خطر کي اچوي، ځکه چې دوی د بیارغوني کارونه تر سره کوي او شورشیان د سرتیرو او خیریه کار کوونکو تر منځ توپیر نه شي کولای، خو زه پدې باور یم چې د امریکا نظامي حضور په افغانستان کي یوه سیاسي مسئله ده، له همدې امله د خیریه ټولنو د کار کوونکو د مرګ ژوبلي کچه لوړېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما په فکر زما ددغه ملګري د لايل سم نه و ، زه پدې باور يم چې د امريکايي سر تيرو شتون زموږ ژوند له خطره ژغوري.

زما په فکر  دغه کسان په افغانستان کې د بغاوت د ريښو څخه ناخبره دي.  افغانستان داسي ځای دی چي هلته وراني د ژوند يو اړخ ګرځېدلی دی او له بله پلوه په افغانستان کې د غچ اخيستلو کلتور حاکم دی.

دا هغه څه و چي ما د راپورترۍ په وخت کې زده کړل. زه د هغو ځوانو جنګياليو په ارزښت پوهېدم چي زما سره به کندهار ته پر لار روان و.

دوی يوازي دا نه چي زه به يې د کلاشنکوف په مرسته ساتلم ، بلکې د دوی شتون زما سره د دوی  قومي شورشيانو ته دا پيغام رسوی چي ددې ساتنه زموږ دنده ده نو له همدي کبله  هغوی ما ته د خطر رسولو جرات هم نه شوای کولای.

په افغانستان کې سړی په دېوالونو او اغزنو تارونو سره نه سي ساتل کېدلای. که چيري يو څوك ستاسو د مرګ تابيا وکړي ، نو امکان نه لري چې سړی دي ځان ځني وژغوري.

مګر که چيري تاسو په يو معلومې ډلې ، کورنۍ او قوم پوري اړه ولری او يا د هغوی ملاتړ در سره وي ، نو ستاسو ژوند ته به د خطر رسولو کچه ډيره کمه وي.

په نوي يمو کلونو کې چي په سوماليا ، ريونډا او بالکان کې کومې شخړې رواني وې ، هلته يوازي بهرنيانو د اعتبار وړ خلك و. د مختلفو ډلو يوازي پر بهرنيانو باور کېدی.

همدا لامل و چې دوی د جګړې په  لومړی کرښه کې هم خلکو ته مرستې رسولای سوای. هلته بهرنيان يوازي په خطا کې ژوبلېدل او يا وژل کېدل چي هغه به هم هغه وخت چي دښمنو ډلو به د خيريه کارکوونکو او خپلو دښمنانو تر منځ توپير ونشو کړای.

په افغانستان کې چي اوس کومي خيريه ټولني کار کوی ، په همهغه نظر دي. خو د افغانستان مسئله په بل ډول ده ، داسي چي دلته جګړه د امريکا او ځينو مسلمانو ډلو تر منځ ده.

خيريه ټولونو غوښتل چي د تل په شان خپل کارونه د جګړې تر لومړۍ کرښې پوري ورسوي ، خو دلته هر څه بل شانته دي ، د ريکارډو وژل  اشتباه نه و ، داسي چي شورشيانو دي پر هغه  د امريکايي ګومان کړی وي.

خو زه وايم دا نظر بالکل غلط دی او ددي ځاي مسئله د نورو سره خورا ډير توپير لري.

دلته شخړه د تمدونونو تر منځ ده چي يوې خوا ته يې اسلام او بلي خوا ته يې غرب دی.

اسلامي ډلي لکه القاعده او طالبان پر هغوی باندي د ريکارډو او امريکايي سرتيرو توپير نشته. ددي هيڅ پروايې نه لرل چي ريکارډو څومره د امريکايي پاليسۍ مخالف و ، خو هغه نه شوای کولای چي ددغه شخړي څخه بهر پاته شي.

څومره چي واشنګټن پر القاعده فشار راوړی ، هغومره مسلمانان زموږ مخالف کيږي او مخالف طرف نيسي لکه چي همداسي و هم شول. ډيرو کسانو د القاعدې په شان توندلاريتوب غوره کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څه هم ريکارډو دغو مسلمانو جنګياليو ته خواست وکړ چې هدف يې يوازې د بې وزلو کسانو سره مرسته کول دي ، خو کومه ګټه يې نه لرل ځکه چې دا د شورشيانو اصول دي. نو ويلای شو چې د ريکارډو مرينه قصدي وه.

دغې خيريه ټولنې د امريکايي سرتيرو سره هيڅ اړيکي نه لرلې او په ډيرو مواردو کې د امريکايي پاليسۍ خلاف هم وو.

زما دا خبرې هغه وخت په حقيقت بدلې سوې چې د ای__سي__ار__سي او په پاريس کې مېشته اداره بې پولې ډاکټران چې د امريکايي پاليسۍ سره سخت په ټکر کې دي ، تر ټولو ډير زيان وليدی.

د اکرم د معلوماتو له مخې هغه شورشيان چې ريکارډو يې ووژی ، اکثره يې د شېرزي قوميان د بارګزو په قبيله پوري اړه لرل ، څو کسان د اکرم د الکوزو د قبيلې دا هم پکښې کې وه چې په هغوی کې اکرم خپل نفر هم ځای کړي و ، د دوی اصلي مېنه اروزکان ته نژدې ليرې پرتې سيمې وې ، خو کله چې د طالبانو حکومت نسکور شو دغه کسان پاکستان ته وتښتېدل ، خو دا د طالبانو تر نسکورېدو وروسته افغانستان ته ددوي لومړی راتګ و .

زما مطلب دا نه دی چې والي شېرزی دي په دې وژونو کې د هغوی سره لاس ولري ، خو دا وژونکي اکثره بارکزي وو.

خو دا هم د امکان څخه ليري خبر نه ده چې شېرزی ددغو شورشيانو د راتلونکو وران کاريو څخه خبر نه و.

خو والي ددې هر څه څخه نا خبري ښودل.

زما دغه نظر هغه وخت د تائيد وړ وګرځيدي  چې د کرزي يوه وفاداره قوماندان ته د يوه کلي څخه د هغه د يوه ملګري له خوا ټليفون راغلی چې زموږ کلي ته د طالبانو يو لوی ګروپ راغلی. د کرزي دغه وفادار قوماندان دغه معلومات سمدستي شېرزي ته يووړل او د هغه څخه يې ددغه طالبانو په مقابل کې د عکسل عمل ښودلو غوښتنه وکړل. خو شېرزي هغه ته وويل سمه ده ، ددې په اړه به په راتلونکي اوونۍ کې يو څه وکړو. خو راتلونکي اونۍ ډيره ناوخت وه چې په همدې موده کې ريکارډو ددې نړۍ څخه کډه وکړل.

په افغانستان کې ټوله شورشي عمليات د پاکستان څخه تنظيم کېدل چې په کندهار کې د پاکستان مداخله د هيچا څخه پټه نه ده.

طالبان ټوله په چمن او کويټه کې اوسېدل ، د پاکستان د حکومت لخوا ورته د وسلو ګرځولو کارډونه او د دفترونو د پرانيستلو اجازه ورکول شوې وه.

کويټه د جهاد په وخت کې د مجاهدينو مهم مرکز و. دغه طالبان نه په افغانستان کې په ليري غرونو او نه د پاکستان په هغه قبايلي سيمو کې چې پاکستان غرب په خطاباسي چې هلته دوی کنټرول نه لري پټ شوي وو.

دوی په هغو ځايونو کې چې د پاکستان ترواک لاندي و کورونه لرل. تربيه کېدل ، وسلې ورکول کېدې چې زموږ د متحد پاکستان تر واک لاندي دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاکستان په دا تيرو درو لسيزو کي توندلاري توب ته وده ورکړل ، تر څو په جنوبي اسيا کي خپله اجندا په پلي کړي.

په لومړي ځل پاکستان د سرو لښکرو په وړاندي د جهاد افسانوي او سخت دريزه قوماندان ګلبدين حکمتيار رامنځ ته کړ.

کله چي هغه د شورويانو تر وتلو وروسته د افغانستان پر کنټرولولو بريالی نه شو ، نو يې د طالبانو غورځنګ رامنځ ته کړ چي د هغه مشر يې يو جهادي قوماندان و ټاکی. ددغه غورځنګ لپاره يې د ټولو مدرسو طالبان او دمهاجرو د کمپونو څخه ځوانان را جلب کړل.

د سرو لښکرو د شتون پر مهال چي په افغانستان کي څه رامنځ ته شوي وه ، دا ځل په بله بڼه د طالب تر نامه لاندي رامنځ ته شول ، تر څو له همدې لاري د پاکستان د ژوندي ساتلو امکان ډير کړی. جنت غوندي ځای د کشمير په نامه چي د هومالیا په غرونو کي پروت دی او د همدې کبله د پاکستان د ازادی ۱۹۴۷ م کال را هيسي چي د برتانيا څخه واخيستل ، د پاکستان او هند تر منځ د همدې سيمي پر سر څلور ځلي جګړې شوي دي.

د پاکستان فوج د جنرال مشرف په مشرۍ چي اوس د پاکستان واګي په لاس کي لري ، په ۱۹۹۹ م کال کي پر هندي کشمير يرغل وکړ.

پاکستاني چارواکي سخت دريزي ته وده ورکوي تر څو خپلي اجنداوي پرې پلي کړي. په پاکستاني چارواکو کي داسي کسان شته چي د مذهبي ايډيالوژۍ له لاري اخر دغه جګړه په يوې نړيوالي سپېڅلي جګړې بدله کړي ، خو اسلام اباد د نړيوال جهاد د القاعدي په شان دجهاد کولو اراده نه لري.

د پاکستاني چارواکو هدفونه سيمه ييز دي ، دوی غواړي د هندوستان سره خپل د قدرت توازون وساتي. خو متاسفانه چي د پاکستان ددغه هدف لاس ته راوړلو لپاره خپل راتلونکی په خطر کي اچوي.

موږ وينو چي د سيمه ييزي اجندا لپاره پاکستان په څه ډول د طالبانو تر نسکورېدلو وروسته د واشنګټن سره لوبي کوي.

په داسي حال کي چي په هرو څو مياشتو کي پاکستان د القاعدې يو غړی نيسي او بيا يې واشنګټن ته د يوه هډوکي په شان ور اچوي ، خو د بله پلوه بيا طالب شورشيان روزي او افغانستان ته يې د امريکايي عسکرو د خيريه ټولنو د کار کوونکو او وطنپالو افغانانو د وژلو لپاره افغانستان ته رالېږي.

پاکستان لومړی ددي موخي تر سره کولو لپاره ګلبدين حکمتيار ټاکلي و ، خو کله چي هغه د افغانستان په نيولو کي ناکام شو ، نو بيا يې طالبان رامنځ ته کړل.

سعودي عربستان د امريکا په ملاتړ څو کلونه د سرو لښکرو پر ضد د جهاد ملاتړ وکړ ، خو کله چي ماسکو او واشنګټن پر دې يوه خوله شول چي نور به د افغانستان په کورنۍ جګړې کي ښکېلو خوا وو ته مرستي نه ورکوي ، خو سعودي عربستان لا هم هغسي فعاله پاتې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د افغانستان په دننه کي د سعودي توندروانو شتون پاکستان د هغوی ملاتړ ته و هڅوي ، ځکه چي پاکستان فکر کوی چي دا هم د پاکستان توندلارو ډلو په شان دي چي پاکستان يې په خپله خاوره کي روزي.

په ۱۹۹۴ م کال کي د طالبانو تر را پيدا کېدو وروسته د جنوب په نيولو ډير ژر بريالي شول ، خو تر کابل کښته چي نور نژادونه مېشت دي د سخت مقاوت سره مخ شول.

په ۱۹۹۷ م کال کي سعودي تبعه اسامه بن لادن افغانستان ته د بيرته راتگ په تکل شو. چيري چي دی د سرو لښکرو په وړاندي جنگېدلی و. ده دا ځل يو جال ، ډيري پيسې ، رضا کاره جنگيالي او د هغوی د تربيې وسايل هم د ځان سره لرل ، تر څو له همدې ځايه د نړۍ په وړاندي يوه لويه جبهه پرانيزي.

دې کار د پاکستان ملاتړ او خوشالي د ځان سره لرل تر څو د عربي رضاکارانو په مرسته د افغانستان هغه پاته برخه هم د طالبانو په زور تر واك لاندي راولي.

دا ډير د امکانه ليري خبره ده چي اسامه بن لادن دي د پاکستان د اجازې پرته افغانستان ته راغلی وای. خو د نوموړي اجنډا د اسلام اباد له هغې سره ډېر توپير درلود.

د اسلام اباد اجنډا سيمه ييزه وه ، خو د اسامه اجنډا نړيواله او مطلقه ټولواکي وه.

کندهار يان وروسته پوه شول چي د محلي ملايانو پر ځای اوس عربان د دوی مشران دي او افغانستان د غرب ضد ترهگرو په اډه بدل شوی دی.

ددې ټولو پايله د سپتمبر يوولسمه شول ، چي په عکسل عمل کي يې امريکا پر افغانستان حمله وکړل.

دا د افغانانو لپاره ددغه عرب مېلمه لخوا تحفه و او پاکستان چي د افغانستان د نيوي فيصده خاوري واك په لاس کي درلود د لاسه ورکړ.

زما په نظر د سپتمبر تر يوولسمي وروسته نور پاکستان د القاعدې سره خپله مينه پرېښودل. د طالبانو د واکمنۍ پر مهال چي پاکستان د القاعدې ملاتړ کوی د هغه سره يې نوره کومه دلچسپي نه لرل.

کله چي زه په ۲۰۰۱ د ديسمبر په مياشت کي د چمن له لاري افغانستان ته اوښتلم ، خبره شوم چي ډير عربان پاکستان ته را اوښتي دي. هغوی اوس د پاکستان لپاره تر ټولو لويه بانکي سرمايه و ، ځکه چي هر يو يې غرب ته دومره اعتبار درلود چي پاکستان ته به يې د هغه په اندازه پيسې ورکولې.

اسلام اباد د طالبانو تر ماتي وروسته په هر درو يا څلورو مياشتو کي د القاعدي يو مخکښ غړی امريکا ته سپاری.

په حقيقت کي دغه ترهگر ټوله د پاکستان په لويو ښارونو کي نيول شوي دي ، نه په هغه وحشي قبايلي سيمو کي چيري چي پاکستان خپل پوځيان هلته د امريکا ضد کسانو پر خلاف د عملياتو لپاره ځای پر ځای کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو په دا ټوله موده کې پاکستان د طالبانو يو مشر هم و نه نيوى او امريکا ته يې و نه سپارى ، دغه طالب مشران ټوله په کويټه کې په ازادانه توګه اوسيږي او هلته خپل فعاليتونه کوي.

له بله پلوه پاکستان د طالبانو مشرانو لپاره هر ډول مالي او تربيوي امکانات برابروي. د پاکستاني پوځ ډير افسران يې طالب شورشيانو ته د تربيې لپاره ګمارلي دي او د سرحد هغه بله غاړه يې د طالبانو لپاره خوندي جنت ګرځولى ده.

دا هغه څه دي چي هيڅوك يې د شتون څخه انکار نشي کولاى. کله چي زه چمن ته د محمد انور د ليدلو لپاره لاړم ، هغه پر دې تاکيد وکړ چي شپه ور سره تېره کړم ، ده وويل که شپه تېره کړې هغه موټر سايکلان ، اتوماتيك سلاوي او پيسې به ووينې چي زموږ د کور تر څنګ د مدرسې طالبانو ته د پاکستان حکومت ورکړي دي.

اکرم چي کوم کس د طالبانو په ډله کې ځاى کړى و ، د هغه په وينا چي د دوى د تر بيې ځاى د چمن شمال طرف ته و چي په هغه کې موږ ته د پاکستان د اردو درو تنو افسرانو تربيه راکول چي يو يې ډګروال او دوه يې جګړنان وو.

اکرم ما ته د هغو درو پاکستاني افسرانو نومونه هم راکړل چي په دغه کمپ کې يې شورشيان روزل.

په دغو کمپونو کې شورشيانو ته د ماينونو جوړول ، پلان طرحه کول او ملکي چارواکي په نښه کول شامل و. پاکستان له دې امله پر واشنګټن د القاعدې د غړو باران جوړ کړى و چي تر همدې چتر لاندې يو ځل بيا طالبان سر منظم کړي.

يو وخت زه د امريکا سفارت ته د طالبانو په اړه معلومات ورکولو لپاره ولاړم. هغوى ته مې په کويټه کې د يو لوړ پوړي طالب قوماندان د موټر نمبر او د پاکستان د اردو د هغو دوو افسرانو پتې ورکړې چي دغه طالب مشر ته يې خوندي ځايونه او کورونه برابرول.

په سفارت کې امريکايي چارواکي په خواشينې توګه را ته وويل: ( زه پوهېږم ، زه پوهيږم سارا ، خو موږ په دې اړه هيڅ هم نه شو کولاى. موږ ته پاکستان يوازې خالد شېخ محمد راوسپارى.

خو له بله پلوه بيا امريکايي سرتيري د شورشيانو سره چي د دوى د متحد لخوا روزل کيږي او رالېږل کيږي د خرپ او ترپ په جګړو اخته دي.

کله چي د ۲۰۰۳ م کال په پسرلي کې د واشنګټن لخوا پاکستان ته درې اعشاري پنځه بيليونه انعام ورکړل شو ، امريکايي سرتيرو همدغه پروسه د تي__وي له لارې په خپلو تخته يې خونو کې تعقيبول.

ټولو امريکايي سرتيرو په يوه خوله ويل چي دغه ټولې پيسې به پاکستان بير پر طالبانو ولګوي او طالبان به پر موږ حملې لا سختې کړي.

په بل عبارت ويلاى شو چي واشنګټن په خپله د ترهګرۍ ملاتړ کوي.

د ترهګرۍ ضد جګړه يوازې يوه بهانه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما همدغه موضوع د امریکایي سرتیرو سره شریکه کړل ، هغوی وویل که موږ ته د پاکستان د نیولو اجازه راکړل شي ، نو موږ حاضر یو چې د یوې بلې دورې لپاره په رضاکارانه توګه پاته شو.

په هغو کې یو سرتیري چې زه به یې پرېښودلم چې دده سره د دویمې دروازې په بنکرونو کې کښېنم وویل: پاکستاني پوله زموږ لپاره یوازې یوه تصویري کرښه ده چې موږ یې د عملیاتو کولو څخه په را ګرځولي یو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په قلم جګړه کول
## (۲۰۰۳ پسرلی)

د ۲۰۰۳م کال په پسرلي کي لار خپلو اميدونو ته د رسيدو په هيله وم.

زه تر اوسه لا پدي نظروم که زه لږ نور سخت کار وکړم ، خپل کارونه دوه چنده کړم ، خلك دي لاري ته وهڅوم ، او هغو کسانو ته چي حساب پر کيږي نور هم خپل تماسونه ټينګ کړم شايد زه به د ټوپکسالارنو مسئلي ته يوه د حل لاره پيدا کړم.

زه کابل ته پر لاره وم تر څو امريکايي او افغان چارواکو ته د ګل اغا شيرزي د خطرناکه سلوك په اړه معلومات ورکړم. د امريکا په سفارت کي زما نژدي ملګري لوړ پوړي ډيپلوماټ بيل ټايلر وو. زموږ د خبرو په پيل کي داسي ښکاره شول چي د قيوم کرزي ، ولسمشر کرزي ، او د هغه د دفتر د مسول د بيا بيا ټنګار له کبله پر امريکايي چارواکو کرار کرار فشار زياتيږي او هغه يي د ځينو خطرناکو ټوپکسالارانو ليري کولو ته اړ ايستل.

خو زما لپاره دا هر څه خورا ورو وو.

يوه ورځ په اپريل کي مي ځان د کابل د هوائي ډګر د مسافرينو په تم ځاي کي د خورا ډيرو بهرنيانو او افغانانو په منځ کي وموندي. ما دلته د ملګرو ملتونو پرواز ته چي کندهار ته تلي انتظار کوي. زما تر شا مي په ليکه کي اپريل ويټ و ليدل. دا د واشنګټن پوسټ ويانده ده. دا د ډيري ښي تجربي او هنر څښتنه ده ، چي د ډير احتياط او کره توب له کبله يي پر يوه موضوع خورا ډير وخت تيروي ، ددي له قوله چي پر يوه ليکنه يي نهه مياشتي تيري کړي دي.

دا خورا ښه او کره راپورونه چمتو کوي ، خو اوس دا کندهار ته روانه وه چي ويل يي کيسه يي په کندهار کي ده.

ما په سمدستي توګه ددي د کيسي سره دلچسپي پيدا کړل. د (اي. سي. ار. سي) د اوبو انجينر ريکارډ منګويا وژل شوي و. په الوتکه کي دي زما لپاره په خالي سيټ پسي کتل خو دا ډيره کوچني الوتکه وو. زه تر اوسه لا د ريکارډو د وژل کيدلو له کبله خوتيدم.

د ګل اغا شيرزي د هغه ځواب څخه هم ډيره نا قراره وم چي ددي وژني په اړه يي ويلي وو. خو ما ددي پيښي د حقيقت د رابرسيره کولو کوښښ کوي. ما فکر وکړي که چيري زه پدي اړه خبري ور سره وکړم دا به د سم تصميم نيولو ته لاره اواره کړي. زما او ددي تر منځ پر همدي موضوع خبري رواني وي چي ددي جملي په اوريدلو سره يي ( ټوپکسالاري ترهګري هڅوي) څپرکي وتړل شو.

ما ساه واخيستل او بيا مي ورته وويل چي زموږ ملګري افغان ټوپکسالاران د ترهګري څخه خورا ډيره ګټه پورته کوي. همدا کار د دوي د ماشي لپاره خورا ښه نښه پيدا کوي او د خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وطنوالو د چور او تالان واك ورکوي. خو د شيرزي مسئله بيا داده چي هم د پاکستان سره خپلي اړيکي ساتي او هم د متحده ايالاتو سره.

د کندهار والي پدي خبر و چي د متحده ايالاتو پاليسي د پاکستان د پاليسي سره څونه توپير لري خو نوموړي په ساده توګه دي پايلي ته رسيدلي و چي په څه ډول دغه زبر ځواك دده د پخواني ملګري پاکستان لخوا محاصره شوي دي. او دي په دي هم پوهيږي چي څنګه د دواړو غوښتنو ته ځواب ووايي .

ټوپکسالاري ترهګري هڅوي ځکه چي يو ټوپکسالار لکه ګل اغا شيرزي پدي کار کي خورا ډيري مادي ګټي لري تر څو ترهګر فعال وساتي او په همدي سره به امريکايان دوي ته اړتيا ولري چي ددي کار لومړني قربانيان ملکي وګړي دي.

کله چي موږ کندهار ته را ورسيدلو ما اپريل د ځان سره بوتله تر څو د ضابط اکرم سره ووينې.خو دي په اصل کي پر خپله موضوع کار کوي چي په حقيقت کي د ګولي په شان وو.

(افغان والي په ټوپکسالار سره پيژندل کيږي) دا يي سرليك وو.

په ليکنه کي ګل اغا شيرزي د هغو کسانو د لست په سر کي راغلي و چي ولسمشر کرزي او دده اداري يي د ليري کولو کوښښ کوي. اپريل چي کله د کندهار څخه کابل ته ولاړل هلته يي د ځينو يادونو له کبله مرکي کړي وي. په هغو کسانو کي يو د شيرزي راتلونکي ځاي ناستي د ښار او کور جوړوني وزير هم شامل و. ده ويلي وه د ټولو تجربو او استعدادونو سره سره بيا هم ده ته د ټوپکسالار په سترګه کتل کيږي. اپريل دده هغه خبري ثبت کړي وي چي په خندا يي ويلي وه چي دي سل فيصده د قانون په پلي کولو کي بريالي نه دي چي اکثره وخت دده لخوا هم قانون تر پښو لاندي کيږي.

دغه کس تقريبا يوه لسيزه د شيرزي سره څنګ پر څنګ کار کړي وو. هر يوه دده په اړه خبري کولي خو زه پدي خبره وم چي دغه وزير به د شيرزي راتلونکي عوض وي. شايد پدي اړه به تصميم نيول شوي و خو په هر صورت دا ددي وظيفي د تر لاسه کولو لپاره يوه بولۍ هم وو.

زما نوم هم په ليکنه کي راغلي و چي ور سره د اکو کلاچي په اړه يي څه معلومات وړاندي کړي و. پدي کي د احمد ولي کرزي يادونه هم شوي وه چي د والي شيرزي او خلکو تر منځ د فاصلي جوړولو کوښښ کوي. اکرم پکښي د خپلو پوليسو د تنخوا د نه ورکولو شکايت کړي و چي په هغه کي اکرم په ټوکي انداز ګواښښ کړي و چي دي به شيرزي وتړي او په هوايي ډګر کي به يي خپلو امريکايي ملګرو ته ور وسپاري.

اپريل د هر کاره خالد پښتون سره هم ليدلي وه چي هغه منلي و چي د ګمرك عايد چي د مياشتي څو مليونه ډالره کيږي تر اوسه کابل ته نه دي ليږل شوي.

د کورنيو چارو وزير جلالي د قيوم کرزي هغه خبري راخيستي وي چي ما امريکايانو ته وويل چي ستاسو لنډ مهاله پوځي هدفونه به د اوږدي مودي سياسي لومړيتوبونه د لاسه در څخه وباسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لومړي ځل چي مي هغه ليکنه ولوستل ډيره خوابدي شوم چي ولي اپريل په خپله ليکنه کي د ټوپکسالاري او ترهګري تر منځ هغه موضوع دلته نه ده را اخيستي چي ما ورته په الوتکه کي وويل.

خو وروسته وپوهيدم چي ددي ليکنه د يوي پاليسي په شان وو.

په همدي وخت کي مي فکر کوي ،کوم څه چي ما په الوتکه کي ورته وويل شايد پاتي نورو کسانو هم ورته ويلاي شو. ما د ځان سره وويل ،چي اوس نو واشنګټن ته د يو بل ليك د ليږلو وخت رارسيدلي دي. د کندهار د وضعيت په اړه به ما په هرو څو مياشتو کي واشنګټن ته دا ډول ليکونه استول. زموږ ټولني (ACS) به دا ليکونه زما د شخصي نظر تر نامه لاندي د امريکا کانګريس او په لوړو کړيو کي هغو کسانو ته ليږل چي د افغانستان سره يي دلچسپي لرل.

ما اپريل ته ويلي وه ، چي ترهګري او ټوپکسالاري دواړه د يوه ځنځير کړي دي. ما ددي مسئلي په پراخه توګه يادونه کړي وه چي په هغه کي ما په وار وار امريکايي او افغان چارواکو ، ژورنالستانو او د بشري مرستو کار کوونکو څخه دا اوريدلي و ،چي د ټوپکسالاري لپاره د يوي پراخي پاليسي لرلو ته اړتيا ليدل کيږي.

دغه نظريه په لاني توګه تشريح شوي وو.

ويل کيږي چي موږ دغو ټوپکسالارانو ته په افغانستان کي د ترهګري ضد جګړه کي اړتيا لرو. خو په حقيقت کي واشنګټن ته زما ليك ددي برعکس و. ټوپکسالاران لکه شيرزي په خپله د بد امنۍ سرچيني ده. د دوي اقتصاد او سياسي غښتل تيا په نا قانوني او دداسي کارونو په تر سره کولو نغښتي ده چي په هغه سره امريکايي ځواکونه د دوي ملګرتوب ته اړ باسي.

ټوپکسالارن امريکايانو ته بازي ورکوي او دوي د شورشيانو د ريښو د منځه ايستلو کي هيڅ دلچسپي نه لري. زما ددي خبرو د تايد لپاره يو ډير ښه ټکي دا و ،چي شيرزي د هغو کسانو پر ضد ،چي ريکارډو يي ووژي عمليات وضندول. ما ويلي وه ،چي دا ټوپکسالاران ازمويل شوي کسان دي ،چي د تير ايستلو خورا ښه تجربه لري ، کله د يوه بهرني ملاتړ کوي او کله بيا د بل .

دوي تر اوسه داسي کار نه دي کړي چي سړي دي ورته افرين ووايي ددي ټولو سره سره بيا هم دوي د پوره درنښت خاوندان دي. ما زما لوستونکي مخاطب کړي وه ،چي تاسو فکر وکړي ګل اغا د سخت دريزي په وړاندي خورا ډير شهرت لري خو هغه تر اوسه د سخت دريز د منځه وړلو لپاره څه نه دي کړي.

وروسته پسي هغه مسئله ياده شوي وه ،چي شيرزي د نورو ملا تړ هم کوي. په دغه کي ما د امريکا پر بهرنۍ پاليسي باندي انتقادونه کړي وو.

(( څنګه پاکستان متحده ايالات د خپلو ګټو لپاره لوبوي))

ما ليکلي وه ،چي د تيرو ديرشو کلونو په جريان کي پاکستان د افغانستان د اشغالولو لپاره يوه ستراتيژي په لاره اچولي ده ،چي هغه مذهبي توندلاريتوب دي ،چي د همدي لاري د افغانستان کنترول تر لاسه کړي خو که په کنترولولو کي بريالي نه شي نو کم تر کمه هغه نسبي سوبات خو به ګډوډ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره له دي چي تر ۱۱/۹ وروسته په دغه پاليسي کي يوڅه تغيرات راغلي دي خو دغي ستراتيژي ته بايد په کلي توګه تغير ورکړل شي.

ولي په وار وار د متحده ايالاتو پاليسي د پاکستان د خوښي او اجنډا سره د مخکي وهل کيږي ؟

دا ځکه چي پاکستان پدي لاره کي خورا ښه تجربه لري او متحده ايالات بي پامه دي.

ما په دي اړه يو څو مشخص ټکي وليکل چي په لاندي ډول دي:

هغه خطرناکه پاليسي چي پاکستان په لاره اچولي ده او د مذهبي توندلاريتوب د لاري د خپلو سيمه ييزو هدفونو د تر سره کولو لپاره يي کاروي ،چي پايلي به يي په خپله د پاکستان لپاره خورا ډيري بدي وي. د پاکستان اجنډا سيمه ييزه او تاکتيکي ده. پاکستاني حکومت د اسامه په شان د نړيوال اسلام د نظريي ملګريتوب نه کوي. له همدي کبله نو پاکستان د القاعدي شبکي د غړو سره کومه دلچسپي نه لري. د پاکستان د القاعدي سره له دي کبله هم نه لګيږي ،چي القاعده خپل ځان ته خپله اجنډا لري. د پاکستان لپاره اومه مواد پخواني طالبان او د حزب اسلامي ډله ده ،چي کار پر وکړي او بيرته يي سره منظم کړي ځکه چي دغه کسان خپله ژوره ايډيالوژي نه لري او مهاروول يي هم ډير اسانه دي. خو ددي برعکس متحده ايالاتونو خپله ټوله توجه د القاعدي شبکي غړو ته اړولي ده.

په عراق کي د ښکيل تيا له کبله هر څه ګډوډ شوي دي. امريکايي پاليسي جوړونکي ددي پر ځاي چي پخوانيو طالبانو ته پاملرنه وکړي ټوله پام يي القاعدي ته اړولي دي. ما ويلي وه ،چي شيرزي د پاکستان سره نژدي اړيکي لري ،دده په دفتر کي د پاکستان د نظامي افسرانو شتون ، اسلام اباد ته يي منظم سفرونه ددي ښکارندويي کوي چي پاکستان ده ته دهغو شورشيانو پر ضد د عملياتو دنه کولو امر کړي دي چي ريکارډو يي ووژي.که څه هم په دي اړه کره معلومات نشته خو ما په دي هکله ډير څه ويلي وه او له بله پلوه دي خبري ډير سر سره خوړي.

زما افغان ملګرو به ويل چي نور د ټوپك د جګړي وخت تير شوي دي او اوس د قلم د جګړي وخت رارسيدلي دي.

موږ تر اوسه لا په (ACS)کي د انټرنيټ اسانتيا نه لرل. په ښار کي يوه انټرنيټ کيفي پرانيستل شوي وه ،چي غرفي يي په پردو سره جلا شوي وي که دي په کيبورډ کي يوي تني ته لاس وروړي واي نو تر هغه وروسته دي بايد خپل لاسونه د دوړو له کبله په صابون پريولي واي.

دغه کيفي د شيرزي د چرګوني خالد پښتون او د پاکستان د استخباراتي شبکي لخوا چلول کيدل. هغو پاکستانيو کارکوونکو چي هلته يي کار کوي د سلوك او وضعيت څخه يي دا له ورايه ښکاريدل چي دوي د پاکستان د استخباراتي شبکي غړي دي.

په دي اړه ما ته د هندوستان قونسل هم معلومات راکړل خو تر څو بريښناليکونو تر ليږلو وروسته ښه باوري شوم. ما د امريکا په اډه کي د يوه ملګري څخه هيله وکړل که زما دغه ليکنه قيوم ، زما خور چي په بوستن کي ده او په کابل کي د امريکا په سفارت کي زما باوري ډيپلوماټ ته وليږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده وويل ولې نه زه به يې ورته ولېږم.

تر دي دوي ورځي وروسته سهار زما لپاره لومړي شي زما په ټليفون زما د بدن ربړديدل وو . دا په اډه کي زما د ملګري ټليفون وو. ده راته وويل سارا ته بايد اډي ته راسي ما غوښتل چي پوه شم چي د څه لپاره خو ده راته ونه ويل.

زه هم زما په تور لنډکروزر موټر کي سپره شوم او د اډي پر خوا روانه شوم. ده زما لپاره په دويم نمبر دروازه کي انتظار کوي. موږ دا ځل دده دفتر ته نه تللو په اډه کي دننه چي د رفتار اندازه پکښي لس ده شا وخوا په موټر کي ګرځيدلو ځکه چي ده ما ته په شخصي توګه څه ويل غوښتل. ده په ربړيدلي اواز راته وويل ،چي ستا ليك چي ما ته دي د ليږلو لپاره راکړي و د ليږلو مخه يي ونيول شول. ده زياته کړل چي يو برښنايي د ځار سيستم د تورو پر اساس عيار شوي دي که چيري د انټرنيټ د لاري يو کس ليك ليږي ، د پلټني د سيستم تر نظر تيريږي خو که په هغه کي داسي توروي نو هغه سيستم يي د ليږلو مخه نيسي. تر دي وروسته يوه افسر پر ما ټوکي کولي ده ويل ستا هغه ليك چي واشنګټن ته دي ليږي په يوه ليکه کي يي ۹ داسي توري لرل چي سيستم راګرځولي وو.

خو اوس هر څه پر بل مخ اوښتي وو.

ما ټوله شيان د متحده ايالاتو د پاليسي جوړونکو لپاره د يوي هيلي په توګه ليکلي و تر څو هغوي دغه د زړه په غوږونو واوري. ما فکر کوي ،چي دغي موضوع ته د دوي د پام را اړولو دغه تر ټولو ښه لار ده. خو زما ملګري لا تر اوسه د هغه مشکل څخه نه و خلاص شوي .

ده وويل چي استخباراتي کسانو ستا د ليك يوه کاپي سپيشل فورس ته ورولیږل هغه افسر چي دغه ليك ور استول شوي و د والي شيرزي د ورور رازق شيرزي سره د اړيکو د ټينګولو مسول وو. سپيشل فورس غواړي دغه ليك رازق شيرزي ته ورښکاره کړي او پدي اړه خبري ور سره وکړي چي دا ليك چا ليکلي دي.

زما ملګري زياته کړل ،چي ما ورته وويل که مو دا کار وکړي په دغه حوزه کي خو به هغه په مرګ محکومه شي. خداي دي زما ملګري ته اجرونه ورکړي ،چي زما لپاره يي په اور کي ځان واچوي.

ده هغه افسر ته ويلي وه ، چي ته بايد داسي ونکړي !

ته بايد هلته ددغه ليك سره ورنه شي. ځکه چي دا يوه امريکايي ده که ته دغه ليك شيرزي ته ورښکاره کړي دابه ووژل شي. شخړه په همدي شان روانه وه خو مسئله ډيره جدي شوي وه ځکه چي دا هر څه د کندهار په هوايي اډه کي تر لوړ پوړو کسانو پور ور ورسيدل. زما ملګري شيرزي ته ددي ليك د ورکولو مخ ونيوي. ده وويل ،چي سپيشل فورس د ماښام ډوډي د رازق شيرزي سره خوري زه هم هلته ددي کبله ور سره ځم چي دالکولو تر څښلو وروسته هغوي د نشي په حالت کي د هغه ليك په اړه څه ونه وايي او يا په همدغه حالت کي ستا هغه ليك ور ښکاره نه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


زه ډيره حيرانه وم ددي کبله نه چي ماته جدي خطر متوجه و بلکي د متحده ايالاتو د اردو د لوړ پوړو کسانو احمق توب ته تعجب وړي وم.

زما پدي هيڅ باور نه راتلي چي دوي دي د يوي امريکايي تبعه د امنيت او ژوند سره داسي لوبي وکړي. يوه داسي امريکايي ،چي په کندهار کي ژوند کوي او په ټولو خصوصياتو لکه کلتور ، قوم او کريکټر سره دوسته پيژندل شوي وي.

زه پدي پوهيدم چي دا زما خبري د هرچا د طبعي سره برابري نه دي خو که برابري نه وي نو بيا ولي داسي ورسره کيدل ؟

زما ملګري ما ته وويل که ته يو ځل د هغه کس سره وګوري چي ګواښښ يي کړي و چي زه به دا ليك رازق شيرزي ته وربښکاره کوم.

په دا سبا مي خپل ځان د رازق شيرزي د مرکز او د دويم نمبر دروازي تر منځ د ترافيکو په تم ځاي کي تر يوي اوني لاندي وموند. چي زموږ لپاره د وسپنيزو سترګو او ريګي وريښتان لرونکي د سپيشل فورس غړي انتظار کوي.

ما د خبريالي پر مهال دا زده کړي وه چي ته خبري مه کوه پريږده چي هغه کس خپله هغه موضوع راپورته کړي. د بله پلوه هر څه چي به دغه سرتيري ويل هغه زما لپاره د يوي خپسکي په مانا وه ځکه چي د امريکا اردو هر شي ته د شيرزي له نظره کتل.

دغه افسر راته وويل زموږ اردو د شيرزي څخه ډير خوشاله دي. زه شخصا پدي نظر يم چي نوموړي په ټوله افغانستان کي تر ټولو همکار او مرسته کوونکي والي دي. زموږ تر منځ خورا ښي اړيکي دي او موږ چي د هر شي غوښتنه ورڅخه وکړو هغه راته برابروي. ده زياته کړل چي زموږ او دده تر منځ د ښي دوستي يو څرګند ټکي دادي چي رازق شيرزي هميشه موږ د ماخستن د ډوډي لپاره ميلمانه کوي.

( دا افغانستان دي لته يوازي الکولو منع شوي نه دي بلکي سخت ناروا دي )

خو احمد ولي کرزي بيا د دوي سره په توپير ډير خوږ ژبي خو خورا قانوني سړي دي چي د افسر ښه نه ورڅخه راتلل.

ده زياته کړل موږ هر څه په دغه ولايت کي د والي د لاري تر سره کو دا ځکه چي موږ په بل چا باور نه لرو. زه ډيره حيرانه وم . ما به په ډيري خواري سره خپل ځان ته قناعت ورکوي چي دا خو يوازي د سپيشل فورس د يو افسر نظر و چي د امريکا د اردو يو ځانګړي جزو تام دي.

ما شا وخوا وکتل چي د شيرزي يوه سرتيري موږ څارلو خو موږ ته نژدي نه شو راتلاي. عبدالله د موټر د مخ په سيټ کي ناست و ده هم ددي هر څه ننداره کول دا يو عجيبه ترکيب و چي دا بل اړخ ته مي وکتل د ملګرو ملتونو د اداري موټران د ترافکيو په تم ځاي کي ولاړ وو.

په موټر کي د ننه د جنوب غرب حوزي د يوناما مشر تلت بيګ مزديکوف ناست و. نوموړي د (KGB) پخواني جاسوس ، په پښتو ادبياتو کي (PHD) لري او د برلين د ديوال تر ړنګيدلو وروسته يي د طالبانو د رهبري سره په پاکستان کي په منظمه توګه ملاقاتونه کول چي ده هم موږ څارلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه بې بند وباره د امريکايي سپيشل فورس ښځې او نارينه افسر زموږ سره په داسي ځاي کي خبري کولي چي موږ ته نژدي څوك نه شو راتلاي.

ما او دغه افسر د سپيشل فورس د هغو دو سرتيرو پر وژلو خبري پيل کړي چي په دا وروستيو ورځو کي په هلمند کي وژل شوي وو. ما ورته وويل چي د (اي. سي. ار. سي) د کار کوونکي وژل کيدل ددي ځرګندويي کوي چي په جنوبي افغانستان کي د ورانکارو فعاليتونو شمير مخ پر ډيريدو دي.

د سپيشل فورس افسر راته وويل زه او زما ملګري پدي باور يو چي ددغي حملي تر شا د هلمند د والي لاس وو.

موږ د خپلو مقاماتو څخه غوښتي دي چي د والي د نيولو اجازه راکړي خو تر اوسه لا هغوي پدي اړه مثبت ځواب نه دي راکړي. افسر په ډاډ راته وويل هر څه چي په کندهار کي پيښيږي هغه ټوله د هلمند څخه سرچينه اخلي.

زه ډيره حيرانه شوم. ما وويل دا د هلمند څخه پيښيږي ؟ د پاکستان په اړه مو نظر څه دي ؟

دا چي د هلمند والي شير محمد اخندزاده دي امريکايي سرتيري وژلي وي هسي افوهات دي. نرم شير محمد چي د طالبانو غوندي پګړي تړي ، د ملا زوي دي او په جنوبي افغانستان کي د اپيمو تر ټولو لوي سوداګر او کرونکي دي چي پدي کي هيڅ شك نشته. خو ددي ټولو سره سره نوموړي د ولسمشر کرزي خورا نژدي ملګري دي چي د امريکايي سرتيرو خوا ته به په بد نظر لا ونه ګوري. ما د سپيشل فورس ددغه افسر څخه وپوښتل چي ايا دا رښتيا ده ؟

او د بله پلوه تاسو څه پوهيږي چي ده به دا کار کړي وي ؟

ده وويل پدي اړه موږ ځني شواهد لرو ،چي والي ددي کار امر ورکړي و چي دا هر څه موږ دده د ټليفون څخه تر لاسه کړل.

ما ورته وويل په افغانستان کي هيڅ جګپوړي کس خپله ټليفون د ځان سره نه ګرځوي ځکه چي دا سټلايټ ټليفونونه خودونه لوي دي لکه لپ ټپ کمپيوټر.

د بله پلوه که تاسو چيري دده د ټليفون څخه داسي څه تر لاسه کړي وي دا ددي مانا نه لري چي هغه دي په ټليفون کي ددي کار د تر سره کولو امر ورکړي وي.

بل تاسو څه ډول اواز دده د سټلايټ ټليفون څخه تر لاسه کړي ؟

ده وويل چي دوه يا دري کسان په يوه خونه کي ناست وه چي په هغوي کي د يوه اواز ده ته ورته وو.

زما زړه په دربيدو شو خدايه دا خلك په ګومان سره غواړي د هلمند والي ووژني ؟

ما ته هغه خبري راپه زړه شوي چي ما او اکرم يي زما په کور کي د انارو د خوړلو پر خت يادونه کړي وو. په دغه وخت کي امريکايي سپشيل فورس په هلمند کي د سخت دريزه جهادي قوماندان حکمتيار د کسانو سره کار کوي او هغوي سپيشل فورس ته خورا نژدي وو. حکمتيار په خپله پټ شوي و خو دده ملګري ورو ورو د طالبانو سره يو ځاي کيدل او خپلو فعاليتونو ته يي

(c) ketabton.com: The Digital Library


ادامه ورکول. د حکمتيار دغو کسانو د شيرزي سره خورا ښې اړيکې لرلې چې په همدې سره يې سپيشل فورس خورا تابع وو.

ما دوي ته وويل زه شرط وهم چې دا کار شيرزي کړي پدي سره دي غواړي چې د هلمند والي د مخه لري کړي او ځان د ټول جنوب سردار جوړ کړي. شيرزي په خپلو معلوماتو سره امريکايي سپيشل فورس ړانده کړي دي. په جنوب کي د ورانکارو فعاليتونو له کبله د هلمند والي په ملامتولو کي ،دي دوه هدفونه لري.

لومړي خپل بادار پاکستان ژغورل او دويم امريکايي اردو د خپلو حريفانو پر ضد کارول دس.

خو دا ټکه د را پريوتو په حال کي وو.

دغه افسر کرزي ته خورا په غوسه وو. ده وويل که چيري کرزي په راتلونکي ټولټاکنو کي ماته وخوري نو امريکايي اردو به اوښکي پر توي نکړي. زموږ زياتره کسان به هغه وخت خوشاله شي چي شيرزي د کرزي پر ځاي ولسمشر شي.

کله چي زه افغانستان ته راورسيدم زما سره يو سوال و . زما ماغزو غوښتل چي دغه سناريو انځور کړي چي دلته زما راتګ به ددي ولايت يا هيواد لپاره به څه معنا ولري ؟

دا به شخصا زما لپاره څه معنا ولري ؟

دي ټولو خبرو کوم اساس نه درلود. شايد دا به يوازي ددغه افسر نظر و. خو که چيري دي د امريکا د اردو په استازيتوب ږغيداي نو بيا ددي دا معنا و چي ټوله افغانستان پر يوه تباهي اوښتي دي. راتلونکي څو ورځي مي خورا په خپګان تيري کړي. دا و چي د امريکا د سفارت څخه د بيل ټايلر ټليفون راغلي. بيل په افغانستان کي د بسپنه ورکوونکو مسول و خو دده صلاحيت تر دي خورا ډير وو. موږ د سفارت په دويم منزل کي د شپيتمو کلونو د کنفرانس په خونه کي کښيناستلو.

ده وويل څنګه کولاي شو ،چي زيات پښتانه په ملي اردو کي جذب کړو ؟

ايا زه بايد د ځينو قول اردوګانو د قوماندانانو په اړه فکر وکړم ؟

ما ورته د يوه قول اردو لپاره اکرم پيشنهاد کړي خو ده وويل تر څو چي شيرزي په کندهار کي وي زه دا وظيفه نه قبلوم.

هغه ټولټاکني چي د ۲۰۰۴م کال د جون په مياشت کي پلان شوي دي بايد وځنډيږي ؟

ايا ټاکني بايد د غرب په شان وي ،چي يو کس يوه رايه لکه په لويه جرګه کي چي وو ؟

بيل خورا لوړ رتبه ډيپلومات و هر وخت چي به ما دي ليدي نو د سفير رابرت فين سره به څنګ په څنګ ولاړ وو. ما پرده باندي زيات باور درلودي چي زما ليك به واشنګټن ته واستوي خو ده زما هغه ليك قيوم ته تر نظر تيرولو او سانسور لپاره ورليږلي وو.

بيل په ټليفون کي راته وويل ما ستا ليك ولوستي ،چي ډير ښه وو. ما په ځواب کي ورته وويل ښه ته خبر يي چي هغه ليك ته څه پيښ شول ؟

بيل خبر نه و خو ما ټوله کيسه ورته وکړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سفارت کي يو بل شي هم و هغه دا چي دوي زما سره هر شي په شخصي توګه تر سره کول. دوي زه ددي کبله چي امريکايي يم د خپلي کورنۍ غړي بللم. بيل د سفير د سياسي چارو د لومړي سيکرتر سره د کندهار په اړه کي زما د ليك په اړه خورا جدي مجلس کړي وو. بيل ډير لږ وروسته ما ته بيا ټليفون وکړي .ده وويل ته بايد سفارت ته راشي ځکه چي کندهار ستاسو لپاره ډير خطرناکه دي.

خو ما بايد ده ته يو څه ويلي واي ځکه ،چي په کندهار کي زما لپاره د ويري کوم خاص شي نه و خو خداي زما د مور او زما د خور ايو په زړونو خبر و ،چي زما په اړه يي څونه تشويش درلود. په کندهار کي ما د احمد ولي کرزي درلود. زه د ده څخه له دي کبله ډيره مننه کوم چي زما د امنيت غم يي خوړي او دده له کبله زه په امن کي وم.

که ما چيري امنيتي کسانو ته ضرورت درلوداي ما يي هر وخت غوښتنه کولاي شول. ما کولاي شول چي دده په کور د اړتيا په وخت کي بيده شم خو زه لا تر اوسه د کرزيانو د کورنۍ غړي شوي نه وم. زه تر اوسه نه پوهيدم چي احمد ولي به زما په اړه څه فکر کوي چي زه څوك يم ؟

لس کاله ما په پاريس کي د خبريالي په توګه کار کړي خو فرانسويانو زه له دي کبله د ځانه نه يم شړلي چي ته خو امريکايي. داچي ما دونه وخت د خپل پلرني ټاټوبي څخه ليري تيري کړي و خو زه فرانسوي نه شوم خو دا بايد هم ووايم چي زه نوره امريکايي هم نه يم.

خو په کندهار کي هرڅه ډير خراب و د جمعي په شپه به د ټولو خيريه ټولنو بهرنيو کار کوونکو ميله جوړول چي پکښي به يي په پيخر شراب څښل خو هيڅ افغان د دوي منځ ته د ورتګ اجازه نه لرل. د دوي زما څخه هم ښه نه راتلل ځکه چي زه افغانانو او د امريکا اردو ته ډيره نژدي وم خو د امريکايي اردو بيا له دوي څخه ښه نه راتلل. د امريکايي اردو بيا زما څخه پدي خاطر ښه نه راتلل چي زه يوه رسمي خبرياله او د بشري مرستو کار کوونکي وم خو افغانه هم نه وم دلته ماته يوازي بشريت را پاته کيدي چي زه هم د هغه بشر يو فرد وم چي دا نړي يي د ژوند کولو لپاره مستخره شوي ده.

په بل عبارت زه يوازي وم چي د خپل ځان او د نړي د راتلونکي لپاره مي مبارزه کول.

زما رئيس قيوم ما تر ټولو نژدي ملګري بلي خو ده هم پر مخ څپيړه راکړل. نو ويلاي شو چي په کندهار کي ما بيره محسوسول چي په رښتيا دا ډير خطرناکه ځاي هم دي.

قيوم پر خپلو دو رستورانتونو چي په بالتيمور کي دي او پر خپل کوچني ورور چي د نوي افغانستان ولسمشر دي خورا ډير ګرځيدي. قيوم خپله لور په کابل کي ساتل چي تر اوسه يي د کابل څخه کندهار ته ونه ليږل. زما ياديږي چي زه د شپي پر ۹:۳۰ بجي د شپي ګرځ بنديز ته نژدي په کابل کي د قيوم کورته تر پنځلس ساعته سفر وروسته ورورسيدم. قيوم (سي. اين. اين) ټلويزوني چينل د سټلايټ ډيش له لاري کتي.

ده په وراخطايي سره راته وويل ته يوازي راغلي ؟

ما ورته په هو ځواب ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ده وويل ټوکي خو به نه کوي ؟

هغه خطر چي ما پر سر باندي اخيستي و هيڅکله به يي څوك پر سر وانه خلي. دا ټوله له دي کبله چي بيل ما ته په سفارت کي د اوسيدلو بلنه راکړي وو. ما د بيل څخه مننه وکړل خو زما ليك د هغه بريدمن له کبله تر رازق شيرزي پوري ور ونه رسيدي.

ما وويل زه بيله دي هم کابل ته راتلم او زما په اړه هيڅ فکر مه کو. ده وويل سارا ستا خوښه ده چي زه ستاسو ليك د ايتلافي ځواکونو عمومي قوماندان جنرال ډان ميکنيل ته ور ورليږم ؟

ده زياته کړل له دي څخه به موږ ته دا څرګنده شي چي ستاسو ليك ته چي د کندهار په اډه کي څه پيښ شوي و د جنرال نظر څه دي. په واشنګټن کي بيروکراسي حاکمه وه او په افغانستان کي د امريکايي ملکي کار کوونکو او امريکايي اردو تر منځ خورا ډيره فاصله ايجاد شوي ده. په افغانستان کي د امريکا بهرنۍ پاليسي د دفاع وزارت او ستيټ ډيپارټمنټ لخوا اداره کيدل. بيل وويل چي پدي اړه ما څو ځله جنرال ميکنيل ته خبر ورکړي دي خو د هغه لخوا څخه تر اوسه پدي اړه ځواب نه دي راغلي.

بيل په افغانستان کي خورا لوړ رتبه کس و دي په ستيټ ډيپارټمنټ کي يواځني کس وچي څو ځله يي د جنرال سره ليدلي وو.

د ستيټ ډيپارټمنټ کار کوونکو به ويل چي دا امکان نه لري چي سړي دي د جنرال ميکنيل سره کار وکړي. دوي ويل چي جنرال اوس په افغانستان کي په خپله لوبه مخ ته بيايي چي نور موږ ته کوم اعتبار پاته نه دي.

خو که چيري ما دا ليك په اردو کي کوم کس ته ليږلاي نو مخامخ به مي په دفاع وزارت کي رمسفيلډ ته ليږلي واي. ددي ټولو سره سره بيا هم ما ميکنيل ته د ليك د ليږلو سره مخالفت ونکړي. تر دي څو ورځي وروسته بيا بيل ټليفون راته وکړي ده وويل چي جنرال غواړي ستاسو سره ووينې.

وروسته زه وپوهيدم چي زما ليك ته د جنرال ځواب څه وو.

ده ويلي و ،چي دا څه فکر کوي ؟

موږ په شيرزي بارو لرو ؟

ايا دا څنګه ښځه ده دا د کرزي د کورنۍ سره ميلاو نه ده ؟

ده په نابره توګه پوښتلي وه چي زه دا چيري ليدلاي شم ؟

زه کابل ته ولاړم هلته مو د امريکا په سفارت کي سره وليدل چي په مجلس کي د ټيم په نامه يو بل کس هم ګډون درلود. جنرال ميکنيل د کينډي د هارډورډ په حکومتي پوهنتون کي زده کړي کړي دي. ما په خبرو کي وار د مخه کړ ورته ومي ويل جنرال تر دي وړاندي چي زه نور څه ووايم غواړم تاسو پوه کړم چي زه ستاسو سره يم. ما تصميم نيولي دي چي نوره به ستاسو په يوه ټيم کي کار کوم. او زه د يونيفورم لرونکو کسانو سره کوم حساسيت نه لرم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که ما کومه سخته خبره کړي وي دا ددي معنا لري لکه ما ته چي په خپله کورۍ کي یوه تونده خبري وشي. زه د هغو خبرو له کبله چي د کندهار په هوایي ډګر کي ،چي د سپیشل فورس افسر د امریکا د اردو په استازیتوب راته وکړي ډیره خواشیني شوم.

جنرال میکنیل راته وویل زه همیشه د سپیشل فورس د ټیمونو سره په مشکل اخته یم زه به ډیر خوشاله شم که هغوي یو څوك وځاري. دده د خبرو څخه داسي ښکاریدل لکه چي سپیشل فورس د شیرزي په اړه یوازي خپل نظر څرګند کړي وو.

ما وویل په هلمند کي چي اوس دا اور بل شوي دي د هغه د وژلو لپاره کوم بیړني پلان شته ؟

ما زیاته کړل چي والي شیر محمد ددغو دو سرتیرو د وژلو امر نه دي ورکړي او نه دا امکان لري چي هغه دي دغسي یو کار ته لاس واچوي.

ده وویل چي ما د سپیشل فورس هغه پلان رد کړي چي له مخي یي والي شیر محمد لیري کیدي او دوي ته مي وویل چي په والي کار ونه لري. جنرال میکنیل د ایتلافي ځواکونو عمومي قوماندان و خو د امریکا اردو په خپل منځ کي پر دو برخو ویشل شوي دي.

سپیشل فورس چي د محاربوي جګړي زیات بار یي پر اوږو دي مستقیما د جنرال میکنیل تر قوماندي نه دي لاندي. دوي په فورت برګ شمالي کرولینا کي خپلو مقاماتو ته راپورنه ورکوي. همدا په افغانستان کي د امریکایي پالیسي د هماهنګي په شنډولو کي یو بل فکتور دي.

د ګل اغا موضوع هم زموږ په بحث کي شامله و چي پدي اړه د جنرال نظر هم ډیر څرګند وو. ده وویل موږ دلته د ولسمشرکرزي د ملاتړ لپاره یو او شیرزي د کرزي والي دي. تر څو چي کرزي دي پرغه چوکي ساتلي وي موږ به یي ملاتړ کوو.

ما ده ته وویل چي کندهار خپل رسمي امنیتي ځواکونه لري:

چي پولس او اردو دي. دغه ځواکونه د ۱۹۶۴م کال د اساسي قانونو له مخي تر هغه وخت پوري رسمي بڼه او قانوني بڼه لري تر څو نوي اساسي قانون رامنځ ته کیږي. په کندهار کي ولسمشر کرزي د امنیتي ځواکونو واك د والي څخه واخیست او یو بل کس ته یي وسپاري.

خو شیرزي اوس خپله شخصي ملیشه لري چي هغه بیا د هغه قانوني امنیتي ځواکونو سره په مقابله کي ولاړ دي. ددي پر ځاي چي امریکایي اردو د قانوني ځواکونو سره کار وکړي بلکي دوي د قانوني ځواکونو او مرکزي حکومت پر ضد د ناقانونو ملیشو سره مرسته کوي. دا ملیشي باید بي وسلي شي.

ما په همدي اړه په کندهار کي د اردو د استخباراتو د افسرانو سره هم خبري وکړي چي هغوي بیخي را سره موافق وو.

دوي پدي اړه یو کاري پلان هم جوړ کړي تر څو دغه کسان د (DDR) د لاري خالي سلا شي. د جنرال د خبرو څخه داسي ویلاي شم چي پدي اړه تر اوسه هیڅ اقدام نه و شوي. زموږ مجلس ډیر اوږد شو خو په اخیر کي جنرال راته وویل چي ته په کندهار کي زما د قوماندان ډګروال جان کمپبیل سره ووینه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوموړي ډېر ځوان او لايق افسر دي چې زه خپله پدې فخر کوم چې دغسې کسان زما تر امر لاندې کار کوي. خو ما غلط مه نيسه هغه ډېر باتور ځوان دي ،ددي تر څنگ ډېر چالاك او ښه مجلسي دي.

کله چې زه بيرته کندهار ته راغلم زما او د قوماندان تر منځ مجلس وشو. ما زما د غلجيو مشران هم راسره بوتلل او هلته مو د ملکي چارو د افسر سره وليدل. په لومړيو کې زما او د قوماندان مجلس ډېره نيولي او بې رقمه و. شايد دادې کبله چې زه دده د قوماندان لخوا څخه ورته معرفي شوي وم.

هغه ليك هم دده د ځاې څخه واشنګټن ته ليږل شوي و او ده هم هغه ليك لوستلي و نو ځکه دي پوهيدي چې زه له کومه ځايه راځم. د قوماندان سوالونه مستقيم و خو د بله پلوه زما ځوابونه ډېر تشريحي او د شيرزي او د دوي تر منځ اړيکي او د قوماندان هدف چې دده هدف په جنوب غرب حوزه کې د څه شي تر لاسه کول دي.

ده زما ټوله ټکي وڅيړل او بيا يې د ملکي چارو افسر ته وويل دا بايد څنگه مخ ته بوځو؟

بيا يې ما ته مخ راواړوي چې دري شيان راته ووياه چې زه يې همدا اوس دستي تر سره کړم او هغه د حالاتو په ښه کولو کې مرسته وکړي.

ما ورته سمدستي پنځه شيان وويل.

د کندهار پوليسو ته د ښووني او روزني زمينه برابره کړه. دداسې مرستي لپاره اکرم د څو مياشتو راهيسي په لټه کې دي. ما دده سره زيات وخت تيري کړي دي او ده هغه اداري چارټ جوړ کړي دي او هغه شيان يې پکښې په نښه کړي دي چې د پوليسي تجربو او وړتيا لپاره ډېر اړين دي.

ده به ويل زما کسان جنګيالي دي هغوي نه پوهيږي چې څنگه د يوي جنايي پيښې پلټنه وکړي. ددي تر څنگ بايد دوي د وګړو حقوق وپيژني او په همدې اړه تربيه شي. کله چې زه کندهار ته راغلم او د ۲۰۰۲م کال په لومړيو مياشتو ي مي د اکرم سره وليدل ده ماته وويل زه کوښښ کوم چې امريکايان دې ته راضي کړم تر څو هغوي زما کندهاري ملګري تربيه کړي.

ما دغه ټکي يو مثال ګرځولي و هر ځاې چې به مي ددې يادونه کول. څه به شوي واې که موږ د نيويارك ښار د پوليسو د ډيپارټمنټ څخه پوليس راغوښتي واي او هغوي د کندهار د پوليسو ډيپارټمنټ رغولي واي. څه به شوي واي هغه نيويارك چې په ۹/۱۱کې تندر پکښې راشوه شول او اوس يې د نوي او ډيموکراتيك افغانستان په بيارغولو کې مرسته کړي واي.

تر جګړې وروسته متحده ايالاتو د افغان ملي اردو د جوړولو ټېر ووهي او جرمنيانو د پوليسو خو تر دي مهاله پوره يو کال وتلي و خو پدې اړه هيڅا اقدام نه وکړي. جرمنيانو تر اوسه دلته نه و راغلي نو متحده ايالاتو بيا ولي دوي په دي نه مجبورول چې هلته ولاړ شي.

د کرنل کمپبيل لپاره دويم تکي دا و چې د شيرزي د شخصي مليشو سره خپلي اړيکي پرې کړي. د هغوي پر ځاې د نورو افغان جزوتامونو سره اړيکي ټينګي کړي. ما ده ته وويل ګل اغا چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خپله بد امني ته لمن وهي تر څو امريکايان د همدي د مخنيوي لپاره دوي ته ضرورت ولري چي اوس ورته طالبان وايي.

د هغو قومي مشرانو سره بايد په نور ماله توګه غونډي تر سره کړي چي په ټولنه کي د قدر او نفوذ څښتنان دي. تر دي حده چي بيارغونه بايد عامه شي او ټوله ولس ته يي ګټه ورسيږي. کله چي زما خبري خلاصي شوي کرنل راته وويل چي موږ اشتباه ګاني کو خو په وړاندي يي موږ پروسيجر هم لرو تر څو هغوي پيدا او بيرته يي سمي کړو چي داشي به تاسو په خپلو سترګو ووينې.

داسمه خبره ده چي غلطي پيدا شي او بيا يي د منځه وړلو هڅه وشي خو دلته هيڅ يوي ملکي انجيو په دي اړه ارزيابي او څيړنه نه ده کړي او همدا کار اردو هم هميشه نه کاوه. دا څنګه پروسيچر دي چي تر اوسه يي په عراق او افغانستان کي د بنديانو سره د بد سلوک مسئله نه ده حل کړي چي دا ډيره جدي مسئله هم ده.

کرنل چي څه ويل هغونه ورته ژمن هم وو. ده د ملکي چارو تورن ته امر وکړ ، چي د اکرم سره ووينې او د پوليسو لپاره د ښووني او روزني پروګرام جوکړي. تورن هم د اکرم سره وکتل خو تر اوسه لا د هغو مستو څخه څه کوچ نه دي راوتلي. کرنل د استخباراتي معلوماتو د راټولو سره ډيره دلچسپي لرل همدا لامل و چي د دوستي بنياد به يي هم د دغو معلوماتو پر راټولو ولاړ وو.

کرنل زما څخه په حوزه کي د لويو قومونو يو چارټ وغوښت. ډير د حيرانۍ ځاي دي چي تر اوسه په افغانستان ي د امريکا د راتګ څخه يونيم کال تير شوي و خو امريکايي اردو لا تراوسه دغسي معلومات نه لرل. ما اډي ته د قومونو زيات شيمر مشران راوستل کرنل راته وويل چي زه هم کيداي شي دغي غونډي ته در شم نوموړي غونډي ته راهم غي. د ملکي چارو تورن د غونډي لپاره پوره اماده ګي نيولي وه ده د شيرزي د ژباړن پر ځاي د جنوب يو افغان اصله امريکايي ترجمنان د ځان سره راوست.

ټول ټال ۱۵غلجي مشرانو په غونډه کي ګډون درلود چي په هغوي کي زما تر ټولو خوښ توخي هم شامل وو.

ده دساه تنګي ناروغي لرله ، چي له همدي کبله پر مځکه راولويد. کله چي موږ دي راپورته کړي او پر مځکه مو پري ايستي په همدي وخت کي کرنل راروسيد.ده چي دا حال وليد سمدستي يي خپلو دو سرتيرو ته امر وکړ ،چي ډير ژر تذکره راوړي او هغو نورو قومي مشرانو ته وښيي چي دلته موږ خورا تکړه ډاکټران لرو او هغوي ته يي په دي اړه ډاډ هم ورکړ.

تر دي وروسته کرنل په خپله د مجلس مخته بيولو چاري په لاس کي واخيستي. د قومي مشرانو تر خبرو اوريدلو وروسته يي وويل چي تاسو موږ ته څه مشخص ويل لري؟

ايا امريکايي اردو د يوه قوم سره ډير نژدي دي او هغه نور قومونه پر امريکايانو خپل اعتبار د لاسه ورکوي؟

کاشکي خو مي مځکي لا داسي غونډي تر سره کړي واي خو اوس هم وخت نه دي تير. کرنل کمپبيل يواځيني قوماندان و چي د کندهار د سيمي مشران ورڅخه راضي شول .دغي پيښي زما سره ددي مرسته وکړه ، چي په داسي هيواد کي لکه افغانستان د اردو رول وپيژنم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر کومه ځاي پوري چي ماته څرګنده ده د امریکا د اردو د شتون په اړه دوه سوالونه د ډیرو غربیانو په ماغزو کي وو. یو یي تیوریکي سوال و چي د امریکا دننه کي به د ډیرو کسانو لخوا مطرح کیده. د امریکا د ملکي وګړو په ذهن کي دا سوال و چي ایا زموږ بهرنۍ پالیسي دي د دفاع وزارت لخوا اداره شي ؟

د یو ملت په صفت دا زموږ لپاره خورا مهم سوال دي چي همیشه په متحده ایالاتو کي بحث پر کیږي. د یوي امریکایي په توګه دا زما لپاره یو سوال دي چي دا څنګه کیداي شي چي پر امریکایي اردو دي سړي د تیاتر د دریز پر سر اغیزه ولري ؟

ددا لاندي مثال څخه به تاسو ته په خپله څرګنده شي چي رښتیا څه روان وو.

په کندهار کي پنځه زره امریکایي سرتیري مستقر و چي په مقابل کي یي یوازي یو تن د سټیټ ډیپارټمنټ استازي شتون درلود. د امریکا سفارت چي تازه په افغانستان کي پرانیستل شوي و او بیل ټایلر کار پکښي کاوه ، دا ورته ډیره ګرانه وه چي پر اردو دي کومه اغیزه ولري. که به په واشنګټن کي د بهرنیو چارو د وزارت لخوا کوم کار تر سره کیده هغوي باید د امریکا اردو خبر کړي واي. داسي کسان لکه کرنل کمپبیل د جنګي ښووني او روزني ، د دښمن سره د نښتي ، جنګي تاکتیك اود نظامي پلان ګذاري په ډګر کي روزنه ورکړل شوي وه نه په سیاست او د ډیپلوماسي په چارو کي.

د هغه وظیفي لپاره چي دوي را استول شوي وه تر اوسه دوي ته ور پیژندل شوي لا نه وو. همدا لامل و چي دوي دداسي کسانو لمن نیولي وه لکه ګل اغا ، خو په اصل کي دغسي کسان په افغانستان کي د امریکا د عملیاتو چي هدف یي د افغانستان بیارغونه وه مخالف واقع کیده.

د ډیرو مناظرو سره سره څه چي باید کرنل تر سره کړي واي تر سره یي نکړه. شپږ میاشتي وروسته یعني د ۲۰۰۳م کال په ډیسمبر کي زه د کرنل کمپبیل د عوضي کرنل ریچارډ پیډرسن سره د هوایي سکول فیلډ بارکونو کي د دده په دفتر کي مخامخ شوم. ما ورته وویل زه نه پوهیږم چي ته به هلته د څه لپاره لیږل کیږي خو یو شي چي څرګند دي هغه دا چي ته به هلته د امریکا بهرنۍ پالیسي مخ ته بیایي. ده وویل ته رښتیا وایي خو دا زما نه خوښیږي. د پیډرسن جزوتامونه پنځه ویشتمه پیاده فرقه کندهار ته لیږل کیده او ما باید دده افسرانو ته د افغانستان په اړه معلومات ورکړي واي.

ما د سکول فیلډ په بارکونو کي دري ورځي د کرنل سره تیري کړي تر څو ده ته ور وښویم چي څنګه پر یو کس په خبرو کي اغیزه واچوي. دده د سوالونو د ځوابونو لپاره به مي دده پر میز نقشه غوړولي وو. ده زما ټولي خبري د غرمي تر ډوډي وروسته یوي ډلي افسرانو ته د هغي اډي په کلب کي وکړي او زما څخه یي زیاته مننه وکړه.

زه یوه سرتیري وم ده خپلو پنځو زرو سرتیرو ته وویل چي تاسو به ټوله په کندهار کي ددي ساتنه کوي. همدا شان مي زیات وخت د ملکي چارو د ټیم سره تیر کړ. هغوي ته مي د ځایي قومونو هغسي یو چارټ جوړ کړ ، لکه څنګه چي مي کرنل کمپبیل ته په کندهار کي جوړ کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يواځيني شي چي زه يې ځورولم هغه دا چي زما د ټولو خواريو سره سره به بيا هم هر څه پر بله خوا روان وو. د بالکان د وخت زما يوه ملګري چي اوس يې د( کينساس ليونپورت) په پوهنتون کي د اردو لوړي زده کړي تر سره کولي ماته د ميلمني ويناوالي په توګه بلنه راکړه. زه لا تر اوسه د هغې وينا د جنجال له نه وم خلاصه شوي ،چي څه وخت وړاندي مي د کنکورډ فرسټ پيريش په کليسا کي د ګڼ شمير نظاميانو په مخ کي کړي وو. د کنکورډ ملکي وګړي زما خپل خلك و خو زه نه پوهيدم چي د اردو جګړنان به زما خبري څنګه و ارزوي.

په دغو کسانو کي يو کس چي د پنځه ويشتمي پياده فرقي غړي و سمدستي په هوايي کي د خپل کندك د قرارګاه سره په تماس کي شوي وو. ده ورته ويلي وه ،چي تاسو به تر اوسه داسي ژورناليسته نه وي ليدلي خو دا بلکل د يوي بازي په شان ده.

د ۲۰۰۴م کال لپاره د دفاع وزارت ته ۱۷۸ بيليونه ډالره تخصيص شول خو هغه سرتيري لکه د پنځه ويشتمي فرقي چي د خپل ژوند راتلونکي يو کال بې په يو ډير نابلده هيواد کي تيروي ، د هغه هيواد د کلتور ، تاريخ ، ژبي او د فعلي وضعيت په اړه ورته هيڅ روزنه نه وه ورکړل شوي. د کندهار په اډه کي چي ما د هر سرتيري سره خبري کړي دي هيچا دي ته ورته روزنه نه وه ليدلي. زما مطلب دانه دي چي زه په هر شي پوهيږم بلکي هغه کسان چي په افغانستان کي اوسيدلي وه د هغوي تجربي ددغو کسانو لپاره خورا ارزښت درلود. لکه څنګه چي پر عصري وسلو پيسي لګيږي همدا شان بايد دغې برخي ته هم پوره پاملرنه وشي. تر هغه وخت پوري چي د امريکا پاليسي د دفاع وزارت لخوا پر مخ وړل کيږي ، تر هغه وخت پوري بايد ټولو افسرانو ته د هغې سيمي په اړه معلومات ورکړل شي چي دوي وظيفي پکښي تر سره کوي.

دوي مياشتي وروسته يعني د ۲۰۰۴م کال په پسرلي کي چي کله پنځه ويشتمه فرقه کندهار ته را ورسيده ما د ملکي چارو د يوي ښځينه هيتري نومي ضابطي بريښناليك تر لاسه کړ. دي ته د لوړ پوړ چارواکو لخوا ويل شوي و ،چي د کندهار د قومونو په اړه معلومات راغونډ کړي او په همدي اړه دي زما څخه د مرستي غوښتنه وکړه.

ما هغه چارټ وروليږي چي شپږ مياشتي وړاندي مي په هوايي کي د کرنل پيډرسن لپاره جو کړي وو. نوموړي هغه چارټ کرنل پيډرسن ته ورکړ. ده ورته ويلي وه ،چي داسي هيڅ يو چارټ مي تر اوسه نه دي ليدلي. وروسته وپوهيدم چي کرنل تر دا مهاله پوري خپل ټول وخت د والي سره تيري کړي وو. شيرزي نه يادوم بلکي شيرزي په خپل يوه نژدي ملګري د ښار او کور جوړوني په پخواني وزير يوسف پښتون عوض شوي وو.

ما کرنل ته وړانديز وکړ که تاسو د احمد ولي او ضابط اکرم تر څنګ د نورو قومونو د مشرانو سره ووينې دا به ډير ښه وي په ځانګړي توګه د اکرم د مشر د سرولښکرو ضد پخواني قوماندان ملا نقيب سره. ملا نقيب يو ځانګړي انسان دي ، هغه ملا نقيب ،چي د سرو لښکرو ضد جهاد پر مهال يې د (سي. اي. اې) سره نژدي اړيکي لرلي. هغه ملانقيب ،چي په امريکايي سټينګر ميزايلو يې دري روسي چورلکي را و غورځولي او هغه نا استعمال شوي ميزايل يې د جګړي تر ختميدو وروسته بيرته متحده ايالاتو ته وسپارل. هغه ملا نقيب چي کندهار يې د طالبانو څخه تسليم کړ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



د طالبانو تر ړنګيدو وروسته د کندهار والي وټاکل شو خو بيرته ډير ژر برطرفه شو. هغه ملانقيب چي د ارغنداب د ولسوالي څښتن او په سيمه کي د خورا ډير نقوذ خاوند دي.

خو کرنل پيډرسن دده په اړه تر اوسه هيڅ هم نه وه اوريدلي. دا ځکه چي دده په اړه د امريکايي اردو په ډاټا بيسونو کي هيڅ معلومات نه وو. تر کوم ځاي پوري چي ما امريکايي اردو وپيژند نو هيڅ اساسي حافظه يي نه لرله. زه پدي اړه ډيره حيرانه يم چي د امريکا حکومت د دونه امکاناتو او وسايلو سره سره بيا هم په دغسي يو حالت کي قرار لري؟

د افغانانو هيڅ په دغسي يو حالت باور نه راتي. په دغسي يو حالت باندي يوازي اکرم خبر وو. ما يوه ورځ د اکرم څخه وپوښتل چي د طالبانو د نسکوريدو پر مهال طالبانو د کندهار واك په سوله ييزه توګه ملا نقيب ته پريښود، خو ده بيا واك شيرزي ته پريښود. اکرم زه په خپل دي ځواب سره ډيره حيرانه کړم. ده وويل چي په هغه وخت کي موږ ډير خوشاله و ځکه چي موږ فکر کاوه ،چي امريکايان د يو پلان سره راروان دي او د شيرزي څخه ملاتړ يي هم ددغه پلان يوه برخه ده. موږ فکر کاوه، چي دوي به د يو داسي حکومت بنسټ کښيږدي چي د ټولو قومونو لپاره د منلو وړ وي.

اکرم زياته کړه په لومړيو کي چي کله طالبان د منځه ولاړه خلك ډير په بيړه کي وه او هرڅه چي به امريکايانو ويل هغه به يي ورسره منل. خو د وضعيت تر څيړلو وروسته افغانانو کرار کرار خپل ځانونه راپورته کړه. په کراره کراره خلك وپوهيدل چي هيڅ شي هم نشته او همدا لامل دي چي هغوي د وران کارو لار ونيول. دوي وپوهيدل چي امريکايان نه د کندهار د اداري ، نه د شيرزي او حتي نه د ټول افغانستان لپاره کوم اساسي پلان لري. دوي ته دا هم څرګنده شوه چي ولسمشر هم په دي اړه نه کوم پلان او نه کومه نظريه لري.

د اکرم په وينا چي اوس د افغانستان حکومت يوازي په نامه حکومت دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خطا نښه

## (۲۰۰۳ پسرلی)

د ۲۰۰۳م کال په اپرېل کې مې هوډ وکړ چې په کابل کې د ايتلافي ځواکونو له قوماندان ډان مکنل سره ووينم.

د ټوپکسالارۍ په اړه چې زما کومه نظريه وه غوښتل مې چې هغې ته نوره پراختيا ورکړم.

تر همدې مهاله زما او قيوم کرزي پر پلان چې په هغه کې مو د ټوپکسالارانو د له واکه لرې کولو لارې چارې ولسمشر کرزي ته په ګوته کړې وې دوه مياشتې اوښتې وې. کابل ته زما د سفر اصلي موخه دا وه چې همدا مسئله له جنرال سره مطرح کړم او په دې اړه دده نظر ځان ته معلوم کړم. بله خبره داوه چې داهم ځان ته معلومه کړم ، کوم پلان چې موږ په لاره اچولی دی ايا جنرا ل له هغه سره کومه ليوالتيا لری اوکه نه ؟

هغه پلان اصلا د کرزي او امريکايي نظامي افسرانو تر منځ په همدې اړه د خبرو ور پرانيست ، چې کېدای شي د امريکا د اردو د افسرانو مشورې په همدې لاره کې ګټورې تمامې شي. زه په دې ډاډه وم چې که چېرې ولسمشر کرزی د ټوپکسالارانو په وړاندې جامع پلان رامنځ ته کړي نو متحده ايالتونه به خامخا له کرزي سره مرسته وکړي.

خو په حقيقت خدای خبر و. له جنرال ډان مکنل سره زما شخصي ليدنې دا هر څه راته په ډاګه کړل.

په دې لاره کې د هيڅ پر مختګ هيله نه کېده ، افغان چارواکو امريکايي چارواکو ته او امريکايانو بيا افغانانو ته دوکه ورکوله.

زه هم دې پايلې ته ورسېدم چې زما هڅې به کومه نتيجه ورنکړي او نه به په ډيپلوماټيکو کړيو کې د کومې انګيزې سبب شي. ما جنرال ته وويل ، فرض کړه چې ولسمشر کرزی غواړي يو ټوپکسالار له واکه لرې کړي.

د بېلګې په توګه والي شېرزی.

ولسمشر په همدې اړه له تاسو څخه دمرستې غوښتنه وکړي او دی ستاسو تکتيکي مرستې ته اړتيا لري. د بېلګې په توګه درته ووايي ، چې د کندهار په هوايي اډه کې د لومړۍ او دويمې دروازې تر منځ چې د ګل اغا شېرزي د ورور رازق شېرزي مرکز دی او دا ځای بې له حکومت څخه د هيچا ملکيت نه دی هلته د رازق د ځارلو لپاره دوه ټانکونه ودروي او يا درته ووايي د سپين بولدک پر پوله ګزمې وکړئ چې دا کار تاسو مخکې هم کاوو په همدې اړه به ستاسو ځواب هغه ته څه وي ؟

تاسو دي کار ته چمتو ياست ؟

تاسو فکر کوئ چې په دې اړه به د جنرال مکنل ځواب مثبت وي ، نه بالکل نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنرال وويل ، په افغانستان کې زموږ د ميشن هدف د القاعدې شبکې د غړو نيول او د افغانستان بيارغونې ته د امنيت زمينه برابرول دي. دا هغه څه و چې زه يې له ډېر وخت راهيسي په تمه وم. زه پوهېدم که سړی له امريکايانو څخه په سمه توګه په دې اړه پوښتنه وکړي نو ښايي هغوی به ورته سم ځواب ووايي. ما په همدې اړه ټول شيان د کرزي د دفتر مسئول ته واضح کړل. زه په دې اړه ډېره غره وم او فکر مې کاو چې نور نو د کامیابۍ په درشل کې يم. نور بايد ما دا هيواد پرې ابښی وای ، ځکه چې هر څه ته نوی باب پرانيستل کېده.

د اپريل ويټ ليکنې په ټولو کړيو کې يو شورماشور رامنځ ته کړی و.

بالاخره د جنرال ځواب داسې و لکه زما غلجيو ملګرو ته چې په کابل او د کندهار هوايې اډه کې د اډې د قوماندان لخوا ورکړل شو.

په هر صورت ماته د ژېړي ناروغۍ راپېښه شوې وه او د کوچنيانو په هغه ورکشاپ کې مې بايد ګډون کړی وای چې (ACS) افغانان د مدني ټولنې لپاره ټولنه يې کوربنه وه.

کله چې زه دوبۍ ته ورسېدم ، مور ته مې د خپلې ناروغۍ په اړه په ټيلفون خبر ورکړ. هغې راته وويل چې داسې ده نو ته بايد دوه اوونۍ استراحت وکړې خو ما بايد درې ورځې وروسته په بوسټن کې د کېنېډي د هارډور په حکومتي پوهنتون کې وينا کړې وای. خو تر وينا وړاندې مې دوې ورځې په بستره کې تېرې کړې. ما په هغه ښوونځي کې وينا وکړه چې وروسته يې د چارواکو لخوا مننليك هم راکړل شو.

تر دې وروسته مې له خبري رسنيو سره غونډه لرله چې په هغو کې بوسټن ګلوب ، دکريسشن سائينس مونيټور ، نيويارك ټايمز ، واشنګټن پوسټ ، د بشري حقوقو داعيان ، راډيوګانې او درې څلور ټلوېزيوني چېنلونو سره مرکې شاملې وې.

تر دې وروسته مې په لينکولين او کنکورډ کې زموږ د حاميانو لخوا سيرعلمي درلود تر څو هغه کوچنيان ووينو چې زموږ د سيستر ښوونځي له پروګرامونو سره علاقه لري او په هغوی کې يې ځينو خو لا وختي پينسل ، بکسونه او کتابچې ټولې کړې وې او په پنټاګون کې يې د کانګريس له غړو سره غونډه لرله.

دا هرڅه د څه لپاره وو ؟ هدف يې څه وو ؟ د افغانستان لپاره ؟ د (ACS) افغانان د مدني ټولنې لپاره لپاره ؟

په دغې غونډه کې ګډون ډېر اړين و نو ځکه دا د يوې مسئولې نجلۍ لپاره ډېره ګرانه وه چې دا هر څه له لاسه ورکړي . له بله پلوه دلته اصلي ټکی د افغانستان موضوع وه.

موږ په څو غټو ورځپاڼو کې ليکنې خپرې کړې.

موږ هوايي ډګر ته ناوخته راورسېدلو ، چې الوتکې زموږ تر رارسېدو درې دقيقې مخکې الوتنه کړې وه. امېر او ايس کولای شوای چې په راتلونکې پرواز کې ولاړ شي. خو ما بايد په نيشنل پريس کلب نيوز ميکرز سريزې کې تر غرمې وروسته پر دوو بجو باندې وينا کړې وای.

واشنګټن ته چې ما د ترهګرۍ ، ټوپکسالارۍ او د پاکستان د رول په اړه کوم ليك لېږلی و اوس پرې يوه مباشت اوښتې وه. دا هرڅه پر واقعيت بناو خو زه ډېره نهيلې شوې وم او فکر مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاو چې هيڅوك ددې اورېدلو ته چمتو نه دي. زه د ټوپکسالارۍ په هغه جګړه اخته وم چې افغانستان يې بې ثباته کاو.ټوپکسالاري او ترهګري له يوه ځای څخه سرچينه اخيستله ، ګل اغا شېرزی دوه ځايه لوبېده ، هم له پاکستان او هم له متحدو ايالتونو سره ، خو پاکستان په افغانستان کې دوه مخې پاليسي مخ ته بېوله.

زه د امريکا ږغ راډېو د هيئت لخوا چې ددغې غونډې په مخ کې ناست و ډېره وهڅول شوم. دغه شپه ناوخته وپوهېدم چې امريکا ږغ راډېو زما له وينا څخه اته نيمې دقيقې راپور جوړ کړی او خپور کړی يې دی. البته دغه راپور په پښتو او دري خپرونو کې هم خپور شوی و ، چې په افغانستان کې يې هم خلك اوري. زه يوه خبرياله يم ، د اته نيم دقيقه ييز راپور ارزښت راته معلوم دی چې دا دومره اوږد دی لکه د جوراسيك عمر. له کندهار څخه په همدې ورځو کې يو چا ټيلفون را وکړ ويل يې شېرزی کرزي ته ستا په اړه د شکايت لپاره ورغلی و خو ما فکر کاو چې دغه کس به ټوکې کوي.

اوس داسې اوازې وې چې ځينې ټوپکسالاروالیان به له واکه لرې شي ، خو کله چې ما د قيوم کرزي سره په ټيلفون خبرې کولې ده له شېرزي څخه خپله پاملرنه د دفاع وزير ته را اړولې وه خو هغه بيا تر شېرزي لا يو غټ چرګونی و. قيوم زياته کړه چې د شېرزي کار سوی دی. دده خبره زما يوه پخواني ملګري رای ګواتم هم تائيد کړه. کله چې ما په بوسنيا او سربيا کې د خوشحالۍ شپې او ورځې سبا کولې رای په هغه وخت کې د نيوزويك اونيزې خبريال و. ده زياته کړه ، کله چې زه د کابل څخه راتلم په الوتکه کې مې د متحده ايالتونو له يوه ځانګړي استازي سره وليدل ، هغه راته وويل چې د شېرزي عوض مخکې لا ټاکل شوی دی.

هر څه پر سم لوري روان و ، مانه غوښتل چې ددغې لوبې له ليدلو څخه بې برخې شم. مابه هره ورځ د کرزي د دفتر مسئول ته ټيلفون کاو چې زما د الوتکې ټکټ تغيير کړي تر څو ددغې لوبې ليدلو ته ځان راورسوم. يوه ورځ نابېره د کرزي د دفتر مسئول په نيولي ږغ په ټيلفون کې راته وويل ، سارا زه فکر نه کوم چې هغه څه دې تر سره شي چې موږ يې تمه لرو.

ده وويل چې امريکايان بيرته له خپلې پرېکړې څخه پر شا شول. ما وويل دا هيڅ شونې نه ده ، ځکه چې جنرال مکنل له ما سره په همدې اړه وعده وکړه ، نو بيا هغه څنګه له خپلې وعدې څخه پر شا کېږي؟ ده وويل چې د عراق تر اشغال وروسته د خلکو په ذهنيت کې خورا ډېر بدلون راغلی دی. امريکا نه غواړي خپل سرتېري په خطر کې واچوي او خپل ټول سرتېري په افغانستان کې مصروف وساتي ، اوس امريکا عراق ته لومړيتوب ورکوي.

ما په همدې اړه جنرال مکنل ته يو برېښناليك واستاو چې زه هم افغانستان ته بېرته پر لارې يم او نه غواړم چې دغه لوبه راڅخه تېره شي.

ده په ځواب کې راته ليکلي و ، چې په هارډور کې د پسرلي له ګلانو څخه خوند واخله. وروسته وپوهېدم ، چې دا زما لپاره يو سيګنال و او زه هم په بوستن کې پاتې شوم. زه هغه وخت ډېره خوشاله شوم چې کرزي دولس ټوپکسالار واليان کابل ته راوغوښتل. کرزي په ستره محکمه

(c) ketabton.com: The Digital Library


کې خورا جدي وينا وکړه ، ده وويل که دغه کسان په خپل چال چلند کې بدلون رانه ولي نواستعفا به وکړم او لويه جرگه به راوبولم.

د ۲۰۰۳م کال د مۍ پر شلمه کرزي يو فرمان صادر کړ چې په هغه کې راغلي و ، سرله اوسه به د گمرك ټول عايدات کابل ته لېږدول کېږي.دوی به نور د کرزي امرته غاړه ږدي او يو د بل له مخالفت څخه به لاس اخلي.په هغه غونډه کې شېرزي وار د مخه کړ او ويې ويل چې زه د کندهار په گمرك کې د ورځې تر يو ميليون ډالره زيات عايد لرم ، چې سر له ننه به دا ټول ولسمشر کرزي ته را استوم.

په همدې سره شېرزي د کرزي زړه ته لار ومونده.

د کرزي د د فتر مسئول غوښتل چې دې ته سم رنگ ورکړي. ده د واشنگټن پسټ خبريالې اپريل ويټ ته وويل ، کله چې کرزي هغوی ته د ضروورياتو ليست وړاندې کړ دوی وويل چې بې له کومې بهانې به دغو ټولو شيانو ته مثبت ځواب ووايي.

البته دوی بايد همداسې ويلي وای ځکه چې دا هر څه د افغانستان ملکيت وو نه د دوی.

نور څېړونکي بيا له دې کار څخه اغيزمن شوي وو. د نيويارك ټايمز خبرياالې کارلوتاگال د کرزي دغه نوی ټينگوالی تشريح کړی و ، خو په کابل کې بيا زما ډېرو ملگرو دغه کار وستايه. خو اپريل بيا په خپله ليکنه کې ډېره محتاطه وه. هغې پردې باندې ټينگار کړی و چې دا ډېر گټور اقدام و ، خو ددغو وعدو د تر سره کولو لپاره هيڅ ضمانت نشته. په افغانستان کې ټولې ولايتي ادارې خپلواکې دي او هرڅه د مرکزي حکومت له پرېکړې پرته تر سره کوي.

تر کومه ځايه چې زه له وضعې سره بلده وم دا ډېر يو خطرناك کار و چې تر سره شو.

زه بيرته کابل ته راغلم ، په کابل کې زما د معلوماتو د لاس ته راوړلو سرچينې د امريکا سفارت ، د کرزي د دفتر مسئول او د کورنيو چارو وزير علي احمد جلالي وو. جلالي ټوله پړه پر امريکايانو واچوله. ده وويل هغوی موږ ته په غټو ټکو وويل چې دا کار مه کوئ.

د کرزي د دفتر مسئول وويل چې له واشنگټن څخه د امريکا يو نظامي او ملکي هيئت راغلی ، هغوی موږ ته په څرگندو ټکو کې وويل چې ايا تاسو زموږ په اړه فکر کړی دی؟ زموږ ټول سرتېري په عراق کې بند پاتې دي او اوس ددې وخت نه دی چې تاسو يې فکر کوئ. د دفتر د مسئول له دغو خبرو څخه داسې راته څرگنده شوه چې نور نو د افغانستان د پرمختگ لپاره هيڅ لاره پاته نه ده.

خو د امريکا په سفارت کې بيا راته بل ډول انځور راکړل شو .

هغوی ويل ، زلمی خليلزاد چې په افغانستان کې د امريکا ځانگړی استازی دی او بيا وروسته د امريکا سفير شو په څو ځله له ولسمشر کرزي څخه وغوښتل چې په همدې اړه يو تشريحي پلان ورکړي. امريکايان داسې فکر کوي ، که چېرې ټوپکسالاران له واکه لرې شي کېدای شي بدې پايلې به ولري. موږ له افغان چارواکو څخه وپوښتل ، تاسو بايد په همدې اړه فکر وکړئ که چېرې داسې وشي....؟ نو پايله يې دا راوځي يا داسې ونه شول...؟ پايله به يې څه وي او داسې نور خو ددې ټولو لپاره د افغان چارواکو ځواب مبهم وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کرزي د دفتر له مسئول سره مې د هغه نيمګړي پلان په اړه خبرې وکړې چې د امريکا د سفارت چارواکو يې يادونه وکړه.

ده وويل چې ولسمشر کرزی دغسې يو تشريحي پلان نه لري ، هغه يوازې پوهېږي چې څه وخت بايد دغه کار تر سره شي او څه وخت ددې کار د تر سره کولو امکان شته.

ما دا فکر کاوچې ايا کرزی به زموږ هغه اته پاڼيز پلان لوستی وي که نه؟ او يا دې ته ورته بل څه؟

د امريکايانو په اړه بايد ووايم که چېرې دوی په رېښتيا د ولسمشر کرزي ملاتړ کولای نو بيايې ولې له کرزي سره ددغسې يو پلان د جوړونې په پروسه کې مرسته نه کوله؟

ولې امريکايانو خپلې تجربې له ده سره نه شريکولې؟

د افغاني پلان له مخې بايد نيم درجن ټوپکسالاران له واکه لرې شوي وای ، چې په هغه کې ګل اغا ، اسماعيل خان ، د مجاهدينو له وخت راهيسې بد نام ازبك قوماندان رشيد دوستم چې اوس د يو بل ټوپکسالار لخوا له ښايسته مزارشريف څخه شړل شوی و او داسې نور.

ما په سفارت کې وپوښتل چې يوازې شېرزی څنګه کېږي؟ دوی وويل چې يوازې د شېرزي له واکه لرې کېدل د واشنګټن لپاره د منلو وړ دي او د هغه له واکه لرې کېدل هم دېراسانه دي.

زه بيرته زما ملګري جلالي ته ورغلم ، هغه هم ددې تائيد وکړ چې يوازې د شېرزي په اړه تصميم نيول شوی دی خو پاکستان به ددې کار سخت مخالفت وکړي .

ما وويل څه شی؟ پاکستان؟ پاکستان بيا څوك دی؟ د پاکستان يې بيا په دې کارونو څه؟

وروسته وپوهېدم چې پاکستان د افغانستان په مسايلو کې خورا کليدي رول لري. پوه شوم چې افغان حکومت له خپل جنوبي ګاونډي سره ځومره مشکلات لري.

جلالي راته وويل چې زه يوازې د شېرزي له واکه د لرې کولو دېر مخالف يم ځکه چې هغه د واليانو په غونډه کې ولاړ شو او د مرکزي حکومت ملاتړ يې وکړ او ويې ويل چې تر دې وروسته به د ګمرك ټولې پيسې پلازمېنې کابل ته راليږي. زه وپوهېدم چې د شېرزي هغې جادو پر جلالي هم تاثير کړی دی.

د امريکا په سفارت کې يوه چارواکي راته وويل ، کرزی له شېرزي سره ښې اړيکې لري او هغه نه غواړي شېرزی له واکه لرې کړي ځکه چې کرزی به له شېرزي پرته ځان تنها محسوسوي.

هغه اوږده لاره چې موږ د ۲۰۰۱م کال له ډسمبر څخه وهلې وه بې منزله ښکارېده. امريکايانو چې شېرزی د والي په توګه وټاکه نوکرزي يې هم پر پله پل کېښېښود او هغه يې په کندهار کې پر واك وساته.

جلالي وويل چې زه غواړم ستا انډيوال خاکريزوال له خپلې دندې څخه لرې کړم.

ما ورته وويل: څه شی؟ ټوکې خو به نه کوې؟ نو ولې؟

په ټول افغانستان کې همدا يواځينی حکومتي چارواکی دی چې له فساد څخه پاك او خپلې دندې ته رېښتينی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ما جلالي نه وغوښتل چې داسې ونکړي. ما جلالي ته وويل: زه تاسو ته په باور سره ويلای شم چې دی په کندهار کې د کرزي تر ټولو وفادار ملګری دی ،که چېرې تاسو داسې وکړئ نو ګل اغا به په کندهار کې په واك کې پاتې شي او نور به پسې غښتلي شي او له بل پلوه به دا د نومورې لپاره يوه تحفه هم وي. تاسو بايد داسې ونکړئ چې ضابط اکرم له واکه لرې کړئ او شېرزی په واك کې پرېږدئ . او که چېرې تاسو داسې وکړئ ، الکوزي به خوابدي شي چې په دې سره به تاسو د الکوزو د ټولې قبيلې ملاتړ له لاسه ورکړئ.

زما خبرو پر جلالي اغېزه وکړه. ده وويل: زه په دا يو څو ورځو کې کندهار ته ځم غواړم هر څه په خپلو سترګو ووينم. د حالاتو تر څېړنې وروسته به پرېکړه وکړم.

جلالي د خپل ټوپك نښه پر خپلې پښې برابره کړې وه ، خو ماهغه د خپلې پښې له ويشتلو څخه بچ کړ.

اوس هغه وخت رارسېدلی و چې زه بايد خپل کور کندهار ته ستنه شوې وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دريمه مرحله
## (۲۰۰۳ دوبی)

ما بايد د والي شيرزي سره مخاخ کتلي واي . وروستي خبر چي ما تر لاسه کړي شيرزي ډير راته په غوسه وو.نوموړي ولسمشر کرزي ته زما په اړه شکايت کړي وو.

د ولسمشر کزي ورور په ارگ کي د همدي پيښي عيني شاهد و وروسته نوموړي زموږ دفتر ته راغلي و او زموږ د دفتر کار کوونکي يي د پيښي څخه خبر کړي وو.

شيرزي گواښښ کړي و ويلي يي و که غواړي چي زه په کندهار کي پاته شمه نو دا بايدنوره چپ شي.

د کورنيو چارو وزير علي احمد جلالي چي هم په همدي صحنه کي حاضر و وروسته ماته داسي وويل چي شيرزي په لوړ اواز کرزي ته وويل تر څو چي دا زما په ولايت کي وي زه کار نه شم کولاي! زه استعفا ورکوم.ما فکر وکړ ښه نو چي داسي ده نو بيا ولي ولسمشر کرزي هغه ته نه ويل چي استعفا وکه چي په همدي کار سره به ډير مشکلات حل شوي واي.داسي ښکاريدل چي په دي سره به ولسمشر کرزي نه وي حيران شوي ځکه چي هر څوك پوهيدي چي زه د کرزي د کورنۍ سره تړاو لرم.

دا د ټولو هغو مرکو او ويناو پايلي وي چي ما په متحده اياالاتو کي تر سره کړي وي.

شايد خلك فکر وکړي چي ددي کبله ما پر گل اغا انتقادونه کول چي زه د کرزي د کورنۍ سره تړلي وم او دا هر څه چي ما ويل هغه د کرزي پيغام شيرزي ته په غير مستقيم ډول رسول وو.

والي کور نه و نو ځکه زه د احمد ولي کرزي احترام ته ورغلم.

هغه پر خپل بايسکل تمرين کوي. په کندهار کي لوړ پوړي چارواکي يا مخور کسان د قدم وهلو لپاره د باندي نه سي وتلاي په ځانگړي توگه چي بيا د ولسمشر ورور وي.

احمد ولي وويل سارا والي ته مه ورځه هغه ډير په غوسه شوي دي ده ولسمشر ته ويلي وه چي زه خلکو ته پيسي ورکم او دده د اداري په وړاندي يي راپورته کوم.خو گل اغا به هم د تور لنډکروزر څخه د پيسو ډك لاس را ايستلي و او خلکو ته به يي ورکولي.

يو کس چي زموږ د کور شاته يي د ملا عمر غوا روزل تيره اوونۍ د هغه لپاهر ډيره بختوره ځکه چي گل اغا ورغلي و هغه ته يي د سلو ډالرو په اندازه پيسي ورکړي وي.

ما احمد ولي خپل تمرين ته پريښودي زه د والي د کور پر لور روانه شوم. په امريکايي يونيفورم کي د گيټ د شا څخه ساتونکي راښکاره شول.

د والي کاروان هم د راوتلو په حال کي و.

په همدي حال کي د کور څخه يو تور موټر راووت ما ورته د درولو لپاره اشاره وکړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که ګورم شيرزي په ډيره غوسه د هغه موټر څخه راکښته شو او ماته يي وويل ته څه فکر کوي ؟

دي لا د جملي په منځ کي و چي مځکه يي وټکلو ويي ويل ستا وظيفه سياست دي که ټولنيز خدمتونه ؟

ما دده خبري ور پري کړي ومي ويل موږ بايد خبري سره وکړو خو دلته نه. د نوموړي سره په موټر کي د ماليي د وزارت يو هيئت ملګري و ما نه غوښتل چي د هغوي ومخ ته دده سره مناقشه وکړم.

سبا نهه بجي مو د ليدني لپاره سره وټاکلي.

زما سره انجينر عبدالله د ژباړي لپاره راسره وو. په مخامخ کونج کي شيرزي او هر کاره بدنيتي خالد پښتون ناست وو.

دوي دواړه ډير په غوسه ښکاريدل.

پښتون چي تش په نامه د والي استازي و څو ځله د خپل مشر په خوله کي ور ولويدي. که چيري زه د شيرزي پر ځاي واي هغه به مي سمدستي د خوني څخه شړلي واي.زه پوهيدم چي ولي شيرزي دي د ځان سره ساتلي دي.خو بيا هم والي شيرزي دده هري خبري ته غوږ نه نيوي.يو وخت شيرزي په خپله د مجلس د اداره کولو واک په لاس کي واخيسي او پښتون يي د مخه ليري کړي چي هغه زما لپاره تر ټولو په زړه پوري صحنه وه چي دي مي په دغسي يو ټيټ حالت کي ليدي.

والي زما لپاره د پوښتونو يو ليست تيار کړي و خو پدي سره يي پيل کړي چي دلته ستا وظيفه څه شي ده ؟ ايا تاسو دلته ټولنيز کارونه مخته وړي که سياسي ؟

داسوال يي ماته تر ټولو په زړه پوري و او همدا سوال به ما هره ورځ د خپل ځان څخه هم پوښتي ؟ ده وويل چي ايا ما تاته تر اوسه کوم تاوان رسولي دي ؟ که مي تاوان نه وي درسولي نو بيا ته زما څخه د کوم شي غچ اخلي ؟

ما ده ته وويل چي دلته د غچ اخيستلو کومه خبره نشته خو زه دلته يوازي ددغه خراب حکومتي سيستم مخالفه يم.زه د يو نارينه په څير ستا مخالفه نه يم دا يوازي ستاسو بد طالع دي چي زه په کندهار کي يم.که چيري زه په هرات کي اوسيدلاي ما به همدا شيان د اسماعيل خان په وړاندي هم ويلي واي.

هر څه چي ما په متحده ايالاتو کي ويلي وه هغه خالد پښتون يادداښت کړي او غور چاڼ کړي وو. خالد پښتون به يو يو سوال د لاسي بم په شان ميدان ته راغور ځوي. ده وويل چي تا په متحده ايالاتو کي وويل چي شيرزي د پاکستان او متحده ايالاتو دواړو سره لاس لري. د همدغسي يو ټکي د رابر سيره کولو وروسته به يي انتظار ايستي چي پر مجلس څونه بده اغيزه کوي.

والي ډير ارام شو : ده وويل زه يواځيني سړي يم چي د پاکستان په وړاندي مي سخته مبارزه کړي ده حتي زما د پلار د وخت راهيسي!

امريکايانو زما پلار ته د زمري لقب ورکړي: خو اوس پاکستان غواړي ما ووژني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ورته وويل ښه نو چي داسي ده نو بيا ولي په ټوله ښار كي يوه د انټرنيټ كيفي شته او هغه هم د اي ايس اي لخوا چلول كيږي او ستا د همدغه نژدي دوست پښتون لخوا پرانيستل شول.

اول خو والي د هغه څخه بي خبري وښودل كله چي ما مجبور كړي ويي ويل چي دا دونه مهمه خبره نه ده. شيرزي يو متل ووايه چي كه د چا لاس نه سي وركتولاي نو نو لاس يي ورمچ كه.

دا د افغانانو كلتور دي چي د ملامتي په وخت كي خپل ځان بي ګناه ثابت كړي.

خو زه د څو مياشتو راهيسي په دي خبره وم چي شيرزي د پاكستان لپاره كار كوي.

ما شيرزي ته وويل څونه د شرم خبره ده چي يو كس دي دونه شهرت ولري او د ټوله افغانستان د زمري زوي دي وي او بيا دي د يو چا لاسونه ورمچوي. د ولسمشر او شيرزي تر منځ په غونډه كي چي ما څه اوريدلي وه شيرزي ويلي و چي زه دا د كندهار څخه شړم خو كرزي ورته ويلي وه چي پدي كار مه لره.

شيرزي ماته د اختار په ډول وويل كه ته دداسي خبرو څخه لاس وانه خلي نو ځيني كسان به ډيرخواشيني شي او كيداي شي تا ته كوم تاوان در ورسوي چي هغوي بلكل د واكه وتلي خلك دي.

ما هغه ته وويل چي زه د امريكا لپاره كار نه كوم خو كه چيري زما څخه جنرال ميكنيل او ډګروال كمپبيل د كندهار د وضعي په اړه معلومات وپوښتي نو زه خو هغوي ته دروغ نه شم ويلاي.

زه بايد هغوي ته ريښتيا او هغه څه ووايم چي ما په خپلو سترګو ليدلي دي.

همدي شي پر شيرزي باندي د جادو په څير تاثير وكړي. ده وويل ته ولي داسي شيان ليكي چي هغه بيا ماته د پزي پيزوان وي.

ګل اغا په ريښتيا سره ډير وار خطا و. ما ده ته ډاډ وركړي چي په هغه كي ډير شيان مانه وه ليكلي هغه د واشنګټن پوسټ د ورځپاڼي پر ليكنه يوازي څو اقتباس شوي شيان و خو زه د مضمون ليكواله نه وم.

په دي سره ګل اغا خوشاله شو او ويي ويل ګوره ته د ډير وخت راهيسي دلته اوسي. ته نوره بهرني نه يي ته اوس زموږ د كورنۍ يوه غړي يي.

كه ته زماپر كارونو چي زه يي كوم كوم اعتراض لري ماته راشه او په هغه اړه خبري راسره وكه.

زه پدي خوانه بدوم كه ته نوري ليكني هم وكړي خو د هغه تر خپراوي وړاندي يو ځل زما سره وينه.

شيرزي يو بل متل هم راته تير كړي چي ويل يي مړ مي كه خو لمر ته مي مه غورځوه. سړي كولاي شي چي ډير څه د ژبي په اړولو سره پټ كړي خو زما لپاره حقيقت ډير ارزښت درلود.

والي وويل زموږ دروازه د تل لپاره ستا پر مخ د شپي او ورځي پرانيستي ده.

كه حتي زه بيده هم يم په دا... مي په چپلاخه ووهه او راويښ مي كه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما د نوموړي څخه ډېره مننه وکړل.

تر دي دري اوونۍ وروسته د ډيموکراسي لپاره د ملي بخښني (NED) ټولني يو هيئت د واشنګټن څخه کندهار ته راغلي.

ما او قيوم بايد پر يوه پروژه باندي خبري کړي واي چي پخوايي موږ خوبونه ليدل. دا پروژه د ولايتونو په سطحه د قومي مشرانو د يوي شورا رامنځ ته کول وو. هيئت په کندهار کي د ځينو پروژو څخه د ليدني په غرض راغلي و خو موږ پايد هغوي ددغي نوي پروژي تمويل کولو ته هڅولي واي.

ما شيرزي ته ټليفون وکړي ورته ومي ويل دا ته زما څنګه انډيوال يې دا دري ورځي کيږي چي زه سخته زکام يم خو ته مي پوښتني ته رانه غلي.

ما ده ته يوځه شيان د تحفي په شکل هم راوړل.

شيرزي ددغه نابېره هيئت لپاره اماده ګي نيول چي د امريکا څخه راغلي وو.

ده موږ د سهار ناري ته وروبللو.

موږ پر يوه ميز کښيناستلو چي پر هغه باندي د ناري د خوراکي شيانو تر څنګ کباب هم ايښودل شوي وو.

د ميز پر هغه بله خوا د ښار مخور او لوړ رتبه چارواکي ناست و چي په هغوي کي د قاضيانو مشر ، څارنوال ، امنيه قوماندان خاکريزوال او داسي نور وو.

زه او اکرم څنګ پر څنګ پټه خوله ناست و او مجلس مو څاري.

شيرزي د (NED) غړوته وويل چي دلته مي په پوره توګه ډيموکراسي پلي کړي ده.زما په ولايت کي چي هر څوك هر څه و غواړي ويلاي يې شي.

ما په لوړ اواز وخندل ورته ومي ويل ډير ښه.

ما وويل چي ما يوه بله ليکنه کړي ده چي ډير ژر به يې اوازي خپري شي خو شيرزي څه ونه ويل. دا د (NED) غونډه وه چي موږ يوازي د هغوي سره مرسته کول.

ما بالاخره فيصله وکړل چي په والي شيرزي به نور کار نه لرم خو زما راتلونکي ليکنه په نيويارك ټايمز کي د ټوپکسالاري په اړه وو.

ما فيصله وکړل چي نور ددي ضرورت نه ليدل کيږي چي ددي واري دي په ليکنه کي ګل اغا په نامه ياد شي.

همدي کار پر هغه څه اغيزه نه کول چي مابايد ويلي واي.

د هغه څه په وړاندي چي ما کول خپل ضمير او وجدان مي قاضي کړي.

دا ليکنه د جولاي پر لومړي نيټه (د افغانستان راتلونکي د ګډوډيو ښکار شو) تر سر ليك لاندي خپره شول.

ما په هغه کي ليکلي و د امريکا پاليسي به په افغانستان کي تر هغه وخت پوري کاميابه نه شي تر څو يې دغه د ځان ژغورني پاليسي بدله کړي نه وي.

ما ويلي و چي هر والي يو محلي ټوپکسالار دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولي امريکايان د ولسمشر کرزي او د خپلو دښمنو ټوپکسالارانو سره مرسته کوي؟ کندهاريان وايي چي امريکايان بايد نور خپل هغه زاړه تصميمونه بدل کړي چي ټوپکسالاران يي د واليانو په توګه ټاکلي وو.

په دغه مضمون کي شيرزي په نامه سره نه و ياد شوي خو دي پوهيدي چي هدف يي څوك دي. تر دي وروسته د امريکا د سفارت څخه ډير ژر د کورت امیند ټليفون راغلي.

ده راته وويل چي ته بايد ډير ژر کابل ته راسي ځکه چي هلته ستا ژوند ته خورا جدي خطر متوجه دي.

امیند ددي خبري د ثبوت لپاره زه په نامه ياده کړم زما د موټر او وروستيو کارونو په اړه يي پوره معلومات راکړل. زه سمدستي پوه شوم چي تر کاسي لاندي نيم کاسه شته او امیند ته مي وويل چي زه بيا وروسته ټليفون درته کوم. ما د کندهار په هوايي اډه کي زما يو ملګري ته ټليفون وکړي چي د اردو په استخباراتو کي يي کار کوي او دغه مسئله مي ورسره شريکه کړل هغه وويل زه به په همدي اړه معلومات وکړم او بيا به وروسته تاسو ته ټليفون در وکړم.

تر نيم ساعت وروسته يي ماته ټليفون وکړي ده وويل چي په کندهار کي د هيڅ مشخص ګروپ يا کس په وړاندي کوم تحديد يا خطر نشته.

زه ډيره ژر پوه شوم چي شيرزي او خالد پښتون په کابل کي وه د هغوي څخه يو يي د سي اي اې مرکز ته ورغلي و او له همدي کبله دغه معلومات تر سفارت پوري هم رسيدلي وو.

دا خطر هم د هغه پخواني خطر په شان و چي داسي شيانو پر ما کومه اغيزه نه لرل او نه يي زه د خپلي لاري څخه بيلولاي شواي.

ما په منظه توګه د اعتدال خوښونکو ملايانو سره مجلسونه تر سره کول.

دغه دوه راپورنه ډير سره ورته وو.

ما امیند ته ټليفون وکړ ورته ومي ويل چي زما په اړه کوم تشويش ونکړي زه دلته په امن کي يم. ما فکر وکړي چي پدي شان ژوند نه تيريږي نو د همدي کبله مي په استخباراتو زما ملګري افسر ته ټليفون وکړي هغه ته مي وويل که دي داخل د والي سره ملاقات کوي هغه ته ووايه چي که چيري دي ته کوم زيان ورسيږي نو امريکايي اردو به ډير په خواشيني شي. ما ده ته وويل که دي چيري دا کار وکړي نو زه به ډير خوند تيري واخلم.

ما د امريکا په سفارت کي د بيل ټايلر څخه وپوښتل چي ته هم همداسي شيرزي ته ووايه.

ما نه غوښتل چي د شيرزي د مشر جلالي څخه پدي اړه مرسته وغواړم.

کله چي وزير جلالي اود هغه برطانوي هم څنګ کندهار ته راغلي و د غرمي تر ډوډي وروسته وزير جلالي چي يوه ديوال ته يي تکيه کړي وه او د شيرزي سره په شخصي خبرو مصروف و ما ته را ږغ کړل.

زه چي ورغلم جلالي زما څخه وپوښتل چي امنيت څنګه دي؟

ما ده ته وويل چي د افغانانو لپاره امنيت يو ډول دي او د بهرنيانو لپاره بل ډول دي خو دلته اصلي امنيتي مشکلات...جلالي زما خبري پري کړي ويې ويل زه ستا شخصي امنيت يادوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


اوح... ډېره ښه ما ورته وويل چي ما اوس د ځان د امنيت لپار څو ساتونکي استخدام کړي دي. جلالي وويل که هر څه مشکل لري زه ستا په خدمت کي يم.

جلالي شيرزي ته ګوت څنډنه وکړل که تاته هر ډول مشکل پېښ شو نو مسول به يې شيرزي وي.

تر دي وروسته ماته هيڅ ګواښ نه دي متوجه شوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بېره

## (۲۰۰۳ دوبۍ)

د همدې دوبۍ پيليدلو له ځان سره ځينې خطرونه لرل ، چې زه يې ډيره وارخطا کولم. د ريکارډو منګويا مړينې خو بيا هر څه پر بل مخ واړول. دده مړينه د هغو ملايانو په مړينې پسې وه ، چې د کندهار ښار د باندې يې خپل ژوند د نوي رژيم د ملاتړ له کبله له لاسه ورکړ.

د ښار په زړه کې زما تر ټولو خوښ د احمد شاه دراني د وخت لرغونی مسجد کې چې ښايسته منارونه يې د اسمان پر لور ختلي دي ، هم يوه چاودنه وشوه ، چې مرمرين فرش يې د لمونځ کوونکو په وينو ککړ شوی و ، خو خوشبختانه څوك پکې سخت ژوبل نه شول.

هغه وخت بيا تر ټولو بد و ، چې يوه شپه ما او اکرم چای څښنه او اکرم د مړو شمير پر ګوتو کاوه. ده په منځنۍ توګه هره ورځ يو سرتيری د پوليسو پر پوستو د بريدونو له کبله له لاسه ورکړی و. دا جنګيالي ټول د اکرم په واك کې و ، خو دده لپاره بله هيڅ چاره نه وه ، بې له دې چې د هغوی مړينه په خپلو سترګو وګوري.

موږ زما په کور کې وو. اکرم د پوليسو يونيفورم کښلی و او کندهارۍ محلي جامې يې په تن وې. کميس ،پرتوګ او واسکټ يې اغوستي و او خړه زرينه لونګۍ يې تړلې وه. له ما سره زما کمره وه ده ته مې وويل چې د عکس اخيستلو لپاره ځان سم کړي ، خو ده ويل نه نه دا پرېږده خبرو ته ادامه ورکړه.

ما ده ته په تيز نظر وکتل او هيله مې ترې وکړه ، چې په پايله کې و توانيدم په داسې حالت کې عکس ځنې واخلم چې يو لاس يې پر ځنګانه ايښی و او په بل لاس کې يې د چای ګيلاس و او پر شونډو يې خوږه مسکا خوره وه.

کله چې اوس دغه عکس ته ګورم ، نو ډير ارمان راته دريږي چې څنګه مې دوه کاله وړاندې ددغه ستر انسان مرګ په خپلو سترګو وليده. هغه لا تر اوسه د ځوانۍ له بهاره نه و وتلی ، خو په کومه شپه چې ما او ده باندړار سره کاوه ، د بدشګوني باران اوريده.

د اکرم خبرې خلاصې شوې او له هغه سره نور د خبرو لپاره څه نه و. د نومووړي کسانو نور نه غوښتل چې په ولسواليو کې دندې ترسره کړي او دی هم نه پوهيده چې څنګه له هغوی څخه د همکاري هيله وکړي. بې چاره قوماندان صيب!!

زما عبدالله يادېږي چې له ځان سره يې وويل: زموږ زړونه نور مات شوي دي ، نړۍ ورځ تر بلې پر موږ راتنګيږي. موږ خپل ځانونه يوازې محسوسوو او يوه کونج ته راټول شوي او له شا وخوا څخه احاطه شوي يو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ترینکوټ پر سړك په یوه کمین کې د ارزګان د والي نیم درجن کسان ووژل شول. په هلمند کې د ولسوالۍ پر مرکز برید کې د میرسي کورپ خیریه ټولنې یو موټر چلوونکی او دوه نور کسان ووژل شول.

په هر صورت حالت مخ پر خرابیدو و ، چې د نوې ادارې او افغانانو تر منځ پر اړیکو یې ډیرې بدې اغیزې ښندلې.

ددغه دوبي پیښو د بیارغونې او پرمختیایي چارو ته هم لوی ګواښ متوجه کړی و. د داسې پیښو په بیا بیا تکرار جنګیالیو ته د بیا منظم کېدو او ځواکمنیدو واك ورکاوه. دا هغه څه و چې اکرم زما مخې ته کېښودل او په ریښتیا هم دغه حالت زه تر بل هر چا و ویرولم.

عادي کندهاریان هم زما په شان د ویرې په جال کې راګیر وو. دغه تاوتریخوالي یو مخلوط شکل درلود په دې مانا چې دا هرڅه د والي د دارمارانو لخوا پیښیدل او امریکایانو پر دا هرڅه سترګې پټولې او د هغوی د مخنیوي لپاره یې هیڅ اقدام نه کاوه. دغه کار کندهاریان سخت اندېښمن کړي وو.

د کندهار خلکو ویره لرله چې دوی تر اوسه د طالبانو د مهال ترخې نه دي هیرې کړې ، خو د بل رژیم د راتګ نښې نښانې بیا تر سترګو کېږي. دوی فکر کاوه ، چې طالبان به بیا خامخا راځي.

دې دوبي له خان سره خورا ډیرې ناوړه پیښې لرلې. خلکو ویل که چېرې حالات په همدې شان دوام ولري نو دوی به د امریکایانو په وړاندې داسې راپاڅیږي لکه د روسانو په وړاندې چې راپاڅیدلي وو.

د روسانو په وړاندې ډاکټر ، انجنیر او نور ټول افغانان و جنګېدل او په جهاد کې یې برخه واخیسته.

زه په دې ډیره حیرانه وم چې غربیان ولې د خان او روسانو تر منځ فرق نه شي کولای او واشنګټن ولې له دې هرڅه څخه ویره نه لري. په لومړي ځل مې له یوه افغان څخه واوریدل چې ویل یې د امریکایانو او روسانو تر منځ هېڅ توپیر نشته.

په لومړي ځل یوې ښځې په ډیر تاسف سره راته وویل چې نور زموږ کورونوته مه راځه.

دې زیاته کړه: خلك د هغو کسانو په وړاندې غبرګون ښیي ، چې له محافظه کاري څخه د لرې کېدو هڅه کوي. د نورو ښځو سره په توپیر ما کوښښ کاوه ، چې بورقه وانه غوندم .ما څو ډوله جامې پر خان او عبدالله وکتلې خو د زړو ښځو د یو ډول جامو په اغوستلو چې تر سر او پښو رسیدلې زه د ټولو مسخره شوم. زه رښتیا هم خندوونکې ښکاریدم.

نارینه و هم زما په شان ویره لرله. د احمد ولي کرزي یوه ساتونکي موټر اخیسته ، نوموړي ویل: هغسي خو موږ ټول ډیر ژر مرو دا څو ورځې چې ژوندي یو باید یو څه په استراحت خو یې تیرې کړو.

هر څوك چې ما پیژندل ډیر وارخطا وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی به ویل دا ځلې به چیرې تښتو؟ ایران او پاکستان خو مو نه پریږدي. یو ماښام عبدالله په ډیره پریشاني سره راته وویل: موږ ټول به یو په بل پسې ووژل شو. د اکرم ویره هغه وخت لا زیاته شوه چې یوه کس د پاکستان د استخباراتي شبکې آی اس آی د یوه ډګروال چې د جنرال پرویز مشرف ټولګیوال و یو پیغام ورته راوړ.

دغه پیغام د جنګ د اعلان بڼه لرله.

په پیغام کې راغلي و ، چې دا ځل به چیرې مهاجر کیږئ یا تښتئ؟

پر کومه ځمکه چې ته اوس واکمن یې ډیر ژر به د پاکستان برخه شي او په پیغام کې دې ته ورته نور شیان هم راغلي وو.

اکرم د آی اس آی جنرال ته د ځواب په ور استولو کې زړه نا زړه و ، خو تر څنګ یې بیا د جواب نه ورکولو سړی هم نه و.

اکرم نوموړي ډګروال ته ولیکل:

زه د تاریخ د یوه زده کوونکي په توګه دومره پوهیږم ، چې افغانستان څو زره کلن تاریخ لري او پاکستان یوازې ۵۵ کاله وړاندې زیږیدلی دی.

زه فکر کوم چې موږ به ډیر ژر ستاسو دړې وړې کېدل په خپلو سترګو ووینو.

دوهم سوال ته د اکرم ځواب داسې و:

زما راتلونکی پټن ځای یا پناځای به هدیره وي. دا ځل به زه هدیرې ته کډه کوم.

زه ډیره حیرانه وم ، چې څو میاشتې وړاندې د کندهار ولایت په مقام کې د پاکستان د اردو دوو افسرانو شیرزي ته ویلي و ، اکرم ته مشکلات جوړ کړه. اکرم ووژنه او اوس بیا دا.

تیره اوونۍ یو توپان راغلی و.

د ډیرو دوړو او غبار له کبله سړي فکر کاوه لکه اسمان چې مځکې ته راکښته شوی وي. هوا ډیره تیزه چلیدله. هواته پورته شوي توکي ، چې به پر هر چا ولګیدل ډیر به یې خوړاوه. زموږ د کور د توتانو ونې نژدې وې ، چې پر موږ راچپه شوی وای. په ښار کې د ناجو ونې چې د اسمان پر لور به دنګې ختلې وې ، اوس د ډیر توپان له کبله پر ملا کوپې شوې وې. د توپان تر ختمیدو وروسته زموږ په کور کې د دیوال اړخ ته د درمند په شان خاورې او خزلې خره وې.

ښځو به ویل: کله چې داود خان شهید کېده ، همدغسې توپان راغلی و. شاید دا به ۱۹۷۴ز کال و. د ښځو په وینا چې دا د انقلاب د راتګ په معنا و.

د اکرم د دندې پر سر لا زما او جلالي تر منځ شخړه پای ته نه وه رسېدلې. ما نه غوښتل چې اکرم ته ددغې زیاتیدونکې جګړې په اړه څه ووایم ، خو هره شیبه کېدای شوای د اکرم پر سر دغه تبر لګېدلی وای. زه یې مخنیوي ته ژمنه وم او د همدې لپاره مې ډیرې شخړې وکړې. ما له جلالي څخه دده د هغې ادعا په اړه ثبوت وغوښته چې ده ویل اکرم په فساد ککړ دی.

وزیر جلالي ما ته یو لیك راښکاره کړ چې هغه طالب جنګیالو د اکرم د کسانو په اړه لیکلی و.

یو نا څرګند لیك؟ داسې چې هر څوك یې لیکلای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ما جلالي ته وويل چې ته هر شي ته دقيق نه متوجه کېږې هر څه چې ستا مخ ته راځي په همغه عمل کوې. زه پوهيږم چې د پردې تر شا څه روان دي. زه په کندهار کې اوسيږم ، داسې کوم شی به وي چې جلالي به پرې خبر وي او زه نه ؟

زه په هر څه ډيره ښه خبره وم ، ځکه چې دا هر څه زما تر څنګ روان وو. که موږ داسې ونکړو نو دا هر څه به په بل مخ واوړي. که افغان حکومت او زه له دغه خطر سره ونه لوبيږو ، نو ټولې هڅې به مو په اوبو لاهو شي.

هغه وخت نوره هم په غوسه شوم چې د امريکايانو اډې ته د ((پولاد)) لخوا وروغوښتل شوم. دغې ځانګې د ايتلافي ځواکونو د قوماندان لپاره د سياسي مشاوريت چارې تر سره کولې. دا په اردو کې ملکي ځانګه ده ، خو کله چې به جنرالانو کوم احمقانه کار تر سره کړ ، نو بيا به دوی د هغه په ترسره کولو او يا د هغه په صفا کولو مجبور و.

د هغې غونډې په اړه مې ډير څه نه دي په ياد خو څه چې مې يادېږي هغه د پوځ له يوه لوړ پوړي ځيرك افسر سره زما کتنه وه. همدې افسر د بګرام له هوايي اډې څخه د پولاد ځنې نور غړي هم له ځان سره راوستي وو. تر هغه وخته پورې چې موږ کيناستلو ، دغه ډګروال ماته ونه ويل چې له کابل څخه کندهار ته يې د راتګ اصلي لامل څه و ؟

په دغې غونډه کې نوموړي افسر له ما څخه د يو څه وخت لپاره د کندهار د پرېښودو هيله وکړه. د نوموړي دا هيله ډيره ښه خو ډيره سخته وه. ده زياته کړه: زه تا نه پيژنم خو که ته چېرې ووژل شې نو دا به زما لپاره ډيره بده وي. دا به زموږ د تير يوه کال لاسته راوړنې او ټولې هڅې په اوبو لاهو کړي.

زه ددغې خبرې په اهميت پوهيدم ، داسې چې که د ريکارډو تر مړينې وروسته يو بل بهرنی په سوېل لوېديز حوزه کې ووژل شي نو د ملګرو ملتونو په شمول به ټولې خيريه موسسې خپل کارونه ودروي.

ملګرو ملتونو به پر هغو ټولو پروژو له سره کتنه کړې وای چې د سوېل لوېديزې حوزې لپاره پلان شوې وې. په درجنونو افغانانو به خپلې دندې له لاسه ورکړې وای ، چې دا په خپله يوه لويه ضايعه وه ، چې تر شا به يې ډيرې بدې پايلې پريښې وای.

نوموړي افسر زياته کړه: زه دانه وايم چې ته سمدلاسه کندهار پريږده. هدف مې دادی ، چې زما او ستا تر منځ بايد د اړيکو ټينګولو زمينه برابره شي که چېرې وروسته داسې کومه پېښه رامنځ ته کېږي نو زه او ته بايد اړيکي سره ولرو.

زما دده ټولې خبرې خوښې شوې ، خو وراندې تر دې ، چې زه له نوموړي سره موافقه وکړم ما ورته وويل: زه بايد ډاډه شم چې تاسو دا کار يوازې زما په خاطر کوئ ، نه داچې تاسو دې دغه کار ته داسې يو چا هڅولي ياست چې په دغې سيمه کې زما شتون نه شي زغملای. هدف مې شيرزی دی ، ته پوهيږې چې هغه څنګه امريکايان تير باسي ، هر هغه څوك چې دده پدې سيمه کې نه خوښيږي د ترهګرۍ په پلمه يې له مخې لرې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما افسر په غوږ وواهه ، چې آيا سي . آی. اې داسې کوم خبر تر لاسه کړی دی ، چې په سيمه کې کومه ځانګړې ترهګره ډله شته چې هغوی زما د وژلو پلان جوړ کړی دی ؟

ده زما د ډاډ په اړه وويل هيچا ته به دا اجازه ورنکړي چې ما استعمال کړي. له ده سره په خبرو کې زه وپوهيدم چې نوموړی يو زړه ور او ريښتينی شخصيت دی. ده زياته کړه: د عراق جګړې په افغانستان کې د پوځ پر وړتيا ډيره بده اغيزه شيندلې ده. افسر وويل: موږ نور اضافي سرتيري نه لرو چې په افغانستان کې دنده تر سره کړي.

په ۲۰۰۱ز کال کې د جګړې پر مهال د بي (B) ټيم افغانستان ته وليږل شو تر څو هلته ميشته سرتيري هوسا کړي ، خو اوس د بي (B) او سي (C) ټيمونه په عراق کې مصروف دي ، زموږ لپاره يوازې يوه لاره پاتې ده هغه دا چې د ډي(D) ټيمونه افغانستان ته وليږو.

زموږ د استخباراتي معلوماتو له مخې افغانستان اوس هم د پخوا په شان د امريکا د امنيت لپاره ډير مهم دی.

د نوموړي لهجې دده د ريښتينولي شاهدي ورکوله. نوموړي افسر پر يوه پاڼه د سرتيرو وضعيت راته انځور کړ.

دا هغه څه و ، چې ما په بالکان کې زده کړي و.

داسې چې حکومت غواړي د سر تيرو دکموالي له کبله دريمه درجه پوځونه پر تياتر ولوبوي. په جګړه کې ټول سايکلونه په کار لويدلي دي ، داسې چې د لومړي سايکل سرتيري به په جګړه ،د دويم سايکل به په تعليم او تربيه او د دريم سايکل سرتيري به په رخصتي کې وي ، خو اوس د ډير فشار له کبله د دويم سايکل له سرتيرو څخه هم کار اخيستل کيږي. د ډګروال په وينا په افغانستان کې سرتيري په غلطه سوق او اداره کيږي.

سختو جګړو ، د شپې لخوا راکټي بريدونو او هوانونو ټول سرتيري له تير پسرلي راهيسې د پاکستان له پولې سره نژدې په سويلي افغانستان کې په خپلو اډو کې دننه مشغول ساتلي دي. په کندهار کې هره ورځ جګړې کولای شي زموږ ټولې خواري په اوبو لاهو کړي. هيڅوك نه غواړي چې په افغانستان کې له دغې وحشي پولې سره نژدې و اوسي. په دغو سيمو کې امريکايي سرتيري د هيڅ افغان ساتنه نه کوي.

د جنګيالو ستر بريدونه په زابل ولايت کې کيږي او د ګرديز حالت تر زابله ښه دی. د کندهار په سيمه کې د خرپ او ترپ له جګړو پرته بل څه نه تر سترګو کيږي. په همدې پسرلي کې د امريکايي ځواکونو ټوله پاملرنه هم همدې سيمې ته را اوښتې ده.

ده وويل: په ګرديز او نورو ولايتونو کې جګړه يوه تباهي ده ، خو د جګړې اصلي ډګر کندهار دی.

ما ته دده په دغو خبرو سره د ويتنام خاطرې راپه زړه شوې.

ما نوموړي ته وويل: هلته به ډيره بده وي چې موږ په اډې کې د کار کولو لپاره يو کارګر نه شو پيدا کولای او د ترکاري د رانيولو لپاره بازار ته نه شو تللای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما وويل: زه فکر نه کوم چې د سپتمبر د يوولسمې ترهګريزې حملې دې يوازې ددې لپاره پلان شوې وي چې يوازې دې د ۳۰۰۰ زرو امريکايانو ژوند پکې واخلي ، بلکې تر څنګ يې نور هدفونه هم و ، داسې چې د تمدونونو تر منځ ټکر رامنځته کړي. دغه بريدونه به لويديزوال او مسلمانان يو د بل په وينو تويولو خوښ وساتي او يو د بل په وړاندې به راوپاڅيږي.

زه په دې باور يم چې د القاعدې ستراتيژيستان په دې پوهيدل چې د ۱۱\۹ بريدونه به واشنګټن په افغانستان کې ښکېل کړي. شايد دوی فکر کړی وي ، که يو ځل امريکايان ددغه افسانوي هيواد په جال کې ونښلي ، نو له دوی څخه به هم د انګريزانو او روسانو په شان تېروتنې وشي چې په دې کار سره به امريکايان په يوې اوږدې جګړې کې راښکېل شي.

ددغه هوښيار افسر او زما د ملګري خبرو زما په مغزو کې لاندې انديښنې راوپارولې.

د يوه بيچاره کليوال لپاره به څه توپير ولري که يې يو مستبد ټوپکسالار کور ته د نشه يې توکو او وسلو د پيدا کولو په پلمه د لوټ او تالان لپاره ورځي ، په داسې حال کې چې پر دغه ټوپکسالار د امريکا د مهربانۍ وزر هم غوړيدلی وي دغه بيچاره کليوال ته به ددغه ټوپکسالار او هغه طالب ترمنځ چې له دوی څخه دوديۍ او کور په زور اخلي او زامن يې د جګړې لپاره په زور ورسره بيا يې او تر څنګ يې په کورونو کې کمينونه نيسي توپير څه وي ؟

دغه بيچاره کليوال به له هغو کسانو سره چې د توپك په ژبه خبرې کوي څه وکولای شي ؟

د ښه والي له کبله يو تر بل ښه نه دي ، که چېرې طالب جنګيالي د کليوالو او عامه خلکو په کورونو کې پټيږي ، نو د امريکايانو لپاره به کومه لاره پاتې وي ؟

ايادوی به پر دغه سيمه بمباري کوي ؟ تر دې وروسته به څه کېږي ؟

ايا افغانان به دغه نوې تجربه وزغملای شي ؟

ايا ټول افغانان به ددغه کار په وړاندې بلوا ونکړي ؟

زما د ملګري په وينا چې انجينران او ډاکټران به هم لکه د شوروي اتحاد په وړاندې چې راپاڅيدلي وو همدا شان د امريکايانو وړاندې راپورته شي.

له دغه مجلس څخه له ډيرې ويرې سره راووتلم.

په جولای کې مې کابل ته سفر وکړ. زه په کابل کې د قيوم په کور کې چې په وزير اکبر خان مينه کې دی اوسيدم. ما ته قيوم هغې ميلمستيا ته د ورتلو بلنه راکړه ، چې ده ته د وزير جلالي لخوا تياره شوې وه.

زه او جلالي له ډير پخوا څخه دوستي لرو. نوموړی د امريکا ږغ د لندو څپو راډيو د پښتو او دري څانګې مشر و ، چې د امريکا د حکومت لخوا تمويل کېدله. وړاندې تر دې هغه د پوځ د افسر په توګه کار کاوه.

جلالي افغانی الاصله امريکايی دی ، خو قيوم په دې راضي کړی و ، چې د افغانستان په کابينه کې يوه څوکۍ ومني. زه جلالي ته ډېر درناوی لرم ، نوموړی د ښه طبيعت او ښه درانه شخصيت څښتن دی. ده په خپل يوه بريښناليك کې ماته يوه توکه ليکلې وه ، خو ما هم ځواب ور وليږه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جلالي د خپل وزارت د مسلکي کولو کوښښ کاوه ، خو په وړاندې يې ډير خنډونه پراته وو. نوموړی ډير وخت له افغانستان څخه لرې پاته شوی و او له همدې کبله به يې اکثرو پريکړو افغان ولس ته د ځوکالۍ پر ځای ستونزې پيدا کولې. جلالي هوډ درلود ، چې اکرم له دندې گوښه کړي ، خو په دغې شپه ما له ده څخه ددغه تصميم په وړاندې د حوصلې کولو غوښتنه وکړه.

کورته په ورننوتو ډيره حيرانه شوم. زه له کندهار څخه راغلې وم ، خو دلته هر څه په بل ډول وو.

په دغې شپه داسې ډوډۍ تياره شوې وه ، چې ما تر اوسه په افغانستان کې نه ليدلې او نه خوړلې وه. په لومړي ځل مې په دغه ميلمسيتا کې د خوراکي توکو پر پيژندلو ډير وخت تير کړ.

موږ ټول ټال ۷ کسان وو ، جلالي او ميرمن يې ، يوه امريکايي ښځه چې دايې افغانستان ته د طالبانو د حکومت تر نسکوريدو وروسته لومړی سفر و ، د جلالي ملگری او د دفاع وزير مرستيال ، زه ، قيوم او کسيډرا.

زه په دغه شپه بيخي احساساتي شوې وم. ما له دوی سره د ټوپکسالاري ، پاکستان او راتلونکو خطرونو په اړه خبرې وکړې. ما جلالي او قيوم ته وويل: زه نه پوهيږم تاسو د څه شي په اړه خبرې کوئ. زما هغه خبره پر قيوم ښه ونه لگيده ، چې جلالي ته مې وويل ته يو نيم کال کيږي چې افغانستان ته راغلی يې خو فکر کوې چې تر موږ ټولو ته د افغانستان په اړه ښه پوهيږې.

کندهار د اور په لمبو کې سوځي خو تاسو په ډير ښايسته باغ کې ناست او خپلې خوندورې ډوډۍ خورئ.

څومره چې دوی غوښتل ما له دغې موضوع څخه واړوي ، هغومره به زه نوره جدي کيدم.

زه اصلا جلالي ته د يوه کار لپاره ورغلې وم هغه دا چې د اکرم پوليسو ته د څو مياشتو راهيسې معاشونه نه و ورکړل شوي.

دا يادونه ما وزير جلالي ته زما او دده تر منځ په تيره غونډه کې هم کړې وه ، هغه وخت هم زه کابل ته راغلې وم. وروسته پوه شوم چې ستونزه په بل ځای کې ده ، مرکزي حکومت ټولې پيسې والي شيرزي ته ور استولې ، خو شيرزي اکرم ته د ورکولو پر ځای ټولې پيسې له ځان سره ساتلې.

د واليانو په يوه لويه غونډه کې ويل شوي و ، چې والي شيرزی د گمرك پيسې غلا کوي ، خو ددې تر څنگ بيا هم مرکزي حکومت يوه اندازه پيسې کندهار ته ليږلې. شيرزي خپلې شخصي مليشې ته د گمرك بغير هم ښه تنخوا ورکولای شوای.

دا يوازې اکرم و چې د خپلو پوليسو لپاره يې د سگريټو پيسې نه لرلې ، که به وې هغه به يې هم د الکوزو د سوداگرو له ټولنې څخه د مرستې په توگه تر لاسه کولې. اکرم او پوليسو يې د نورو په بسپنه ژوند تيراوه.

ما په دغه شپه دا ټولې خبرې د يادو شويو کسانو په مخ کې جلالي ته وکړې. زه پدې ډيره حيرانه وم ، چې ولې جلالي دا ټولې پيسې شتمن شيرزي ته ور استوي او هغه هم دا پيسې له افغان دولت او خلکو څخه غلا کوي او هيڅ کله يې پوليسو ته نه دي ورکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


کله چې موږ د قيوم کور ته بېرته راغلو ، قيوم پر ما په غوسه شو. قيوم وويل: جلالي پر ما مشر او هغه يو وزير دی ، د خدای لپاره دا تا څه ورته وويل! هغه څه چې تا ددغو خلکو په مخ کې ورته وويل ، زما لپاره هيڅ د زغملو وړ نه دي او بله خبره داده چې نوموړي تاته مخکې لا وويل چې د دفاع د وزير د مرستيال په وړاندې د پاکستان په اړه هيڅ مه وايه ، خو تا وويل چې ستاسو د حکومت لوړ رتبه چارواکي د پاکستان لپاره کار کوي.

قيوم ډېر خپه و.

راتلونکې ورځ مې جلالي ته ټيلفون وکړ او ښښنه مې ترې وغوښته چې ده هم ومنله. جلالي زياته کړه: زما ستا دا انداز ډېر خوښ شو ، همدې کارونو ته ادامه ورکړه. په همدې ورځ ماسپښين جلالي ما ته ټيلفون وکړ ويې ويل چې تا ريښتيا ويلې ، ما د کندهار د پوليسو د تنخوا ريکارډ چك کړ او هغوی ريښتيا هم معاشونه نه دي اخيستي ، زه به په دې اړه ډېر ژر اقدام وکړم.

زه په هغه ورځ په کندهار کې وم چې د کندهار پوليسو ته معاشونه راورسيدل.

اکرم راته وويل چې هغې بلې ودانۍ ته له پلاني سره ورشه د معاشونود ورکړې پروسه به ووينې.

کله چې يادې شوې ودانۍ ته ورسيدم ومې ليدل چې هغه سړي د پيسو د رارسيدلو کريډيټ ځان ته ورکاوه.

زه نه پوهيدم چې دا به د اکرم لپاره بس و که نه؟

خو په هر صورت دا نور کومه لويه خبره نه وه. زه د هغې جګړې د بايللو په درشل کې وم ، چې د اکرم د راتلونکې پر سر مې له جلالي سره روانه کړې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# امربالمعروف او نهي عن المنکر
## (اګست ۲۰۰۳)

د اګست دیارلسمه ، غرمې ته نژدې اکرم ته له وزارت څخه ټیلفون وشو. کابل ته یې ور وغوښت. په همدې ورځ د اکرم ټیلفون راغی ، ویل یې چې وزارت کابل ته ورغوښتی یم ، که د کوم پرواز تابیا راته وکړې.

د امریکا اردو تر اوسه لا هم د کندهار هوایي ډګر اشغال کړی و ، خو ده هغه وخت پرواز کولای شوای ، که چېرې ما دده لپاره یوسیټ پیدا کړی وای. ماورته وویل: قوماندان صاحب زه به د معلوماتو له ترلاسه کولو وروسته تاسو ته سمدستي ټیلفون وکړم. ده مننه وکړه او ټیلفون یې کېښود ، ما خپل ساعت ته وکتل ، وپوهېدم چې پرته د ملګرو ملتونو او بشري ادارو له پروازونو څخه بله هیڅ چاره نشته. که چېرې اکرم د ځمکې له لارې کابل ته تلای ، نو ده باید ټوله شپه مزل کړی وای ، چې دا زما لپاره ډېر بد و.

ما دوه درې ټیلفونونه نورو ځایونو ته وکړل او څلورم ځل مې ده ته وکړ ، ځنې ومې پوښتل ، کابل ته یې څه وخت غوښتی یې ؟ ده وویل ، یو کړۍ وروسته به زه معلومات درکړم.

وروسته یې وویل ، سبا لس بجې.

پدغه ورځ ټول پروازونه ختم شوي و ، په دا سبا به د ملګرو ملتونو الوتکې تر خپل وخت ډېر ناوخت کابل ته رسولی وای. بې له دې چې پر سړک ولاړ شي ، بله هیڅ چاره نه وه ، خو دلته یوه بله بې عدالتي هم شوې وه ، هغه دا چې والي شېرزی هم کابل ته غوښتل شوی و ، هغه د نن په پرواز کې تللی و ، خو جلالي باید دواړو ته په یوه سترګه کتلي وای.

زما په وس بل څه پوره نه و ، بې له دې چې ورته ومې ویل کله چې ځې ، نو بیا ما ته ټیلفون وکړه. د مازدیګر پر پینځو بجو یې له کندهار ښار څخه بهر پر خپل سټلایټ ټیلفون زنګ راته وواهه ، اواز یې هم سم نه اورېدل کېده ، خو فکر مې نه کاو چې تر سپېدومځکې دې کابل ته ورسېږي. په دا سبا چې زه راکښېناستم سمدستي مې ورته زنګ وهل پیل کړل ، خو ټیلفون ته یې زنګ نه ورته.

څو واره مې پرله پسې زنګ ورته وواهه ، خو څه مې تر لاسه نه کړل ، بیا مې فکر وکړ چې ممکن دی به له ولسمشر کرزي سره په غونډه کې وي ، نو له همدې کبله به یې ټیلفون بند کړی وي. پر همدې مې بسنه و نه کړه ، په فکر کې مې ډېر شیان راتلل ، بالاخره تر غرمې پورې و توانېدم چې څه پېښ شوي دي.

دومره بده نه وه لکه زما په فکر کې چې راګرځېدل ، خو بیا هم لویه پېښه رامنځته شوې وه. پر داسې کنډ او کپر سړک تګ همېشه داسې خطرونه لري. دده سرتېري د موټرونو د باډیو پر لګېدلو سیټونو ناست وو چې د موټر د چپه کېدو له کبله یوه سرتېري ژوند له لاسه ورکړی و او د

(c) ketabton.com: The Digital Library


یوه زامه ماته شوې وه. ډېر نور د موټر د اوښتلو له امله سربېرن ژوبل شوي او مروړل شوي وو چې د هغوی په اړه مې ډېر څه وانه ورېدل. اکرم ټوله شپه په زخمیانو مصروف او د پیښې له ځای څخه یې ټیلفونونه کول چې موټرونه راولېږئ ، چې زخمیان د کندهار روغتون او په کابل کې د قیوم د کور سره نژدې بېړني روغتون ته ولېږدوي.

دی پلازمېنې کابل ته راورسېد ، خو په راډیو او ټلویزیون کې یې له دندې څخه د لرې کېدو د اعلان له امله اعصاب له لاسه ورکړي وو.

دی او والي شېرزی دواړه له دندو څخه لرې شوي وو. شېرزي د ښار او کور جوړونې وزارت ته ترفیع وکړه. دده د ډېر وخت باوري کس یوسف پښتون یې ځای ناستی شو ، خو اکرم لا همداسې بې برخلیکه پاتې و.

ما ولې د بل چا په چارو کې مداخله کوله ؟

شېرزی د ترفیع تر څنګ اوس په خپل یو قومي او ده ته په یوه لسیزه وفاداره کس بدل شو ، خو پښتون هغه وخت د شېرزي څنګ پرېښود کله چې کرزي دی د وزیر په توګه وټاکه. د اکرم په تللو سره کندهار اوس یوازې د شېرزي د مافیا لخوا اشغال شوی و اونوی والي هم د ای__ایس__ای یو ګوډاګی و.

زما بدن زما د رئیس په ټیلفون وربېږدېد ، چې له دوبۍ څخه یې هغه وخت راوکړ چې متحده ایالتونو ته پر لاره وو. زه وپوهېدم چې دغه تبدیلي دده او جلالي په ابتکار رامنځ ته شوي دي. قیوم غوښتل چې په حالاتو پوه شي ، ویل یې هلته څه روان دي ؟ دغه لوی کسان چې زه یې اوس تاسو ته در پېژنم ، قیوم د ولسمشر کرزي مشر ورور او ملګری یې د کورنیو چارو وزیر علي احمد جلالي و ، دوی ددغه ټوپکسالار د منفك کېدود اعلان په وخت کې الوتکې ته د ختلو په حال کې و. دوی له الوتکې څخه له دې امله پاته شول چې که کومه بده پېښه رامنځ ته کېږي نو دوی به ورته لاس رسی ولري.

زه په کندهار کې د جنګ پر لومړۍ کرښه کې وم ، خو دوی له حالاتو څخه د ځان خبرولو راپور غوښت. ما قیوم ته وویل چې حالت نورمال دی. دغه تصمیم په ډېره بېغورۍ سره نیول شوی چې دوی په دې اړه له امریکایانو څخه د هیڅ ډول تخنیکي ملاتړ غوښتنه نه وه کړې او حتی هغوی یې خبر کړي لا هم نه وو.

په هر صورت ، د امریکا عملیات په هغه مرحله کې و ، له کوم ځای څخه چې پیل شوي وو. د امریکا سفیر فین له دندې څخه ګوښه کړل شو ، خو پر ځای یې لا تر اوسه بل سفیر نه و راغلی چې ورسره ټول ټیم یې چې زما نژدې ملګري وو ، لکه ببل ټایلر ، کورت امېند او دوه نور هم په واشنګټن کې وو.

کرنل کمپیبل په پینټاګون کې پرنوې دنده مقرر شوی و ، خو د جزوتامونو دوره یې په افغانستان کې اوږده شوه. دغه خواشیني او پردېس سرتېري له درې مباشتني موقت قوماندان سره په یوه لوی سر خوږي اخته وو ، نوموړي به ټول وخت د سیمو د نومونو پر تلفظ یادولو تېر او. ټول سرتېري ډېر حیران و ، نور نو دا ځای د دوی لپاره د متحدو ایالتونو فورټریس نه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسمشر کرزي دغه تصميم په شپه کې ونيو چې هيڅ خطر رامنځ ته نه شو. د راتلونکو يوې او يا دوو ورځو لپاره زه ډېره وارخطا وم ، خو کومه د پام وړ پېښه رامنځ ته نه شوه.

په حقيقت کې شېرزی په پوره توګه له واکه لرې نه شو ، دده ورور د کندهار په هوايي اډه کې پاتې شو چې د اډې د شاوخوا امنيتي کمربند ساتنه ور ترغاړې وه. د پاکستان پر پولې ټولې پوستې چې د کوچنيو وحشي قوماندانانو په واک کې وې ، د امنيه قوماندان لخوا چې د شېرزي او پاکستان چرګونی و اداره کېدلې.

هرکاره خالد پښتون خپله وفاداري نوي والي ته انتقال کړه.

زما يو ناوړه اڅکزی ملګری و ، خو کله کله به په ښه هم راته ، پر پوله باندې ټول له خپلو دندو څخه ګوښه شوي وو. په ولايتي اداره کې پاکستاني ګوډاګيان تر پخوا لا قوي شوي وو ، خو په افغانستان کې تر ټولو تکړه چارواکی چې زما په مخ کې ووژل شو ، بې دندې پاته و.

هر څه چې په مطبوعاتو کې راتلل او يا په کابل کې د نړيوالې ټولنې استازيتوب ويل ، حالات دهغه برعکس وو.

ټوپکسالار شېرزی په يو مسلکي او تيکنوکرات کس بدل شوی و.

ما پوره دوه اوونۍ پر دې فکر وکړ چې زما ملګري کرزيان ولې دومره احمقان دي؟ ولې د افغانستان دغه مشران نه پوهيږي چې دوی څه تر سره کوي؟

دلته هر څه د پاکستان په واک کې دي او ټول جنوب په فساد کې تر غوړو ډوب دی. په ورځو ورځو چې ما د حالاتو د ښه کولو لپاره اوښکې تويې کړې وې ، د هغې پايله دا شوه چې هر څه تر پخوا لاوران شول. بيا مې فکر وکړ چې ممکن دوی به احمقان نه وي ، دا کار يې کېدای شي د يوې موخې د مونډلو لپاره کړی وي. همدا يوازينی شی و چې سر يې سره خوړ.

يو بل شی را په زړه شو ، پر هغو ځواکونو چې ما حساب کړی و ، ممکن تر دې به ډېر زيات وي ، پر هغو خلکو چې زه شکمنه وم ، تر پايه پرې ونه پوهېدم. په هر صورت د غلجيو د قبيلې مشر ، ګل اغا شېرزي ته د مخه ښې لپاره يوه غرمنۍ تياره کړې وه. موږ هم همدې مېلمستيا ته ورغوښتل شوي و ، چې هغه زموږ مخې ته د هوټل دروازې ته راووت .

برنډه له وسلوالو کسانو او موټرچلوونکو څخه ډکه وه ، ما او عبدالله يو او بل ته سره وکتل ، بيا مو تر يوې پرانستې کړکۍ څخه هال ته وکتل ، چېرې چې بلل شوي کسان کېښناستل. موږ هم هال ته ورننوتلو ، په هال کې ګل اغا شېرزی پر يوه کوچ د خپل سيال ملانقيب تر څنګ ناست و. ما له احمدولي کرزي او نوي والي يوسف پښتون سره روغبړ وکړ. ما ته مخامخ ضابط اکرم کېښناست ، نوموړی چوپه خوله و. په ډېر دقت يې مجلس څاره او خپلې شنې ډېرينې تسبېح يې په ګوتو کې سره اړولې.

اکرم د غلجيو د قبيلې مشر ته وويل: زه ځم ، ده زياته کړه که زه دلته يم ، نو شېرزی به دلته پاتې نه شي. ګل اغا ويلي و ، که چېرې دی دلته وي ، نو زه نه درځم. خو هغه پرېښښودچې ولاړ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر دوديز وروسته چې مېلمانه ټول د تګ په حال کې و ، شېرزي په لوړ اواز ما ته را ناره کړه ، داسې چې ټول يې واوري.

ده وويل: سارا ما نوره ټوپکسالاري پرېښوده ، نور زه کابل ته د وزير په صفت ځم.

ما ځواب ورکړ: ډېر ښه ، چې تا ټوپکسالاري پرېښوده ، اوس نو زما وار دی ، زه به ټوپکسالاري پيل کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مزار شريف

## (سپټمبر ۲۰۰۳ - سپټمبر ۲۰۰۴)

تر دي اعلان وروسته چي اکرم د امنيه قوماندانۍ له دندي ليري شوي دي دده ټوله قهرجن قوميان ورته راغونډ شول.د اکرم په اطاق کي ناست کسان ډېر احساساتي و دوي ويل زموږ سره خو دا سپکاوي وشو نو اوس بايد څه وکړو؟

اکرم ساه واخيستل وروسته يې دوي ته لاس وښوروي چي چوپ شي.

ده وويل ما د افغانستان د مرکزي حکومت لپاره کار کوي او دا د مرکزي حکومت پريکړه ده . دوي چي کوم امر صادر کړي موږ ټوله يې بايد درناوي وکړو. ده خپلو ټولو کسانو ته وويل تاسو بايد بيرته خپلو بارکونو او چيك پوستونو ته ولاړ شي او د نوي امنيه قوماندان امر ته غاړه کښيږدي.

زه د نوموړي ددي خبرو څخه ډيره متاثره شوم که چيري زه دده پر ځاي واي شايد مابه داسي نه واي کړي.

په دغه مني کي زه هم څو ځله کابل ته ولاړم او راغلم. قيوم هم د امريکا څخه راستون شوي و او زموږ تر منځ زموږ د ټولني (ACS افغانان د مدني ټولني پر لور) پر سر شخړه روانه وو.

څه وخت وړاندي قيوم ماته ويلي و د اکرم مزار شريف ته په استولو سره څه نظر لري؟

په دغه وخت کي چي موږ دده په برنډه کي ناست و او په انګوري تاقانو ګي چي کوم انګور څړيدل تازه پاخه شوي وو.

مزار په رښتيا سره يو ډير ښکلي ښار دي ،چي د همدي ښار او کندهار تر منځ د هندوکش د غرونولړۍ غزيدلي ده. داسيمه د مرکزي اسيا زړه او ډير تمدونونه يې په غيږه کي زيږولي دي. مزار په دغه ښار کي د يو سپيڅلي پيروزه يي مسجد نوم دي.

د طالبانو د جنګونو په وخت کي چي په نوييمو کلونو کي تر سره شول دغه ښار د خورا خونړيو پيښو شاهد پاته شو. خو د ۱۹۹۷-۱۹۹۸م کلونو جګړي يې خورا زړه بوږنونکي وي.

ازبکان د عبدالرشيد دوستم په مشري د طالبانو سره وجنګيدل چي په پايله کي يې تر شپږ زره زيات دغه مذهبي شاګردان ووژل شول ، ژوبل شول ونيول شول او په سلګونو لوي مشران يي د پاکستاني مشاويرينو په ګډون دست ګير شول. خو تر دي يو کال وروسته طالبانو خپل غچ واخيست. کله چي طالبانو مزار شريف ونيوي نو دوي ورځي داسي په مستي وژني رواني وي چي يو خداي ښه پوهيدي.

بنديان به په کانتينرونو کي اچول کيدل او بيا به يې د دښتونو پر لور وړل خو اوس بيا هغسي يو حالت د ځايي پښتنو پر وړاندي حاکم وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما وويل مزار؟ نه خدايه نه. هلته خو هر څوك په مرگ محکوميږي. ماغوښتل چي قيوم ددغي پريکړي څخه تير کړم. په همدي ډول زما او قيوم تر منځ مجلس روان و. ښه فراه څنگه ده نه ،نه فراه خو ډيره کوچنۍ سيمه ده.

ښه د هرات په اړه څه فکر کوي؟

ښه به داوي چي موږ يو ځل هلته سياسي اوضاع وڅيړو.

په اخير کي مي قيوم ته وويل چي اکرم د کابل لپاره تر ټولو ښه او مناسب کس دي ما دا خبره د اکرم مشر دکورنيو چارو وزير جلالي ته هم وکړل خو جلالي راباندي وخندل.

ما وويل څنگه چي موږ گورو اکرم کوم تبعيض نه لري دي د ټولو کسانو سره د خپلي کورنۍ د غړو په شان سلوك کوي .خو مزار شريف د ډيرو مشکلاتو درلودلو له کبله د ليست په سر کي ځاي درلود.

اکرم تر دي وړاندي چي دا وظيفه ومني شايد پرته د ولسمشر کرزي زما او خپلو نورو نژدو ملگرو سره ووينې.

خو کله چي ولسمشر کرزي اکرم ارگ ته وروغوښت اکرم ورته وويل چي زه ستاسو عسکر يم او تاسو زما قوماندان هر ځاي ته چي تاسو ما ليږي زه اماده يم.

يو ځل زه نوموړي د ماښام د ډوډي لپاره دعوت کړم. دا ميلمستيا په اصل کي زما څخه د منني په معنا وو. خو زه دده څخه ډيره وشرميدم ځکه چي زه پوهيدم چي دي خورا مفليس دي. په افغانستان کي د ميلمستيا لپاره يوازي يو کس ته بلنه نه ورکول کيږي بلکي ددغه کس ملگري او ده ته نور نژدي کسانو ته هم بلنه ور سره ورکول کيږي. دا به هيڅکله پيښه نه شي چي يوازي دي د يوه کس لپاره ميلمستيا جوړه شي. اکرم زموږ د ټولو ملگرو لپاره ميلمستيا جوړه کړي وه. زموږ د ټولني (ACS افغانان د مدني ټولني لپاره) لوړ رتبه مامور هم په کابل کي د قيوم سره وو.

زموږ يو بل کار کوونکي ايران اصله امريکايي امير هم د بوسټن څخه تازه رارسيدلي وو. موږ دغه ميلمستيا ته څلور کسان ورغلو خو اکرم په ډيره اړياني راته وکتل او بيا يي وويل هغه نور ملگري مو چير دي؟

دا ميلمستيا په ښار کي په يوه ايراني رستورانت کي جوه شوي وه. دا يو دايره شکله رستورانت و چي دننه د خيمي غوندي ښکاريدي. موږ په يوه ځانگړي خونه کي کښيناستو چي په خونه کي اته فوټه اوږد ميز ټوله په خوراکي توکو پوښل شوي وو. په لومړي سر کي مي فکر کوي چي دا به هسي ځان ښودنه وي خو وروسته وپوهيدم چي دا د اکرم په فکر د منني کولو لپاره تر ټولو غوره وړانديز وو.

د هغي شپي په اړه مي ډير څه نه دي په ياد خو څه چي مي په ياد دي هغه دا دي چي تر ډوډي خوړلو وروسته موږ پر خپلو ځايونو غزيدلو او يو د بل په خبرو کي به ورلويدلو. خو اکرم او امير چي د مهاجرت ترخي تجربي يي ليدلي وي ډير نژدي ملگري و. امير په ايراني پاړسي لهجه خبري کولي او د اکرم پاړسي لهجه هم پښتو ته ورته وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دغه مني کي ما او اکرم وخت درلود چي پر ځينو شيانو وږغيږو. په اکتوبر کي يوه ورځ موږ د قيوم په برنډه کي ناست و ما د اکرم څخه وپوښتل چي د ترهګري ضد جګړه يوه ربښتوني جګړه ده که څنګه ؟

اکرم وويل د کمونيزم تر نسکوريدلو وروسته مختلفي ايديالوجي منځ ته راغلي. اسلامي توندلاريتوب د همهغه وخت پديده ده چي اوس د غرب لپاره تر ټولو لويه ننګونه ده. ددوي په وړاندي جګړه ډيره ګټوره او هم ربښتوني ده. خو داسي ښکاري لکه چي غرب ددغي جګړي پوره ګټلو او د سخت دريزي د ريښو د ايستلو لپاره پوره دلچسپي نه ښيي. او ډيموکراسي هم هغه وخت کار ورکولاي شي چي تطبيق کوونکي يي پاك او ربښتوني کسان وي. خو اوس ډيمورکراسي هغه کسان تطبيق کوي چي وايي يو څه او کوي بل څه. کليوالو ته  بايد پدي اړه پوره ډاډ ورکولاي شي چي دوي هم په سياسي تصميمونو کي پوره واك او ګډون کولاي شي. هغوي ته بايد د بيان د ازادي په اړه پوره ډاډ ورکول شي تر څو هغه څه چي د ټوپکسالارانو په اړه د دوي په زړونو کي دي هغه بايد په خوله هم وويلاي شي. ددي موضوع د روښانتيا لپاره اکرم داسي مثال راوړي.

که تاسو چيري يو مرغه شل کاله په قفس کي وساتي او وروسته د قفس دروازه پرانيزي او وواياست چي هغه خوشي دي خو دا به سمه وي چي هغه نور په قفس کي نه دي خو هغه به د الوتو جرائت نه شي کولاي.تر اوسه داسي څوك پيدا نه شو چي افغانانو ته دي داسي  جرائت ورکړي.

وخت ډير تير شوي و تر اوسه لا د ارګ څخه د اکرم د سرنويشت په اړه د څه پيغام نه و راغلي. ما د اکرم څخه وپوښتل چي ستا او کرزي تر منځ دي وروستي ليدني څه پايلي لرلي ؟

اکرم د هميش په ډول د ځواب ورکولو مخکي يو ګړي ساه ونيول. اکرم ددي خبرو په کولو سره چي زما او ولسمشر تر منځ تر اوسه هيڅ ليدنه نه ده شوي چوپتيا ماته کړل. ده وويل چي هغه زما سره د ليدلو ليوالتيا نه لري.

اکرم سر راپورته کړي ما ته يي وکتل چي ددي خبري په اوريدلو سره په ربښتيا سره زه ډيره وارخطا شوم. ده وويل ته يواځني څوك يي چي ما په دي اړه ربښتيا ورته ويلي دي. زه زما ټولو قوميانو ته درواغ وايم چي ماته د کندهار څخه ټليفون راوکړي. خو په حقيقت کي دا ډير د شرم ځاي دي. تر دي وروسته مي پدي اړه ځيرنه پيل کړل چي ربښتيا څه روان دي او په دي اړه زما دريځ پولادي و خو دده په اړه لا د وړاندي تصميم نيول شوي و داسي چي نوموړي به مزار شريف ته استول کيږي.

ښه نو چي داسي ده نو بيا ولي نوموړي ددي څخه نه خبرول کيږي. د کندهار په اداره کي د تغيراتو د نه راتګ له امله زه په اروايي تکليف اخته شوي وم.قيوم د افغانستان په سياست کي ښه رول لوبوي او له بله پلوه  زما د نوموړي د سګريټو څکولو ستايل او د عينکو ايښودلو ترز زما ډير خوښيدي.

د نوموړي وروستي نظر چي ماته يي ووايه داسي و چي ده غوښتل په واشنګټن کي يو دفتر پرانيزي تر څو د امنيت او د مختلفو نژادونو څخه د اردو د جوړيدو په اړه معلومات راغونډ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


زه نژدي وم چې استعفا وکړم خو يو شي چې زه يې بيرته پاته کولو ته اړيستلم هغه د (د ډيموکراسي لپاره ملي مسبالتيا) تر نامه لاندي زموږ يوه پروژه وه.

ددي پروژي په پلان کي د کندهار په ولايت کي د قومي مشرانو لپاره يوه شورا جوړل او د پارلماني ولسواکي لپاره يو تربيوي مرکز جوړول هم راتلل.

د شورا لپاره ما او قيوم پلان داسي ترتيب کړي و چي د ټولو ټولنو او ولسواليو څخه بايد هغه کسان برخه پکښي واخلي چي د کليو د مشرانو لخوا ټاکل شوي وي.

دا شورا به د امنيت ، بيا رغوني او حکومت څارني دري کميټي لري. دا شورا به د شيرزي د استبدادي اداري په وړاندي يوه ننګونه وي. کله چي موږ ددي پروژي د تصميم نيولو پروسي ته نژدي کيدلو حالت په بل مخ واوښت . شيرزي واري د مخه کړي دي ته ورته يي يوه شورا يي رامنځ ته کړل چي مشري يي د احمد ولي کرزي په غاړه وه. خو اوس شيرزي تبديل شوي و او پر ځاي يي يوسف پښتون راغلي و چي د شيرزي په پرتله يي ښه روانه انګليسي ويل او د بيروت د امريکايي پوهنتون څخه يي د انجينري په څانګه کي ډيګري تر لاسه کړي وه.

زه په داسي يو حالت کي په دي نه وم راضي چي زموږ شورا دي کومه پايله ولري . بله مسله دا وه چي ددي کار تر سره کولو لپاره ۸۰۰۰۰زره امريکايي ډالرو ته ضرورت وه.

زما په نظر اکرم ددي کار تر سره کولو لپاره خورا مناسب کس وه.

ما اکرم ته وويل وګوره قوماندان صاحب زه تاسو ته زاري کوم خو دوي بيا ستاسو سره څه کوي. ده زياته کړل چي دوي د سړي زړه ورماتوي. زما تر اوسه هم دده هغه اټکل په ياد دي چي اوس په حقيقت بدل شوي دي. ده ماته ويل چي تاسو ولي دي کار ته شله شوي ياست؟

همداسي يي پريږده. ما وويل نه نه تاسو به زما شورا مخ ته بيا ياست. خو ددي مسئلي په اړه د فکر کولو لپاره به چوپ پاته شو.په پايله کي د نومبر په وروستيو کي اکرم د مزار شريف د امنيه قوماندان په توګه وټاکل شو چي وروسته زه د ولسمشر کرزي په تاکتيك وپوهيدم.

مزار شريف چي د ورپيښو مشکلاتو له کبله يي زموږ د لست په سر کي ځاي درلود د څو مياشتو په جريان کي په جنت بدله شوه.اکرم خپله کورنۍ د ملانقيب د کور سره نژدي پريښودل او خپله د مزار پر لور روان شو.

د تحديدونو او د قيوم سره د اختلاف له کبله د۲۰۰۴م کال د جنوري په اخيره کي مي د ACS (افغانان دمدني ټولني لپاره) څخه استعفا وکړل او هغه کور مي پريښودي.

زه د نوي کور د پيدا کولو په لټه کي شوم داسي کور چي بايد د ژوند تيرولو ټولي اړتياوي يي پوره وي خو په پايله کي يي په پيدا کولو بريالي شوم. په کندهار کي ګل اغا بيله اکرم څخه زما لپاره ګواښ وو.

ما هغه ټولي انديښني يوي خواته پريښودلي ځکه چي زه خلکو ته ډيره نژدي وم او په نوي کور کي مي ژوند تيرول پيل کړ. د اکرم سره به مي په دوو اونيو کي په ټليفون کي خبري کولي. نوموړي په مطلق ډول د جلا وضعيت ، کريکټرونو او کسانو سره مخامخ وو. کله چي نوموړي په لومړي ځل کندهار ته راغلي زه يي په ډيره بي صبري سره د ليدلو لپاره د ملکري باغ ته ورغلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته مي ځني وپوښتل مزار ځنکه دي او هلته څه روان دي. ده سر وښوروي ويې ويل سارا هر څه ددي ځاي په شان زر چنده خراب دي. دلته مشکل قوم ګلوي او پاکستان دي. خو هلته يوازي د پښتون قوم مسئله نه ده بلکي هلته پښتانه ، ازبك ، تاجك ،هزاره او حتي ترکمن دي .هوري د پاکستان پر ځاي روسيه ، ايران او چين دي چي دا ټوله هلته لاسوهنه کوي.

دده د خبرو څخه داسي ښکاريدل لکه دي چي د ډيرو ننګونو سره لاس او ګريوان وي. خو په هغه وخت کي روغ او ژوندي وو.

يوه ورځ زه د کابل څخه کندهار ته په ټکسي موټر کي راتلم دا د نورو بهرنيانو په مقايسه زما يو بي مثاله عادت وو. د کابل او کندهار تر منځ لويه لار جوړه شوي وه چي پر ټوله سفر شپږ ساعته وخت تيريدي چي دي ډير سړي نه په تکليف کوي. د ټکسي کرايه پنځه لس ډالره وه خو د ملګرو ملتونو په پرواز کي سل ډالره لګيدل.

که زه چيري په ټکسي کي تلاي نو ما بايد ځني کارونه تر سره کړي واي. يوه ډرايور بايد زه د موټرو تر اډي پوري رسولي واي ، د يو داسي ډرايور سره يي استولي واي چي هغه پيژندلاي ، ددغه موټر نمبر يي ليکلاي واي او مابه هم کوښښ کوي چي په داسي موټر کي ولاړه شم چي په هغه موټر کي بايد نوري ښځي هم سپري وي.

په کوم موټر کي چي زه سپره شوم په هغه کي دوي ښځي يو نارينه او کوچنيان هم سپاره وو. زه د موټر د مخ په سيټ کي کښيناستلم چي تر څو ساعتونو تک وروسته دغه نارينه سپاري او ډراريور په خبروپيل وکړي چي ددوي په خبرو کي مي د مزار او اکرم نوم واوريدي.

زه دوي ته ښه متوجه شوم او د بله پلوه په همدي وخت کي زما پښتو دونه شوي وه چي زه خپل مشکل په حل کړم.دغه نارينه سپاري زياته کړل چي مزار ته د نوي امنيه قوماندان په راتک سره هر څه تغير کړي دي.

امنيت ډير ښه شوي دي چي په دي برخه کي موږ اوس هيڅ مشکل نه لرو. ما ور څخه پوښتل چي خاکريزوال ستاسو څه کيږي ؟ په پښتو کي داسي سوال کول کومه بي ادبي نه ده لکه څنګه چي په انګليسي کي ښکاري.

دا ډير ښه کار دي چي په همدي سره دوه کسان د خپلي قبيلي او د ويني ريشته سره پيدا کوي. دغه سپاري ځواب راکړ هغه زموږ هيڅ نه کيږي موږ د مزار شريف اوسيدونکي يو زما د خور کور په کندهار کي دي او اوس موږ د هغوي د ليدلو لپاره روان يو.

تر دي څو اوونۍ وروسته ما د اکرم سره د ټليفون پر ليکه خبري کولي خو د ټليفون د خرابي ليکي له کبله د هغه اواز سم نه راتلي خو کيسه داسي وه چي نوموړي د وسله والو کسانو له خوا د امنيه قومانداني په ودانۍ کي محاصره شوي وو.

نوموړي د يو مشهور ټوپکسالار لخوا محاصره شوي و چي پر هغه يي د اوبو او ډوډي ور وړلو ټولي لاري بندي کړي وي. زه ډيره وارخطا شوم قيوم ته مي ټليفون وکړي ما ورته وويل د خداي لپاره يو څه وکه. په رښتيا سره زه ډيره خواشيني وم.مزار شريف زما څخه يوه نړي لري و خو کله

(c) ketabton.com: The Digital Library


چي مي دده سره د ټليفون پر ليکه خبري کولي د اواز څخه يي هيڅ داسي نښي نښاني نه ښکاري
څرګندي دي چي ده ته دي کوم خطر متوجه وي خو په هر صورت ما دي نه ليدي.

ما مزار شريف نه و ليدلي او د هغه ځاي په اړه مي هيڅ تصور هم نه شواي کولاي او نه په دي پوهيدم چي هلته څه روان دي؟

يو کال وروسته د نوموړي يوه باډيګارډ راته وويل چي څلويښت ساعته موږ تر کړکيو بهر کتل چي د دوي ځواکونو به خپلي نښي زموږ پر خوا سمي کړي وي او دا زموږ زړه ته تيره وه چي کيداي شي هر لحظه ټوله ووژل شو.

ما سمدستي په نيويارك ټايمز کي زما يو ملګري ته ټليفون وکړي او د واشنګټن پوسټ د يوه خبريال ټليفون نمبر مي ځني واخيست او د همدي پيښي په اړه مي ليکنه وکړل. زه ډيره حيرانه وم چي د افغانستان په مرکزي حکومت څه شوي دي؟

دا خو په مزار کي د مرکزي حکومت نمائينده دي خو اوس د يو ځواکمن ټوپکسالار له خوا محاصره شوي دي نه ولسمشر کرزي ، نه د کورنيو چارو وزير او نه په کابل کي کوم بل چارواکي په دي اړه څه اقدام کوي. دنيويارك ټايمز مضمون دوي ورځي وروسته خپور شو.

مابه هره ورځ اکرم ته ټليفون کوي او ځني پوښتل به مي چي تاسو لا تر اوسه ډوډي نه لري؟

ده وويل نه موږ اوس ډوډي لرو او هر څه سم دي خو ستاسو څخه ډيره مننه او اوس موږ يوي موافقي ته هم سره رسيدلي يو. کله چي حالت د ښه کيدو پر لور روان شو ما د ارامي ساه واخيستل.

خو تر دي يوه اوونۍ وروسته چي مي معلومات تر لاسه کړل ده ته لا د هغه ټوپکسالار له خوا جدي خطر متوجه وو.زه په خپل سور رنګه موټر کي کښيناستلم او د جنګي قوماندان ملا نقيب کور ته ورغلم. سهار وختي و هغه لا د سهار چاي نه وي څښلي.

ما ملا نقيب ته وويل درځه پنځه سوه الکوزي راټول که چي مزار ته ولاړ شو د همدي کار لپاره زه ۵۰ فيصده رښتوني وم.ما زياته کړل په دي اړه خو حکومت هيڅ نه کوي راځي چي موږ او تاسو لاس په کار شو او موږ نه شو کولاي چي اکرم هلته همداسي يوازي پريږدو.

ملا نقيب په ډيره سړه سينه راته وويل کورنۍ جګړه ښه نه ده او موږ بايد نور جنګ ونکړو.
ما وويل چي زما په ټليفون داکرم سره خبري وکه او هغه به خوشاله کړو ورته وبه وايو چي پر مزار يرغل وکه.

ده اکرم ته په ټليفون کي څو ځله دا خبره تکرار کړل چي دا وايي زه به دوه سوه امريکايي سرتيري راولم او ته دوه سوه الکوزي مزار ته به ولاړ شو.چي په پايله کي به د مزار شريف خلك منځګړيتوب وکړي او دامريکايي او اروپايي عسکرو له کبله به دغه محاصره پاي ته ورسيږي.

بهرنيانو او مرکزي حکومت ته داکرم د هيئتونو تر ليږلو وروسته د مزار شريف خلکو د اکرم څخه پوره ملاتړ وښودي. دوي ويل موږ د افغانستان پر حکومت او پر خپل امنيه قوماندان باور لرو. دا دهمدي امنيه قوماندان هڅي دي چي دغه ښار يي سره يو کړ او امنيت يي پکښي تامين کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکرم په خپل دغه کار سره خلکو ته يو کرامت ښکاره کړي.

ددغو دو لوي ښارونو تر منځ يي خپل ځان د يو پله په شان جوړ کړي او ددوي تر منځ چي کومه فاصله ايجاد شوي وه بيرته يي سره نژدي کړل.دغه دوه ښارونه چي يو د بلويني ځښتو ته تږي پراته و او سرسختي دښمنان و اوس بيرته سره نژدي شوي وو.

اکرم چي د کوم کار لپاره مزار ته استول شو و هغه يي تر سره کړي .

ده پر سړکونو او جادو کزمي کولي تر څو خلکو ته د تگ راتگ په وخت کي امنيت برابر کړي.د پوليسو ډيپارټمنت يي ايجاد کړي ،رشوت يي وانه خيستي او نه يي د چا مځکه غسب کړل .

د هغه پارسي هم ورځ تر بلي ښه کيدل نوموړي د ټولني د ټولو جلا شو غړو سره وليدل. د مزار شريف خلك يي خپل بارډيګارډان مقرر کړل او هغوي ته يي دننه د پوليسو په ډيپارټمنټ کي ځايونه جوړل کړل. د اکرم مزار شريف خوښه وه او د مزاري اکرم خوښ و. ددوي دو تر منځ د ميني يو ښه مثال دا و چي اکرم پښتون او د کندهار و نو بالاخره هغوي په دي پوهيدلي و چي ټوله کندهاريان بد نه دي.

په اصل کي دا ددغه ټوټه شوي افغانستان د بيا يو ځاي کيدلو لپاره يو ښه گام وو.

کله چي دا هر څه پاي ته ورسيدل ولسمشر کرزي هغه لوي ټوپکسالار چي اکرم يي محاصره کړي و د بلخ والي وټاکي.ما اکرم ته ټليفون وکړي او د پيغور په ډول مي ورته وويل چي څنگه دي ستا دا نوي والي ؟

ده غالمغال جوړ کړي.

ما وويل زه اوس يو کتاب ليکم ته پوهيږي چي نوم به يي څه وي؟ نوم به يي امر باالمعروف او نهي عن المنکر وي. دا د طالبانو مذهبي پوليس وه چي هغو خلکو ته چي ږيري به يي لنډي کړي وي او هغو ښځو ته چي بيله نارينه به بهرته راوتلي وي سزا ورکول. ددي لپاره طالبانو يو وزارت درلود چي امر باالمعرو او نهي عن المنکر نوميدي.

اکرم په ټوکي انداز وخندل ويي ويل هوکي بيخي ښه نوم دي.

د ۲۰۰۴م کال په نيمايي کي زما ټوله کارونه خلاص شوي و او پلان مي درلودي چي افغانستان د يو څه وخت لپاره پريږدم. په افغانستان کي مي تقريبا دري کاله تير شوي و خو کيداي شواي چي د څه وخت وروسته بيرته راغلي واي.

ما اکر ته په ټليفون کي وويل چي زه د يو څه وخت لپاره بهر ته ځم. ده وويل د څونه وخت لپاره ؟

کله چي به زه نور کله امريکا ته تللم ده ته به زما د سفر موده ورمعلومه وو. ما وويل نه پوهيږم خو شايد شپږ مياشتي.

شپږ مياشتي ؟

زه ترديي وړاندي دونه وخت د خاکريزوال څخه لري نه وم تللي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لومړي ځل لپاره زه اکرم او ميرمن يې دده د کور په يو ځانګړي ځاي کې سره کېښناستلو.

اکرم چې ځونه فزيکي غټ و هغومره هوښيار ، چالاق او د خپلي ميرمني د ژوند يو رښتوني ملګري وو.اکرم ماته وکتل او ويې ويل چې ستا په ياد دي چې څه وخت وړاندي ما تاته وويل چې زه نور حکومت پريږدم. ځکه چې دا هغسي حکومت نه دي لکه څنګه چې موږ فکر کوي.

ما بايد ستا خبري منلاي واي.

بيايي وويل نه زه فکر کوم چې هر څه به سم شي.

تر ټولټاکنو وروسته به هر څه سم او کرزي به قانوني ولسمشر شي چې دا به د کرزي په کارونو کي سمون راولي. په همدي مني کي د افغانستان په تاريخ کي د ولسمشرۍ لومړنۍ لوي ټولټاکني پلان شوي وي.

اکرم راتلونکي ته ډير خوشبين وو.د نوموړي پر دغه سرټنبه ګي ما وخندل دده ته مي وويل ته ټوکي کوي.

کله چې به زه او دي يوازي و مابه د کرزي په اړه وويل چې کرزي بيربړي ، کمزوري دي ، دوست او ښمن ته په يوه سترګه ګوري خو په دي سره به دي هم راسره موافق شو.

هغه خلك چې ده پر کومو دندو ګمارلي دي وړ کسان نه دي او نه خپلي دندي پيژني. خو اکرم د کرزي يو خورا ډير وفادار سپاهي وو.

تر لومړنۍ لوي جرګي وروسته چې موږ دده څخه کومي هيلي لرلي يوه يې هم تر سره نه کړل او بيا دويمه لويه جرګه خو اوس د ولسمشرۍ ټولټاکني.

ما وويل ته څه دليل لري چې تر ټولټاکنو وروسته به تغيرات رامنځ ته شي ؟

ده وويل نه داسي نه ته به يې ويني چې تر ټولټاکنو وروسته به ډير تغيرات راشي.

ښه نو که داسي وي نو بيا راسه د همدي لپاره شرط نه وهي.

ما ورته وويل ته پوهيږي هغه ستا سپين وړين پټونه دي ؟

نوموړي به دغه پټو په ژمي کي د يخنۍ له کبله پر خپلو اوږو اچوي.

ښتانه خپلي پښي تر بنډيو پوري په پاي جامه پټوي او نارينه چې يې کښيني پر ځان پټو غوړوي. په کومه ورځ چې ما د افغانتسان د پريښودلو اماده ګي نيول ما اکرم ته يو سپين روښانه د وړيو پټو واخيست.

ده وويل راځي چې يو ګډ عکس سره واخلو.

ما وويل ولي نه خو زما وريښتان لوڅ وو.

ما فکر وکړي چې شايد دي به دغه عکس نورو خلکو ته وربښکاره کړي ما د ټوکي په ډول دده پټو ته لاس ور اوږد کړ. ده پټو ماته راکړ او ما هم د عکس اخيستلو لپاره پر ځان راتاو کړي . فکر مي کوي چې نوموړي به دغه عکس ماته راکړي خو رايې نکړي.

ما ورته وويل ته پوهيږي که چيري کرزي تر ټاکنو وروسته اصلاحات نه راوستل نو ته به دغه ستا سپين وړين پټو ماته راکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو که چيري کرزي تر ټاکنو وروسته اصلاحات راوستل نو زه تاسو ته يوه (SIG Saver) توپانچه درکوم.

موږ دده ميرمن شاهده ونيول.

زه چي اوس دغه څپرکي ليکم هغه پټو مي پر پښو اوار دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کابل

## (مي ۲۰۰۵)

له پاريس څخه په کندهار کې زما له يوه پخواني کار کوونکي سره د ټيلفون پر ليکه رږغېدم.

اوه سارا داسې يوڅه چې ته يې د اوريدو تمه لرې.

څه شی ؟ خاکرېزوال کابل ته ولاړ. کابل ته ؟ د امنيه قوماندان په توګه ؟ بلې همداسې ده.

ما اکرم ته ټيلفون وکړ ، هغه ته مې وويل ښه ته اوس په کابل کې يې ؟

د ټيلفون د خرابې کرښې له امله يې اواز سم نه اورېدل کېده او پرې پرې کېده. ما ورته و ويل ، قوماندان صاحب زه په دا څو اوونيو کې درځم خو کله چې در ورسېدم ټيلفون درته کوم.

ما جلالي ته يو برېښناليك وليکه ، دا په ټول کال کې نوموړي ته زما لومړی برېښناليك و. په برېښناليك کې مې د مبارکۍ تر څنګ ورته وليکل چې اخر دې سترګې خلاصې شوې. ده بيرته ځواب راولېږه او زما هغه برېښناليك به يې هر چاته ورښکاره کاو.

ما پر هغه څه فکر کول پيل کړل چې اکرم ته بايد يوه تومانچه واخلم. شپږ مياشتې چې مې له افغانستان څخه رخصتي را اخيستې وه ، هغه هم مخ پر ختمېدو وه. ما د همدې کتاب زياته برخه په پاريس کې زما په خپل کور کې ولېکله. زه به زما پر کوچ ناسته وم چې د ډېر کار کولو وروسته به مې پښې نه شواى غزولاى. په بوستن کې زما د مور په کو رکې به مې ددې د کتابتون ټولې تاخچې سره وشنلې او ورانه ورانې به مې جوړه کړه.

افغانستان ته د بيرته تګ لپاره به مې په زړه کې ډول ډول فکرونه راګرځېدل خو وروسته مې د بيرته تګ تصميم ونيو.زما ډېرو ملګرو به ويل چې افغانستان نور ستا لپاره بس دی ، افغانستان نور تا خلاص کړی دی. خو افغانستان نه د هوټل بار او نه هم پاسپورټ و چې د ټاپې لګولو وروسته يې کار خلاص شي.

افغانستان او په افغانستان کې روان جريان زما لپاره خورا ارزښت درلود. زه به همېشه له دې څخه زورېدلم چې د بشري مرستو کارکوونکو ، ډيپلوماتانو او نظامي کارکوونکو به په دغه ارزښتناکه وخت کې په وار وار تېروتنې کولې او تر شپږ مياشتو وخت تېرولو وروسته به تبديلېدل او هغه ټول شيان به يې هغسې ويجاړ پرېښودل.

زما په نظر افغانستان ډېر ارزښت لري که نور په ښه ډول خپله وظيفه نه تر سره کوي نو زه خو يې بايد تر سره کړم. زما تګ افغانستان ته دا پلا نه د مدني ټولنې لپاره او نه هم د بلې سياسي موخې لپاره و ، ما غوښتل په افغانستان کې خپل شخصي کار پيل کړم هغه کار چې مايې د څو کلونو راهيسې په اړه فکر کاو ، داسې چې په کندهار کې د مېوو ، صابون او په ځانګړې توګه د پوستکي د تيلو د جوړولو لپاره د يو کوچني کار ځای برابرول و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



امير سلطان چې زموږ امريکايي کارډيناټور و پر مابه يې مسخرې کولې. ده يو برېښناليك ماته راليږلې و چې سرليك يې و صابون د افغانستان پاکولو لپاره. ده زياته کړې وه چې تر اوسه دې لا د هغه ځای د پاکولو مفکوره نه ده پرېښې؟ خو زه لا تر اوسه پر خپله اقتصادي پروژې مشغوله وم. هغه مضمون چې زما د کالج په دوره کې به زما بد ترې راتلل خو اوس په افغانستان کې له درې کاله ژوند تېرولو وروسته زما نظر بدل شوی و ، اوس زه په دي عقيده وم چې مشخص صنعت د اقتصادي بيارغونې کيلي ده ، خو اوس نژدې و چې سارا چېس د صابون جوړولو فابريکه خلاصه کړي.

په همدې وختونو کې پاريس خورا ښه خوند کاو ټولې ، نا ارامی ختمې شوې وې. مباشتې مباشتې مې په پاريس او بوستن کې پيتاوی وکړ. په لومړۍ اوونۍ کې به مې په خپل کور کې په ټپ کې د ليمبو غوړي د اوبو سره ګډ کړل او صابون به مې پر لاسونو وواهه. له ګاونډيانو او ملګرو سره به مې هم پيتاوی کاوه. نور مې نو د جادو له پيتاوي څخه لاس اخيستی و او هغه ژبه چې ما يې پر زده کولو خورا سختې خوارۍ ګاللې وې نور مې نو خبرې پرې کولای شوای.

کله چې به زه له ليکلو څخه ستړې شوم ، نو د لندې تفريح لپاره به پر خپل بايسکل سپره شوم او دښايسته ښار نندراره به مې وکړه ، خو اوس بيا زه د همدې ښار د پرېښودلو په درشل کې وم او له خواريو سره د لاس او ګرېوان هيواد په لور مې د تګ هوډ وکړ ، خو کله چې په الوتکه کې پر خپل سيټ کښېناستم ، هغه ټوله وېره مې په ناڅاپي توګه ختمه شوه. د ارګ يوه موټروان زه د کابل په هوايي ډګر کې په يوه ځانګړې دروازه کې په موټر کې کښېنولم او په وزير اکبر خان مېنه کې يې د قيوم تر کور پورې ورسولم.

له اکرم سره ليدنې دوه ورځې وخت ونيو. کله چې زه او دی سره مخامخ شوو په خپل لوړ اواز يې وويل: السلام عليکم ، څه وخت دلته راغلې؟ چې راتلې نو بيا دې زه ولې نه خبرولم؟ ما به په خپله له هوايې ډګر څخه راوستلې وې. ما وويل: د افغانانو د کلتور له مخې دا له ما سره مناسب نه و ، ځکه چې ته اوس د امنيې قوماندان يې.

ده وويل: ښه سمه ده. دا راته ووايه چې اوس چېرې اوسېږې؟ زه هلته درځم.

ما وويل: نه قوماندان صاحب داسې مه کوه يو بل څوك راولېږه.

که ګورم د پوليسو سپين او شين موټر چې له عسکرو ډك و زما د دروازې مخې ته ودرېده. اکرم د ښار په يوه لرې برخه کې چې د شاهي باغ هغه بل اړخ ته يې موقعيت درلود اوسېده. موږ چې کله سره ولېدل دروازه مو وتړله او يو بل مو د روغبړ لپاره په غېږ کې سره ونيول.

موږ دده په خونه کې وو چې نيمی خونه د لويو بسترونه ډکه وه. يونيفورمونه پر ونو باندې ځوړند شوي وو او د سرای په غولي کې يې د باډيګارډانو لپاره کټونه پراته و. ده وويل دا ځای مؤقتي دی او يو سرای مې په ښارکې په کرايه نيولی دی ، چې اوس تر رغونې لاندې دی ، غواړم چې کورنۍ مې هم له کندهار څخه دلته راولم.

ده وويل: زه ماښام يوې مېلمستيا ته خبر يم. ما هم يو ځای کاردرلود. ده وويل زه بيا په تاپسې موټر درلېږم. کله چې زه راورسېدم ، د ماخوستن ډوډۍ خوړل شوې وه ، دا د واده د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مراسمو دوه سوه کسيزه غونډه وه او اکرم هم د نيم درجن حکومتي چارواکو په منځ کې ورسره ناست و.ده موږ کوربه ته ور معرفي کړو ، اکرم وويل: دغه سړی وينې ، که زه هر وخت په کابل کې نه وم ده ته ورځه. هغه سړي په ډېره بې خوندۍ سره ماته وکتل. تر ډوډۍ وروسته چې زه اکرم کورته رسولم سر يې وښوراو او په زوره زوره يې وخندل.اوه څومره بد سړی ، په ربښتيا بد. دا سړی د شمالي ټلوالې تر ټولو بد کس و. ماورته وويل ، تا خو بايد ماته مخکې لا راپېژندلی وای.

يو وخت زه جلالي ته د کورنيو چارو وزارت ته ورغلې وم. ما اکرم ته ټيلفون وکړ ، ما ورته وويل: زه له تا څخه يو څو سړکه هاخوايم ، خو فکر کوم چې تاسو به مصروف ياست. ده وويل: نه نه زه مصروف نه يم.کله چې زه امنيه قوماندانۍ ته ورغلم ، لهما سره تر روغبړ وروسته څوکسه ولاړل او دفتر يې پرېښود.

يوه ورځ ده له ما څخه وپوښتل: ته په کابل کې موټر چلولای شې ؟

خو اوس ما موټر ته اړتيا نه درلوده ، ځکه چې ما بايد يوه نوې پروژه مخ ته بېولې وای. ستونزه داوه ، چې په دغه ښار کې ټول ډونران سره پاشل شوي وو. اکرم ما ته د موټر راکولو لپاره يو کس راسره ولېږه ، د نوموړي رئيس ارکان ما ته د يو نصواري ټويوټا کورولا موټر کيلي راکړه. دا هم د هغه ايراني رستورانټ د مېلمستيا په شان و ، په دې سره اکرم غوښتل زما کور ودانی وواېي. نوموړی د نورو افغانانو په توپير چې واك تر لاسه کړي بيا نو نور هېروي هغسې نه و. ده شايد زما وفاداري او په سخت حالت کې له ده سره مرسته نه وه هېره کړې ، خو اوس وخت توپير درلود ، اوس بيا ده قدرت درلود او دده وار و چې له ما سره يې مرسته کړې وای. تر دې وروسته وپوهېدم چې اکرم ولې له کرزي څخه نه جلا کېږي ځکه چې د هغه تر احسان لاندې و. کله چې اکرم په کويټه کې يو بې کسه مهاجر و کرزي ، له ده سره ډېرې مرستې کړې وې خو اوس د اکرم لپاره ددې هيڅ امکان نه و چې هغه يې هېرې کړې وای. انډيوالان يې هم همداسې درواخله.

زه د قوماندان صاحب انډيواله وم ، ما دده عزت کاو او ده زما. د نوموړي انډيوالان زما په خدمت ډېر خوشاله کېدل. يوه شپه زه ناوخته د اکرم له کور څخه خپل کور ته پر لاره وم چې سړکونه تر يوه راکټې بريد وروسته تړل شوي و.په قوماندانۍ کې افسرانو زموږ تود هرکلی وکړ او يو موټر يې زموږ د ساتنې لپاره راسره ولېږه. موږ په دغو غليو سړکونو کې د وزير اکبر خان پر لوري روان وو ، زما کوچنی نصواري سنډويچ موټر ددغو دوو سپينو او شنو موټرونو په منځ کې روان وو. د سړك په پای کې موږ ته د پر شا تګ وويل شول ، ځکه چې دلته د قيوم او امريکايي غټې انجنيري کمپنۍ لوويس برګر دفتر و. کله چې پوليس له موټرونو څخه راکښته شول د پوستې ساتونکو ماته وويل: څه خبره ده او بيرته شاته وګرځئ.

ما وخندل او ورته مې وويل ، هيڅ خبره نشته دا زما ملګري دي.

کابل يو لوی مسئوليت و خو نوموړي دغه درانه بار ته اوږه ورکړې وه. ده د ناټو او ايساف له قوماندانۍ سره غونډې کولې تر څو ټول کارونه سره همغاړي کړي او د ټولو ارګانونو تر منځ د همږغۍ ښه فضا رامنځته کړي. د خپلې فرقې د مسلکي کولو د هڅو تر څنګ د يوه پلان پر جوړونې مصروف و تر څو په ښار کې دننه او دباندې د جنايتکارانو پټن ځايونه له منځه يوسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا شان د مختلفو سفارتي چارو پر زده کولو هم بوخت و. يوه شپه يې په ټيلفون کې له يو کس سره خبرې کولې ، هغه ته يې وويل چې سبا سهار د شپږو بجو پر شا و خوا زما سره زما په دفتر کې ووينئ. په عادي توګه پردغه وخت په دفترونو کې څوك نه وي. همدا شان د شپې تر نهو او لسو بجو به يې پر تشو سړکونو ګزمې کولې.

دده باډيګارډانو او خواړه ملګري شفيع الله به لږ استراحت کاو. اکرم هم د وينې د لوړ فشار له امله په تکليف و. يو وخت مې له اکرم څخه وپوښتل چې کولای شم د شپې له مخې له تاسو سره په ګزمه ولاړه شم ؟

زه لا د ماښام د ډوډۍ خوړلو په جامو کې وم چې غږ شو ، ويل يې په ګزمه ځو ما يو نازك پټو پر سر کړ چې د ښار په يوه څنده کې د پوليسو د يوې حوزې پر لوري روان شوو. پوليسوسره مشوره کوله چې پرکومه لاره هلته لاړ شي ، خو چې موږ هلته نابېره ورغلو د حوزې ټول پوليس هك پك شول.نيم درجن نوکريوال افسران ډېر ژر زموږ خواته راغلل. ټول وارخطا ښکارېدل ډېر ژر يې موږ خپلې حوزې ته بدرګه کړو. ددوی لپاره دا لومړی ځل و چې له حوزې څخه يې د امنيې قوماندان ليدنه کوي. څه چې اکرم وليدل له کبله يې ډېر خواشينی شو.

شفيع الله ولاړ مخابره يې چيك کړه. د افسرانو ، د شپې د نوکريوالو افسرانو ، د نورو ماموريتونو نمبرونه او موقعيتونه يې ثبت کړل. په همدې وخت کې اکرم د هغو شيانو په اړه پوښتنې وکړې چې ددوی لپاره يې ستونزې ايجادولای شوای. تاسو خوندي ياست؟ ددېواله پر هغه بل طرف څوك و؟ پر دغه سړك د ترافيکو ازدحام څومره وي؟ دغه باري موټرونه له کوم لوري راځي ؟

دا د هزاره ګانو سيمه وه چې په دغه خونه کې پردېواله يوه لويه نقشه ځوړنده شوې وه.

دلته خوبه کومه ستونزه نه وي ، ايا تاسو تودې اوبه لرئ؟ ډوډۍ مو څنګه ده ؟

د اکرم سترګې پر يو شي ولګېدې ويل يې دا څه شی دي؟ خوسا غوښې ؟

تاسو ته خوسا غوښې راوړي ، که يې بل ځل تاسو ته خوسا غوښې راواستولې سمدستي يې تر ما پورې راولېږئ چې زه يې پخپله په دې هکله د لوژستيك له ډلګۍ سره خبرې وکړم. دا هغه څه وه چې اکرم سمدستي حل کولای شوای. اکرم دې ته ورته زياتې پوښتنې وکړې چې حل کولو ته يې ډېر جدي وو.

دويم شی چې کابل ته يې زما پر تګ سوری اچاو هغه د کرزي د اصلاحاتو راوستلو په پروسه کې ځنډ و.

افغانستان ته د تومانچې په راسره وړلو کې مې ډېره اندېښنه لرله ، کله چې کرزي د ۲۰۰۴ز کال په اکتوبر کې د ولسمشرۍ ټولټاکنې وګټلې ، په دا سې حال کې چې خلك به د رايو اچولو لپاره په خورا يخنۍ کې په اوږدو ليکو کې ولاړ وود راتلونکې په اړه مې خپل قضاوت ونکړ.

ملګري د (کورت امبنډ) په شمول چې د امريکا د سفارت د سياسي چارو افسر و او اوس د ملي امنيت په جرګه کې کا رکوي د راتلونکې کابينې په اړه ډېر لېوال وو. ما يو څو نومونه ياداشت کړل ، چې زما لپاره د اندېښنې وړ نه و خو بيا هم زه زړه نا زړه وم. ما کورت ته وويل: ددوی په اړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



به چې زه کله کابل ته ورسېږم تاسو ته  خپل نظر ووايم.  څه چې ما د هغو کسانو په اړه فکر کاو هغوی تر هغه ډېر خطرناك و. يوه شپه مې د وزارت له يوه کار کوونکي سره د شپې تر ناوخته پورې خبرې کولې څه چې دغه کس ما ته وويل زه يې ډېره حيرانه کړم.

ده وويل: دغه کسان د وزارت په ودانۍ کې دننه خلك وهي ، کار کوونکي په تشناب کې بنديانوي او (ايس ، يو ، وي) موټر يې له نغدو پيسو ډك وي. همدا لامل دی چې اهل او وړ کسان د غلوله لاسه له کابينې څخه لرې پاته شوي دي.

زه به په ډېر مبهم حالت کې راګېروم ، فکر مې کاو چې ددغو غلو لپاره هيڅ چاره نشته خو چاره وه ځکه چې دا ځل دحکومتي چوکيو لپاره ډېر ښه او وړ کسان کانديدان شوي وو ، چې پخوا له دې څخه لرې پاتې وو.

ګل اغا شېرزی کندهار ته د دوهم ځل لپاره د والي په توګه واستول شو.

نوموړي په کابل کې تر شاډېرې ورانۍ پرېښودې چې يوه يې په لاندې ډول ده:

يوه نفر وويل: ګل اغا په کابل کې د يوې پروژې لپاره له نړيوال بانك څخه ۵۰۰۰۰ امريکايي ډالره اخيستي وو. شېرزي هغه پيسې کندهار ته د خپل پلارد قبر جوړولو لپاره واستولې خو اوس له يو څو رسيدونو سره راځي تر څو نړيوال بانك راضي کړي.

د مۍ په نيمايي کې د امريکا ضد ډېرې خطرناکې مظاهرې تر سره شوې.

دغه مظاهرې د نيوزويك مجلې د يوې ليکنې تر خپراوي وروسته تر سره شوې چې په هغه کې راغلي وو چې د ګوانتانامو په زندان کې د يو مشکوك ترهګر له کبله يوه امريکايي سرتېري د مبارك قران يوه نسخه تشناب ته غورځولې وه. زه په دې باور نه لرم چې دا مظاهرې دې له  همدې کبله تر سره شوې وي ځکه چې دا مظاهرې د پوهنتون د محصلينو لخوا تر سره شوې وې. په شرقي افغانستان کې ټول پوهنتونونه له پاکستاني محصلينو څخه ډك دي. د پاکستان هغه خراب ترين ښوونځي د کندهار تر کالج ښه دي.

دلته محصلين د اناټومي له چارټ ، مايکروسکوپ او کتابتونو پرته ډاکټران کېږي. نو دا بيا کوم سالم عقل منلای شي چې پاکستاني شاګردان دې بې له کومه هدفه دلته د زده کړې د تر لاسه کولو لپاره راشي. زه همېشه په دې باور يم چې ددغو محصلينو په منځ کې ډېر پاکستاني جاسوسان موجود دي. مابه ويل چې دادی دې محصلينو د پاکستان لپاره يو بل خدمت هم تر سره کړ.

زه په دې باور يم چې دوی د پاکستان د حکومت لخوا په ډېره معقوله لار په افغانستان کې ځای پر ځای شوي دي ، چې کېدای شي پاکستان ورڅخه په حساسو حالاتو کې کار واخلي. ددې مظاهرو لوی لامل شايد داو چې ولسمشر کرزي اعلان وکړ چې افغانستان د متحده ايالاتو سره د يوې اوږدې مودې ستراتيژيکې همکارۍ لومړي پړاو ته ورننوځي. په بل عبارت متحده ايالاتو غوښتل چې په افغانستان کې د اوږدې مودې لپاره پاته شي چې دا د پاکستان لپاره د زغملو وړ نه و. زه يو څو ورځې په کندهارکې وم او بيا بيرته کابل ته لاړم او خپل نظرمې اکرم ته ووايه. ده وويل: بالکل په رښتيا هم همداسې ده. زموږ ټول ګاونډيان له افغانستان څخه د متحده ايالاتو وتل

(c) ketabton.com: The Digital Library



غواړي او زموږ ټول زاړه دښمنان د همدې لپاره اوس په يو ايتلاف کې سره راغونډ شوي دي لکه پاکستان ، ايران ، روسيه او چين.

په کابل کې مظاهرې ايران پر لاره اچولې او ما غوښتل چې ددغو مظاهرو په تنظيم پوه شم. ده زياته کړه: زه خبر وم چې محصلين غواړي مظاهرې تر سره کړي خو يوه شپه د مخه مې د محصلينو مشران خپل کور ته د ماخوستن د ډوډۍ لپاره را دعوت کړل. په هغوی کې مې پښتانه محصلين غوره کړل. ما ورته وويل: ښه تاسو څه غواړئ؟ داسې ښکاري لکه سبا چې تاسو له ځان سره بيرغونه ليږدوئ او د مرکزي حکومت پر ضد شعارونه ورکوئ.

دوی وويل: بلې همداسې ده.

ما ورځخه وپوښتل چې مرکزي حکومت څوك دي؟ دوی د يوې ګړۍ لپاره چوپ پاته شول.

ما ورته وويل: ولسمشر کرزی مرکزي حکومت دی خو هغه پښتون دي ، د کورنيو چارو وزير زما په ګډون پښتانه دي. موږ مرکزي حکومت يو او موږ ټول پښتانه يو ، تاسو په مظاهرو کولو سره له چاسره مرسته کوئ؟

محصلين په همدې اړه په فکر کولو کې ډوب وو. ما ورته وويل که تاسو ددغه کار له کبله ډېر غمجن ياست ، نو ولې يې همدا اوس زما و مخ ته نه پيل کوئ ځکه چې زه د مرکزي حکومت يو غړی يم.

هغه چې سبا زما توهين کوئ همدا اوس يې زما مخ ته وکړئ. هر څه چې په زړه کې د ويلو لپاره لرې همدا اوس يې ماته وواياست.

دوی وويل چې ته له موږ څخه څه غواړې؟

ما ورته وويل: ورشئ خپلو ټولو ملګرو ته ووايااست هر ډول مظاهرې چې کوئ ويې کړئ خو په ډېر مهارت سره يې تر سره کړئ. که ستاسو مظاهره د هرې موخې لپاره وي ، وي به خو ودانيو او خلکو ته تاوان مه رسوئ.

بالاخره اکرم دغه محصلين وپوهول. په دغه مېلمستيا هغوی ډېر خوشحاله شول. ده غوښتل چې هغوی ته دا الهام ورکړي چې د ورانۍ او خرابۍ څخه لاس په سر شي. له همدې کبله په کابل کې مظاهرې تر ټولو کوچنۍ او سوله ييزې وې.

يوه پښتون محصل راته وويل چې اکرم داسې څوك دی او چې کولای يې شول په هيواد کې د ورونو قومونو تر منځ يووالی راولي. هغه ته د ټولو قومونو او نژادونو ډيناميك خويونه او عادتونه معلوم وو. اکرم موږ ته داسې سوغات راکړ ، چې هغه د هيواد يووالی و چې د خورا ډېر ارزښت وړ ده.

اکرم وويل: په راتلونکې شپه ما د محصلينو مشران په خپلو شخصي پيسو د ماخوستن د ډوډۍ لپاره يوه رستورانت ته بوتلل.

تاسو شايد فکر وکړئ چې وزير او يا کرزي به له ده څخه د تشدد د مخنيوي په اړه کور ودانی ويلی وي ، نه بلکل نه! داسې ښکارېدل چې کرزی او جلالي لا تر اوسه هم د اکرم په اهميت نه وو

(c) ketabton.com: The Digital Library


پوهيدلي. دوی لا تر اوسه له هغې ستونزې سره لاس او ګرېوان وو چې دوست او دښمن يې نه شوای سره بېلولای.

دريمه د اندېښنې وړ خبره د کندهار خراب امنيتي حالت و.

هر کندهاری چې به ما په کابل کې وليد راته ويل به يې: سارا کندهار اوس د پخوا په شان نه دی. ته اوس نه شې کولای چې په کندهار کې په موټر کې يوازې وګرځې اوکله چې ما کندهار ته ټيلفون وکړ هغوی هم همدا سې راته وويل.

په وضعيت کې ډېر بدلون راغلی و ، هر څه پر بل مخ اوښتي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کندهار
## (مي ۲۰۰۵)

په کندهار ك هيڅا فکر نه کوی ، چي زه دي به بير ته راشم ، زه خپله هم په همدې اند وم. خبره دا نه وه چي ما پر کومه پروژه کار کوئ او يا مې د هغوی په اړه څېړنه او پلټنې کولې.

زما د بېرته راتګ يواځنی لوی او مهم هدف دا و چي دغه په ستونزو او خواريو کې ښکېل ولس چي زما هيواد کومي ژمني ورسره کړي دي ، يوازي پرېښردم او د کندهار يانو سره په دوړو او خاورو کې ژوند تيرولو ته دوام ورکړم. کله چي زه راورسېدم ، د احمدولي کرزي کسان ولاړ شول او زما سره د روغبړ لپاره په ليکو کي ودرېدل.

هو!دا دونه وخت چيري وي ؟ مور ، خور ، دوستا او کوچنيان ټوله ښه وه ؟

يو وخت په بازار کي زما د موټر مخ د ترافيکو يوي ګڼي ګوڼي بند کړي ، يو چا زما د سور رنګه موټر هوډ په زوره زوره په سوکه ووهي ما چي ورته وکتل ده راته وبي ويل چيري وي د ظالم لوري دا دونه وخت ؟

دا اکرم و ما په خوب کي ورته وويل چي ما او کندهار خپله ژمنه يو ځل بيا سره نوې کړل.

تر دي وروسته زه د ځای پر ځای کېدو په فکر کې شوم ، په پايله کي مي يو سرای د شپږو مياشتو لپاره په کرايه ونيوی ، چي نوی رنګ شوی ، خو دوه برابره ګران وو. د خونو د ښايست لپاره مي هلمندۍ پنبه رانيول ، تر څو بخملي کوربچي ترې جوړي کړم.

زه بازار ته د پيتلي پيالو ، غابونو او د شولومبو پلاستيکي قاچوغو او داسي نورو شيانو په رانيولو پسي ولاړم خو په کندهار زما تر ټولو خوښ شي شلومبي وې.

ما وفاداره کريم جان چي زما تر تګ وروسته يې د امريکايانو سر کار پيل کړي وو. د امريکايانو د کار څخه را وايست او زما هغه شپږ نور کار کوونکي چي کله زه په تېر مني کي تللې وم ،تر شا پرېښي و بير ته مي د ځان سره په کار وګمارل. هغه نورو به نيمه ورځ يعني تر درو بجو پوري دامريکايانو سره په اډه کي کار کوي او تر هغه وروسته بيا راتلل.

د اختر ورځ مو رخصتي وټاکل.

ببر سري د بس ډرايور حيات الله په ارغنداب کي د مېوو باغ درلو دی ، ارغنداب د کندهار دومره په زړه پوري سيمه ده ، چي په خوله يې تعريف نه کېږي. په دغه ښايسته سېمه کې د ارغنداب رود هم غزېدلی دی ،چي همدي رود شنې رواني اوبه يې د لېري لا ځلا کوي.

کله چي موږ د حيات الله باغ ته د ميلي او ميوو خوړلو لپاره تللو نو د زردالو هغه ټاپ موسم وو. هغو کسانو چي د امريکايانو سره يې په اډه کي کار کوی ، موږ ته وويل چي ، موږ ناروغان يو موږ ټوله په موټر کي سپاره شوو او د ارغنداب د ښکلي سيمي پر لور روان شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


موټر حيات الله چلوی ، د کندهار څخه د ارغنداب پر لور سړك د وياڵې پر غاړه غزېدلی دی ، دلته يوه هديره ده چي زما پخوانی کور همدلته و. د ملانقيب اخند کور د ولې پر هغه بله غاړي دی ، دلته هغه روښانه شين مسجد هم موقعيت لري چي کندهاريانو په کښي د طالبانو د حکومت د نسکورېدو د خوښی جشن نمانځي. زه هم ددغو ښايستو منظرو په ليدلو سره د خيالونو په دنيا کي ډوبه شوم ،خپل ټول خواږه خيالونه مي را ياد کړل چي ناڅاپه مي پر يوه شنه لنډکروزر موټر سترګي ولګېدې ، چي د ولې پر هغه بله غاړه روان و او تر شاه يې دوه نور موټرونه ورپسې وو.

ما هغه شين موټر وپېژندی.

ما خپل ټليفون را واخيست د اکرم نمبر مي داير کړي ، خو ټليفون يو سرتېري پور ته کړ ، په لومړي سر کې د هغه اواز سم نه راتلي. خو په اخير کي مي د اکرم بېچاره اواز واورېدی. بېچاره اکرم کوښښ کوی چي د يوې مياشتي لپاره کندهار ته په رخصتی ولاړ شي. کله چي زه په کابل کي وم ، اکرم راته وويل: که تکليف نه وي چي يو ځل دي د کورنيو چارو وزير جلالي ته ويلي واي او د هغه څخه دي زما لپاره د يوې مياشتي رخصتي را اخيستي واي.

په کندهار کي دده نوی سرای تکميل شوی و اوغوښتل يې چي ورته را کډه شي.

د جلالي سره د خپلو کارونو تر خلاصولو وروسته مي ورته وويل: يو وروستی شی لا پاته دی ، خاکريزوال يادوم.

بيا ددغه سړي په هکله څه وايې ؟

ما وويل: هغه غواړي چي کندهار ته ولاړ شي ، که تاسو يو څو ورځي رخصتي ورکړی ، ښه به وي.

ده وويل سمه ده ، خو يو څو ورځي وروسته ځکه چي زه ده ته اوس خورا ډېره اړتيا لرم.

ما وويل: څو ورځي به رخصتي ورکړې ، او دی کولای شي چي سبا نه بل سبا ولاړ شي ؟

ده راته وويل: سارا تا خو هيڅ تغير نه دی کړی ، دی درې ورځي وروسته کولای شي چي د پنځو ورځو لپاره ولاړ شي.

واعده ده ؟ بلې واعده ده. خو د درو ورځو پر ځای دوې اوونۍ تيري شوې ، ما په ټليفون کي عسکر ته وويل زه اوس په ارغنداب کې په مېله کي يم ، خو څو ساعته وروسته زه بيا ټليفون درته کوم. خو يو ګړی وروسته اکرم هغه وخت ټليفون راته وکړ چي زه د زردالو ووني ته ختلې وم ، او جيب مي د زردالوو څخه ډك کړي وو.

اکرم په ټليفون کي سلام را واچوی. دی هم د ښار په يوه څنډه کي د خپل ملګري باغ ته په مېله وتلی و. ما ورته وويل: زه هم بايد د توتو خوړلو لپاره درشم ، زه په نيم ساعت کي حمام کوم او تر هغه وروسته سمدستي در روانيږم.

کله چي زه ور ورسېدم ، اکرم په چمن کي پر يوه پلاستکي مېز ناست و. د زردالوو او خوندورو توتانو څخه ډك غابونه يې مخې ته پراته وو.دغه ټوله خوندور شيان اکرم په کوربه باندي زما لپاره تيار کړي وه ، چي په رښتيا سره دغه ټول زما ډېر خوښ وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څنګه چي زه کښېناستم ، نو سمدستي يې يو د تازه مېوو قاب مخ ته راته کښېښودي او د اوبو ګډوه يې د ګوتو پرېولو لپاره را ته راوړل.

د مېز پر شاوخوا د الکوزو د قوم مشران ناست وو. زه نه پوهېدم چي په دې ورځو کې به د چا سره شخړه کوم ، خو يو شی چي بايد ما کړی وای ، هغه نور د خپلي خولې په واک کې راوستل و ، خو زه هيڅکله پر دې کار بريالی نه شوم.

زما يو شناوی سړی په ياد دی چي زما پر پښتو او پر سياسي وضعي او سپينو خبرو کولو باندي خندل. د ماښام د لمانځه اذان وشو ، دوی ټوله د لمانځه د ادا کولو لپاره په جمع ودرېدل ، د لمانځه تر ادا کولو وروسته قومي مشران د باغ په يوه څنډه کې چي شين چمن و کښېناستل. يوازي اکرم او دده نژدې ملګری شفيع الله بيرته زما سره د کښېناستلو لپاره راغلل. ما د اکرم د اکا د زوی په وړاندي څه و نکړل چي ما ته يې په هديره کي دده د کور د پرېښولو لپاره رالېږلی و ، البته ما يې ممانعت وکړ ، خو بالاخره هغه لاري ته راغلی. يو شی چي زه او دي يې سره نژدې کولو ،هغه د اکرم سره زما او دده مينه وو.

په کابل کي ما شفيع الله ته وويل چي اکرم تمرين کولو ته وهڅوه. اکرم و پوښتل: ښه سارا په کندهار کې څه روان دي ؟

ما وويل: قوماندان صاحب ما تاته نه دي ويلي چي ما نور سياست پرې ايښي دی. اکرم وخندل.

موږ د هغه وژل شوي ملا پر وژنه خبري پيل کړې چي دوې ورځي وړاندي وژل شوی وو ، په حقيقت کي داخورا لويه پيښه وه.

نوموړی ملا د کندهار د ملايانو د ولايتي شورا مشر او د دا نوي حکومت ملاتړی وو ، دغه نامتو مزهبي عالم د هغو طالبانو پر ضد و چي د اوسني حکومت پر وړاندي جنګېدل ،او قراني اياتونه يې د خپلي نظريې سره سم ترجمه کول.

نوموړي ملا د کندهار ښار په منځ د ولايت مقام او د حضرت محمد ص د مبارکې خرقې شريفي تر منځ په خورا محفوظه سيمه کې ووژل شو.

په رڼا ورځ پر موټر سايکل سپاره دوه کسان راغلل ، نوموړی يې ووژی او وروسته وتښتېدل. شفيع الله وويل تر ټولو مهمه او د انديښني وړ خبره خو دا ده چي دا څنګه امکان لري چي دغه کس دي په دغسي يوه محفوظه سيمه کي ووژل شي.

دغه جاده اصلا د امنيتي تدابيرو له کبله بنده کړل شوي ده. ددغې جادي په دروازه کي وسلوال کسان ولاړ دي او د همدي ملا د دفتر څخه شل متره اخوا د ولايت د مقام دروازه ده چي په همدي دروازه کي هم پنځلس کسان د امنيت لپاره ګمارل شوي دي.

ما وويل دا کار به طالبانو کړي وي. شفيع الله وويل کوم طالبان؟ طالبان به هيڅکله ددي جرائت ونکړي. ما وويل دلته هيڅ د ويري او د جرائت خبره نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې ښار کې هيڅ امنيتي تدابير نشته ، نه کومې د تلاښۍ پوستې شته او نه بل کوم داسې نور امنيتي کسان چې سړي دې ودروي اويا دې ځني وويريږي ، هر څوك کولای شي چې د وسلو سره په ښار کې وګرځي ، خو هيڅوك به يې و نه دروي.

د اغا ږغ مې تر غوږو شو ، که ګورم چې د اکرم لور اسما را ښکاره شول. دغه کوچنۍ انجلۍ چې وربېښتان يې پر سترګو رايله او والې يې په غوږونو و ډېره ښکلې ښکارېدل.

دا راغله د اکرم پر زنګنو کښېناستل او بير ته ژر ولاړه شول ، د مېز څخه يې په ډېر احتياط غابونه په دواړو لاسونو واخيستل او کراره ــ کراره روانه شول.

د نوموړي ملا د کورنيو غړو ويل ، که دی طالبانو وژلی وي ، نو بيا يې په ارغنداب او يا محله نجات کې ولې نه واژه ، ځکه چې طالبانو تر ښار په صحراوو کې زيات ځواکمن دي. نوموړی به هره ورځ له ښاره وتی ، نو بيا ولې دوی د ښار په منځ کې وواژی.

شفيع الله وويل اصلي خبره دا ده ، چې همدا دوی غواړي ددې څخه لويه کيسه جوړه کړي ، ځکه نو دوی په رڼا ورځ د ښار په منځ کې ووژی.

يو وخت ما شفيع الله وليدی چې غوښتل يې هلته ورشي ، خو دغه جاده ټوله کلابنده شوې وه ، په دروازه کې سرتيري ولاړ و ، پنځلس سرتيري د ولايت د دروازې په پوسته دنده تر سره کوي. هغه ودانۍ چې دغه ملا ژوند پکښې کوی ، د ولايت د مقام تر څنګ ده.

ده وويل که چيري دلته وسله وال کس وليدل شي ، نو بايد پوليس د هغه په تعقيبولو پسې ورشي ، خو دلته ډزې وشوې او سړی ووژل شو ، خو پوليسو غوږ هم پرې ونه ګروی.

څه چې شفيع الله وويل ، زه ورسره موافقه وم ، ځکه چې د طالبانو غورځنګ د منځه تللی و. طالبان پاکستاني حکومت ايجاد کړي و ، خو د کندهار اداره هم د پاکستان تر واك لاندې اداره وه ، نو بيا ولې دوی د خپلې بلې ادارې کسان د منځه وړي.

اکرم وويل دا د پاکستان ستراتيژي ده چې خپل مخالفين په دې مجبوره کړي چې يو ګام مخ ته واخلي ، لس بايد شاته شي. ددې خبرې دثبوت لپاره هر څه زموږ و مخ ته پراته وو. دا ملا کوم عادي ملا نه و ، بلکې نوموړی د کندهار د علماو د ولايتي شورا مشر و ، او د ښار په منځ کې د غرمې پر يوه بجه ووژل شو. د اوس مهال پيښې تر ۲۰۰۳ مېلادي کال تر پيښو ډېرې بوږنوونکې وې. ده ته ورته ملايان په ولسواليو کې هم ووژل شول.

دوه کاله وړاندې د يوه کمين په نتېجه کې د ای-سي-ار-سي د يوه انجينر تر مړينې وړاندې چې اکرم د وضعي په اړه کوم اټکل کړی و ، هغه حالت اوس حاکم و ، داسې چې د کندهار ښار محاصرې په حال کې و ، خو اوس هر څه د ښار په زړه کې پېښېدل.

اکرم وويل چې موږ بايد دا ټوله خبرونه تر لوړو مقاماتو پورې ورسوو. ما وويل قوماندان صاحب ، ته ښځې ښه وايې ، ما وويل قوماندان صاحب ستاسو په ياد دي ، هغه دوه کاله وړاندې چې تاسو يو مرکز د منځه يووړ ، دوی په هغه کمپ کې شورشيانو ته د ترور او د ملکي هدفونو په نښه کولو تربيه ورکول؟ خو اوس هر څه دوباره پيل شوي دي. اکرم ساه واخيستل او ويې ويل بلې ، همداسې ده ، موږ په باغ کې مجلس سره کوی ، خو د ماخستن د لمانځه ازان زموږ د مجلس

(c) ketabton.com: The Digital Library



لمن سره را ټوله کړل. اکرم ولاړ شو ، زموږ کوربه وویل ، د ماخستن ډوډی دلې وخوری ، خو اکرم وویل نه نه تشکر موږ کور ته ځو.

اکرم خپلو سرتيرو ته د کوچنيانو موټر ته ور پورته کولو لپاره ور ږغ کړل. دده دا ږغ کوچنيانو ته د ورځي د پای په مانا وو.

ده غوښتل چي زه کور ته ور سره ولاړ شم ، له همدې کبله به زه دده د ظريف طبيعت له امله د ستونزو سره مخامخ کېدلم.

ما همېشه غوښتل چي زموږ تر منځ په سږه سينه موافقه وشي. ما فکر کوی چي ممکن ده فکر کړی وي چي دا بهٔ وروسته کور ته راپسي راشي. نوموړي د دا تېر يو نيم کال راهيسي خپله کورنۍ نه وه ليدلې ، ما نه غوښتل چي دی د خپل کور ځخه لري وساتم.

موږ لاسونه د خدای په امانۍ لپاره سره ورکړل ، ما ورته وويل زه بيا ټليفون درته کوم. زه تر ګېټ پوري دده په کاروان پسې وم ،د دروازې تر وتلو وروسته دی راسته طرف ته وګرځېدی او زه چپه طرف ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# پلټنه
## (جون ۲۰۰۵)

په خپل کور کې د کریم سره په صابون جوړولو بوخته وم ، راډیو مې را واخیسته ، غوښتل مې چې بي بي سي په ونیسم ، خو پیدا مې نه کړه ، ما راډیو کریم ته ورکړه چې که یې پر یو ځای ستن ور برابره کړي او یا هغه ناولې موسیقي په ونیسي ، په کندهار کې چې د کوم شي څخه زما کرکه کېدله ، هغه موسیقي وه.

کریم د ستن ګرځولو پر وخت پر محلي خبرونو ور برابر شو ، خبریال چاودنه یاده کړه او بیا یې ور سره د محمد اکرم خاکرېزوال نوم یاد کړ ، ما یوازې همدا واورېدل ، کریم ډېر حیران شو او بیا د تبصرې کولو لپاره زما خوا ته رانږدې شو ، ده وویل د ښار په منځ کې یو ځانمرګی برید تر سره شوی ، خو د اکرم د مرګ یا ژوبلې په اړه هیڅ معلومات نشته خو کم تر کمه نولس کسان په پېښه کې وژل شوي دي.

کریم ته مې وویل که دلته یو نو د حقیقت په معلومولو کې به ډېر وخت راباندې تېر شي ، نو سمه به دا وي چې زه او ته په خپله د پېښې د وضعیت د معلومولو لپاره له کور څخه ور پسې ووځو ، په موټر کې سپاره شوو ، مخ د بازار پر خوا روان شوو ، په کنډ او کپر سړکونو تر څه مزل وروسته مو د روغتون دروازې ته ځان ور ساوه ، په دروازه کې د امریکایي سرتیرو څلور (هوموی) ګاډي ولاړ وو ، عسکر روغتون ته د ننوتلو اجازه راکړه ، ما هم خپل موټر د هغې ګنې ګوڼې ځای ته ور وست ، ما یوه امریکایي افسر ته ور منډه کړه ترې ومې پوښتل قوماندان صاحب چیرې دی ؟

هغه په ډېره بې پروایي په نه ځواب راکړ ، زه له یوې بلې ګنې ګوڼې تېره شوم او یوې ودانۍ ته مې ځان ورساوه ، په ودانۍ کې ولاړ ډاکټر راڅخه وپوښتل په چا پسې ګورې ؟ ما ځواب ورکړ ، چې په قوماندان صاحب پسې ګورم ، ډاکټر ماته تر کتلو وروسته وویل هغه دلته نشته ، هغه په کور کې دی ، د ډاکټر ځواب هر څه را ته څرګند کړل ، زه پوه شوم چې روغتون ته مې راتګ بې ګټې و ، خو ما باید خپله دنده مخ ته وړې وای ، ما د ډاکټر سترګو ته په خواشینوونکې ډول په ځیر ــ ځیر وکتل خو هغه مخ را څخه واړاوه او په خپل کار پسې روان شو.

ډاکټر زما سره نوره هیڅ مرسته نه شوه کولای ، د اکرم یوه ملګرې چې خامکې ښایسته جامې یې په تن وې ، په ژړ مخ او الوتي بڼه له ودانۍ څخه بهر ولاړ و ، دی روغتون ته د اکرم کور ته د یوې تذکرې د وړلو لپاره راغلی و ، د تذکرې تر پیدا کولو وروسته زه او هغه باید یو ځای د اکرم کور ته تللې وای.

پر تذکرو د مړو شوو کسانو جسدونه ایښودل شوي وو ، کریم ما ته یو لغت وواېه چې ما تر اوسه نه و اورېدلی ، خو زه د هغه په خبرو پسې و نه ګرځېدم او د هغه بل نفر موټر مې تعقیب کړ چې د روغتون د یخچال په لور روان و ، کریم راته وویل چې ټول مړي همدلته راوړل کېږي ، زه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېره بې صبرۍ يخچال ته ورننوتلم ، يو نفر مي وليدی چي تذکره يې په لاس کي وه ، د مړو د بدنونو غوښي پر مځکه شا و خوا تر سترګو کېدې ، خو ويني مي و نه ليدې.

په ياد مي دي چي دوې پښې د اور د لړکيو په شان دېوال ته درول شوي وې ، زه تر هغه ډېره لږ وېرېدم چي مايې فکر کړی و ، نور نو دلته زما لپاره څه نه و پاته ، زه بايد په بېړه د اکرم کور ته تللې وای ، ما د اکرم ملګری هم هلته پرېښود او له روغتون څخه را ووتم ، له ښار څخه تېره ، له کانال څخه واوښتم او د اکرم کور ته مي ځان ورساوه .

راډيو درواغ وويل ، هر څه معلوم وو ، اکرم زموږ مخ ته په توس کي پېچلی پروت و ، د اکرم ورور په سلګيو راته وويل دغه دی ستا ملګری .

د اکرم جسد يې په يوه تور موټر کي يوازي کښېښود ، که ګورو چي ملا نقيب را ورسېد ، ما له يوه نفر څخه و پوښتل ، هغه چيري و ؟ هغه په نه ځواب راکړ ، خو مخکي چي ما له کومو خلکو څخه د ده په اړه وپوښتل ، هغوی وويل چي په ارغنداب کي دی.

کله چي ملا نقيب د ښوونځي د انګړ په لور لوی لوی ګامونه اخيستل ، مايې د روغتېږ لپاره لاس په لاس کي ټينګ ونيو او سترې مه شي مي ورته وويل ، په داسي حال کي چي تر سترګو يې اوښکي رواني وې ، په ماته خوا يې ځواب راکړ. خو دا څنګه ممکنه وه چي اکرم دي دلې و او زه دي نه يم په خبر ، په هر صورت زه په ده پسې شوم او په برنده کي چي خلك د دايرې په شکل پر کوربچو ناست وو ، زه هم ور سره يو ځای شوم.

که چيري زه خبره وای چي دی دلې دی ، نو زه به هم هغه مسجد ته ورسره تللې وای ، په دغه مسجد کي د هغه ملا د فاتحې مراسم تر سره کېدل چي څو ورځي وړاندي يې ما او اکرم پر وژنه ږغېدلو.

دا ملا ډېر مهم سړی و چي يوازي يې دوې ورځي د حضرت محمد (ص) د مبارکي خرقې شريفي په مسجد جامع کي فاتحه اخيستل کېده او درېيمه ورځ د ښار په منځ کي ، په خاورين او زما تر ټولو خوښ مسجد جامع کي چي د همدغه ملا خپل مسجد جامع و ، اخيستل کېده .

ملانقيب وويل ، چي ده ويل (تېره ورځ يې زه فاتحې ته ور نه غلم ، خو نن ورځم ، هغه و چي هغه او ساتونکي يې همدا نن فاتحې ته ور غلل.

د اکرم موټروان راته وويل ، موږ چي راورسېدو ، تا حرکت وکړ او په خپل سپين لنډ کروزر کي ولاړې .

ما وويل نو بيا موږ يو له بله سره تېر شوی يو ، ما هيڅ ستاسو موټر و نه پېژنده ، زه سيده ارغنداب ته ولاړم ، که چيري زه داسي پوهېدای چي قوماندان صاحب په ښار کي دی ، نو بيا زه نه تلم ، زه ستاسو سره هغه مسجد ته د فاتحې لپاره تلم.

ملانقيب زموږ څخه په پټه خوله تېر شو ، د هغه مخ ته د شلو کسانوجسدونه پراته وو ، نه پوهېږم چي دې حالت به د هغه لپاره څه معنا لرل.

ملانقيب وويل ، غواړم تاسو ته يو شي ووايم ، زه چي کله مسجد ته ننوتلم ، د يوه شي په ليدلو ډېر حيران شوم ، په خدای قسم ما هغو ټولو حاضرو کسانو ته په لوړ آواز وويل چي دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسجد یې ولي نه دی جارو کړی چي بیا یې غالۍ پر اواري کړي دي ، تر غالیو لاندي ټوله فرش له خاورو ډک و.

ټول په دې موافق وو چي دا ځانمرګی برید نه و ، دا چي په دې اړه بیا د عرب خبره کېږي ، دا خو بیا ښځي له امکانه لېري ده.

ما د مړو ټوټې په یخچال کي ولیدلې چي ټوله ټوټه ټوټه او لولپه شوې وې ، دا نو بیا څنګه امکان لري چي په دغسي یو حالت کي دي د یو چا د ملیت پېژندنه وشي ؟

خو له پېښي یو ساعت وروسته ګل اغا شېرزي وویل ، دا یو ځانمرګی برید و چي د یوه عرب له خوا تر سره شو او د تثبیت لپاره یې اسناد هم تر لاسه شوي دي.

ما په لوړ ږغ وویل ، ګورئ خلکو! والي به ددې جرم په اړه هیڅکله هم پلټنه ونه کړي ، دغه راز د امنیه قوماندان له مرستیال څخه هم چي تاسو یې ټول پېژنی چي د (آی ایس آی) مزدور دی ، په دې اړه د پلټني تمه نه شي کېدای ، زه تاسو ته په ډاډ ویلای شم چي دا هر څه به همداسي پاته شي.

ما وویل چي موږ په خپله هم پولیس یو ، موږ باید په خپله ددغي پېښي پلټنه وکړو ، زه پدې ډېره حیرانه وم چي څنګه کولای شم دوی په دې اړه را وخوځوم ، خو دوی ټول ډېر بې علاقې ښکارېدل.

زما لپاره ښېله دې چي دا موضوع د سیاست او دوه مخیتوب پر خوا بوځم ، بله لاره نه وه ، همدا یوا ځنۍ لاره وه چي د اکرم لپاره مي یو څه کولای شوه.

څو شېبې وروسته موږ ولاړ شوو ، د اکرم په زرغون لنډ کروزر کي سپاره شوو ، موټر ته د ختلو پر مهال سرتېرو ته هغه شېبې ور په زړه کېدې چي دوی به اکرم د یوې وظیفې لپاره لېږل ، زموږ تر شا په یوه بل موټر کي د اکرم ملګری او د کابل د جنایي جرمونو د پلټني افسر او د اکرم یو بل ملګری چي ویل یې زه (ماستر ډګري) لرم هم وو ، ددغه افسر د دوستۍ په اړه زه یو څه شکمنه وم.

ما مسجد ته پر لاري له ملګرو څخه و پوښتل ، ایا دغه کس په رښتیا زموږ دوست دی ؟ شفیع الله ځواب راکړ ، سارا! دلته هیڅ دوستي نشته ، ته به یې په خپله ووینې ، دلته دوستي ټوله تر قدرت پوري ده چي قدرت و نه لرې هیڅ څوک به دي دوست نه شي.

نور مي څه نه دي په یاد چي موږ مسجد ته څه ډول را ورسېدلو ، خو څه چي مي په یاد دي ، هغه دا چي کله موږ مسجد ته راغلو ، په مسجد کي هیڅ شی نه و پاته ، دا مي هم نه دي یاد چي مسجد ته د تلو پر مهال مي په مغزو کي کوم طوفان روان و.

د پېښي له ځای څخه د جنایي پېښو رسۍ نه وې تاو شوي ، د همدې ځای لپاره ساتونکي نه وو ګمارل شوي ، هیڅ پلټونکي د پېښي له ځای څخه د پېښي د څرنګوالي په خاطر عکسونه او نور ضروري توکي نه وو اخیستي ، نه د ماتو شیانو ټوټې پاته وې او نه هم چا وینې ولیدلې ، آن هیڅ شي هم پاته نه و ، یوازي د انګړ شاته د وژل شوي ملا طالبانو د زېرخانو له سرونو څخه چي زموږ له قد سره برابري وې ، د ماتو ښیښو ټوټې جارو کولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه کار سړي ته دا ور په زړه کوي چي تر کاسې لاندي ضرور نيم کاسه شته.

موږ لا مسجد ته نه و داخل شوي ، پنځلس متره ليري په يوه انګړ کي و ، زموږ تر څنګ يو کوچنی غولی و چي وني پکښي ولاړي وې او ښښتي پکښي پرتې وې چي يوه لاره د همدې ځای څخه مسجد ته تللې وه ، ما په لوړ اواز وپوښتل چي بم چيري وچاودېد ، د مسجد يوه بدرنګه خدمتګار وويل ، هلته د هغو ښښتو و بغل ته چي د مسجد د محراب څخه په بشپړه توګه دباندي و ، د درو فوټو په اندازه دغه ځای خيرن و. ما د مسجد د هغه کار کوونکي څخه وپوښتل چي دغه ځای هم د نور انګړ په شان مخکي کنکرېټ(سمېټ) و که نه ؟

هغه په ځواب کي را ته وويل چي هو ، خو بيا يې کرار راته وويل ، نه دلته د رغوني کار روان و او غټو موټرانو دغه سمېټ مات کړ ، ما شفيع الله ته وويل که دي هر څه د دېوال په شا وخوا غولي کي پيدا کړل ، په کځوړه کي يې واچوه ، يوه شېبه وروسته دی ما ته راغی ، يو شی يې د ډايمتر په اندازه راښکاره کړ ، په همدې ډول ډېر شيان شاوخوا تر سترګو کېدل ، ما هغه راواخيستل او د يوه دېوال په چاکونو کي مي کښېښودل ، پلټونکی افسر هم راغی ، زما سره يو ځای شو ، ما ته يې وويل ، ته پوهېږې چي دا به څومره لويه چاودنه وه ؟ دا خامخا ځانمرګی بريد دی ، ما هغه دايره شکله شی راواخيستی او د اوږې په بيك کي مي کښېښود ، ما ويل درځئ چي ځو ، موږ بايد پر ځلور بجې خاکرېز ته روان شوي وای ، خو دلته يو بل شی هم د شك وړ و ، هغه دا چي راډيو په بار بار ويل ، يو نفر چي نظامي يونيفورم يې په تن و ، اکرم ته ور ټيټ شو او بيا يې خپل ځان و چاو د ، زه هيڅ پدې باور نه وم چي دا دي د يوه داسي کس له خوا تر سره شوې وي او له بله پلوه کله چي ما اکرم وليد مخ يې ثابت او پاك و ، د هغه پر مخ هيڅ شی نه و او نه يې پر مخ څه لګېدلي وو ، زه نه پوهېدم چي په دغه سهار څه پېښ شول ، خو په يوه شي چي پوهېدم هغه دا و چي والي دروغ وويل.

تر چاودني يو ساعت وروسته ، هغه د مېډيا په وړاندي راښکاره شو او د پېښي په اړه يې پوره معلومات وړاندي کړل ، په داسي حال کي چي هيڅ چارواکی د پېښي ځای ته د پلټني لپاره نه و ورغلی.

په اصل کي د هغو چارواکو لپاره چي د مېډيا په وړاندي بايد راښکاره شوي وای ، يوه کيسه په لاس ور کړل شوې وه ، ددې څخه ښکارېدل چي د پر دې تر شا څه روان دي ، کله چي موږ د اکرم تر دفن کولو دوې ورځې وروسته بيرته ښار ته راوګرځېدو ، شفيع الله چي پوره شواهد ورسره وو ، يوازي او نااميده پاته شو.

يوه شپه هغه د دوو نفرو ساتونکو سره راغی چي په هغو کي يې يو د (لنډو) په نوم راوپېژانده ، دا د ګردي مخ او کڼو برېتونو خاوند ، د اکرم ساتونکی و ، دوه کاله وړاندي ، کله چي اکرم د شپې له خوا کابل ته سفر کاوه ، موټر يې چپه شو ، لنډو هم په هغه پېښه کي ټپي شوی و.

د هغه څېره ښخي مکسيکويي ته ورته وه ، ما ور څخه و پوښتل ته په پښتو پوهېږې ؟

نوموړي په هو ځواب راکړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی هم په دې پېښه کې ژوبل شوی و ، ده خپلي پايڅې پورته کړې او پښې يې را ښکاره کړې چې تر سوجي (کوناتي) کښته پانسمان شوی و ، ده وويل ما چاودنه په خپلو سترګو وليده چې هغه ښځي د مځکي پر سر رامنځته شوه.

ما ځني و پوښتل چې ته چيري ولاړ وې ؟ دغه مهال ما خپله کتابچه را وايسته او خپله نقشه مي ځني را وکښله ، دا کار مي په تيرو څو اوونيو کي د لا ښه پوهېدو لپاره لسګونه واره تر سره کړی و .

هغه ته مي وويل دا دېوال دی او دا هم انګړ ته د ورننوتلو دروازه ، دا هغه قبر دی او دا هم هغه د خښتو کتار ، اوس ووايه چې ته چيري ولاړ وې ؟

لنډو ونکړای شول چې ما ته د نقشې له مخي معلومات راکړي ، بيا مې هغه ودراوه ، ښه فرض کړه چې د غالۍ دغه څنډه د هغه خښتو کتار دی ، ته قوماندان صاحب يې او زه ميرويس يم ، د ميرويس مخ کومي خوا ته و ؟

ميرويس يو تن بل ساتونکی و چې په دغه پېښه کي ووژل شو.

لنډو وويل ، بم هغه وخت وچاودېد ، چې کله اکرم په مسجد کي د فاتحې مراسم تر سره کړل او د مسجد له ودانۍ څخه په پوره توګه بهر راووت ، انګړ د خښتو په هغه کتار سره پيل کېده ، خو پر ځينو خښتو غالۍ اواري شوي وې ، او له پاسه پرې څېمه هم راځوړنده شوې وه.

اکرم خپل بوټونه د خښتو سره پرې ايښي وو ، کله چې له مسجد څخه را ووت ، لڅي پښې پر غاليو د خښتو پر خوا روان شو او خپلو ساتونکو ته يې اشاره وکړه چې دوه کسان دي زما شا خوندي کړي ، کله چې له مسجد څخه را وته ، لنډو اکرم ته مخامخ د خښتو له کتار سره ولاړ و او ده ته يي کتل ، ده وويل ، ما ميرويس وليد چې اکرم ته يې بوټونه راوړل او د هغه مخي ته يې کېښودل ، دا هغه څه وو چې خلکو ويل ، يوه کس د پوليسو په جامه کي خپل ځان وچوه.

ده وويل ، ما اکرم وليد چې خپل راسته بوټ يې په پښو کړ او چپه پښه يې په هغه بل بوټ کي اچول چې راسته لاس يې د بوټ د سمولو لپاره ور ټيټ کړ په همدې وخت کي چاودنه را منځته شوه.

لنډو وويل ، چاودنه د اکرم تر شا رامنځته شوه او دا هغه څه وو چې ما پخپلو سترګو وليدل.

له چاودني څخه وروسته هوا ټوله دود او دوړو پر سر اخيستې وه ، زه په غوږو دپ وم او پر سرګُل پروت وم.

ما ترې و پوښتل قوماندان صاحب ته بل څوک نيژدې و؟ ده وويل ، هيڅوک ، يوازي يې ساتونکي او دکورنۍ غړي.

دا هغه څه وو چې سر يې سره خوړی ، خو بيا هم د پوره ډاډ لپاره موږ په دا سبا هغه مسجد ته ولاړو ، لنډو ويل ، قوماندان صاحب دلته ولاړ و.

ما وپوښتل ، ميرويس چيري ولاړ و ؟

ده وويل ، دلته د قوماندان صاحب راسته اړخ ته چې مخ يې شا ته ګرځولی و.

د ميرويس مخ په چاودنه کي په پوره توګه له منځه تللی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما وويل ، د اکرم وراره چيري ولاړ و ؟ په خاکرېز کي يوه جنازه د ياد شوي هلك هم وه چي په دې پېښه کي وژل شوی و.

زما اوس يادېږي چي په خاکرېز کي پر هغه جغلينه غونډۍ يې ددغه هلك لپاره د دوو قبرونو په منځ کي قبر وکيندی ، د هغه هلك په غاړه کي يوه رښکۍ تاو شوې وه چي په وينو ککله وه.

يو بل کس چي د اکرم اشپز(پخوونکی) و ، زه يې د دېوال خوا ته کش کړم ، همدا لومړی تن و چي د اکرم جسد ته ور رسېدلی و ، دغه کس د دېوال سره په خوا کي د اکرم ښځه د لسو فوټو په اندازه ليري ولاړ و.

اشپز ويل چي اکرم د شا پر تخته پروت و او ما په ډېري بې وسۍ سره يوې او بلي خوا ته د قوماندان صاحب د بدن په غړو پسي منډي وهلې ، تر څو نور غړي يې پيدا کړم.

ما د قوماندان صاحب په لاس پسي شا و خوا وکتل ، خو پيدا مي نه کړ ، د اکرم چپه لاس او د چپه ورانه د شا خوا يې ښخي ورك شول ، اشپز هغه ځای ماته راوښود ، خو اوس هلته يوازي د پوستکو غوړځگی پاته و.

د دې هر څه په ليدلو سره سړی دې ته نه حيران کېدی ، چي د اکرم جسد ولي دومره کوچنی ښکارېدی ؟

بم د اکرم چپه طرف ته ايښودل شوی و ، همدا لامل و چي د اکرم چپه طرف ډېر ژوبل شوی و او هغه ساتونکی چي ده ته يې بوټونه راوړل ، د هغه راسته طرف ته ولاړ و او هغه خوا يې څارل.

د اکرم د پښې چپه خوا او د وراره مخ يې چي هغه يې تر دروازې پوري بدرگه کاوه ، له منځه تللي وو.

شايد چاودنه د اکرم تر شا او ددغه هلك مخ ته تر سره شوې وي.

ايا دا امکان لري چي ځانمرگی دي د اکرم او وراره تر منځ ځان ځای کړي ؟

ځيني نور شيان هم وو چي بايد ما د هغه په اړه معلومات تر لاسه کړي وای.

يوه امريکايي چارواکي راته وويل: کومه پښه چي ما په روغتون کې وليده ، هغه د يوه گاونډي په باغچه کي پيدا شوې وه ، ده ويل دا خامخا ځانمرگی برید دی ، داسي اوازې هم وې چي يو سر پر يوه بام هم پيدا شوی و.

زه بير ته روغتون ته ولاړم ، د روغتون ديخچال هغه سپين ږيری ساتونکي مي پيداکړ ، نوموړي ما ته د يخچال دروازه خلاصه کړه ، که گورم هغه پښې لا تر اوسه هلته پرتې وې چي تر زنگانه لاندي غوڅي شوي وې ، د پښو له غوڅو شوو ځايونو سره پلې او رگونه هم د تېرو سيمانو په شان راوتلي وو ، خو پښو پر بل هيڅ ځای زخم نه درلود ، داسي هيڅ نښي نښانې نه تر سترگو کېدلې چي هغوی دي په هوا شوي وي او بيا دي په يوه باغچه کي را شوه شوي وي ، ده زياته کړه ، هغه ورځ دومره بده وه چي بشپړه ورځ د يوه لمانځه ادا کولو ته هم خلاص نه شوم ، خو داسي هيڅ سر مي پيدا نکړ چي دتنې ښځه دي ببل شوی وي او ما ته دي يې راوړی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په راتلونکو ورځو کې مې د درو نورو عیني شاهدانو څخه د پېښې په اړه پوښتنې وکړې ، خو د هغوی ټولو نظرونه سره ورته وو.

د ارغنداب اوسېدونکي ، یوه سپین ږیري سړي راته وویل ، ما په خپلو سترګو ولیدل چې چاودنه تر غالي لاندې رامنځته شوه ، هغه زیاته کړه ، ما اکرم ولید چې یو بوټ یې په پښو کړی و او هغه بل یې په پښو کاوه چې تر شا یې تر غالي لاندې یوه لویه لمبه پورته شوه .

یو بل ځوان ساتونکي چې تر اوسه لا د چاودنې له کبله نګوښېدی او کوڼ شوی هم و ، خپل پټو یې پر مځکه هوار کړ ، تر څو موږ ته وښيي چې غالي څنګه پورته شوه او څه ډول چاودنه رامنځته شوه.

دغه هلك او لندو دواړه څنګ تر څنګ له خښتو سره ولاړ وو چې چاودنه رامنځته شوه او دوی دواړه هم ژوبل شول.

میرویس اکرم ته د بوټونو تر ایښودلو وروسته د اکرم تر څنګ و او دوو نورو ساتونکو د اکرم د شا لوری ساته ، چې دوی درې سره ووژل شول.

ساتونکو په ډېره ښه توګه خپله دنده تر سره کړل ، د اکرم چاپېره یې ښه امنیتي قمربند تاو کړی و چې هیڅ نابلده کس هغه ته نه شوای ورنیژدې کېدلای ، خو دا ځانمرګی برید نه و ، یوازې زه او شفیع الله د معلوماتو په راټولولو بوخت و او بل هیچا دا کار نه کاوه.

د افغان پلازمېنې امنیه قوماندان ووژل شو ، نه ځایي پولیسو ، نه د کورنیو چارو د وزارت له خوا څخه را لېږل شوي پلاوي ، نه کوم امریکایي چارواکي ، نه کوم ژورنالیست ، نه د کومې سیمه ییزې راډیو خبریال ، نه کوم بهرني ژورنالیست او نه هم په خپله قیوم کرزي بېله کارلوټاګال څخه د عیني شاهدانو سره مرکې وکړې ، کارلوټاګال چې د نیویارك ټایمز خبریاله ده ، هغې د اکرم په اړه یو راپور چمتو کړی و چې په هغه کې یې د رسمي چارواکو نظر هم را اخیستی و.

د چاودنې ځای بیا د څو ساعتونو په جریان کې پاك شوی و چې نور د پلټنې لپاره هیڅ ګټه نه شوای ترې اخیستل کېدای او هغه دوې پښې لا تر اوسه په روغتون کې پاته وې.

یو بل شی چې زه یې ډېره ځورولم ، هغه دا چې کله د اکرم ورور په هغه شپه د خاکرېز څخه راغی ، نو والي ګل اغا شېرزی او له کابل څخه راغلی د پلټنې پلاوی یې لیدلو ته راغلل.

شېرزي د شپې تر نیمایي پورې د اکرم له ورور سره پاته شو.

شېرزي د اکرم ورور ته ویل چې ته باید ددغه ځانمرګي برید په اړه ډېرې پوښتنې ونکړې ، هر څنګه چې وي زه به هغوی در پیدا کړم او تاسو ته به یې در سپارم ، دا زما ستا سره وعده ده ، نوموړي زیاته کړه ، زه معلومات لرم چې دغه پلان څلورو طالبانو طرحه کړی دی او هغوی اوس په هلمند کې دي چې ډېر ژر به هغوی تاسو ته لاس تړلي په لاس در کړم ، مګر دا مه وایه چې دا ځانمرګی برید نه و.

د اکرم ورور وویل: هغه لومړی ویل چې دا یو عرب و ، اوس بیا وایي چې دا کار په هلمند کې څلورو طالبانو تر سره کړی دی ،ده پر ما باندې د کوچني خیال کړی دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ته د (آی سي آر سي)د کار کوونکي (ريکارډو) مړينه رایاده شوه ، چي د اروزګان پر سړك ووژل شو ، شېرزي په هغه پېښه کي زموږ په سترګو کي خاوري واچولې ، همدا دی و چي طالبان يې د پاکستان تر سرحد دې خوا ته راپرېښودل.

د شېرزي رول په کندهار کي دا و چي (آی ایس آی) ته په یاده شوې سیمه کي د کار زمینه برابره کړې او څه چي هغوی تر سره کړي دي باید پر هغه لمن وغوړوي.

دا چي دلته شېرزي د هرڅه د پټولو هڅه کوله ، ددې څخه روښانه ښکاري چي دا کار د پاکستان له خوا تر سره شوی دی ، البته دا يو تريخ حقيقت هم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# تیر ایستل
## (جون ۲۰۰۵)

په کابل کې د ضابط اکرم یادګاري مراسم د قیوم کرزي له کور سره په یو لوی مسجد کې تر سره کېدل.

د الکوزو نیمه قبیله کابل ته رسېدلې وه. ما هم هوډ وکړ چې له دوی سره یو ځای شم. ددې تر څنګ په کابل کې ځینې خلك هم وو چې ما باید د پېښې له حقیقت څخه خبر کړي وای ، چې په هغوی کې د امریکا د سفارت چارواکي ، د کورنیو چارو وزیر علي احمد جلالي او ولسمشر کرزی شامل وو.

((قوماندان صاحب ما سیاست پرېښود))

ما دا هلې ځلې ددې لپاره نه کولې چې اکرم زما دوست و ، بلکې هدف مې دا وچې دغې رواني پالیسۍ ته صحیح لوری وټاکم. که چېرې اکرم په ځانمرګي برید کې خپل ژوند له لاسه ورکړی وي ، نو دا خو بیا د اسامه د ترهګرو د جنګي تاکتیك یو نوی ډول و چې دغو ترهګرو تر همدې ګړۍ وسله واله مبارزه کوله او د همدې خطر د له منځه وړلو لپاره له نظامي ځواك څخه د ګټې اخیستلو اجازه ورکړل شوه.

خو که چېرې بیا دا یو ریموټ کنټرول بم وي چې په دغه محفوظ مسجد کې ځای پر ځای شوی و ، نو دا بیا بېله خبره ده چې باید وویل شي چې ددې تر شا ځایي کسانو هم لاس درلود.

هغه څوك چې امریکایانو او ولسمشر کرزي دلته په واك کې ساتلي وو هغه ددې پېښې مسئول و. دا دهغې پالیسۍ پایله وه چې ما او اکرم یې له تېرو دریو کلونو راهیسې په وړاندې مقابله کوله. که چېرې ما ویلي وای چې دا د پاکستان کار دی نو د امریکا نیت به د پاکستان په وړاندې چې زموږ یو نږدې متحد دی بدلون موندلی وای ځکه چې پاکستان په افغانستان کې د هر هغه شي په وړاندې مقاومت کاو چې موږ به یې د سمولو کوښښ کاو ، خوفکر مې وکړچې همداسې یې پرېږده چې بېله هغه به هم د پاکستان د دښمنۍ کټو ډېر ژر زموږ په لمن کې ماته شي او که چېرې دا د پاکستان کار وي نو ولسمشر کرزی باید دا د پاکستان جاسوس ډېر ژر د ولایت له چوکۍ څخه لرې کړي.

وضعه ډېره خرابه وه ، دا ډېره اړینه وه چې دغه حالت پر سم لوري ور تېل وهل شوی وای.

د کورنیو چارو وزیر جلالي موافقه وکړه چې همدا اوس دستي در سره وینم. جلالي ډېر خواشینی و ، نوموړی تر همدې پېښې وروسته لس کاله زوړ ښکارېده. دا یوازې جلالي و چې ددغې سترې ضایعې په اهمیت پوهیده ، خو اوس اوبه د ورخه تیرې وې او نوموړی د پاڼ او پړانګ تر منځ و. جلالي له دې امله هم پښېماني کوله چې ولې مخکې نه پوهېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما وويل: بس سمه ده او هغه دوسيه مې ور وسپارله چې زما او شفيع الله په زيار ترتيب شوې وه. ما زياته کړه چې دا ځانمرګی برید نه و ، خو جلالي زما خبرې پرې کړې ویې ویل نه ، نه ، نه دا ځانمرګی برید وو. د پولیسو پلاوی چې ما هلته لیږلی و هغه او د (ایف . بي . آی) په شمول ټول په دې باور دي چې دا یو ځانمرګی برید و. په ډېرو دلیل ویلو سره مې ایله د هغه غوږونه یو څه خلاص کړل. په نوموړي مې د دوسیې لوستل ومنل.

زما راتلونکی تم ځای د امریکا سفارت و ، خو د ډېر وخت لریوالي له امله مې هلته هیڅوك نه پېژندل. زه هلته د سیاسي چارو له یو افسر سره په لیدلو وتوانېدم خو هغه له ځان سره د (ایف بي آی) دوه ایجنټان هم راوستل. ما د دوی مخ ته نقشه و غوړوله او څه چې مې په زړه کې و ورته مې وویل ، خو دوی په ډېره نرمه توګه د دغې قضیې سره چلن کاو. په هغوی کې مشر ایجنټ وویل: زموږ رول په افغانستان کې حمایوي دی. موږ په کندهار کې یو تیم لرو ، هغوی له افغاني څېړونکو سره د مرستې لپاره چمتووالی ښودلی و خو زه چې څه ویل غواړم هغه دا چې په دغه پېښه کې کوم امریکایی نه و وژل شوی نو له همدې کبله نه شو کولای چې له ځانه کوم نوښت وښیو نو هیله ده چې پوه شوې به یې.

ما وویل: زه هم د همدې پوهاوي لپاره دلته راغلې یم ، خو که په دې پېښه کې کوم امریکایی وژل شوی وي نو بیا ؟

په دغه پېښه کې یوه امریکایي طبعه هم خپل ژوند له لاسه ورکړی و. د اکرم یو اخښی چې له الباني نیویارك څخه راغلی و ، د اکرم د وراره تر څنګ ولاړ و چې پیښه رامنځ ته شوه ، هغه یو افغاني الاصله امریکایی و چې په دغه پېښه کې له منځه ولاړ. ما د نوموړي زوی د کندهار په هوايي اډه کې د (ایف بي آی) ایجنټانو ته ورمعرفي کړ ، خو امریکایي چارواکو پر دغه خبرې غوږ هم ونه ګراو. د کندهار په هوايي اډه کې د (ایف بي آی) ایجنټانو هم له ځانه کوم خوځښت ونه ښود. ددوی راشه درشه خورا ښه وه خو وروسته و پوهېدم چې دوی هم دا پېښه یو ځانمرګی برید ګڼي. دوی ویل: تاسو پوهیږئ چې اوس موږ کوم جسد ته لاسرسی نه لرو اود جسد له ارزیابۍ څخه پرته دې ته یوه ریښتوني پلټنه نه شو ویلای. جسد مو پیدا نکړای شوای ، پېښه مو ونه لیدله ، تر چاودنې دوه ورځې وروسته موږ د پیښې ځای ته لاړو ، د چاودنې ځای مو وکینده خو اوس کار تر کار تېر و.

زه ، افسراو ایجنټان پر یوه مېز ناست وو چې له پاسه یې د ګرمۍ د مخنیوي لپاره د تختو چت درلود او له بله پلوه دا ځای دشخصي مجلس لپاره تر ټولو خوندي ځای و. موږ نه شوای کولای په دې اړه له بل چا سره خبرې وکړو تر څو ښار ته تللي نه یو. په مجلس کې مو په بنډلونو هغه تصویرونه ولېدل چې تر چاودنې وروسته اخیستل شوي وو. په تصویرونو کې د دوی تر نظر ډېرې داسې نښې نښانې راتلې چې له ځانمرګي برید سره یې سر خوږ. د بېلګې په توګه ټولې پښې پر سوجي (کوناټو) غوخې شوې وې که چېرې دا ځانمرګی برید وای او برید کوونکي پر ملا یا سینه کمربند تړلی وای نو ټول اندامونه به پر بندونو غوځ شوي وای ځکه چې بندونه د پرېکېدو لپاره تر ټولو نازك ځایونه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


سوجي ، ما سمدستي مداخله وکړه او د هغه ایجنټ خبرې مې غوڅې کړې ، نه داسې نه ده! دا صحیح پښې نه دي. ما وویل: معذرت غواړم ما تېره اوونۍ هغوی په روغتون کې وکتلې هغوی ټولې تر زنګنو کښته غوڅې شوې وې. زه خپل زنګانه ته ورټیټه شوم او بیا مې هغه عکس وروښود کوم چې موږ ته پر سوجي پرې شوی ښکارېده خو په حقیقت کې هغه تر زنګنو کښته و. ما وویل: تاسو یې اوس زما له زنګانه سره مقایسه کړئ ، هغه څه چې موږ ته تر زنګنو لوړ ښکاري په حقیقت کې تر زنګنو کښته دي. ما کولای شوای چې په روغتون کې د هغوی عکسونه هم واخلم.

یو بل ایجنټ وویل: ایا هغه پښې پاکې وې که داغ شوې وې او یا یې غوښې د ساتول په شان پرې شوې وې ؟

ما هغوی ته تشریح کړه چې ټول رګونه او پلې د پښې د پای په حصه کې د وېښتانو اویا تیرو نېښونو په شان راوتلي وو. یوه ایجنټ وویل ، داسې ښکاري لکه داچې کلیمورماین وي (Claymore mine) خو کله چې ما د نورو هیوادونو له امنیتي چارواکو څخه د کلیمور تعریف و پوښته هغوی راته وویل چې کلیمور هغه ماین ته وایي چې په مځکه کې ښخ شي او د چاودلو په وخت کې جمپ ووهي او وروسته وچوي.

ددغو باتجربه افسرانو خبرې زما د هغې ادعا لپاره چې دا ځانمرګی برید نه و یو ښه ثبوت و. په دوی کې یوه افسر زیاته کړه چې زما یو استرالیایي ملګری یو ډول ماینونه جوړوي چې د جمپینګ جیني (Jumping Jennie) په نامه یادېږي. کله چې هغه ته فشار ورکړل شي نو هغه تر سینې یا نامه پورې جمپ وهي او بیا چوي. زه دانه وایم چې دابه همدا ماین وي خو د (لنډو) د پښې ټپونو ته په کتلو سره ، ناشونې هم نه بریښي.

د فرانسې د ځانګړو ځواکونو یوه افسرد ماښام پر ډوډۍ هغه وخت چې د امریکا د ملکي چارو ټیم له کندهار څخه د امریکا پر لور ته راته وویل چې ماینونه ارتجاعي خاصیت لري ، سړی کولای شي چې هغه په ډېره اسانۍ سره له ریموټ کنټرول سره عیار کړي.

تر پیښې څواوونۍ وروسته مې یو ماښام د (ایف بي آی) د اېجنټانو لپاره د اکرم بادیکارډ ، د ارغنداب څخه یو کس او (لنډو) د مرکې لپاره راوستل. اېجنټانو خورا زیار وکیښ ، له هر شاهد سره یې جلا جلا ولېدل ، پوره معلومات یې ځینې تر لاسه کړل. تر څېړنو وروسته ما په دوی کې له یوه ځیرك افسر څخه وپوښتل چې ددې پیښې په اړه څه فکر کوي ؟

نوموړي یوه ژوره سا وایستله او ویې ویل: تاسو پوهیږئ دلته ستونزه ذهنیت دی او دا داسې ستونزه ده چې تل موږ ورسره مخ یو. دلته د (ایف بي آی) ایجنټان په افغانستان کې نه اوسي ، بلکې په یوه امریکایي ټولنه کې چې هغه په افغانستان کې د امریکا د متحدو ایالتونو اډې دي اوسیږي. په دې ټولنه کې جنګي ذهنیت حاکم دی ، نه د جنایي جرمونو د پلټنو ذهنیت. دلته اکثره وخت مشکل دا وي چې سړی نه پوهیږي چې دا کار به چا کړی وي او هغوی باید د عدالت منګولو ته وسپارل شي. اوس دلته داسې یو ذهنیت حاکم و چې دا کار دښمن وکړ او موږ یې باید ووژنو. هر کله چې داسې یو ذهنیت حاکم وي نو زه هم نه پوهېږم چې حقیقت به څه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما وويل: خو يو شی بايد له ياده ونه باسو چې دلته يو ذهنيت داسې هم حاکم دی چې دلته پاکستان په ډېره بې شرمانه توګه لاسوهنه کوي.

داسې چې له يوې خوا پاکستان په زرګونو طالبان منظموي ، تربيه کوي ، مجهزوي او بيا يې افغانستان ته د ورانکارو عملياتو لپاره را استوي او له بلې خوا د القاعدې غړي نيسي او امريکا ته يې په لاس ورکوي. د پاکستان دا ذهنيت چې افغانستان به د اور په لمبو کې وسوځوي ډېر غلط دی ، بلکې په دې اور کې به د افغانستان تر څنګ پاکستان هم وسوځي.

په دې پېښه کې ولايتي رشوت خورو چارواکو هم لاس درلود. دا والي و چې د ځانمرګي برید اوازه يې خپره کړه. ما وويل: زما لپاره دا مهمه نه ده چې څوك په دغه پېښه کې ووژل شو خو دا ثبوت بايد وړاندې شي چې دا ځانمرګی برید و او که نه ؟

د جون په مياشت کې موږ د ملکي چارو په دفتر کې غونډه لرله ، د سټيټ ډيپارټمنټ يوه باتجربه استازي چې اوس تازه افغانستان ته راغلی و راته وويل چې له دغې پيښې سره ځانمرګی هيڅ تړاو نه لري خو که چېرې دا ريښتيا ځانمرګی برید وي ، نو دا خو بيا ډېره د تشويش وړ خبره ده. زه په دغه غونډه کې پټه خوله ناسته وم. نوموړي خپله چوکۍ شاته کړه او ويې ويل: تاسو وګورئ چې په چيچنيا کې ځانمرګي بريدونه ډېرعام دي ، زموږ د معلوماتو له مخې چې چېچنيايان هم د ائتلافي ځواکونو پر ضد د ګرديز په شاوخوا کې عمليات تر سره کوي. جنوب ته د دوی راتګ به د دوی د تاکتيك د تغير لوموړی نمونه وي. که ريښتيا هم دوی دلته راغلي وي ، نو دا بيا زما لپاره ډېره د اندېښنې وړ خبره ده.

خو که په کندهار کې هر څومره حقايق راغونډ کړې بيا به هم حالت ته بدلون ورنکړای شي. سړی به د ولسمشر کرزي او متحده ايالتونو د هغه غلط تصميم په وړاندې څه وکړي چې دا تېر درې کاله يې تعقيب کړی دی. زما لپاره خو نور څه پاتې نه دي.

زما دريمه لويه کتنه له ولسمشرکرزي سره وه ، له نوموړي څخه مې وپوښتل چې که مو خوښه وي چې يوازې مجلس سره وکړو. ددې خبرې په اورېدلو سره د ولسمشرد دفتردوه تنه مامورين ولاړ شول او دفتر يې خوشې کړ. کله چې هغو کسانو دفتر پرېښود ، کرزي وويل: زه ستا ليدلو ته سترګې په لار وم. د ولسمشر اواز له ډېرې حيرانۍ څخه رېږدېده. ده زياته کړه: ما ستا ليکنه په نيويارك ټايمزکې ولوستله ډېره مې خوښه شوه. ما ځواب ورکړ: دا زما لپاره ډېرد خوښۍ ځای دی چې تاسو زما ليکنې خوښوئ.

زما هغه ليکنه په افغانستان کې د امريکا ضد مظاهرو په اړه وه.

ما په هغه ليکنه کې ليکلي وو چې دغه مظاهرې له دې کبله نه وې چې امريکايانو د سپېڅلي قران سپکاوی کړی دی ، بلکې دا د افغانستان د ګاونډيانو کار دی چې نه غواړي د کابل او واشنګټن ترمنځ دې ستراتيژيکه همکاري ټينګه شي.

کرزي وويل: زه د مظاهرو په وخت کې په واشنګټن کې وم ، همدا ستا خبرې مې ټولې ولسمشر بوش ته وکړې چې په دا سبا مې ستا ليکنه په نيويارك ټايمز کې ولېدله. هغه ډېره ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليکنه وه ، زه هم په دې اړه ستا تائيد کوم او په ريښتيا زموږ لپاره يې ډيرې ګټې لرلې. کرزي زياته کړه: کوم څه چې تا د ضابط اکرم په اړه ليکلي وو هغه مې هم ولوستل.

دا يو شخصي برېښنا ليك و چې ما خپلو نژدې ملګرو ته ليږلی و. له کله نه چې زه د ((اين پي آر)) لخوا افغانستان ته راغلم ، ما به داسې برېښناليکونه په هرو څو مياشتو کې د نويو شيانو په اړه خپلو نژدې ملګرو ته ليکل ، دا برېښناليك مې هم هغه وخت وليکه چې زه د خاکرېزوال له هديرې څخه راستنه شوم. زه په دې ډېره حيرانه وم چې دا برېښناليك تر کرزي پورې چا ور رسولی و.

ما ولسمشر ته وويل چې تاسو يو ډېر ښه ملګری له لاسه ورکړ. ده زياته کړه: زه پوهېږم ، موږ له ډېروخت راهيسې خواږه ملګري وو. ما وويل: زما مطلب دانه و چې هغه ستاسو يو شخصي دوست و ، بلکې دا ستاسو ، ستاسو د ادارې او هيواد لپاره لويه ضايعه او ضربه وه. ولسمشر وويل :ډېر داسې شيان شته چې تراوسه يې زه نه يم قانع کړی او غواړم چې پرې پوه شم. ما وويل: ددغې چاودنې په اړه تر اوسه هيڅ څېړنې نه دي تر سره شوي. ما ځينې معلومات راغونډ کړي دي او اوس غواړم له تاسو سره يې شريک کړم. کرزي وويل: په اورېدلو به يې ډېر خوښ شم. ما د کرزي مخې ته خپله نقشه وغوړله او ومې ويل: دا سړك چارسو ته ځي او دا بل خامه سړك د مسجد تر څنګ دی. کرزی د کندهاردی دا ټول ځايونه ورته معلوم وو. وروسته مې خپلو راغونډو شويو معلوماتو ته رجوع وکړه. ما يوه پاڼه د ولسمشر مخ ته کېښوده او بيا مې د تشريح لپاره دده اوږو ته اشاره وکړه. ما وويل: تاسو وينئ کله چې بم چودلی ، دا کسان چېرې ولاړ دي. زه په دې ډاډه يم چې داد پاکستان کارو. کرزي وويل بالکل همداسې ده.

ولسمشر وويل: موږ ټول کندهاريان يو ، زموږ ترمنځ ډېره ښه دوستي شته خوزه فکر نه کوم چې دا کاردې ګل اغا شېرزي کړی وي ، زه هغه ډېر ښه پېژنم. شېرزی ددې کارو نه دی او نه هغه دومره چالاکه دی. ما وويل: سمه ده شېرزي به خپله نه وي کړی ، بلکې دده تر سيوري لاندې کسانو دا کار تر سره کړی دی. دده تر سيوري لاندې پاکستان په کندهارکې عمليات کوي. همدا د ده رول او دنده ده.

کرزي: وويل په دې زه هم درسره موافق يم.

ما وويل چې داسې ده نو بيا ددغو خلکو مخه ونيسئ. دا تاسو ياست چې دغو کسانو ته مو دداډول کارونو د ترسره کولو لپاره وخت ورکړی دی. تاسو فکر کوئ چې دښمن به رانيسئ خو دوستان مو له لاسه ورکړل ، تاسو به هيڅکله په دې بريالي نه شئ چې دښمن خپل کړئ. که تاسو دوی ته هر څومره وخت ورکړئ هغوی به بدل نه شي خو له بله پلوه تاسو خپل ملګري له لاسه ورکوئ. اوس تاسو هغې وروستۍ مرحلې ته رسېدلی ياست چې که په دې اړه څه ونکړئ نو خلك به ستاسو په مقابل کې راپورته شي ، خو لطفا نور په دغوغلو لوبې کول بس کړئ.

ولسمشر وويل: ته صحي يې او ژمنه يې وکړه چې ددغو کارونو مخه به نيسي. ما نوموړي ته په کندهارکې د پنځو تنو نومونه ورکړل ، نوموړي په يادو شو کسانوکې بې له يوه څخه د نورو د لرې کولو وعده هم وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موضوع په بل لوري لاړه ، هغه دا چې کرزي غوښتل پوه شي چې ايا اسمعيل خان د کورنيو چارو د وزارت لپاره وړ دی که نه ؟ ځکه چې جلالي هوډ کړی و ، وزارت پرېږدي. ما وويل: اسمعيل خان! دا ټوپکسالار ؟

ما ساه ونيوله. کرزي وويل ، ته فکر کوې چې ما تراوسه په دې اړه فکر نه دی کړی ؟

ما وويل ، ستا دغه خبره ماته يو الهام راکوي او هغه دا چې د اکرم مړينې ته څومره لوی حساب شوی و. د اکرم وژنه يوازې انتقام نه و ، بلکې دا د پاکستان يو ډېرماهرانه پلان و چې تر سره يې کړ. اکرم د افغانستان د کورنيو چارو د وزارت لپاره يو ډېر ښه کانديد و خو آی ايس آی هغه وواژه.

ما ته هغه صحنه را په زړه شوه چې د اکرم پر هديره د مزارشريف ازبکو په سلګيو ژړل او په هديره کې يې په پاړسي ژبه اوږده وينا واوروله.

اکرم يواځنی کس و چې هيواد به يې سره متحد کړی وای. اکرم د ملي وحدت په تامين کې حتی تر کرزي لا وړاندې و ، ځکه چې کرزي ونکړای شوای ، پښتانه له نورو قومونو سره يو ځای کړي خو اکرم داسې ډېر کارونه تر سره کړل. نوموړي يوازې په خبرو د خلکو زړونه نه وو خپل کړي ، بلکې هغه په ريښتيا سره خلکو ته خدمت کاو. نوموړي ددې کار لپاره د ښه اغېزمنتوب تر څنګ ښه تحليل او همدردي هم لرله.

په دې کې هيڅ شك نه و ، چې نوموړی دې د افغانستان راتلونکی ولسمشر شوی وای. که چېرې ده د ولسمشرۍ د ټولټاکنو لپاره ځان کانديد کړي وای نو د مزار شريف او کندهار ټولو خلکو به ده ته رايې ورکړي وای ،خوکه چېرې په کابل کې تر يوه کاله پورې پاته شوی وای ، نو د کابل ټولې رايې به هم ده په حق کې وای.

ټولټاکنې رانژدې وې خو نوموړی يوازې ۴۶ کلن و. په پاکستان کې ځانمرګي زموږ انتظار کوي او په موږ پسې به راځي. خو دغې چاودنې په ډېر حساس وخت کې د افغانستان د بنسټ يوه ډېره له منځه يوړه.

په هر حال ، زه له دغې غونډې څخه په دې هيله راووتم چې اوس به نو کرزی يو څه پوه شوی وي. د اکرم مړينه به ورته يوه لويه ضايعه ښکاره شوې وي او پرهغې پاليسۍ به له سره کتنه وکړي چې دده له خوا د څو کلونو راهيسې پر مخ وړل کېږي او د حل يوه لاره به ورته پيدا کړي.

کله چې زه د شاهي باغ تر څنګ د اکرم له قرارګاه سره تېرېدم نو څو شيان مې نور راپه زړه شول چې بايد ولسمشر ته مې ويلي وای.

ما ولسمشر ته يو ليك ولېکه خو دا په دا تېر يوه کال کې نوموړي ته زما لومړی ليك و.

د ليك متن په لاندې ډول و.

ښاغلی ولسمشر:

له ما سره د اکرم د وژنې په اړه پرلپسې تصويرونه دي...

چې په هغوکې شپږ يې خورا دقيق دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما له کرزي څخه و غوښتل چې له دغې موضوع څخه باید د یوې موقع په توګه استفاده وشي.

دا ستاسو لپاره د اکرم وروستۍ تحفه ده.

تاسو له دغې موقع څخه ګټه پورته کړئ او خپله هغه پالیسي چې له ډېر وخت راهیسې له خنډ سره مخامخ وه اوس پر مخ بوځئ او له دغې پیښې څخه د وسلې په توګه استفاده وکړئ.

لکه څنګه چې تر یوولسم سپتمبر وروسته کرزي په متحده ایالتونو کې له ځانه لوی نوښتونه ښودلي وو ، نو د اکرم په مړینې کې یې هم باید همدا سې کړي وای. ددغې مړینې د ارزښت کچه یې په ډاګه کړې واي او په دې اړه یې ځانګړي کارونه تر سره کړي وای.

ما کرزي ته ولیکل چې نور په دغو جنایتکارانو پر ولس په رسمي توګه لوبې مه کوئ او تر څنګ یې د بهرنیو هیوادونو ایجنټانو ته په افغانستان کې پناځایونه مه جوړوئ.

ما ورته ولیکل: د اکرم په وژنه کې د پاکستان تورنول ښه کار دی ، خو کومه اغېزه به ونه لري.

ښاغلی ولسمشر! تاسو باید خپل ځان پخپله ملامت کړئ ، ځکه چې دا تاسو یاست چې د پاکستان ایجنټ مو په کندهار کې په واك کې ساتلی دی ، په همدې سره مو د پاکستان ټول کارونه اسانه کړي دي.

په لیك کې بله مسئله د متحده ایالتونو وه:

ما له ولسمشر څخه هیله وکړه چې له متحدو ایالتونو سره مرسته وکړي تر څو هغوی د پاکستان په وړاندې یوه نوې پالیسي رامنځته کړي.

امریکایي چارواکي فکر کوي چې هره بله تګلاره به کومه اغېزه ونه لري. دوی فکر کوي چې د تورو پګړیو خلک همېشه ټوپک په لاس او پر ماشه یې ګوته ایښې وي او واشنګټن ددغې چارې د حل په لاره کې بېخي نا توانه ښکاري. زه فکر کوم چې ستاسو مشورې به د پاکستان په وړاندې د امریکا په پالیسي کې یولوی بدلون راولي او یو سم لوری به ورته وټاکي.

ما نوموړي ته ور په زړه کړل: کومه د پالیسۍ مسوده چې تاسو تیاره کړې وه چې په هغې کې خطرونه او د هغوی د حل لارې په ګوته شوې دي ، ډېره ښه او په زړه پورې ده. خو که تاسو په دې اړه زما مرستې ته اړتیا لرئ ، زه هر وخت تیاره یم چې له تاسو سره مرسته وکړم.

ما دوه ورځې وروسته دا لیك د کرزي رئیس ارکان ته وسپاره. همدا وخت کرزی ناروغ و ، هغه له ما سره نه شوای کتلای ، خو دده رئیس ارکان په ډېر ټینګار سره وویل چې زه به دا لیك د ولسمشر پر مېز کېښېږدم او نوموړي ته به یې کندهار ته تر تګ وړاندې لوستل ور په زړه کړم ، خو تر اوسه لا له هغو مستو څخه کوم کوچ نه دي راوتلي.

په کابل کې سرتنبه چارواکو ددې باوجود چې ما او شفیع الله ددوی مغزونه ددغې چاودنې په اړه ور پریمینځل بیا به هم دوی ویل چې دا یو ځانمرګی برید و. وروسته و پوهېدم چې حقیقت کوم ارزښت نه لري ، که هر څه شواهد راغونډ شي بیا به هم د دوی په قانع کولو ونه توانېږم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګل اغا د دويم ځل لپاره له کندهار څخه لرې شو ، خو دا ځل ننګرهار ته واستول شو. دغه ولايت هم د کندهار په شان د پاکستان پر پوله پروت دی او يوه لويه ترانزيټي لاره ځنې تيريږي. ددې ولايت مرکز جلال اباد نوميږي ، چې تر اوسه خورا ډېر ستراتيژيك اهميت لري.

يوه ورځ ما او ولسمشر کرزي د سهار د ناري پر وخت مجلس درلود ، کرزي راته وويل: زه به ډېر ژر ددې ستراتيژۍ په اړه اقدام وکړم. دا ډېره د شرم خبره ده چې ما به خلکو ته ويل چې کرزی او شېرزی سره مخالفان دي ، زما ددې خبرو باوجود بيا هم دا درې نيم کاله تير شول خو کرزي د شېرزي په اړه هيڅ هم ونکړل.

په دغه سهار چې زموږ مخ ته د سهار د ناري لپاره مربا ، ډوډۍ او د نارنجو جوس پروت و ، کرزي ته مې د هغو کسانو ليست ورکړ چې نوموړي په کندهار کې په ډېره اسانۍ سره له واکه لرې کولای شوای. همداسې يو ليست مې دوه کاله وړاندې د کورنيو چارو وزير جلالي ته هم ور ليږلی و. درې اوونۍ وروسته چې ما او کرزي سره وليدل نوموړي راسره دا ژمنه وکړه چې د هغو خلکو پر ضد به خامخا اقدام کوي ، چا چې ضابط اکرم وژلی او يايې د نوموړي وژنې ته زمينه برابره کړې ده.

ما ولسمشر ته وويل چې تاسو خو زما سره وعده وکړه او ومو ويل چې بې له يوه کس څخه نور ټول کسان به په کندهار کې له واکه لرې کوم ، خو دوی لا تراوسه د واك پر ګدۍ ناست دي. کرزي د پخوا په شان زما د ليست په مقابل کې غبرګون ونښود ، خو دا پلا زما له سخت متقابل ځواب سره مخامخ شو.

ښاغلی ولسمشر! ته پوهېږې چې ډېر کندهاريان فکر کوي چې تاسو د افغانستان پر ضد له پاکستان سره ملګري ياست.

ايا تاسو په دې اړه څه اوريدلي دي که نه ؟

تر دې وروسته نو موږ ولاړ سو ، خپل رئيس ارکان ته يې څه وويل او بېرته راغی.

کرزي وويل: ښه خلك له ما څخه څه غواړي چې ويې کړم ؟

خلك له تا څخه عمل غواړي ، ددغو خلکو په وړاندې جدي ګامونه پورته کړه ، يوازې په خبرو څه نه کېږي ، اوس د عمل وخت رارسېدلی دی.

ولسمشر سمدستي موضوع بدله کړه ، د پاکستان پر وړاندې يې د امريکا د پاليسۍ خبره رامنځته کړه.

کرزي ما ته د مصنوعي سپوږمۍ له لارې اخيستل شوي عکسونه راښکاره کړل او غوښتل يې چې له همدې لارې امريکا ته وښيي چې پاکستان پر کومه خوا روان دی او تر څنګ يې د مېډيا کمپاين پر لاره واچوي.

مشکل بل ځای و ، د کرزي نه و. تر دې وروسته نوموږ ولاړ سو د خدای په اماني لپاره يې لاس را اوږد کړ.

تاسو څه فکر کوئ چې ايا ولسمشر کرزي به زما خبرې اوريدلي وي که نه ؟

د ده تر تګ وروسته زه د رئيس ارکان په دفتر کې شله غوندې پاتې شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې کرزی تلو ، حلق يې وچ و ، ويل يې تاسو ډيرې توندي خبرې کوئ.

دوه ورځې تيرې شوې ، زما هدف کرزي ته ددغو معلوماتو له ورکولو څخه دا و چې په همدې اړه د کرزي غوږونه خلاص کړم.

زما په مغزو کې يو انقلاب راغلی و او ويل مې چې زما د هغو دريو کلونو ټولې خوارۍ په اوبو لاهو شوې. له کرزي سره د غونډې پرمهال ، زما په مغزو کې راوګرځېده چې اکرم خپل مرګ خپل ولس ته د يوه سوغات په توګه پريښود ، چې بايد ګټه ترې واخيستل شي. ما فکر کاو چې د حقيقت رابرسېره کول به کومه نتيجه ورکړي خو زه پرغلطه وم. همدا څو اوونۍ پر ما په خورا منډو تررو تيرې شوې. د اکرم وراره شفيع الله د کندهار د امنيې قوماندانۍ د مرستيال په توګه ټاکل شوی و. په اکرم کې چې ما د راتلونکي افغانستان کومې هيلې ليدلې وې هغه هم له منځه ولاړې.

ما چې هر څه فکر وکړ ښه دې چې دا وطن پرېږدم ، بله چاره مې پيدا نکړای شوه. دلته زما په وړاندې ډېر درانه کارونه وو ، چې بايد تر سره کړي مې وای خو له بله پلوه دا هغه ځای و چې ما بې کچې زياته مينه ورسره لرله.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**